# پښتو

# پوهنیز- ژبلاریزه

# معیاري

لیکونکی: ډاکتر ماخان میرِی شینواری

خورونکی: انجنیر شمشاد زهیر

۲۰۲۶

Ketabton.com

[Geben Sie die Firmenadresse ein]

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو

# بنسټيز- ژبلاريزه

ليکونکی: ډاکتر ماخان ميرزی شينواری

خوروونکی: انجنير شمشاد زهير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لوي ښتن په سپېڅلي نامه، چې ډېر مهربانه، رحمان او رحيم دی.

.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب نوم:   پښتو بنسټيز-ژبلاريزه

ليکونکی:        ډاکتر ماخان مېرزی شينواری

خوروونکی:      اينجنير شمشاد زهير شينواری

د خورېدو ځای:  Ketabton.com

کال :   جنوري ۲۰۲۶ ز ک

.

.

.

.

.

.

.

.

د سريزي پر ځای باندې                    الف                .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سریزې پر ځای باندې

له دې کتاب سره زه یوه معیاري لیکنه وړاندې کوم. د سریزې له لوستلو سره به روښانه شي، چې پښتو څنګه یو داسې روښانه ژبلاریزه روښانونه لري، چې دا هم ځانګړې ده. ویې ګورئ او ور باندې خوښ شئ.

غوره یادونه: دا کتاب د ما د تېرو کتابونو غزونه ده او د نوو مېندنو سره روښانه-ونه او د هغو نورو نوو او زړو لیکنو سره، چې غوښتل مې ځنې یې په یوه کتاب کښې سره ټولې شي. د ما پښتو ژبلار دسې پرلپسې وه کړې.

بیاهم د تکرار بخښنه غواړم:

---و به نیسو، چې ژبه مو د لومړي ځل لپاره د ژبلار له لارې څخه روښانه کیږي، چې د اوس لپاره یا تر اوسه پورې یې هغه زیاته او معیاري روښانه-ونه ده.

--- دا د ما د نورو ژبلاریزو کتابونو غزونه ده، چې نوې میندنې په دې کښې ځای پر ځای باندې شوي دي.

---- پوهنه د چا ملکیت نه دی. یو چا چې څه و لیکل، هغه بیا د هغې ټولنې دی، چې څنګه یې منې او څه وربانديې لیکي، په دې کښې بیا زړه بدی یا پر هغې باندې د چا واک لرل نه وي. دا د پوهنو وده ده.

--- د لومړي ځل لپاره مو د ژبنیزو پوهنیزو وییونو دندې روښانه کړې او پر پښتو باندې مو و ښودلې، چې پوهېدنه یې څه ده.

--- لکه: اړیکوویونه، ټرنوییونه، پوهېدنوړوني - او پوهېدنغزووني مورفېمونه او نور، چې د کتاب په دننه کښې به یې وګورئ.

--- دا د ما پر پښتو لیکنې یا ژباړې باندې، چې هر ژبنیز وی په بر کښې نیسې، هغه ژبپوهنیز او ژبلاریز روښانه شوی، چې دا کار د لومړي ځل لپاره شوی دی.

که د ما لیکنه سمه وي، نو له دې څخه به دا وپوهېږو، چې دا معیاري هم ده.

.

د سریزې پر ځای باندې ب .

**۲۰۲۵ ز ک. د دسمبر د میاشتې دوه-ویشتم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې دا لیکنه په پښتو ژبه کښې تاریخي او تر اوسه پورې یوه یواځنۍ او ځانګړې لیکنه ده، نو تر هغې پورې به سمه وی، تر څو پورې یې چې مخامخوالی پوهنیز نه وي ښوول شوی. دا پوهنیزه وینادہ.

غوره خبره دا ده، چې دا تر اوسه پورې لیکل شوې پښتو ناسمه او همداسې هغه د ژبې غوره څه ته په ژبلار کښې بېخي پام نه دی شوی یا نه شو کېدی. زه یې چې له رسنیو څخه کله اورم او یا لولم، باور وکړی، چې پوره زورېږم.

دا فکر تل راسره وو، چې لیکنې مې له نورو ژبپوهانو سره په مخامخوالي کښې دي. دا چې دا یو خورا ستر او په ژبلار کښې علمي کار دی، نو همداسې پرېښول یې او ولس ور څخه نه خبرول د ژبې سره ناروا همداسې د پوهنې سره ناروا دی او له دې امله مو ژبه په ولس کښې یا و ولس ته – د ما په اند – هم همداسې ناسمه وړاندې شوې ده، چې باید معیاري او ژبلاریزه شي، نو ګرانو ژبپوهانو او لیکوالانو:

۱ – که لیکنې مې ناسمې راته و برېښي، نو دا به یوه ناروا کړنه وي او د پوهنې، پوهانو او و ولس ته به نا درناوی، چې لږ تر لږه یې دا اوس باید خورې نه کړم.

دویم- او که دا ژبلاریزې لیکنې مې سمې او یواځنۍ راته برېښي، نو باید د پېژندلو لپاره یې هلې ځلې وکړم، چې و دې کتاب ته د زده-کوونکو او استادانو پام را واړوم.

نو څه باید وکړم؟

--- یو وړاندیز و ژبپوهانو ته، په ځانګړې توګه د علومو اکادمي پښتو څانګې او د کابل پوهنتون د پښتو و پوهنځي ته چې دا ستونځې په ګډه سره اوبی(حل) کړو.

له دوي څخه به د ما په ډېر درنښت هیله دا وي، چې کتاب و ګوري او خپله پرېکړه د ما سره شریکه کړي.

دا یو پوهنیز یا علمي کار دی او تاسو د پوهنیز او پوهنیزو کارونو د څېړنو او سمون ځای یاستي، نو هیله ده، چې دې هیلې ته مې مثبت ځواب ورکړي.

ملامت څوک دي؟

<u>د سریزې پر ځای باندې پ .</u>

د مورږ ژبپوهان او هم د نورو ریښو پوهان ملامت نه دي، ځکه چې د مورږ هیواد یو وروسته پاتې هیواد دی نو په هر څه کښې وروسته پاتې یو، په ژبه کښې هم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې په ژبه کښې؟

نورې ريښې خو له نورو يا نورو پر مخ باندې تللو ژبو څخه زده کولی شو، خو پښتو خو باید نور خلک هم له موږ څخه زده کړي؟

موږ د خپل ځوان په تېر تاریخ کښې مو ژبه له نږدې پنځه شپېته کالنو راپه دېخوا ژبه داسې نیمه-نیمخوره رسمي ژبه شوي، چې دا پاتې نږدې پنځوس کاله مو په جنګ تېر کړي دي.

پښتو د افغانستان ملي او رسمي ژبه ده او دا ژبه يواځې په افغانستان کښې ملي او رسمي ده، چې د کرښې و بلې لور ته مو له اويا ميليونه څخه ډېر پښتانه هم پر دې ژبې باندې خبرې کوي، خو د دې ژبې ژبلاريز سم ليکل او معياري کولو دنده د افغانستان د حکومت ده، چې دا کار په افغانستان کښې وسرته ورسېږي، نو دا غوښته:

لکه چې ګورې، ما په دې اخرو څه زيات اولس کلونو کې د پښتو په څېړنه کې زيات کار کړی او ډېر اثار يا ليکنې مې خورې کړي، چې دا ټولې د پښتو تاريخ په اوږدو کې

لومړنی او يواځنی پوهنيز کار دی، د ژبې له لارې به دا هم ووايم، چې ليکنې مې رېښتيا هم پر پښتو باندې او ځانګړې دي.

روحي ناروغ نه يم او باور وکړی، چې ځانپالی هم نه يم، خو دا څه چې کوم، د خپل ولس او خپلې ژبې لپار ډېر اړين راته برېښي. پښتو د افغانستان ملي او رسمي ژبه ده، چې د سم او ناسم مسؤليت يې د افغانستان د دولت پر غاړه باندې دی.

ژبه مو بايد معياري وي او سمه.

---دا ليکنه به د پښتو ژبې په تاريخ کښې تر اوسه پورې يوه ځانګړې ليکنه وي.

--- زه د دې دعوه نه کوم، چې د ما ليکنې دې سمې وي، خو تر هغې پورې، چې زه پوهېږم و ما ته سمې برېښي او دا به تر هغې پورې سمې وي، چې چا يې نا سمون نه وي ښوولی او دا يې پوهنيزه لار هم ده.

د سريزې پر ځای باندې ت .

--- هره پوهنه پر پوهنيزو ښوونو باندې اباده ده.

--- دا به و پوهنې ته نا درناوی وی، که څوک ووايې دا ناسم دی او لامل يې نه راوړي يا يې پوهنيز نه ښايي يا يې نه شي ښوولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---- ژبه د چا د خوښې او نه خوښې او له ښکلي يا نه ښکلي بريښېدني سره سر او کار نه لري. او د پښتو سوچه کولو او نومونو يا نورو ژبو په نه پوهېدلو يا د هغو لپاره د نومونو پيدا کولو لپاره غورځنگي فکرونه بايد نه وي، هر څه بايد پوهنيز کره يا ښوول شوې وي او د نومونو يا يو څه نومه-ونو پيدا کول، چې هغه پوهنيز نه وي سم نه راځي. و ما ته هم د پښتو نومونه په پښتو ليکل، نابلد دي، خو همهغه نومونه دي او په پښتو دي لکه که دربېگوډې ووايي، نو سملاسي پوهېږې، چې دا يو څه دي يا يوه رابنده هواره ده، چې درې گوډونه لري....،:

---- له هر څه څخه د مخه د پښتو ژبې د ټولو استادانو بخښنه غواړم، که د ما ليکنې ورته ښه نه وې بريښېدلي، يا ورته د ما د کارزده-کړه يا ريښه ورته نه بريښي او له دې امله و دوي ته د دوى په کار کښې ځان گډول يا مداخله بريښي، خو باور کړئ، چې دا ژبلار، چې موږ ور سره په اخ او ډب کښې يو، په المان کښې له لسم ټولگي څخه د پورته يا ډېر وخت کار نه دی او د دې توان باور راباندې ولرئ او بل دا چې په دې هکله مې له اولسو کالو څخه ډېر کار کړی او هره ورځ له اتو ساعتونو څخه ډېر. اوس هم د شپې يوه بجه او پنځه-وېشت دقيقې او له همدې امله مې خوب لاړ. نو د دې کار حق به ونه لرم، که چېرې مې تخريب کړی وي او له تخريب څخه مې دې لوي څښتن لرې و ساتي.

----دا ليکنه دې د ځانستايېنې له امله نه وي، خو د يوه پوره لټ انسان يو کار دی، چې يواځې او يواځې د ځان روغ ساتلو لپاره يې کړی. دا ،، يواځې او يواځې،، په شمېرپوهنه کښې ورځنۍ ده او له دې امله، چې دغه هڅې دوه اړخيزې دي، دا په دې پوهېدنه: چې روغ پاتې شم او چې روغ پاتې شم بايد د دې لپاره و هڅيږم.

----ما خپل دا د ليکنو کار ډېر په مينه کړی، څه زور راپسې نه وو او نه مې کومه بله ځانگړې هيله لرووده.

---- د ما هڅې د پښتو ژبې د سمون لپاره ډېرې ستونځمنې او ډېرې په مينه وې، دا ځکه چې زه لومړنی او يواځنی افغان يم چې: لومړی داسې ليکنې کوم او بل د پښتو ژبې داسې يو ستر کار و سرته رسوم.

د سريزې پر ځای باندې ټ .

---

يادونه:ما شمېرپوهنه پر پښتو باندې ليکلې ده، د فزيک څلور کتابونه او اوس دا پښتو، پرته له دې يو کتاب د فلسفې او يو د ټوليز سم اند هم ليکلي او نور چې په پښتو دي. درې د هوښيارو ويناوو کتابونه او دا نړدی د لسو په شاو خوا کښې د پښتو ژبې پر هکله باندې ليکنې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---- ناسمونونه به وي، ليکنيز او ژبلاريز، خو دا به ډېر کم وي.

----- د ما د کار کارزده-کړه يا ريښه شمېرپوهنه ده، خو پر ژبلار او ژبپوهنه مې کار پيل کړ، چې ناسمونونو ته مې فکر شو او دا کار نږدې د ۲۰۰۶ ز ک په شاو خوا کښې او بيا يې دې دومره کار ته راو رسولم.

---- ما هم ژبه پل پر پل باندې زده کړه او دومره ليکنې مې ورباندې وکړې. ډېر هڅېدلی يم، چې دا وروستی ژبلاريز کتاب يا د پښتو ژبلار ستر کتاب مې پوره وي، خو دا به سمه خبره، ځکه نه وي، چې پوهنه نه پوره کيږي او ډېر نور څه يا شته وي او يا ور پسې راځي.

---- بيا هم دا چې ماد شمېرپوهنې نږدې ځلوېښت کتابونه ليکلي او ژباړلي، خو هغه ځکه ساده وو، چې د نورو له ليکنو څه مې را نيولي او راټول کړي دي، په ژبه کښې مې هم پېژندونه بايد له نور ژبو څخه رانيولي وی، خکه چې د مور په ژبه کښې يا نه شته او يا داسې غوره يا سم يې نه شته، نو دا څه مې چې ليکلي، دا د ما کار دی، ځکه چې بل چا تر

اوسه پورې ژبلاريزې داسې ليکنې سوچې، بوچې نه دي کړی او زه څوک ګرم هم نه ګنم، ځکه د ما غوندې وخت او اړتيا ورته بل چا نه شوه لرودی.

---- د ما په ليکنو کښې چې ګورم، ما هم ژبلاريز ناسمونونه کړي او دا اړيکوييونه او اړيکتيينګووني مې په لومړي پيل کښې داسې نه دي ليکلي. که اوس ورسره مخامخ شم، نو سملاسي يې سموم او که؟

ما په ژبلار کښې څو څو ليکنې له دې امله پرله پسې کړي، چې هر ځل مې سمې کړي او غزولي دي. که څه ورزياتول او سمون بايد وي، نو تاسو ګران ژبمينه-وال به يې سم کړئ.

دا اوس ليکنه مې هم د تېرو ليکنو غزونه ده، خو د نورو سمونونو او معياري کوونو د زياتونوو سره.

د سريزې پر ځای باندې                    ث                    .

ليکنه رالندوم: تکرار به وي، خو بيا هم د دې بخښنه راته کوئ. دا په رېښتيا يو بې بېلګې کار دی او يواځنی.

دا چې که تاسو يې د لوستلو سره ستړي شئ، نو زه به يې د ليکلو سره څومره ستړی شوی يم، خو دا به هلته ډېر بد وي، که په غوښتنو کښې مې تېری کړی وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

موخه ۱: ځان روغ ساتل

موخه ۲: دا ښوول، چې پوهنې او همداسې ژبپوهنه هم پر پښتو باندې لیکلکېدی شي.

---- ولې مې د پښتو ژبلار یا و ژبپوهنې ته پام راوګرځېده؟

---د ما لیکنې د نورو ژبپوهانو له لیکنو سره مخامخ دي، چې و دې ته به لنډه ګوته ونیسم او له همدې سره به دا هم وښایم، چې ما دا کار څنګه و مخ ته بیولی، له پیل څخه داسې لنډ

یادونه: دا لاندې چې څه روښانه-ونې کوم او نوې دي، دا ګوره نږدې ټوله ژبه او ژبلار په بر کښې نیسي یا نږدې ټوله ژبه او ژبلار خوندي لري.

زه له پیل څخه داسې و مخ ته ځم:

---له هر څه څخه د مخه:

دا یا داسې لیکنه په پښتو سوچه بوچه نوې ده، نو:

--- پښتو یوه اېرګاتیو ژبه ده، دا په دې پوهېدنه چې پښتو نومیناتیو او اکوزاتیو کاز یا کازوس، پښتو یې اړیتیګووني نه لري، په دې هکله مې پوره یو کتاب لیکلی او دلته مې هم د اړتیا له مخې راوړې.

او نور پسې:

<u>لومړۍ:</u> په پښتو کښې د ناسمونونو سره مخامخ شوم، لکه: سلنه، اوبلن د بهېدونکو لپاره، کچه، چې ډېره بې مسؤلیته یې د موږ د لیک-لوست خاوندان کار وي او داسې نور چې د کتاب په دننه کښې پوره غځېدلې، راغلي. د دې پیل سره سملاسي له ژبلار سره مخامخ شوم، چې باید له هغې څخه د مخه مې دا د ځنې پوښتنو یا غوښتنو ځوابونه ور کړي وي

.

<u>د سریزې پر ځای باندې ج .</u>

--- ډېر لیکوالان یا ټول داسې لیکي: سږ کال تر ټولو ډېر انګور شوي. او دا هېڅ یوه د پوهېدلو وړ غونډله نه ده یا کومه موخه-ور څه نه دي لیکل شوي. دا ،،تر ټول ډېر،، همداسې څه لیکل دي او څه ور څخه نه پوهېدلکیږي. یا ،،تر ډېره برېده،، څه نه شته. دا ډېر برید نه شته. ډېر برېدونه، اوږد برېد، پلن برید او.... شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوه درانه ژبپوه کتاب مې، چې پر ،، فون، فونيم او الوفون: مشترکات او توپيرونه ،، باندې ليکل شوی وو، ور څه ه ليکم، دا د ما په همدې اسوړاندې شوي کاب کښې ښه روښانه شوي، خو ده ،، واحد ،، چې د نمړي په اند وندې دا يو دی آو پوره اسم يې پسې نا اړونده ليکنه کړي، چې پر هغې باندې هم څه نه ليکم، و دومره وايم، چې په پوهنو کښې د موږ ژبپوهان دا نام ليکل شوی د ،، يووالي unite & Einheit،، لپاره ليکلی، چې د کتاب په دننه کښې يو ليکنه ورباندې شته.

له ډېر وخت څخه را پر ديخوا باندې لولم: ځو ورځې وړاند. داسې څه نه شته. که موخه وي: ځو ورځې د مخه وي، خو همداسې بايد وليکو. دا ،،وړاندې،، ځايواتېن دی او نه وختواتېن.

دويم: کړنوييونه، بوختيا وييونه او يا مهالويونه. دا کړلکيږي، لکه: تلل، کښيناستل.

د نور ژبپوهانو سره په توپير کښې: په پښتو ژبه کښې د کړنوييونو ښه نه بدليږي يا کړنوييونه نه ګردانيږي، خو پوهېدنغزيږي. بېلګه.

زه کښېنم، زه هغه وهم، زه و کور ته لاړم، ما هغه وواهه. دا لته دا ـم په کښېنم، لاړم او وهم کښې او ـه د لومړي کس د تېر مهال لپاره په وهل کښې د وهل کښېناستل و کړنې ته غزوي، دا که غواړی، د هغه ګردان بديل يا اندول دی.

دريم: نومويونه: زه به د اسانتيا لياره نومځاينيوي راوړم.

دا په پښتو کښې په دوه ډوله دي:

ځانيز او پسې- او مختړلي يا کليتيکي نومځاينيوي:

دريم الف: ځانيېز: يو ګڼ يې: زه، ما، ته، تا، هغه( هغې)،هغه(هغې).

ډېر ګڼ يې: موږ، تاسو او هغوی.

د سريزې پر ځای باندې چ .

يادونه او د ما سمه روښانه-ونه: د يوګڼ او ډېر ګڼ لپاره د موږ ژبپوهان يو ګړی او ډېر ګړی ليکي، چې دا د وګړي څخه يې دا ګړی رابيل کړی. پوهنيز څه ته يې پام سوچ،بوچ يا ښځې ګړی نه دی. دا په رېښتيا چې ډېر ناسم دی. که دا پيشوګانې وی، نو بيا به يې څنګه ليکو: يو پيش او ډېرپيشه او که څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوره یادونه: دا نوموییونه د کړوني یا کړونو او نه کړوني یا نه کړونو لپاره راځي، خو په یو ګڼ کښي ،،ما....،، په کړوني کښې د تېر مهال لپاره او په پرېکړوني کښې د اوس مهال لپاره راځي.

---- دا نوموییونه هم په پښتو کښې نه بڼه بدلیږي یا نه ګردانیږي، خو په پښتو کښې بیا د دندې بدلېدنې لپاره څه باید وي. دا به په کاسوس یا اړیکټینګوونو کښې و لولو.

دریم ۲ :مختړلي یا و مخ ته تړلي او پسې تړلي یا پسېځاینیوي یا کلیتیکي نومځاینیو: مخ ته تړلي: را، در ، ور پسې ځاینیوی نومځاینیوي: مې، دې، یې.

څلورم: ادجکتیو یا خویوییونه( د مور ژبپوان و دې ته ستاینن نوم وایي، خو په پښتو ژبه کښې ستایل او ستایینه شته خو ستایین نوم نه شته). د ستایل( مخامخ یې غندل) په مرسته یو څوک د خپل خوي له مخې څخه ستایل کیږي یا غندل کیږي).

خویوییونه لکه سپین، جګ او نور.

----خویوییونه هم بڼه بدلون نه لري، خو جګېدنه لري.

د خویوییونو جګېدنه له ډېر، خورا ډېر او زښت ډېر یا ښه، ډېر ښه خورا ښه سره کیږي.

پنځم: خویوییونه او نوموییونه څنګه پیژندلکیږي؟

خوییونه جګیږي او نوموینه جګېدنه نه لري یاه نه جګیږي. و دې ته دې تل پام وي.لکه په زړه، زوړ.

یادونه: بیادې هم ویل شوې وي، چې پښتو ستایېننومونه نه لري. دا ستایل یو کړنویی یا کړلوی، مهالوی او ښه یې بوختولي وی دی، نو له دې امله ستاینوییونه هم نه شته.

شپږم: پوستپوزېشنونه، پسېځاینیوي یا اړیکوییونه: لپاره، څخه، سره کره، پسې، باندې،کښې، ته او پورې.

د سریزي پر ځای باندې ح .

یادونه: په پښتو کښې مخځاینیوي یا پرېپوزېشن یا مخ اړیکوییونه نه شته، نو ځکه د پوستپوزېشن لپاره یواځې اړیکوییونه لیکم او نه پسې-اړیکوییونه.

د مور ژبپوهان د، له، په ... او نور پرېپوزېشنونه یا مخځاینیوي بولي، خو دا په پښتو ژبه کښې د هغو نوموییونو لپاره راځي، چې دنده یې د کړوني څخه و نه کړوني ته وړل شوې وي.(کازوس یا اړیکټینګوونو کې راځي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

--- سفېکسونه، پسېټرلي یا پوهېدنغزووني. د دې دنده ده: له دې سره د کړنوییونو او نومویيونو او خویوییونو پوهېدني غزيږي، لکه: څم، خورم، خورې، خوري. دا ــم، -ې،- ي. دا کړنوییونو پوهېدنغزوني دي او د ،، زړه،، پوهېدنغزونه و خوي وي ته ده: زړه-ور( زړور؟) او زړورتیا او زړه-وروالی دي.

۶ ــکېز، کازوس او پښتو انډول يې اړيکټينګووني:

په الماني کښې د کازوس دنده دا هم ده، چې د نومویيونه دنده بدلون وښايي،لکه په لاندې ډول د الماني نومځاينیوو کښې.

Kasus: ich, mein, mir, mich

په پښتو کښې دا دوه دي، رېکتوس کړوني ( اوس يې خوزند ) او اوبليکوس نه کړوني یا نه خوزند، څکه دلته د کړنوییونو رول غوره دي:

۱ – کړوني یا خوزند اړيکټنګووني: زه، ما او .... زه د اوس مهال لپاره د هغه کړنويي لپاره چې يواځې کړونی لري او هم د هغه کړنويي لپاره چې پرېکړونی هم لري او ،،ما،، د تېر مهال کړنويي لپاره، چې پرېکړونی لري. او ،،ما،، د زه بڼه بدلون نه دی.

الف : اړيکټينګوونی له کړنوي سره، چې يواځې کړونی لري: زه څم، زه لاړم. ا چې د کړنويي څخه پرته پرېکړونی هم لري، لکه: زه ډوډی خورم، ما ډوډئ وخوړه. دلته دې ،، ما ،، پر ياد باندې وساتلی شي

ب– اړيکټينګووني له کړنوی سره چې پرېکړونی هم لري: ما، زه لکه: ما هغه وهې، زه هغه ووهلم. موږ يواځې له کړنوییونو سره سر او کار لرو، چې پرېکړونی او کړوني

دواړه لري. دلته ما د اوس مهال لپاره او زه د تېر مهال لپاره راځي. دلته دې هم ،، ما ،، پر ياد باندې ولرو.

د سريزي پر ځای باندې خ .

---

۲ - نه کړوني، چې اوس مې نه خوزند بللي او دا سم راځي.

۲۲ – د خاوندوالي اړيکټينګووني: د ما کور. ،، د ،، د خاوندوالي مورفيم دی، چې د کړوني ،، ما،، دنده يې و نه کړوني،، د ما،، ته وړلې. بيا: دلته ،، د ما ،، نه کړونی دی.

۲۳ – داتيو - يا د اړيکوییونو اړيکټينګووني.

يو: له يوڅه څخه(سره، کره، پسې)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه: پریوڅه باندې. پر یو څه پورې( دلته د هغه تر سره پورې او د دې پورې پهمنځ کښې توپیر شته)

درې: په یوڅه کښې.

څلور: تر یوڅه پورې.

پنځم: و یوڅه ته

دلته تل له مورفېمونو له، تر، پر، په، و، پسې نوموییونه راځي او د دې نوموییونو پوهېدنه بدلېږي یا بدلوي او پسېځاینییوي: څخه،( سره، کره، پسې)، پورې، باندې، کښې،ته راځي او یواځې همداسې دي، بل هر ډول راوړل یې ناسم دي لکه ،،تر، چې ټول هر څه نیولي په پښتو کښې هېڅ ژبنیز څه له لیکنو څخه نه لوېږي، لکه د مور ژبپوهان چې وایي.

د مور ستونځې، هغه ډېرې یې همدلته دي، چې ګوته به ورته ونیسو او روښانه به یې کړو.

له داسې لیکنې سره تاسو د لومړي ځل لپاره مخامخ کیږی، نو دا څېړنه به هرو مرو درته پردي یا نابلده وي.

اړېکوییونه پر پښتو باندې او پر الماني – او انګرېزي باندې.

دا چې دنده یې اړیکې دې، نو ترې تېرېدنه یې ناسمه ده.

| | |
|---|---|
| لپاره | For; Für |
| سره | With; mit |
| څخه | From; von |
| باندې | On; auf |
| کښې | In |
| پورې | Until; bis |
| ته | To; zu |
| کره | By; bei |

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا به دلته په یاد راوړم، چې ما هم دا له دې لیکنو څخه د مخه ناسمه پوهېدنه ور څخه لرله او ژباړه یې ناسمه وه، د موږ زیات لیکونکي اوس دا هم داسې ناسم بولې او زیات یې له، پرې او.... ژباړې او دا ژباړې یې پرېپوزېشنونه بولې.

## بیا و کتاب ته:

د ما د دې کتاب لیکنه هم په ژبپوهنه کښې سوچ-بوچ ځانکړې ده:

--- کتاب په پښتو لیکل شوی دی

----- د ژبې سوچه کېدل: یوه ژبه هم نه شي سوچه کېدی، خو موخه د ژبو سوچه کېدل نه دې موخه د ژبو ساتل دي. داسې ژبې لکه پښتو، چې تر اوسه پورې یې توانمنه لرو، نو د داسې لیکنو سره، چې وربانديې کېږي، لرې نه ده، چې د ژبې هغه ډېر په سلو کښې ویونه به یې له لاس څخه ورکړو( زه له لاسه نه لیکم، دا څخه اړیکوی دی او نه لیکل یې ناسم دې، ځکه دا د غونډلې برخه ده).

--- دا کتاب مې غوښتونی داسې ستر ولیکه، له نوو ورزیاتونو او پخوانیو لیکنو څخه ، چې دا د ما غوښتنې هغه ډېره برخه یې هم په کتاب کښې روښانه وي.

د ما د ټولو لیکنو او کتابونو یوه موخه د پوهنې په څنګ کښې، چې غوښتونې ده، دا و ښایم، چې هره پوهنه په پښتو لیکل کېدی شي او پښتو – لکه نورې ژبې هم- دا توان لري.

د سریزې پر ځای باندې                    څ                .

--- موخه د ژبې سوچه کېدل نه دي، موخه د خپلې ژبې د ویونو کارول او له منځ څخه نه تلل دي، په پښتوپوهنه کښې هم.

ما تر اوسه پورې د پښتو لیکوالانو لیکنې، چې هغه غوره څه یې پر پښتو باندې لیکلي وي، نه دي لېدلي.

---- دا کتاب د وخت او اړتیا له مخې څخه پر ځو برخو باندې وېشل شوی، چې دا درې لومړنۍ برخې یې ژبلار ده، چې یو له بل سره به اړوندوالی ولري او دا څلورمه برخه یې د ما لیکنې دي او پنځمه برخه به یې دا د ژبلار په اړه، دا او هغه خبرې وي.

--- کتاب به تکرار ولري خو موخه-ور به وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا به هم د ما د نورو لیکنو لیکنو په څېر هم یواځنۍ لیکنه وي، چې د نورو ژبپوهان د لیکنو سره به مخامخوالی ولري.

غوره بادونه: د ما دا کتاب د ما د نورو کتابونو داسې غزونه ده، چې بیا نوې میندنې په دې کښې شته او له دې امله یې باید غزونه و وبولم، موخه د کتابونو زیاتونه نه ده، خو د کتابونو له سمون پسې اړیینه غزونه ده.

## ډېرو ګرانو لوستونکو!

دا کار د یوه کس کار دی، نو له دې امله به تکرار په کښې ډېر وي. د دې کتاب د لیکلو لپاره، چې ما څه را ټول کړي دي، هغه به ډېر بیا، بیا راغلې وي، خو د پوهنیزې خوندپونې کښې ډېر زیار ګالل شوی دی، چې د نورو ژبو سره په پوهنه او ژبلار کښې معیارې سمه وي. ژبپوهنه هم د نورو پوهنو غوندې یو ستر چاپېریا یال خوندونه لري، چې دا دې د معیاري لیکل لپاره د ما له خوا څخه یو لومړنی پل وي. تاسو به و ما ته بخښنه کوئ، که نامناسب څه را څخه لیکل شوې وي.

سرلیکونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library


د سريزې پر ځای باندې

کړنوييونه ۱۱

مرستندوی کړنوييونه ۱۲

نالاريز کړنوييونه ۱۳

د کړنوييونو توپير ۱۴

نومويونه ۱۵

نومځاينيوي

نر- ښځېوال نومونه Genus

ځانيز نومځاينيوي:

د نومځاينيوو ډولونه:

ادجکتيو يا خوي وی ۲۱

د خويوييونو جګېدنه

د ژبنيزوتوکو پېژند:

غونډالجوړښت ښونه ۲۲

تړنوييونه ۲۳

بنسټغونډال – او څنګيز غونډالتړنه

phonem فونيم څه شی دی؟ ۲۷

Allophoneديوه غږبلډولوالی ۲۸

ډېستينګېم: Distingemګرافېم Graphem

Morphem مورفېم ۳۳

فونېمبدلېدنه په منځغږ کي ۳۰

Phonetikفونېتيک ۲۱

فونولوژي۳۱ Die Phonologie

۱-وېيندوله فونيتيک ۳۲

دويمه برخه ۷۶

پسې تړلي ۷۶

د [illegible] دولونه ۷۸

مورفيم څه شی دی ۳۲

نيونه، ښوونه، غوښتنه

قضيه يا تيورېم ۳۵ Theorem

وينادولونه يا وينابنې: ۴۱

ادورب يا قيد او ډولونه يې: ۴۲

د وييونو تړنې: ۴۵

سرغونډالې يا بنسټغونډالې ۴۷

غونډالجوړونه ۵۱

اتريبوت- ورزياتونه

Partizip پارتيڅيپ:

کړونی او پرې – يا نه کړونی ۶۱

تړنويي يا – لغات ۶۴

سيده– او ناسيده ويناوې 64

انتروګاتيوغونډالې

خوزندtransformiéren/

پيداښت

غونډالغړي ۶۶

انترجکشنونه(وېين ويونه يا دويلو ويونه)،

ترانزيتيواو اينترانزيتيو ۶۹

سيمانتيک ٧2

:.

:

.

.

پرېديکات يا غونډالوييېنه ۱۰۴

خاوندوالي- ، داتيو شی

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library

.

.

.

.

.

کتاب : دریمه برخه:  پښتو یوه اېرګاتیو ژبه ده: ۱۳۵ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


خویوییونه او ستایپن نومونه ۱۳۸
ولې لیکو کړنوییونه او ... ۱۳۹
د ځنو ژبنیزو توکو پېژند
غونډلجوړښت ۱۴۳
پیل: پښتو یوه اېرګاتیو ژبه ده ۱۴۷
راځئ چې پښتو په همدې لار...
له ایرګاتیو څخه ژبلاریز
څه پوهېږو؟ ۱۵۱
په اړیکتینګوونو کښې د ۱۵۱
پښتو یوه اېرګاتیو ژبه ده ۱۵۴
پښتو ژبه دوه اړیکتینګووني... ۱۵۸
غوره یادونه:پښتو ژبه دوه ډوله.
د اړیتینګوونو یا کازوس..... ۱۵۹
اړیکتینګوونی د اینکلیتیکي او ... ۱۶۲
د وییونو نه لیکل یا حذف او... ۱۶۵
پوهېدنغزووني او پوهېدنوړووني.... 168
بیا: له ویونو څخه تېرېدنه.....
ولې دا ستونځې؟...... ۱۷۱
تکیه اړ او ځانیز نومځاینییوي ۱۷۳
اړیکتیګووني. څه تکرار ۱۷۳
ستونځوبی ۲۱۱
ولې او بل؟ ۲۱۵

ځلورمه برخه ۱۸۱
و پښتو ته ناسم راننباسل ۱۸۱
په ژبه کښې انارښي باید نه وي ۱۸۱
پر پښتو باندې لیکل او... ۱۸۱
سلمه به څنګه سلنه شوې وي ۱۸۳
ژبه قرارداد دی او که...... ۱۸۵
د موږ ستونځې په ټولو پ..... ۱۸۹
په بیداپښتي پوهنې کښې وده ۱۸۹
موخه پښتو ژبه............ ۱۹۰
په ژبه کښې څنګه وییونه ... ۱۹۰
د ما سوال او هیله........... ۱۹۰
ژبه سوچه-کېدنه ۱۹۱
پر پښتو باندې څېړنې څنګه.. ۱۹۳
نومه-ونې ۱۹۳
موږ درې ډوله نومویيونه لرو ۱۹۴
ژبه معیاري کوونه ۱۹۶
،، ئ،، پر پښتو باندې تپل ۱۹۹
د منلي خبیب علي...... ۲۰۲
بیا هم دا ئ پر پښتو باندې... ۲۰۶
ناسم وییونه څنګ ّ پېژنو؟ ۲۰۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوي ښتن په سپېڅلي نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

Verbکړنوی ( لاتینverbum temporale، مهالوی یا وخت اړوند وی یا لنډ: وی) وختوی، کړنوی، بوختوالي وی د یوه ویډلې لپاره د ورځنې (traditionellen ) گرامر یا ژبلار مسلکي وییته (افاده) ده، چې یو بوختوالی، یوه پیښه یا یو مهالوی په گوته کوي او ویونه په بر کې نیسي لکه تلل، خوړل، الوتل او نور.یا دا

پیژند: کړنویونه په خپله دنده کې د یوې غونډالې یو غوره پرېډیکات جوړوي، چې په خپل ټول چاپېریال کښې نور ټول توکي تنظیم کړي. هغه د موضوع د رول یا دندې جوړونه ټاکي او هغوي د مهال، مودال ( د کړنې له اړیکټینگونو حالتونوسره سراوکار لري. د ما په دې لیکنه کې گوته ورته نیولشوې) اسپکتوی ( ژبلاریز وی دي، چې د یوې کړنې وختځای په گوته کوي) بوختوالی او نورو معلوماتو، ... ټاکونکي دي.

یادنهه: موږ به د نومونو پرځای باندې هم نومځاینیوي وکارو، چې روښانونه ورسره ساده کیږي.

یا هغه ویی ته یو کړنوی وایي، چې څه کړل کیږي یا پیښیږي یا څه شی کیږي.
-- په یوه غونډه کښې کړنوی په ځانیزه بڼه
یوگن یا ځانله: ۱. کس: زه ځم. ۲. کس: ته ځې. ۳. کس: هغه ځې.

یادونه: که ولیکو: ځم، خورم و به پوهېږو، چې موخه څه شی دی، خو دا یوائې د کړنوییونو یا ډول دی او نه غونډله( پوره نه لیکم). دلته باید اړونده نومویونه ، چې کړوني دي، ور سره مل وی او په خورم هغه کړونی او

پوهنیز-ژبلاریزه ۲

پرېکړونی هم باید مل وي.
(Plural (Mehrzahl  ډېرگڼ یا ډېر:

۱-م یا لومړي کسان. موږ ځو. ۲-م کسان: تاسو ځئ. ۳-م کسان: هغوي ځي

یادونه: په پورته کې: ۱. او ۲. د لومړي او دویم په ځای لیکل کیږي. زیات وخت – لکه د مخه مې چې گوته ورته ونیوله: ۱ –م، ۲-م او ۳-م لیکل کیږي، چې دا یې غوښتونې یا پوره لیکنه ده.

ډېره اړیینه یادونه: په پورته غونډلو کې –م لکه زه ځم، -ې، ته ځې ... دا د تلل سفېکس یا پوهېدنغزونه ده او نه بڼه بدلون یا گردان، چې –م، -ې ... او نور یې پسې تړلي یا ښه یې پوهېدنغزووني دي، چې خپلواکه پوهېدنه نه لري او د مخه ورپورې تړلو ویونو یا بنسټوییونو پوهېدنه غزوي ( روسته راځي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

---- په پښتو ژبه کښي د کېدنوييونه ډله هم شته. له نوم څخه يې برېښی چې دا کېدل کيږي او کېدونی لري او نه کړونی......

## ۲- Hilfsverben مرستندوي کړنويونه:

-يېدل يا -يل، چې ماته سم برېښي، لرل، کېدل.

د مرستندوي کړنويونو په مرسته بېلابېل وختونه جوړيږي،

د بېلګې په توګه: موږ تللي يو، موږ تللي وو، موږ به لاړ شو.

کله کله دا د ادورب، نوم يا خويوی سره ځانله يا يواځې وي.

د بېلګې په توګه: هغه ولاړ دی. زه وږی( خيوی) يم يا لوږه لرم(نومويی). زه نېکمرغه يم.

مودالکړنويونه: بايد، غوښتل، اجازه لرل يا – ورکول...

هغه يا که غواړۍ دا تل د يوه کړنوي د اينفينيتيو ( بنستېبنه) سره په تړاو کې دي او د هغه سرچينييزه ويناوې بدلوي.

هغه کړی شي د بېلګې په توګه رابند کړي، يو څه هرومرو (مجبوريت) شي، يوه هيله يا غوښتنه(؟) ووايي( افاده کړي)، يو څه بېبنديزه يا خپلواک کړي.

**.پوهنيز-ژبلاريزه ۳.**

بېلګه: هغه بايد راشي، هغه دې بيده شي، زه کړی شم ( د چا ومخ ته ) ولولم.....

کړنوييونه د بنستېبدلېدني له مخې په درې برخو وېشل کيږي يا په درې ډولهدي:

۱ - ناتوانه کړنويونه: دا هغه کړنويونه دي، چې بنسټ نه بدلوي.

بنستېبنه .......... ۱. بنسټ بنه ........ ۲ . بنستېبنه.......۳ . بنستېبنه (۱)

انځورول ....... زه انځوروم ...... ما انځور کړل.... ما انځور کړي وو

ويل ............ .. زه وايم.... ما وويل............. ما ويلي وو

يادونه: په پورته کښې بايد له انځورولو او ويلو سره بايد پرېکړوني مل وي

۲ - توانمند يا غښتلي کړنويونه : هغه دي، چې بنسټ بدلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنستېنه.............. ۱ . بنستېنه.... ۲. بنستېنه...... ۳ . بنستېنه (۱)

ځغاستل............زه ځغلم........ زه وځغاستم.... زه ځغاستی وم.

لمبل ............. زه لامبم........ ما ولمبل....... ما لمبلې

دایوه بنسټ بنه د بنسټ کړنویي له امله ده او دا پسې بله ترې منځ ته راغلې یا ور څخه راپاتې بنستېنه یا میراث دی. نه پوهېږم څه نوم ورکړم.

۳ - نالاریز ( نا منظم یا بې قاعدې یا بېلاریز) کړنویونه

بنستېنه .......۱ . بنستېنه..... ۲ . بنستېنه..... ۳ . بنستېنه

تلل ........ زه ځم، ..... ... زه لاړم...... زه تللی وم

اړیینه یادونه: د دې کړنو سره د وخت له مخې د کړنویونو پوهېدنه غزیږي. او پرته له دې، ځانګړو ویونو سره د اوس وخت لپاره نومځای نیوي هم خپله بنه نه بدلوي، دوه نومځاینیوي لرو، چې په ډېرګڼ اړیکتېنګونویا حالتونو کښې یو پاتې کیږي:

لومړی: هغه کړنویونه، چې کېدل کیږي او بل یا پرې کړوني یا ور باندې کړني ته اړ نه دي، په هغوي کې یو نومځای نیوي پاتې کیږي، چې دا بنه بدلون نه دي.

بېلګه: زه ځم. زه لاړم. زه تللی وم.

**. ۴ پوهنیز-ژبلاریزه .**

دویم. هغه کړنویونه چې پر کړوني باندې برسېره ورباندې کړونی هم لري.
بېلګه: زه خورم. ما وخوړه. دا پوره غونډالې یا غونډالې نه دي، ورباندې پوهېږو، خو باید پرېکړونی ورسره وي. زه منه خورم، ما منه وخوړه او نور.

په پښتو ژبلارکې کړنوییونه بنه بدلیدنوړ یا ګردانېدونکي ویيونه نه دي او د پسې تړلو

په مرسته یې اړونده پوهېدنه غزیږي لکه: ځم،ځو، .. خورم، خورم او ما وخوړه... او یوه کیدنه په نخښه کوي یا ښایي. په ښوونځي ژبلار کې دا له دې امله بوختوالیويي، مهالویي، یا کړنوی هم بلل کیږي او په لاندې برخو وېشل کیږي:

- په بوختوالي/کړنه کې(ژړل،ګوتنیول،ورکول).

- کیدنویونه ( لوییدل، زورېدل) دا داسې ویونه دي، چې کړوني ته اړتیا نه شته دا کړل کیږي نه، دا کیږي یا کیدل کیږي. دا یوه دباندې توان ته اړتیا نه لري.

بیا لنډ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو کښې د نورو ژبو په څېر کړنوییونه نه ګردانیږي، خو پوهنه یې د پسېتړلو یا پوهېدنغزوونو په مرسته غزیږي. خوړل، خوري، خورم. خورو، چې بنسټ وی همغه او د پسېتړلو یا سفېکسونو، بڼه یې پوهېدنغزوونو په مرسته و غزېده.

- اړیکټینګووني، کېز یا کازوس:حالت یا څنګه والی یا بڼه یې اړیکټینګونی ( دا

هغه ژبلاریز یا ګرامري کازوس، حالت یا پیر نه دی) ( درېدل، ژوندکول، پاتې کېدل یا پاتېدل). دا و منځپانګې ټاکنې ته ګوتنیونه هم کیدی شي، داسې چې: شیییزې بوختیاوې، کیدنې اوحالتونه په نخښه کولی شي(بېلګې: چمتووالی، پېښه، راتلنه). هغه ګرامري کېز، کاسوسو یا چې حالت مو باله یا بڼه یې اړیکټینګوونکی وروسته څېرلکیږي

- د کړنوییونو توپیر له نورو ویونو سره دی، چې دا په پښتو کښې یواځې یا هم بڼه-بدلیدونکی وییونه دي یاکه غواړی، ګردانیږي. (؟؟؟؟)

-- اوس پوه شوم، چې کړنوییونه نه ګردانیږي یا نه بڼه بدلیږي او پوهېدنه یې د پوهېدنغزونو په مرسته یې پوهېدنه غزیږي.

۱ – سپین ځي = تلل ( سپین)= ت (س)

۲ – پیشو موږک ونیوه = نیول ( پیشو، موږک)= ن ( پ،م)

## . 5 پوهنیز-ژبلاریزه .

دا سم اندیز جوړښت د ژبلارې کړن-ارزښتوالي ځانګړی ډول جوړوي.

داسې لړ نوره روښانونه هم، چې دما ورته پام راوګرځید:

د لاندې سره مې کړونې نه دي لیکلی او ژبلاریز ناسم دي، دا دې ورسره ولیکل شي.

- کړنوی: تلل: لاړم یا ځم،

- مهالوی: تلل: ځم، تللم،لاړم، تللی یم، تللی وم

- بوختوالیوی: بوختتیا وې: لوستل.

منډې وهل. او سپورت کول.

څوبیلګې: تلل. موږ وکابل ته ځو.

تاسو وکابل ته ځئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه و کابل ته ځي.

لنډ: موږ ځو، ته ځې، تاسوځي، هغه ځې، هغوي ځي.
اړيېنه يادونه: د موږ ژبپوهان يا ځنې ليکوالان ليکي، چې دا ـم،-ې،-ي... منفصل او که

متصل نومځاينيوي دي، خو دا سې نه ده. دا د کړنوييونو د وخت او کس اړونده غزېدنه ده

او دا -م، -ی او -و پسېتړلي دي ( پسې تړلي يا پوهېدنغزووني دې وکتل شي).

نورې بيلکې که غواړئ تاسو يې راوړلی شئ.

موږ په پښتوکتابونو کښې تر اوسه پورې زده کړي، چې د عربي فعل يا ورب ته کړ وايي.

يادونه: موږ د فعل د پښتو له انډول سره دوه ستونځې لرو.

١ – کړ که کړنه يا بوختتيا(بوختوالی)

که رښتيا ووايم په کړنه پوهيږم، چې دا د کړل نومويی دی.

که دا د ،،کړل،، لپاره کړ وي، نوکړل نوم په کړنه جوړيږي اونه په کړ.

.



۲- پوښتنه داده، چې ايا کړنويی په کوم پای توري يا په روښانه توګه يې که ووايوپه کومې ،، يې،، سره ټاکل يا ښوول کيدی شي؟

ځواب يې: نه!

## ۳ – Nameنوم

نوم: د يوه نوي پوهنيز پيژند له مخې نومونه په يوه کس، يوه شی او يا يوه ځانله کس يا څه
د معلومات – يا پوهېدنډېرئ يا – سټ يا يوې کلمې باندې تنظيم شوي،
معلوماتومعلومولو يا ټاکلو ځانګړنوالي په چوپړکې دي. يا

پيژند: د يوه کس حيوان يا يوه شي لپاره له يوه يا ډېرو وييېنو څخه جوړه نخښه-ونه يا په نخښه- کونه، چې يو څوک د يوځلوالي په څېر راوباسي يا ټاکي.

ځانيز نوم.

١ - د يوه کس، کورنۍ نوم يا يوه نوم لپاره په نخښه-ونه.

لکه سورګل، سپين.. کشمالی،غونډوسکه او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنوم او نومن د توپیر لپاره یې پېژندونه سره پرتله کړئ

نومونه Nomen / Substantive

دوه نور ژبنیز توکي.

نومونه، شینومونه یا نوموېونه..

یادونه: که دا سوبستانتیو او نومونو، نومځاینییو ته نوموییونه ووایو، دما په اند به لنډ موخه ور وي (ـوړاندیزونه):

نومونه/ سوبستانتیو یا شینومونه ژوندي، شیان او کلیمې په ګوته کوي.

روښانه یا ځرګند نومونه/ سوبستانتیو شینومونه شیان دي، چې سړی یې ګوري، لمس کوي یې او حس کوي یې. له دې امله ،،نوموییونه،،.

د بېلګې په توګه:مېز، پاڼه، غونډوسکه، پیاله.

ذهني نومونه/ سوبستانتیو شیان دي، چې فکر پرې- یا ورباندې کیږي او احساس کوي یې

**.　　　　　　ژبپوهنه　　　　　　۷　　　　　　.**

بېلګې: کار، تفریح، خوښي، زړه بدي

نومونه/سوبستانتیو یا شینومونه کومې پېژندنخښې لري؟

نومونه/سوبستانتیو ګڼونښې( تعداد ښې) لري:

یواځې یا یوګڼ (مفرد) بېلګه: ونه، ګلاب، برستن

ډېر یا ډېرګڼ(جمع) لکه ونې، ګلابونه، برستنې( د وګړي ډېر ګړی ناسم دی).

یادونه: د موږ ژبپوهان د یوه یا و ځانله ته یو ګړی او ډېرو ته ډېر ګړی وایي او له وګړي څخه یې رانیولی. دا ناسم دی، له دې امله هم، چې دا د وګړي سره سر او کار نه لري، دا د هر څه یا هر شي یا یو څه سره سر او کار لري، چې دا دې هرو مرو وګړي نه وي او نه دی.

یو ګڼ په دې پوهېدنه، چې ګڼ یې یا په ګڼ یو دی یا یواځې دی او ډېر ګڼ په دې پوهېدنه، چې ګڼ یې له یوه ډېر دی، نو ځکه ډېرګڼ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا: منه، مني. منه باید یوه وي، له دې داسې پوهېږو، چې ګڼ يې يو دی. مني، دلته باید دوه .... پنځه... مني وي، چې ګڼ يې له يوه څخه ډېر دی، نو له دې امله ورته ډېرګڼ وایو، نو لنډ یوګڼ ( ځانله)، ډېرګڼ ( ډېر یا ډېرې). دلته که یو ګڼ وي، یا ډېر ګڼ، نو د ګڼ بڼه نه بدلیږي.

نوم/ شینوم یا نوموبونه په پښتو کې دوه نرښځیوالي یا نرښځیتوب دي، چې د پیداېښت الي له لارې سره تو پیریږي، داپه دې پوهېدنه چې دا نومونه نارینه او ښځينه دي.

نر- ښځیوال یا نرښځېتوب د نارینه او ښځینه لپاره د ناټاکلو پېژند نخښو له لارې: یو، یوه، له یوه، له یوې، او ........... دا په هغه خپله موخه یا پوهېدنه وروسته راځي.

نرښځیتوب په پښتو ژبه کې د ځنې تورو یا نوره هم ښه زیات يې د غږلرونکو تورو له لارې څخه پېژندلکیږي یا څرګندیږي، **خو نه ټاکل کیږي**.

**بیا اړيينه یادونه:** دا دې په ګوته وي، چې نر/ښځیوال د کوم توري له لارې نه شي ټاکلکېدی. دا په دې پوهېدنه چې دا نه ټاکل کیږي، دا له پیداېښت څخه همداسې دي، چې همدا يې ډېره غوره ده. د موږ ژبپوهان په دې هکله له

**ژبپوهنه** ٨

پوره ناسمون سره مخامخ دي، لکه د ئ منځ ته راوړنه، چې ناسمه ده، دا په دې پوهېدنه چې دوي د يوه غږلرونکي توري له لارې کړ یا کړنه او نوم غواړي وټاکي، چې دایې ژبنیزه لار نه ده. د تورو له لارې څخه څه نه ټاکل کیږي.
دا هم ژبلاریزه نه ده، چې غږ یو او دوه لیکندولونه ،،لکه ی اوئ،،، خو کیدی شی د تورو له لار څخه نارینه او ښځینه و پېژندل شي.

کوم توري دي، چې دا یې له مخې څخه یا له هغو څخه پېژندل کیږي ( که ووایو، چې کوم توري دي، چې دا ټاکي، ناسمه ده، دا پر دې پوهېدنه باندې چې ټاکل کیږي نه).

-- دا نرښځیتوب کېدی شي، یواځې په یوګڼبڼه کره شي:

نارینه پر یوګڼبڼه باندې: سړی/ پر ډېرګڼبڼه باندې: سړي

ښځينه په یوګڼ: پیاله/ ډېرګڼ: پیالې.

-- ډېرګڼ ( په یوځاني نومیز) د پېژندنخښې سره جوړېږي.

موږ په پښتو کې یواځې ناټاکلې پېژندنخښې لرو: یو مېز، یوه پیاله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوته وي، چې نومځاینیوی هرو مرو د پرونوم انډول دئ او همداسي دئ، که غواړو او که نه ؟_

## نومځاینیوي:

پېژند: هغه وییډولونه دي یا د ویونو هغه ډله ده، چې د نومونو پر ځای باندې راځي یا د نومونوځای نیسي. نو له دې امله نومځاینیوي. دا کټمټ د پرونوم انډول دی. د موږ د پښتو ادبیاتو کښې ورته نومځری وایي، چې رېښتیا نه ورباندې پوهېږم. ګومان مې دی ځری نماینده ته وایي، خو نومځاینیوی نماینده یا نومځری نه دی، هغه یې ځای نیسي.

## ځانیز نومځاینیوي:

د نورو ژبو مخامخ په پښتو کې دا د یوګڼ او اوس وخت لپاره دوه دي: زه، ما، ته، تا، هغه، هغې، هغه (ن،ښ).

ډېر یا ډېرګڼ: موږ، تاسو، هغوي.



په پښتو کې نومځاینیوي نه بنه-بدلیږي، خو د یوګڼ لپاره، دا په دوه ډوله دي.

یادونه: دا به په حالتونو یا اړیکتېنګوونو کې نور هم روښانه شي.

په الماني کې له الماني رانیولې ورته ،،لپاره،، ویونه هم وایي. پرونوم د نوم ځای نیسي، نو له دې امله نومځاینیوي بلل کیږي.

یادونه: په الماني ژبه کې نومځاینیوي ګردانیږي یا بنه بدلیږي، خو په پښتو کښې بنه بدلېدنه نه شته، خو دا په حالتونو یا اړیکتېنګوونو کې څرګندیږي، چې هلته د نوم او همداسې د نومځاینیو سره چې دا مورفېمونه ورزیات شي، نو پوهېدنه یې بدلوي لکه له ما، پرمېز ، تر کور او د ما او نور._

یادونه:نومځاینیوي به په دویمه برخه کې پوره یا هغه د اړیینوالي له لارې و څېړل شي.

## د نومځاینیوو ډولونه:

د الماني لاندې پرونومونه یا نومځاینیوي په انډول پښتو څیړو:

Personalpronomen, Possessivpronomen, Reflexivpronomen, Relativpronomen او Interrogativpronomen.

(c) ketabton.com: The Digital Library

<u>Personalpronomen</u>ځانيز يا شخصي نومځاينيوي

ځانيز يا شخصي نومځاينيوي دي: زه، ما، ته، تا، هغه(ن او ښ)، هغه، موږ،

تاسو(ن،ښ)، هغوي دي. په پښتو کې نومځاينيوي ښه بدلون -لکه د الماني په حالاتو يا اړيکنيونو کښې- نه لري، دا به په اړونده ځای کې روښانه شي.

يادونه: په پښتو کښې نومځای نيوي، زه، ته، هغه او ما، تا ، هغهء په بېلا بېلو کړنوييونو کښې راځي يا کړنوييونه دی. په دويمه برخه کښې کتل کېدی شي.

<u>Possessivpronomen</u>خاوندوالي - يا څښتنوالي نومځاينيوي

دا پوسسيسيو نومځاينيوي( خونديوالي نومځاينيوي) اړوندوالی يا خاوندوالی يعنې ملکيت په ګوته کوي، موږدا دوه سره توپيروو د مل په څير او د نومځاينيوي په څير د پر ځای- پر بڼه- يا پر څير باندې.

.



يادونه: دا په حالتونو کاز يا اړيکتينګوونو کې ښه روښانه شوي. چې دا مې ليکل تر هغې پورې په حالتونو او د نومځاينيو په بدلون، ښه يې پوهېدنبدلون باندې نه پوهېدم، په دې اخرو کې بريالی شوم، چې د خپرونو له لارې يې له تاسو سره شريکې شوې هم دي او د م ک له لارې هم.

بيلګه.: دا د ما بکس دی. دا دما دی:

## راګرځيدونې نومځاينيوي <u>Reflexivpronomen</u>

رفلکسيو- يا راګرځيدوني نومځاينيوي موږ د راګرځيدني يا بيرته راګرځيدنې سره (ځان

تيرباسل يا ځان تيروتل، ځان ناسميدل( غلتيدل(غلطيدل؟))) او رامات کړنو ( ځان پيژندل) سره کاروو

بېلګه: دا به همدلته په ياد راوړم، چې دا غونډله په الماني اکوزاتيو ده، خو په پښتو کښې يې اړونده پوهېدنه کړنغونډله ده.

Ich habe mich verlaufen.

ما ځان تيرباسه يا زه تيروتلم. دا د اړيکتينګوونو له مخې سره يو څه نه دی. وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يادونه: دا ګوره له هرې لورې څخه بېلې غونډلې دي. دا د الماني خو يوه اکوزاتيو ابجکت لري، چې پښتو يې نه لري، له دې امله مې دا موخه په دوه غونډلو کښې روښانه کړې، چې دا دوه غونډلې سوچې بوچې بېل ګرامري جوړښت لري، چې په دا يوه کښې يو تېرباسل کېږي او دا يوه کښې تېروتل کيږي. په دا يوه کښې دا کړونی ځان تېرباسي، چې په همدې وخت پرېکړونی هم دی او دا کړونوی هم کړونی او پرېکړونی لري او په دې بله کښې دا کړنوی پرې کړونی نه لري، خو دلته دا کړنه هغه د مخه کړنه ده يا رول لوبوي.

Wir kennen uns مونږ( يو له بل) سره پيژنو

يادونه: په پښتو کښې اکوزاتيو نه شته، نو دا غونډله د کړوني په حالت کې راځي.

که پام وکړو، نودلته هم هرومروپښتو او الماني،همداسې فارسي بل ډول دي.

<u>Relativpronomen</u> نسبتي - پښتو انډول يې و چا يا و څه ته نومځای نيوي

له نسبتي نومځاينيوو ( هغه، دا، کوم،...) سره مونږ نسبتي غونډالې په ګوته کوو.



بيلګه: دا لاندې د الماني غونډله اکوزاتيو ده او پښتو کښې يې دا اک.پرېکړونی دی.

:Die Polizei sucht den mann; der die Bank überfallen hat

پوليس سړی لټوی، هغه (کوم) چې بانک وهلی يا لوټلی دی.

<u>Interrogativpronomen</u> پوښتنوييز- يا پوښتنيز نومځاينيوي

پوښتنيزنومځاينيوي ( څوک، څه شی، و چا، د چا) په پوښتنغونډاله کې د نوم پر ځای باندې راځي، د هغه پسې يا د کوم چې مونږ پوښتنه کوو.

بيلګه: له دې سره به لږستونځې ولرم،خوزه پوهيږم، چې تاسوله ماښه پوهيږئ.

*?Wer wird das sagen*

دا به څوک ووايي؟

*?Wer sagt das*

دا څوک وايي؟

?Wer hat das gesagt

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چا وویل؟

*Wer hat das gesagt gehabt?*

دا چا ویلي وو؟

یادونه: دلته ګوره له،، څوک(نه دی) ،، څخه و ،،چا،، ته لاړه. دې سره يې پوره توپير شته، خو د اوس وخت په پرېکړوني کښې د ،، ما ،، لپاره څوک راځي.
غونډله ورته ولیکئ

Demonstrativpronomen.

پام را – یا ور ګرځوني نومځاینیوي دي: دا،هغه نوموییونه دي، کوم مو چې پام و څه ته راګرځوي. موږ پام راګرځووني نومځای نیوي هلته کاروو، چې یو څه ( د نورو له ډلې څخه) راوباسو یا غوره کوو یا د پاموړ ګرځوو.

.

. ۱۲ ژبپوهنه .

بیلګې:

Möchten Sie dieses hemd oder jenes?

تاسو دا کمیس غواړې یا هغه؟

په ګډه اند: دلته به د پوښتننخښنه بسیا وکړي، که ،، ایا،، ورسره د مخه و لیکل شي؟

Indefinit Pronomen

ناټاکلي نومځاینیوي.

دې ناټاکلو نومځاینیوو پورې اړه لری: یوڅه، نه،سړی، یوڅوک، هر. موږ دا کاروو، کله چې موږ یوشی ټولیزکوو

بیلګه:

( ایا) ته د ما لپاره یوڅه کړی شې؟

## غوره یادونه:

بخښنه، بیا، بیا لیکنه را څخه کله، کله ډېرېږي.
په الماني کې د نومځاینیوي بڼه بدلیږي، خو په پښتو کې د کړوني نومځاینیو، چې موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا لرو، ښه نه بدلیږي، پرته د اوس حالت څخه، په پښتو باید یوه بله لار وي، چې په هغې زه هم په دې اخرو کې وپوهېدم او په پښتو کې هم دا لومړی ځل دی، چې دا کار کیږي او که اجازه وي، دا به د ما میندنه هم وبولم. دامیندنه ځکه لیکم، دا لار په ژبه کې شته، خو ما ومیندله. دا د اړیکتېنګونو دنده ده، چې هلته به روښانه شي.

## خویویي (یوګې، ډېر ګڼ یې: - وییونهAdjektivیا ورزیات شوی)

په ژبپوهنه کې د وییونو هغه ډله ده، کومه یا هغه چې د یوه څرګند شي یا یوه ذهني شي، یوې کیدنې یا کړنې یا حالت( ځنګه والی) او داسې نور جوړښت روښانه یا تشریح کوي.

ادجکتیو،،خویوی،، یا ،،ملوي،، هم بلل کیږي، په ښوونځي کې ،،ځنګه،، وی( یو شی ځنګه دی؟) هم بلل کیږي.



ستایېننوم: دا خویوی، چې د موږ پښتو ادبیاتو کې یې ستاییننوم بولي په پښتو کښې د ا نه شته. کړنویی ستایېل شته او نوم یې ستایېنه. د ستایېلو سره د یو څه یا ښه یې د یو کس د خویونو سره ستایېنه یا غندنه کېدی شي یا څوک ستایل- یا غندل کېدی شی او بس.

خوینوم: دا هغه نومونه دې، چې له خویونو څخه جوړ دي، لکه سپین کاکا.

دا په دې پوهېدنه، چې خوینومونه جګېدنه نه لري. سپینګل کاکا کېدی شي سپین هم وي، خو هغه یې بیا خوي هم دی. ته بیا دلته ډېر سپینګل کا کا نه شي لیکلی او نه باید وي.

یادنه: ستایل شته خو ستایېننوم نه شته او یو څوک د خپل خوي پر بنسټ باندې ستایل کیږي، له ښه هلک ستایېنه کیږي یا ستایېل کیږي. د ستایل مخامخ کړنوی غندل دي.

د سپین (خوي) او سپین (نوم) کاکا د دې دواړو سپین په منځ توپیر کړی شو؟

هو! که جګېدنه ورسره راتلله، خو خویویي دی او که نه نوم یا نوموی دی. د نوم سره ډېر-خورا ډېر- سپین کاکا نه شي راتللی.

## خوی ویونه کیدی شي وکارولشي:.

<u>attributiv</u> اتریبوتیو( یوه شي اړوند یا یوه شي ته یې نسبت ورکړی، د بیلګې په توګه. ښه یې ورزیاتونه: ښکلې ورځ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېډیکاټیو prädikativ ( د یوه پرېډیکات برخه د کوپولا سره: د بیلګې په توګه: ورځ ښکلې ده) یا

ادوربال adverbial (هغه ښکلې سندرې وایی)

د ژبلار د خبروڅه پوره غزېدلې وي،خو د اوس لپاره زه په دې لړڅه بسیا کوم. که ژوند وو، نو بیا به یې سم وغزوم، خو دا کار د ژبې مینه وال ښه کولی شي.

## د خویویونو جګېدنه په الماني او پښتو کې:

د الماني ژبې زیات خویویونه کیدی شي جګ شي. دا تلنه کومپاراڅیون Komparation یا درجه بندي یا ښه یې جګوالی بلل کیږي.

دا د ډېر،خورا-او زښت- سره درجه جګه کړو.



Positiv: *schön*ښکلی

Komparativ: *schöner* ډېر ښکلی

Superlativ*schönstenam*خورا ډېر ښکلی

gut, besser, am besten; ښه،ډېر ښه ،خورا ښه یا خورا ډېر ښه

viel, mehr, am meisten. ډېر، خورا ډېر، یا زښتډېر ،

ګورو، چې دا په الماني کښې ښه بدلیږي، خو پښتو کښې ښه بدلېدنه(ګردان) نه شته ،، تر ټولو ډېر،، چې څه نه وایي او پوره ناسم دی، که ولیکو

اوکه له نوروژبوڅخه یې هم ګټه واخستله، نولا نوربه هم ښه شي.

ځنې خویویونه شته، چې په هغې کښې دا جګېدنه پیداښتي نه شي راتللی:

ټیک همغه یا مطلق خویویونه لکه بلاربه ( ډېره بخښنه دبوي، چې دا بې ادبي ونه ګڼی، که حامله ولیکم هم همدا ده، خوعربي ده)،مړ اونور.

د رنګونو جګېدنه یا بلډولوالی بیا شته لکه شین، تک شین، شین چک.
یادونه: دا جګېدنه نه ده، ځکه، چې ټولیزه نه ده. دا د اړونده رنګ جګېدنه نه، دا یې یو بلډولوالی دی، ځکه چې دا د برک لپاره نه راځي. تکبرک، یا برګچک نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین، تکسپین، سپینچک او همداسې نور او همداسې په ډېر او زښت او خوراباندې هم
جګېدی شي یا جګیږي.

خویوییونه او ډولونه یې:

-- خویویي یو څنګه والی یاحالت یا یو خوي په نخښه کوي،

په غونډاله کې دا سړی د لاندې پوښتنې په ځواب کې پیدا کوي یا میندي:

یو شی څنګه دی؟

لکه پورته مو، چې وویل، په پښتو کښې خویویونه هم ښه بدلون نه لري.

د بېلګې په توګه: رنګه، ښکلی،ارام، مړاوی، خپلواک...
ځنې ادجکتیو یا خویویونه د پسېتړلي یا سیلبې له لارې پېژندلکیږي( پسې
تړلیSuffix ):



ناپای،-ور، -وړ، – والی، -توب او نور
په پښتو ستاینه شته، چې د یو چا یا یو څه ستاینه کیږي، له خویویي سره.
-- ادجکتیو له دوه ادجکتیو یا له یوه نوم/شینوم او یوه ادجکتیو څخه جوړ دي:

یادونه: په پښتو کښې خویوییونه او ستاینې دواړه شته. د یو چا د هغه د خوی سره ستاینه
کیږي. که سپین ښه سړی وي، نو وایو: چې سپین ښه سړی دی. دا ښه یې خویویې او دا
ښه سړی دی، دا یې ستاینه ده.

دبېلګې په توګه: تیاره شین، غټستر، رنګارنګ...
-- د ادجکتیو یا خویویونو کارونه:

موټر ګړندی ځغلي. ( یېدل (د شته والي) په څېر پوره کونه، کېدل، پاتېدل(prädikativ).

ګړندی موټر. ( نوم /شینوم ته ورزیاتېدل(attributiv).

ګړندۍ ګټي. ( د خپلواک نوم / شینوم په څېر(substantiviert)
په پښتو کې خویوییونه یا ادجکتیو ښه بدلون نه لري یا نه ښه بدلیږي:

۱ – نومیز ښه یې ځانیز: کوښښي زدکونکی پر ستایېلو باندې خوښیږي.

۲ – پرېکړونی یا ور باندې کړونی: کوښښي زدکونکی ستایلکیږي

۳ - خاوندوالی: دا د کوښښي زدکونکي ولاس ته راوړنه ده. ډلته ،، د ،، د خاوندوالي
مورفېم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ - داتیو: ستاینه وکوښښي زدکونکي ته ده. یا له کوښښي زدکونکي څخه ستاینه کیږي. له کوښښي هلک سره ستاینه مل ده. له کوښښي هلک کره ځو او همداسې نور.

دلته دې د اړیکتینګوونو برخه په پام کښې ونیول شي، وروسته څېړل شوې ده.

دا پورته لړ روښانه کوو:

و ۱ – ته: کوښښي. دلته زده کوونکی کوښښي دي، دا په دې پوهېدنه، چې کړونی دی.

و ۲ – ته : دلته کوښښي هلک پرېکړونی دی.

و ۳ – ته: دلته د ،، د ،، د واکوالي مورفیم ورزیاتیږي.

و ۴ – ته: د مورفېمونو،،و ،، له لارې څخه پوهېدنوړنه ده او همداسې له ،، له ،، سره.

**. ۱۶ ژبپوهنه۳ .**

-- د خویوییونو جګېدنه

په پښتو کې د خویوییونو جګېدنه، لکه د الماني او فارسي پر څېر باندې نه شته، خو انډول يې پر لاندې ډول باندې شته دی.

بنسټپوړی( زیاتېدنه یا مثبت) : ګړندی، جګ، ښکلی

۱ – لومړی جګېدنپوړی( کومپاراتیو Komparativ) ډېر ګړندی، ډېر جګ، ډېر ښکلی.

دویم جګېدنپوړی( سوپرلاتیو Superlativ) خورا ډېر ګړندی، خورا ډېر جګ، خورا ډېر ښکلی.

یادونه: د ،،ډېر،، او ،، خورا،، په ځای ماته بل څه ښه مناسب نه برېښي او د ما په اند نه شته، خو تاسو هم په کې فکر وکړی، خو هغه ،، تر ټولو،، ډېر ناسم دی.

-- خویوی له پرتلییزویونو سره: لکه، یا، له،

ښه کېدونکی یا ډېرېدونکی: دومره همدومره ... لکه: زه ( هم) دومره لوي یم لکه ته Komparativ کومپاراتیو..... لکه، ... ته له ما څخه ډېر لوي يې یا ته و ما ته.....

یادونه: د موږ ادیبان لیکي: ،،ترما ډېر لوي يې،،. او دا ناسم دی. په حالتونو یا اړیکوییونو کښې روښانه کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو اړیکوی تل د هغه له نسبتوي سره څنګ په څنګ وي.

( نوم/شینوم، نومځاینیوی، خوی وی یا ادورب)

اړیکوی تل هممهال( هممال) یا سملاسي د مخه یا پسې پروت وي

یادونه: پرتله کونه له ،،و یو څه ته،، سره کیږي. لکه سپین و اتل ته جګ دی. که وو ایو، چې: سپین نسبت و اتل ته جګ دی. دا به هغه ورسره بلده لیکنه وي، خو دلته ،، د نسبت،، لیکلو ته اړتیا نه شته یا زیات دی.
-- سړی څنګه یو پسې ځای نیوی یا اړیکوی له ادورب څخه توپیرولی شي؟
یو پسېځاینیوی د یوګڼ ویي په څېر د غونډالي غړی یا غونډالغړی نه دی.
-- یو ادورب د یوګڼ ویي په څېر غونډالغړی هم کېدی شي.

بېلګه:



ټکی د ګردی-دباندې ( دلته د یوه ګډوله ویي په څېر راځي) پروت دي ( دلته پسېځاینیوی یا اړیکوی له نوم/شینوم سره د پسېځاینیوي څنګه والي یا په حالت کې دی).

یادونه: ما په پیل کې داپورته غونډاله داسې لیکلې وه: ټکی له ګردی څخه د باندې پروت دی.

دا دپورته غونډالي ناسمه لیکنه ده، ځکه چې په دې غونډاله کې به ټکی له ګردی څخه دباندې وي، خو هغه ځای به د ګردي له خاوندوالي څخه بل ځای کې دباندې وي.
ټکی د باندې پروت دی ( ادورب – لوکال- یا ځایز ادوربال)
پرته له دې څخه کېدی شي یوګڼ یا ځانله ویونه د اړیکوي (مخ-یا( په پښتو کې مخځاینیوي نه شته) پسېځاینیوي) او د تړنوي په څېر هم وکارول شي.

بیا: د ګردی-دباندې، په دې پوهېدنه، چې دا دباندې د ګردی دی یا - - پورې اړه لري او که وو ایو،، له ګردی څخه د باندې،، ، نو کېدی شي، دا دباندې د ګردي نه وي، دابه یو بل چېرته کېدی شي وي.
بېلګه:

هغه د ګاډیتګ په ترڅ کې له کړکۍ څخه کتل. (اړیکوی له نوم/شینوم سره د داتیو په حالت کې) هغه له کړکۍ څخه کتل، په داسې ترڅ کې چې دباندې زورور جکړ وو. ( تړنه)

## د ژبنیزوتوکو پېژند:

دا چې د پښتو ژبپوهانو له انده د ځنو ژبنیزو توکو روښانه پېژند نه شته، نو له دې امله مې د ځنو لپاره دا پیژندونه بیا بیا راوړي، هیله ده، چې شتړي مو نه کړي. که د لیکنې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترتیب کې مو ناسمون سترګو ته کېده بخښنه به وي، خو دې پېژندونو و ما ته پوره خوند راکړ او د ژبې پېل کې باید راوړل شوې ویی.

## ویی:

یو ویی یو خپلواک ژبنیز یوون( یووالی  یا ناسم یې واحد) دی. د یوه غږ یا سېلبې سره په مخامخوالي دا په پیداښتي ژبه کې پرته له غږ یا سېلبې څخه یوه خپلواکه پوهېدنه هم لري. یو ټولیز باوري پېژند د دې لپاره نه شته او ستونځمن هم دی. دا موضوع ډېره اوږده څېړل شوې، ما یې یواځې هغه لنډ پېژند له تاسو سره بیا ګډ کړ.

پورته مو وویل چې وی ټوټه کېدی شي، مګر مورفیم نه ټوټه کېدونکی، چې له دې امله یې غږیووالی هم بولي، او کېدی شي، چې دا یو مورفېم یو وی وي.بیا د غږونو ډولونه او



نوري ځانګړتیاوي هم شته، چې هغه په دباندنیو د پرمختلو ژبو په ادبیاتو کې هرو مرو شته او په ښه توګه. لکه په موسیقي کښې یې لرو.

یادونه: پهأښت کښي به وایو، چې رفېم خپلواکه پهېدنه نه لري. ټوټه کېدنه یې شته: -والی، لکه جګوالی.

بیا

ویي څه شی دی؟:

یووی یو خپلواک ژبنیز یووالی(ناسم یې واحد)دی. په پیداښتي ژبه کې دا – د غږ یا سیلبې مخامخ- یوخپلواکه یا ښه یې ناآرونده پوهېدنه  لري. یوټولیز منل شوی پېژند نه شته او ستونځمن هم دی، ځکه چې داد ،، ویي ،، کلیمه دژبپوهانو په منځ کې یا پوره اوبی نه ده او یایې په بل څه یادوي . ګومان مې دی یو فرانسوی ژبپوه د ،، ویي،، پرځای باندې ساده ،، نخښه،، کاروي. دلته هم د لیکلو او روښانه ونې، ښه یې څېړنې اړتیا شته او په نورو ژبو کې خبرې پرې شوي نورو ژبو کښې یې وګوری..

## غونډاله یا غونډله :

یوه غونډاله له یوه یا ډېرو ویونو جوړ رابندژبنی یووالی (واحدناسم دی) دی.
دغونډالکلیمې پېژند له بېلابېلو لیدلورو ورکړ شوی دی، چې یو بل سره نه پټوي یا ښه یې نه پوښوي.په ټوله کې یوه غونډاله له ژبپوهنیزې لارې، د یوه ستر یووالي په څېر، پېژندلکېدی شي، چې د سینتاکس(پېژندیې ورکړل شوی) له لارې څخه ورکول کېدی شي.ځنې څرګندونغونډاله د خبرو اترو کمونیکېشن) دخورا کوچني د پوهونیووالي پېژندلکیږي. خبرکړنډول (خبراکت)پر څېر باندې ومنځ ته راتلی شي، له بله انده دلته د څرګندونې کلمه کارول کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغونډالي کلمې ټاکلو لپاره ډېرډوله ليکنې يا اندونه شته دی، چې د ټولو يوځايکونه په الماني کښې نږدې ۲۰۰ ته د غونډالې پېژندونه رسيږي. هرژبنی ښوونځې خپله و ځان ته د غونډالې پېژند ومنځ ته راوړي. بېلابېل سم انديز، فلسفی، د خبرو اترو پوهنيزاو ساپوهنيز اړخونه لږ يو له بل سره يوغږيزکوي. ليدل کيږي، ورته نيولکيږي، چې د نخښونو پسې غونډاله يوه يواځنی کلمه ده، بلکه يوه ټوله کورني،چې يو بل سره غوځووني يا ګډغوځوونکې ـپه دې مانا چې ګډ څه سره لري) ځانپسې لري.

## پارتيکل Partikelوړې ژبنی ټوټې

د نه ښه بدلېدونکو يا اوښتونو، په بېلابېلو ويېډولونو پورې راټولو شويو د نخښنو ژبنی يووالی دی.



NICHT(NOT) :PART

نه ( پڅه ه ) ( نهء ( هغه چې ګوډی الف يې برسر باندې راځي، نه شم موندلی))

د يوې وينا د نه-والي لپاره کارول کيږي.

،،دا سمه نهء ده،،. ،، هغه لوي نهء دی، هغه و خپل ورور ته يا له خپل ورور څخه کوچنی دی،،.

-- زه له تاسو سره(څخه، کره، پسې) نهء ځم.

-- د يوې ټولې يا پوره غونډلې په ځای نه والی.

،، څوک راسره راځي؟ - زه نه.

-- له هغو وييونو سره کارول کيږي، چې منفي يا کميزه پوهېدنه لري او دا و کميزه يا منفي پوهېدنه يې کمزورې کړي.

،، دا بد نه دی، مګر يو څه کم دي،،.

نه *(Nein(no*

نه ( د روښانه ه) سره: د يوه ځواب لپاره کارولکيږي، چې يو امر، يوه غوښتنه، يوه هيله ونه مني.

کړی شې له ما سره مرسته وکړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه، زه وخت نهٔ لرم.

یادونه: دا لومړی نه د ټولې غونډلې نه ـوالی دی او دا دویم نهٔ د یوې کړنې نه والی دی. زه نه ځم، زه نه خورم

کړی شې له ما سره یوچای و څښې؟

نه، مننه!

ته باید هغه څه وکړې، چې زه یې درته وایم!
نه!.

- چې یوه هکپککونکې چیغه یا غبر ترې رامنځ ته شي. اوه!، نه!، دا سې هم!

– د دې لپاره، چې یوه وینا سمه یا پوره کړي.

**ژبپوهنه۳ ۲۰**

،،هوا خرابه وه، نه، په دې ورځ سوچه بوچه خرابه وه،،.

## Partizipation برخه – یا ونډه لرنه

به ( دا په کړنه کښې د ونډې لرنې لپاره کارول کیږي).

-- باران به وشي

-- هغه به بله اونۍ و کور ته لاړه شي

-- هغه به په دې ښکلې هوا کښې په باغ کښې وي.

-- هغه به پوه وي، چې څه کوي.

-- په دې ترڅ کښې به هغه دا لیک د لاسه کړی

هغه وایي، چې هغه به سبا و ډاکتر ته لاړ شي.

۱. ۱Definitionsbefundپېژندپیداکونه

Schulduden دښوونځي دودن

Duden-Grammatik گرامردودن -

Satz als Subjekt- und Prädikateinheit

غونډاله د سبجکت- اوپرېډیکات په څېر. د سبجکت پښتو انډول کړونی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

1.1.4Satz als Rede- oder Textelement

غونډاله د خبرو- یا لیکنتوکي په څېر

1.1.5Satz als kommunikative Einheit

غونډاله د خبرو اترو یووالي یا یوون په څېر

داموضوع نوره نه غزوو، که څه هم ډېره خوندوره او په زړه پورې ده.

دپېژند پیداکونه:

دلته کېدی شي د غونډالې یوڅو خواره شوي پېژندونه بېرته ورکړی شي:



دښوونځي دودن ـ(دودند الماني ژبې شننیزه کتابتون دی، چې په هره ځانګه یانږدې په هره ځانګه کې یې لري): دغونډالې د ښوونځي دودن پېژند دیً ،، غونډله یو رابند ژبنی یا تړلی یووالی دیً، چې له کوچنیو یوونونو یا یووالو(وییونه او ویونډلې یا – ګروپونو) یوځای اینوولشوي وي،،

داچې غونډالې د یوه ویي سره شتون لري(بېلګه یې : ځه!)، نوکېدی شي د یوې داسې غونډلې پېژند د ویي څخه توپیر ونه لري. یاتوپېر نه شو کړی.

داهم روښانه نه ده،، چې د ژبني یووالي لاندې څه پوهېږو. یوه ویډله(سېنتاګما)هم پخپل دننه کې هم رابند یا پوښلی ژبنیز یووالی دیً. نوله دې امله په پورته پېژند کې دوییونو پسې راتلنه یا تعقیب په خپل دننه کې یو ژبنی رابند یا پوښلی یووالی دیً

نوله دې سره پورته پېژند د ویونو پرلپسې راتلنه،،په خپل دننه کې یو رابند ژبني یووالی دیً،،یو په خپل دننه کې رابند ژبني یووالی، بېله دې چې د پېژند له مخې روښانه وی، چې دڅه له امله یا کومې لارې یوه داسې وییډله دې ځان له یوې غونډالې سره بېل کړي

غونډاله ستر یووالی یا یوون دیً،چې د سینتاکس له لارې څخه جوړېدی شي،،

دبلومفیلد پېژند له مخې،،: غونډاله دخورا لویې خپلواک سینتاکتیکي بڼې په څېر ، چې د خپلې لورې د هیڅ ګراماتیکي جوړښت په یوه خورا لویه سینتاکتیکي بڼه کې خوندي نه ده. ددودن ګرامر:

ددودن ګرامر زیات غونډالپېزندونه راته وړاندې کوي:

،،یوه غونډاله یو پوښلی یا رابند یووالی دیً، کوم چې د سنتاکس له لارې جوړ شوی دیً

موږنا پوره غونډالې هم لرو، چې په لاندې ډول یې لږ روښانه کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناپوره غونډالي :

د،،غونډالي،، کليمي لاندې نا پوره غونډالي هم راځي، نو داسې غونډالي چې د هغوي د اړتيا له مخې څخه يا اړينډوله د غونډالې يو يا ډېرغړي نه وي.

ببلابېل تيوپونه يا ډولونه سره توپيريږي:

Anakoluth[on] (= Satzbruch غونډالماتېدنه يا – پرېکېدنه: يوه پيچلې غونډاله دغونډاللړۍ او غونډالزياتونوسره سرۍ يو غونډالراګرځېدونکې هم بولي.

.



غونډالترنه.

غونډالي کړی شي د يوه يوه تړوني(سيندېتيک)يا دډېرو تړونو(پولېسيندېتيکي)يابې تړونې (اسيندېتيکي) يو دبل سره وتړل شي.

Beispiel:سيندېتيکي: :

سيندېتيکي: ،،زه راغلم، ما وکتل او زه بريالی شوم،،.

پوليوسينديتيکي: ،،زه راغلم او ما وليدل او زه بريالی شوم،،.

اسيندېتيکي: ،،زه راغلم، ما وليدل، زه بريالی شوم

نوميزه غونډاله، چې ډېر وخت ترې غونډالې بې له مرستندوي کړنې دي، پوهيږو.

بېلګه: ،،ښځه لاړه، پيسې لاړې، کور لاړ

## پيداښتي ژبه:

په ژبپوهنه کې پيداښتي ژبه هغه ده، چې له انسانانو ويل کيږي يا له انسانانو خبرې پرې کيږي يا يوه زيږېدلې ژبه، چې له يوې نا لاربنودشوي ودې څخه ومنځ ته راغلې وي. دلته به و دې ته هم ګوته ونيسم، چې ژبه –لکه چې ځنګه يې زموږ ژبپوهان وايي- معامله يا کوتجګونه نه ده، پيداښت دی او پيداښت ګوتجګونه نه مني.

د ژبې نورډولونه، لکه جوړې شوې يا مصنوعي ژبې،هنري ژبې، د نخښو ژبې اونورې شته، چې موږ يې نور د څېړنو نيت نه لرو..،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا: چې له پیداښتي ژبې ځخه غږیږو، نو له دې سره جوړه یا غبرګ پوهیږو، چې ژبه قرارداد نه دی، پرته د موږ له هلو ځلوڅخه، خو د اړتیاوو په بنسټ و منځته راغلي هغه ویونه، چې په پیداښت کې په ژبه کې نه وو، خو موږ له دې سره مخامخ نه یو،له دې سره پرمختللي هیوادونه مخامخ دي، چې هغوي نوي څه و منځ ته راوړي.

ټولیزپېژندیا غونډالجوړښت ښونه:Syntax دسینتاکس لاندې سرې د غونډالو جوړونو ښوونه پوهیږي. داکره کوي ، چې څنګه له یوګڼ یا ځانله برخو- ویونو څخه موخه-وړې غونډالې جوړیږي–

د سینتاکس لاندې سرې یوځای-ایښول شوی پیداښتي یا جوړښتیز نخښنه سیستم په ټولیزه توګه و نخښوته ګډوله لارسیستم پوهیږي



دغونډالو جوړښت: غونډالې د ژبې د توکو له موخور یوځای ایښوولوڅخه جوړیږي.

ګډوله غونډالپیلونه

یوه ګډوله غونډاله له دوه یا ډېرو پوره غونډالو څخه جوړه ده، چې هغوي یو د بل سره تړلې ، سماندیز خپلواکې غونډالې دي، چې ګډه موضوع لري او تړنوییونو،، او،، او همداسې له ،،یا،،سره تړل کیږي. داډول غونډالتړنه تنظیم شوې( بنسټغونډاله یا اصلې غونډاله) تړنه بلل کیږي. تړنویونه( دبېلګې په توګه یا، او) سرې منظموونکي تړنویونه بولې.

Numerale ګڼیز: دوه ( دوې) لارې، شپږم ټولګی.

غواړو چې ګڼونه په ګڼوننخښو ولیکو: ۲ لارې، ۶ – م ټولګی یا ۱۰۰-م ټولګی.
-- ځنې نومونه/شینومونه د هغه د پسېسیلبې یا ښه یې تړلې( د پښتو ادبیاتو کې لکه وروستاړی بلل کیږي، خو ما ته یې دا پسېتړلې موخه ور برېښې) د پسې مورفېم په مرسته پېژندلکیږي. دا کېدی شي په سفېکس یا پوهېدنغزوونو کښې وکتل شي، هلته روښانه دي.

-وال، کلیواله، نرولي، ښخولي..............

Konjunktionتړنوییونه
دا تکرار دی، خو داسې نوي څه هم لري. تکرار بیا پسې راځي.

کونیونکځیون (لاتین: پښتو انډول یې: تړوني یا تړنویي) ویډول

کونیونکځیون، تړنوی، یونکځیون په ګرامرکې یو وییډول دی، چې د ویونو، غونډلې برخو، یا غونډلو په منځ کې سینتکتیکي(syntaktische په نخښو ) تړنې منځ ته راولي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هممهال سم اندیزې یا ګرامري اړیکې د تړلو توکو په منځ کې روښانه یا افاده کوي. د پوستپوزېڅیونونو یا اړیکویونو سره یوځای، چې ژبنیزې ورنږدې موخې پوره کوي، کیدی شي کونیونکڅیونونه د اړیکویونو Relatoren په څیر رایوځای شي.
زه یې په دې پیل کې درې بیلګې راوړم، چې دوه یې د شمیرپوهنې بنسټ تړوني دي.
دا باید په نخښه کړم، چې دا په شمیرپوهنه کښې ویناوې سره تړي، دا د ما د شمیرپوهنې سم اند کتاب کې بیا ښه روښانه شوي اواړونده لیکنې یې هم شته.
لومړی: یادونه: دلته د کړنوییونو د مخه باید نومویونه راغلي وي یا وي.
،،یا،،
زه وکابل ته ځم یا وکندهار ته ځم. یا



زه و کابل- یا و کندهار ته ځم
دویم:
،،او،،
زه وجلال اباد ته ځم او و کابل ته ځم.

وجلالاباد - او و کابل ته ځم

یادونه: دا دوه تړنویونه ،، او ،، او،، یا ،، د شمیرپوهنې سم اند بنستیز تړنویونه دي .
دریم:
،،پورې،،

یادونه:

ما د دې د مخه ،، تر،، لکه ټول لیکونکي یې چې اوس هم لیکي لیکلی وو، خو هغه ناسم دی. ،، تر ،، یو ناخپلواک پوهنېدنوور او اړونده پسېځاینیوی یې ،، پورې،، دی. له بېلګو څخه هم روښانه دی. ټول کسان ناست وو، ترڅو پورې یا تر هغې پورې، چې ټول میلمانه وکټونو (خوبځایونو) ته لاړل یا

ټول کسان ناست وو، ترڅو پورې، چې ټول میلمانه و کورونو ته لاړ شي.

زه به له ۴ بجو څخه تر شپږ بجو پورې درشم.

په دې لمنځتون کې له ۲۰۰ څخه تر ۲۵۰ کسانو پورې ځاییږي

پورته غونډالې ته یوه یادونه، چې اړیینه ده: ځنې کسان به ووایي، چې: له ۲۰۰ تر...

دلته له څخه نه شته، ځکه دلته د ۲۰۰ موخه پیل نه دی، دا له ... نه دی.
ګورو، چې ،، پورې،، تړونوی یا اړیکوی دی او پرته له دې څخه ،، تر،،یو مورفېم دي که ،،تر،، یوه بله ګراماتیکي دنده هم و سرته رسولی، نوما به دلته راوړې وی، خوباید

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهڅيږو، چې ،،تر ،، د اړيکويونودنده په غاړه نه لري. دا دې په حالتونو يا ړيتينګوونو کښې وکتل شي

ځنې ليکوال اوپښتو پوهان دا ،، تر،، د پرتلې له پاره کاروي، خودا ناسم دی او ځنې په دې اند دي، چې دا مخځاينيوی دی. په بله ليکنه کې به دا راوړل شي. بيا

ترنوييونو: سپين له ننګرهار څخه راځي. خوږه له خوست څخه راځي..

سپين له ننګرهار څخه راځي اوخوږه له خوست څخه راځي

ډېر وخت د دوه غونډالو په منځ کې يوه سم انديزه ترنه ( شته) وي يا شتون لري.



سپين وکابل ته ځي. سپين وکونړ ته ځي.

سپين وکابل ته ځې يا و کونړ ته ځي.

په لاندې بېلګه کې دويمه غونډاله د لومړیغونډالې له پاره يو لامل دی او لومړیغونډاله د دويمې غونډالې يو سم انديز پسېتلنه يا پرلپسې ده.

بېلګه: پرلپسې(تعقيب)– لامل

هغه نه راځي. هغه ناروغ دی. ددوه غونډالو سم انديز ګډاړيکوالی د دوه ترنويونو له لارې څخه جوړيږي. سړی کړی شي د يوه سم انديز دليل-پرلپسې-اړيکې د بېلګې په توګه ترنويونه ولې،چې،له دې امله، ځکه چې، و کاروي.

بېلګه:

دا(ولې) چې: هغه نه راځي، دا(ولې) چې هغه ناروغه دی

له دې امله: هغه ناروغه دی، له دې امله هغه نه راځي.

ځکه چې: هغه نه راځي، ځکه چې هغه ناروغه دی.

ترلشوې غونډالې د يوې کوما(بېلېدننخښه) له لارې سره بېليږي. ترنويونه لومړی او يا دويمې غونډالې پورې اړه لري. هغه دا غونډاله ،، په نخښه،، کوي. سړی کړی شي د ځنو ترنويونو له لارې( د بېلګې په توګه: ځکه چې) د غونډالو لړی پرلپسې سره بدلې کړي، د ځنو سره نه ( د بېلګې په توګه: داچې، له دې امله).

بېلګه:

ځکه چې: هغه نه راځي، ځکه چې هغه ناروغ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه چې هغه ناروغ دی، هغه نه راځي.

## بنسټغونډالتړنه او څنګيزغونډالتړنه

تړنويونه د کړنې يا کړ نځای ټاکي. دکړنځای ټاکنې پسې سرې کړی شي د سم انديزغونډالتړنې دوه اريز- يااصلي ډولونه سره بېل کړي:



لومړی داچې تړنه، چې په هغې کې کړنه په يوه غونډاله کې په اخر ځای کې ولاړه وي ( که غواړې: ځاي په ځای وي). دتړنې دا ډول څنګيزغونډالتړنه بلل کيږي يا سړی دا ډول تړنه څنګيزغونډالتړنه – يا نيممنظمه تړنه بولې. تړنويونه سړی نيممنظمه تړونې بولې.

بېلګه: ځکه چې(څنګيزغونډالتړنه= کړنه په پای کې)

هغه نه راځي، ځکه چې هغه ناروغ دی.

داسې لنډه زياتونه:

مور په پښتو کې لرو: کړونی، پرې کړونی، نه کړونی. دلته درې دي

په عربي او فارسي کښې: فاعل او مفعول: دوه. مور هم دا کاروو، چې د پښتو لپاره نېمګړي دي، ځکه پښتو درې لري.

په الماني کښې: اکتيو او پاسيو لرو.

له ما سره، ښه يې  د ما له ليکنو سره د ګرانو لوستونکو ستونځې دا دي، چې زه د کېډلو تر پولې پورې تولې پوهنيزې ليکنې په پښتو ليکم او له دې سره د مور ژبپوهان او ليکوالان بلد نه دي.

دا په پښتو ليکل د مور د ليکوالانو او ژبپوهانو لپاره ډېر نابلد دي. دا نابلدتيا يوه ستره ستونځه ده، په رښتيا يوه ستره ستونځه ده او پښتو په رښتيا د هرې پوهنيزې ريښې په پښتو د ليکلو توان لري.

## فونيم څه شی دی؟phonem

فونېم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیلیادونه:په نورو ژبو یا لړ ترلړه په الماني کې ډېر ویونه شته، چې د غړ پر مانابانديږ دي، خو موږ په پښتوکې همداغږ، کړ او ویل لرو. نه پوهیږم، چې اواز مو پښتو دی او که نه؟ زه به په دې غږ او کړپاتي شم او بیا له الماني به د هغه بل ډول غږ لپاره دا د غږ سره مل په یوه بل ډول روښانه کړم

پېژند: فونیم زوړیوناني نوم دی، چې پر لاندې پوهېدنه باندې دی:

Ein Phonem (له altgriechisch φωνή *phōnḗ*, پښتو: غږیا کړ ‘)



دټولو غږونو یو ذهني ټولګی دی، چې په یوه ګړیزه ژبه کې همغه یا برابره توپیرېدونکې دنده لري.

بېلګه:

که فونیم/ښ/ راواخلو،نو دا په بېلو بېلو ځایونو کې په بېلا بېلډول ویل کیږي، خو موخه ترې همغه اخستل دي یا همغه اخستل، دا په دې مانا، چې په پښتوکې یې د ویونو په منځ کې کوم توپیر نه لري دایواځې د ویینېدولونه دی، لکه په ،،ښه،، کښې، چې په ځنو ځایونو کښې پرته له ښ په خ اوش هم وېل کیږي، خو موخه ترې همهغه پوهېدلکیږي،نو له دې امله ګړیزه ژبه یا په ویلوکې، خوکه کوم فونېم بدل شي، نو مانایي ورسره نه بدلیږي.

دلته په فونېم کې همداګړ یا غږ یووالی دی یاکه غواړی همدا یو غږ یو یوالی دی لکه د/ ړ/ اونورو غږ، چې خپله مانا نه لري، خو په ویې کې وی ته هغه انډول مانا ورکوي دا دې په ګوته وي، چې دا غږ د سیلبې له لارې روښانه دی..

ددې بېلګې په دې نورو ژبو کې لړ روښانه دی،خو زه ورسره په پښتو کې

ستونځې لرم، چې هغه باید په ګډه سره اوبی کړو.

دا یوونونه یا یووالي، نو په ژبه کې څنګه اوکوم دي؟

په پورته کې ګورو، چې/ړ/ او/ ښ/ موورکړي، چې همدا هر یو یې یووالی دی. همدایې د پیژند یووالی دی، چې غږ راوځي، نو دا به یو سیلبي وي. که زه ناسم وم، بخښنه راته وکړی، خو ګومان مې دی، زموږ ژبپوهان یې څپه بولي، که داسې وي، نو بیا کړ – یا غږڅپې ته به څه ووایو. راځی، چې په دې سېلبې پاتې شو او که غواړی سېلاب.

د سېلبې او څپې تو پیر غږ په څپو خوریږي سیلبې همهغه یو اواز راوېستنه ده.

لاندې بېلګې ګورو:

بېلګې: ،،مور،،/،،پور،، ،مار ،،/ ،،تار ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورته کې ګورو، چې نور ټول توري همغه دي او یواځې لومړي توري یې سره بدل دي او له دې امله پوهېدنبدلېدونکي دي.

ددې ویونو د پوهېدنو توپیر د وېلو یا لیکلو،ویونو جوړې یا خورا کوچنۍ(مینیمال) جوړې بلل کیږي لکه دا پورته. مینیمال څکه، چې هغه خورا کوچنۍ جوړې دې. وروسته روښانه پېژند شته



بیا: دابه هم دلته په ګوته کړو، چې فونیمونه نه څانله د یو غږ بلکه د سېلبې په څیر رامنځ ته کیږي یا ومنځ ته راځي..

Allophone الوفون دیوه غږبلډولوالی

ددې یوه غږ ښ الوفونونه/ښ/ روښانه دي، چې په بېلابېلو ځایونو کې بېلابېل ویل کیږي.

الوفون یوناني وی دۍ، چې الو دبل او فون د غږ یاګړپه پوهېدنه دي یعنې بل ډول غږ یا اواز یاګړ، نو له دې امله الوفونونه د فونېم بلډولوالی دۍ، چې د فونېم بدلون یا سبفونېم بدلون په نامه یادېږي

دسره خپلوانو ویونویا کلمو پېژند یا یې نوره هم ښه سره توپېری پېژندونه یې:

دېستینګېم : Distingem

فونېم او ګرافېم د دېستینګېم کلمې یا د ویي لاندې سره راټولیږي یا رایوځای کیږي.

داپه دې مانا، چې دیستېنګېم دوه برخې دي: ګرافیم او فونېم.

ګرافېم Graphem:

. فونېم له ګرافېم څخه توپیریږي. ګرافېم د لیکلشوې ژبې خورا کوچنۍ ماناتوپیرېدونکی یووالی دۍ

فونېم Phonem

.فونېم د ویونکې – یا ګړ ژبې خورا کوچنۍ ماناتوپیرېدونکي یووالي دۍ

مورفېم Morphem

یادونه: مورفیم دلته لنډ راغلی. بلځای کې بیاپوره څېړلشوی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فونېم له مورفېم څخه توپیر لري. فونېم د خورا کوچنی د ژبې پوهېدنتوپیرېدونکی یوون یا یووالي په څېر پیژند لري، په داسې حال کې **چې مورفېم د ژبې خورا کوچني پوهېدن- وړونکي یووالي** یا یوون په څېر پېژند لري، چې دواړه سیمانتیکي ژبنیزه منځپانګه لري.

یادونه:

دایو اوړد د خبرو څه لري، چې زه یې د ما د پاتې وخت سره لږ نورې شنني ته بېواکه یم، خو دامې داسې لږ څه پیژندونه – چې اړیین وو - له تاسوسره ګډ کړل، په دې هیله، چې



ستاسو مینه مې ورسره راپارولي وي، بیا وایم، چې دا پوهنه پرته له یوې وتلې ژبې د زده کړې څخه نه کیږي. دا دواړه موضوعګاني تر اوسه پورې د موږ د ژبې په ادبیاتو کښې داسې په زړه پورې نه دي څېړلو.

ددې کلمو د یووالو پیژندونه

پورته مې ولیکل، چې د فونېم یووالی لکه لاندې بېلګه کې/م/ دئ

دمورفېم یووالی سیلبې یا سیلاب دئ، هرمورفېم یو سېلبې دئ.

بېلګې: ،،مور،،/،،پور،، ،شل ،،/ شل،،( دش پښ پښ الف سره ویل

د پوهېدنې توپیر د ګړیزوویونو جوړې یا خوراکوچنی(مینیمال) جوړې بلل کیږي

دابه هم دلته په ګوته کړو، چې فونیمونه نه ځانله د یو غږ بلکه د سېلبې په څیر رامنځ ته کیږي یا و منځ ته راځي

بیایې یووالی: ددې پورته ژبنیو توکو یووالی نو د سېلبې څخه څرګندیږي، دا یو سېلبې دي او دا یې یووالی هم دئ. یووی کړی شي یو سېلبې یا ډېر سېلبې وي، مګردا ټول یوسېلبې دی

فونېم د ویلشوې وي پوهېدنتوپیرېدونکی یووالی دئ. داپه دې مانا، چې د یوه فونېم بدلول د یو بلفونېم سره د دوې پوهېدنه بدلیږي یا تغیر خوري

له دې لاندې څخه موخه پوهېدل کیږي او وروسته هم راځي.

دالاندې بېلګې په ګوته کوي، چې فونېم پوهېدنوړونکی یووالی نه انځوروي، بلکه مانا توپیرونه په ګوته کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی ویلی شي: فونېم د یوه وي هغه خورا کوچنی غږیزه جوړښتبرخه ده، د ویي توپیرېدونکې دندې سره. دفونېم د بدلون له لارې د ویي مانا بدلیږي، دا فونېم پخپله نه مانا وړونکی دئ.

نورې بېلګې:

فونېمبدلېدنه په پیلغږ کې

کور – ګور

مړه – پړه



تار – مار

فونېمبدلېدنه په پایغږ یا پایګړکې

کار- کال

////////////////////

فونېمبدلېدنه په منځغږ کې

کور – کار

ډېر- ډار

ټول- ټال

یادونه: د ماپه اند که دلته د غږ په ځای ګړ وکاروو ښه به وي.

Phonetikفونېتیک

(زړه یونانيφωνητικόςphōnētikós,پښتوپوهېدنه یي غږ- یاګړاړوند).

φωνήphōnḗ, پښتوپوهېدنه یي غږ یا ګړ

یوپوهنیزدېسڅیپلین یا دېسیپلین دئ، چې ژبغږ په لاندې دلایلوڅېړي: په ستوني ګنده، مرئ-،خوله او د پوزې په ورشوکې غږجوړونه او د غږ او ګړحس کول د اکوستیکي خوي او د غږ یا ګړ کارونه د غوږونو اوانساني مغذ له لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دادوه دندې لري: غږجوړونه او غږاورېدنه، نو:

فونېتیک یوه خپلواکه دډېرو پوهنو په منځ کې ځغاستېځانګه ده لکه لینګوېستیک، اناتومي،فیزیولوژي، نوېرولوژي، فزیک او شمېرپوهنه. فونېتیکځېړنورشو یا ځېړن اله ګړېدلې یاویل شوې ژبه یا لنډ ګړژبه ده د هغې په ټولوربښتینوالي- یاریالېزه کولو کې.

فونېتیک هم لکه فونولوجی ویلشوې یا غږېدلې ژبه یا لنډ ګړژبه څیړي. فونېتیک د فونولوجي څخه ځان په یو بل اسپک یا کړنلاربېلوي. فونولوژي د ژبپوهنې برخورشو یا برخچاپېریال په څېر غږونه په یوګونوژبو کې د خپلو پوهېدنتوپیرېدونکو دندو غږونه ټولګیزوي. په مخامخ یې فونېتیک د فزیکي ، نیورولوژی، فیزیولوژي د یو یو بلې



ژبپوهنې لارې ، چې غږجګوالي جوړښت، د هغې وړنه او د هغې احساسونه په کې غوره دي او د پیدابښتي پوهنو څخه ګټه اخلي.

دفونولوژي پېژند:

Die Phonologie زوړیوناني وی دی.φωνήphōnḗ, پښتوغږ ‘, λόγοςlógos,
غږپوهنه) فونولوژي)

په پښتوکښې غږپوهنه، د ژبپوهنې یوه برخورشو ده. داد ژبپوهنې په دننه کې په ټوله کښې دفونیتیک څخه بایدرابنده شي، پر دې پوهېدنه باندې، چې په منځ کښې یې باید پولې وي:

په داسې حال کې چې فونیمیک د ژبغږونو روښانه خویونه څېړي، چې څنګه جوړېږي او فونولوژي د یوګونو ژبود غږونو ګړسیستم د دندې سره سر او کار لري. له دې سره دا د ژبلار یوه برخه جوړوي.

فونیتیک:

پېژند Definition

فونیتیک د ګړځپو یا ژبځپو پوهنه ده، د سېلبو، خپل جوړښت دویونکي او د هغه په کاراچونه د غوږ له لارې، چې د انسان د خبرو اترو فزیکي، روحي یا ارواپوهنیز او فیزیولوژیکي ګړموادوټولوالي په پام کې نیولو سره

دیوې پوهنې په څېر د فونېمیک د ژبغږونو رواجي څېړنو له مخې یې ټاکل،د موډرنویا اوسنیو څېړنو په څیر تنګ دی.له دې امله لاندې فونېتیکي څانګې سره توپیروو:

۱-ویېندوله یا ویېندولیز فونیتیک

,artikulatorische Phonetik

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ – غږیز فونیتیک د فونیتیک هغه ورشو ده،چې د ویل شوو جګو یا غږونو سره بوخته ده. دلته دبېلګې په توګه څېړل کیږي امپلیتودې یاجګوالی او فرکونځ

,akustische Phonetik

غږیزفونیتیک د فونیتیک دالاندې یې نه ژبارم، دا ګران لیکونکي په دا څلوروپرمختللو ژبو کې لوستل - او روښانه کولی شي.

,perzeptive Phonetik



,physiologische Phonetik

.funktionale Phonetik

داپورته ژبنیز توکي مې همداسې پرېښوول، زما د فزیکي توانه راته داسې څه لرې برېښي، خو ګران لوستونکي په هره پرمختللې ژبه کې دا پیداکولی شي

phonemicفونېمیک.

پېژند: دپیداښتي ژبې د غږیزې- اولیکنژبې روښانه روښانه ونه یا که غواړیشننه ده.

# پېژند: مورفیم څه شی دی؟

مورفېم د ژبپوهنې د خورا کوچنیو ژبني یو والی ( موږ واحد وایو، خو دا ناسم دی) لپاره یوه مسلکي ویېنه ده، چې دا یوه پېژندنېزه پوهنه یا یوه ګراماتیکي یا ژبپوهنیزه دنده لري. داسې کوچني یووالي یا یوونو ته ډېر وخت د ویونو د برخو په څېر کتلی شو، له دې امله دا کلمه مورفېم د ژبنیزې مورفولوژي منځني یا دزړي کلمه ده. دا بیا هم د کلمې و ویي ته نه سیده مخامخ ځایږي، بلکه کېدی شي هغې سره غوڅه هم کړي: یو ویي کړی شي ټوټه کړی شي او له دې امله له ډېرو مورفېمونو څخه جوړ وي، خو یو نا ټوټه کېدونکی وی سملاسې یو یواځني مورفېم وي.

کلمه ټاکنه: مورفېم په ټوله کښې د یوه کوچني پوهېدنوړونکي ( ژبنیز) یووالي په څېر پېژند لري، تیک لکه چې لرو: ،، مورفېم د یوه کوچني غږ(سېلبې) یا ګرافیمي یووالي دی د یوې پوهېدنیزې یا ګراماتیکي( ژبلاریزې) دندې په څیر.،،

د بېلګې په توګه لکه خور خورکې، لیکل (خور)-(کی)، دلته (خور) بنسټوی دی، دمور- پلار لور او(-کې) یې پایونه ده د پسېټړی یا پوهېدنغزونې دندې په بنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د بېلګې په توګه ولرو: میزونه، لیکلی مېزونه (مېز-ونه) او لکه څنګه یې چې وایو هم، له دوه مورفېمونو جوړ دی: (مېز)-(ونه)، خو دلته میز بنسټ وی او –ونه یې ډېرګڼ دی، خو دلته د مورفېم او سېلبې په منځ کښې توپیر روښانه کیږي: [مي-زو-نه) او له دې امله ویلی شو، چې مورفېېم تیک همهغه څه نه دي. دا هم یوه غزېدلې لیکنه ده، چې ګران ژبمینه-وال به یې د یوې پرمخ تللې ژبې څخه راونیسي. په پورته کښې به، چې مېز عربي دی، د پښتو کور راوړم. یا کور، کورونه، چې کو- رو - نه دي



- د زیاتو روښانونو لپاره: لرو: پلارتوب دا له دوه مورفېمونو څخه جوړ دی، پلار او توب، پلار پوهېدنه لرې او -توب پسېتړی دی، کومه پوهېدنه نه لرې، خو دا-توب د پلار پوهېدنه و پلارتوب ته غزوي.

او همدا ډول : ،، له، پر، تر، په، و،، دا مورفېمونه خپلواکه پوهېدنه نه لري، خو پوهېدنوړونکي دي، دا په دې پوهېدنه، چې و نورو ته پوهېدنه وړي.دا به په اړیکتینګونوکښې ولولو، چې څنګه؟ دا دلته یې یواځې داسې لږ راوړم: له ما، تر ما، پر ما. دلته دا مورفېمونه د ،، ما ،، چې په ژبه کښې د تېروخت، د کړوني لپاره راځي او په دې غونډلو کښې به یې د نه کړوني و دندې ته پوهېدنه وروړلکیږي. له ما، تر ما لکه له ما څخه، تر ما پورې، پر ما باندې او نورګوری، چې دا له، تر، پر، مخځاینیوي یا پرېپوزېشنونه نه دي. دا په حالتونو کښې ښه روښانه شوي.

مورفیمونه د اوازونویا تورو کوچني ټولګي دي، چې دویي یو خپله مانا یا غوره والی نه لري.

بیلګه: ،، لوي ،، وی یو مورفیم دی. دا د بیلګې په توګه په ،، لویوالي ،، ، ،،لویان،، کې کارولکیږي. ،، - والی،، هم یومورفیم دی. دا په دې پوهېدنه، چې یو شی داسې دی، لکه دا وی، په کوم پورې چې دی تړلکیږي. دا د بیلګې په توګه په ،،
لویوالي،، ، ،،ښکلیوالي،، ، ،، لټوالي،، کې کارولکیږي. لنډ: دا پوهېدن غزوي، یا دا پوهېدنغزووني دي. ورسته راځي
همداسې ،، –ان،، یو مورفیم دی.دا د نورو په څنګ کې کارول کیږي، چې وښایي، چې یو څه زیات په بر کې نیسي، د بیلګې په توګه ،،لویان،، ، ،،چرګان،،، د نومونو ډېرګڼ.
زیات ویونه له ډېرو مورفیمونو جوړ دي، که سړی مورفیمونه وپیژني، نو سړی کړی شي د وی په مانا ساده وپوهیږي.
مورفیمونه اوژبسیلبې زیات وخت همغه یا یو شی دي، مګرتل نه. ،، ژوند،،
له ،،ژوندکولو،، ، او ،، مګر،، هم مورفیمونه دي. مګر سړی وایي،، ژوند-کول،، او

،،م- ګر،،.
یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورفیم
مورفیم خورا کوچنی اواز- یا غږیوون یا غږیووالی دی، کوم چې په بیلابیلو ژبنیز اړوندوالي سره همغه مانا لري.
سړی د خپلواک او تړلي یا بلواک مورفیمونوپه منځ کې توپیروي، چې دا یواځې( فقط) د ویونوپه دننه کې و رامنځ ته کیږي.



که الماني ژبې ته پام وکړو، نو په هغې کې درېزره لیکسیکي مورفیمونه، ۱۶ بیلابیل ګرامري مورفیمونه او ۱۰۰وییجوړونکي مورفیمونه شته. په پښتو کښې یې نو وګنئ.
نااړوند یا خپلواک مورفیمونه :
لکه: میز، پر، سر
تړلي یا بلواک مورفیمونه : لکه
کب- ګی ، بنسټ + کوچنیونه یا کوچنیکونه
لویان، بنسټ + زیاتوالیپای
که تاسوپه نورو ژبو کې دا ګوری، ډیرې لیکنې پرې شوي اوهر چا د خپلې خوښې سره پیژندونه ورکړي، خوموخه – چې خورا واړه ژبیووالي دي – همغه ده.
،،مورفیم،، له فرانسوي راځي"morphème" ، له یوناني "morphe" - له پښتو ،، جوړښت، بڼه،،

ما په پورته کې یا د پرېپوزېشن خبروکې ،، له ... څخه،، ، ډ .... سره،، د پ په توګه راوړي، خوهلته ،، له،، او ،، د،، مورفیمونه دي، ،، څخه،، او ،، سره،، پوستپوزېشنونه دي. یا دا لاندې

پېژند: مورفېم د <u>ژبې یو خورا کوچنی پوهېدنوړونکی یووالی</u>(واحد سم نه دی) دی د بېلابېلو مورفېمونو د یوځایکولو سره وییونه جوړېږي. مورفېم په ژبپوهنه کښې یوه غوره کلمه ده او د مورفولوژي ( دوییونو جوړونې او بڼې پوهنې ) یوه برخه ده.

یادونه: پام دې وي، چې دا دلته مورفېمونه د پسېتړلي یا سافیکسونه دي.( هلته کتل کېدی شي).

## نیونه، بنوونه، غوښتنه

دا ویونه، چې زه یې دلته اوس د ګرانو لوستونکوسره شریکوم، زیات په شمیر پوهنه کې کارولکیږي، خو په ورځني ژوند اونوروپوهنوکې هم ورسره مخامخ کیږو.

وړاندنیونه ( preconditio لنډ: نیونه ، فرضیه)

وړاندنیونه یو حالت او یا یو خوي دی، چې باید پوره وي، له دې د مخه چې یو بل حالت، یوه کړنه یا یو بل خوي او یا یوه بله پروسه د بنوني شي یا وښول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیلګې په توګه په یوه څه کې د ننوتنې منلو یا داخېلېدو اجازې د حق کېدو له پاره ازموینه زیات وخت یوه وړاندنیونه یا که غواړی فرضیه ده

یوه وړاندنیونه کېدی شي یواځې د یوه حالت یا یوه خوی یوه وړاندنیونه وي.



په سم اند کې وړاندنیونه په لاتین کې د پریمیس Premise په نامه هم بلل کیږي.

په شمېرپوهنه کې وړاندنیونه د یوې ښوونلارې یوه غوره برخه جوړولی شي

په دې توګه ایندکشن وړاندنیونه inductionprecondition*Induktionsvoraussetzung*

پایونه د ایندکشن ښوونه(Induktionsbeweis (theproveofinduction) (د ځانګړو څخه په ټولیزو پایونه) پیل په نخښه کوي.

بېلګه : په ډېرو هېوادونو کې د تابعیت منلو لپاره په پوره سویه د ژبې زده کړه له هر څه څخه د مخه وړاندنیونه ده.

په افغانستان کې د پوهنتون ننوتنې لپاره د کانکور ازموینه وړاندنیونه ده.

قضیه یا جمله :

جمله په شمېرپوهنه او سم اند کې یوه نوې پوهه یا پیژندنه ده ، چې له اکسیومونو، ټاکندویو(پیژندونو یا تعریفونو) او څرګنده جملو څخه فرمولبندي کیږي. ددې لپاره، چې د یوې جملې وینا و منل شي یا وپیژندل شي، باید و ښوول شي . که پر کره توګه باندې ونیسو نو دا یوې منلې legitimierte ( قانوني) پرلپسې ټولګیز (صنفي) پریدیکاتي سم اند د پایونې پرلپسې ده یا که غواړی پایله ده.

ښوونه:

په شمېرپوهنه کې ښوونه د یوې وینا د رښتیاوالي یا نارښتیاوالي باوري راوېستنه ( ښوونه) ده. دا د اکسیومونو، چې له سره رښتیا نیول شوي وي او نورو وینا و څخه، چې رښتیاینه یې تیاره ښوول شوي وي راوېستل کیږي.. دلته له اکسیوماتیکي axiomatischenښوونې خبرې کوو.

شمیرپوهنیزې ښوونېز زیات وخت په وړو،وړوپلو د نورو غونډالو یا جملوپه بنسټ سرته رسیږي.

جوړښتیزې - او نا جوړښتیزې ښوونې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شتونښوونه:

شتونښوونه چې وښايي ده، يا يوه تلنلار ورکړ شوې، چې اوبی ته موبيايي، دا په دې مانا يا پوهېدنه چې، يواوبی جوړيري يا و منځ ته راځي.



د يوه نه جوړښتيزې ښووني سره د خويونو لرلوسره د يوه اوبی شته-والی يا شتون پای کيري. کله ختی ناسيده نيوني کيږي، چې اوبی يې شتون نه لري. له دې ښوونو لاس ته نه راځي، چې سړی څنګه اوبی لاسته راوړي.

غوښتنه (ثبوت)Behauptung

غوښتنه (ثبوت) Behauptung يا ،، څرګند يا روښانه حکم ،،تضمين شوی قضاوت،، هم بلل کيږي، يوه جمله ده د ځانګړې مانا يا پوهېدنو سره او له ويونکي څخه داسې ويل کيږي، چې تړليزه او د تل لپاره وي. که د بېلګې په توګه څوک پوښتنې ته ، چې ايالندن له پاريس څخه لوي دی،؟

ځواب وايي: لندن په ۲۰۰۰ ز ک کې د پاريس څخه زيات اوسيدونکي لرل،، نو له دې سره دی غوښتنه رامنځ ته کوي.

يوه غوښتنه نه يواخې لکه ( څرکندونه) ويينه يوه جمله ده د ټاکلي منځپانګې سره، بلکې يو تړليزه کړنه کاروايي ده: د ويل شوې وينا لپاره يوه تړليزه په اختيار کې نيونی ( چې ګوندې د ټيکوالي دعوا پرې شوي وي) باوري کيدنه ده . John R. Searl ددې لپاره د خبروکار“speachact“ کلمه و کاروله.

غوښتنې کېدی شي ټيک ( همداسې) رښتيا وي يا نارښتيا. دا له دې امله موخه وري دي، چې غوښتنو باندې د منلو او ردونو له امله خبرې اترې يا که غواړۍ مباحثه وشي، شک پرې راشي، ومنل شي يعنې تصديق شي، چې زور پرې واچول شي، وښوول شي، رد کړاي شي( ياني مخامخوالی يا تضاد يې وښوولی شي).

د نورو ژبنيو څرګندونو څخه يې رابېلونه

غوښتنې( ثبوتونه) نه دي لکه دا لاندې:

۱ - په نيونو وداني يا فقط نيولشوې يا نا جدي جملې. د بېلګې په توګه ادبياتو کښې، ژبتمرينونه يا ټوکې ټکالې لکه ( ،،په يوه وخت کې يو پاچا وو...........،،)

۲ – پوښتنې،شک، ګومان(،، نه پوهېږم، چې ايا دا به راشي،،)

۳ – تيوريتيکي نيونې(،، نيسو،چې هر خاوند د جګې ګټې هلې ځلې کوي،،)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴– امر ( ،، لاسونه جگ،،)

۵ – کلیمه ټاکنه یا نومینال پېژند (،، د زیاتو اتومونو ټینګه ترنه دې ،، مالیکیول ،، و بلل شي یا مالیکیول بولو.



– د ځانیز خوند یا مزې څرګندونه(،، دا موزیک مې ښه راځي،،)

کومه ګټه نه لري، چې دلته د رښتیاپوښتنه رامنځ ته کړو. دا ډول جملې له بلې لورې پر ارزښت باندې کیږي، د بېلګې پر توګه باندې موخه ورتیا، هنري خوندیونه، مجلس ارزښت.

د غوښتنو ډولونه.

غوښتنې د خپلو منځپانګو له لارې په برخو وېشل کیږي ، د بېلګې په توګه:

-- غوښتنه، چې نړۍ څنګه جوړه شوې، داسې په نامه empirischeیا په تجربو ودان، په رښتیا faktischeیا مثبت ښوونه(،، دا ونه له لسوکالو څخه ډېره زړه ده،، ، ،، سرپ له وسپنې څخه درانه دي،،).دا ډول غوښتنې تجربه- پوهنه ده، په ځانګړې توګه empirischeایمپریکي کارونه په پیداښتې پوهنو کې.

-- سم اندیز-شمیرپوهنیزې غوښتنې(،،د ۱۴۴ څلورې ریښه ۱۲ ده او پوره سم یې ۱۲±،،). دا د شمیرپوهنې اوسم اندله لارې؟

-- ارزښتیدونکي غوښتنې ( ،، سپین و برګ ته ښه باجه یا رباب وهي،،).

-- یوه لار ،یوه کچه، اخلاقي غوښتنې(،،سړی باید له دوي سره مرسته وکړي، چې بې له کومې تیروتنې څخه و ناوړه کړنې یا ګوناه ته اړ شي،،). دا ډول غوښتنې د نورماتیو-یا مثبت اخلاق Ethikالې دي.

-- hermeneutischeروښانه، موخه ښوونیزې غوښتنې (،،د سپین بیرغ ښکاره کونه دا پوهېدنه لري،چې: ،، مورتسلیم یو،،). دا ډول غوښتنې د ژب – او کلتورپوهنې الې دي.

دننني سایکولوژیکي یا دننه (ځان) کتنې غوښتنې

innerpsychische oder introspektive Behauptungen

(،، زه د غاښ درد لرم،،. ،، ګیبنی خوږخوند لري،، ، ،، زه ګورم، چې ترمومتر ۱۰درجې څیلزیوس ښایي،،).

غوښتنې په نوروبرخو هم وېشل کیږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

-- غوښتنې په پخواني وخت کې په يوګڼ يا ځانګړو پېښو، اوسمهال يا راتلونکو پېښو.



(،، ګوېټې په ۱۸۳۲ کې ومړ،، که د ګوېټې په ځای مې کوم افغان ليکلی،نود زېړېدنې يا مرګ ورځ مې يې بايد اسانه پيداکولی شوی، دا چې دا مې نه شوکولی، اړ شوم همدا الماني پرېږدم.په خواشينی).دا ډول غوښتنې د تاريخپوهنې الې دي.

--- د ټاکلو ډولونو شيانو شته-والي غوښتنه (،، په دې ځنګله کې ډينګری شته،،).

--- په تجربوي قانونمندی يا لاراړوندوالي غوښتنې (،، که څوک يوه کريستال ګلنی په مرمرځمکه وغورځوي، زرې زرې کيږي،،)

--- د علتونوغوښتنه (،،سپی مړ شوی، ځکه چې هغه سرطان لروده،،).

موږ د ثبوت په ځای د دې نوي وی ،، غوښتنه،، سره بلد نه يو، خوګورو چې دا سم همغه ثبوت دی.

غوښتنه: سپی په سرطان مړ شوی.

ښوونه: دا بيا بايد وښوول شي، چې همداسې ده اوکه نه.

<u>Imperativ</u> په امريه بڼه، غوښتنې، امر

<u>Implikation</u> په کې رادننه کونه

جمله (شميرپوهنه)

يادونه: دا په ژبپوهنه کې هم بايد همداسې وي او همداسې ده.

جمله په شميرپوهنه اوسم اند کې يوه نوې پيژندنه ده، چې دا له اکسيومونو، پيژندونو او تازه پيژندل شوو جملو څخه وتلې فرمولبندي کيږي يا جوړيږي.د دې لپاره چې د يوې جملې وينا وپيژندلشي، بايد دا وښوول شي.

په نورمال ډول جملې د خپل غوره والي په ترتيب په يوه اهرامډوله ترتيب په برخو وويشل شي، چې ترتيب يې داسې بريښي:

۱- <u>Lemma</u>مرستندوی جمله ( په يوه غوره ښوونه کې مرستندوی جمله)

۲- <u>Korollar</u>د کره کونو يا ترې لاس ته راوړنو يوځايکول، چې دا له يوې جملې يا يوه پيژند بې له لويو بوختوالو څخه راکول کيږي. زيات وخت پای لاسته راړونې)

<u>Proposition</u> ( سم انديزې ويناوې).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ – جمله یا تیوریم Theorem ( پوهنیزه – او بنسټجمله یا سټجمله. Theoremتر اوسه پورې په زیاتو ژبو کې کارولکیږي.

تل ژبنیز – یا ورځني ژبنیز لیدنې غوښتنه

--- تل ژبنیز لیدني غوښتنه په ټولیزه توګه فکر دی.. که سړي ته یو فکر یا پېښه پیدا شي، نو سړی کړی شي دا یوه غوښتنه وبولي.

بیلګه- غونډاله: د ما غوښتنه ده، چې زه موټر بیایم.

پوهېدنه یا مانا: زه اوس په دې فکرراغلم، چې په موټر کې ځم.

غوښتنه د فلسفي له لیده یا له مخې:

ویناډولونه یا ویناببې:

درې Modiمودوله یا ویناډولونه شته: اینديکاتیو، اوایمپیراتیو

اینديکاتیوIndikativنومینال ویناببه ده: ته کونیونکتیو ځې، هغه ځي او داسې نور.

**د غوښتنو و پېژندنې ته څرګندونه**

غوښتنې ډېر وخت د پېژندنې سره فرمولبندي کیږي، سره له دې چې پېژندنې یو مودوس دی، چې له هغې سره په ربښتیاینې خبرې کیږي. که ته یو څه وغواړې، نو ته دې وکړی شې، نو ستا مخامخ باید ربښتینی و پېژنې همداسې د تا په غوښتنو باور ولرې، نیسو چې ته او د تا ملګرې او ملګري په یوه هنرمند غږیږي او ته د بېلګې په توګه لاندې ویناوې به کار اچوې یا په لاندې ویناو کار کوې:

هنرمند ډېرې پیسې ګټي.

له دې پرته هغه ډېر قراردادونه دلاسه کړې دي.

دا غونډلې تر هغې پورې غوښتنې دي، تر څو پورې یې چې ربښتیاوالی نه وي ښوول - یا جوته شوې وي.

که د بېلکې په توګه دا نه وي تظمین شوي، چې دا هنر مند ډېرې پیسې اخلي، تر هغې پورې دا جمله یوه غوښتنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېژندنه Indikativ

د پوهنیز پېژندپوهنې کره کوولو پېژند

پوهنیزې پېژندپوهنې erkentnisse یو رېښتینی پېژندلشوی رښتیاوالی انځوروي.

**کونیونکتیو یا ناسیده وینابڼه:** غوښتن- یا هیله بڼه: زه به لاړ شم، ته به لاړ شې.

ایمپیراتیو Imperativامربڼه: لاړ شئ!.

Konjunktivناسیده وینا:

کونیونکتیوپه هغه حالتونوکې کارول کیږي، چې ریښتونی نه، بلکه یوائې شونی یا ممکن وي. یا دا:

ډېر وخت وینا په ناسیده ویناکې د امکان یا شونتیا په چاپیریال کې راځي، دا د امکانبڼه یا شونتیا بڼه او یا کېدنتیابڼه هم بلل کیږي. کونیونکتیودا نه ښایي، چې یو څه شوني دي.

زه به لاړ شم، ته به لاړ شي اوداسې نور.

دا موضوع پوره اوږده او په زړه پورې د خبروڅه لري.

دا څه لیکنې مې چې وکړې، نود ژبې سره مې مینه نوره هم زیاته شوه اوداسې وایم، چې په دې زاړه بدن یا تیروخت د ژبې زده کړی شم.

Adeverb ادورب یا رابندونه او ډولونه یې ( ګومان مې دی و دې ته موږ قید وایو):

-- دا وی ادورب په غونډاله کې یو غونډالغړی دی او یا یو اتریبوت
لوکال ادورب ( ځای ادورب)
-- چېرته؟ کومځای؟ ( دلته، هلته، پاس، لاندې، دا، هغه، دباندې)

-- له کومه ؟ ( له پاس څخه، له دباندې څخه، ....)

وچېرته؟ و کومځای ته؟( و ښې لورته، و کور ته، د مخ په لور یا و مخ ته...)

(Temporaladverb (Adverb der Zeit
تمپورال ادورب ( د وخت ادورب)

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کله؟ ( لمرلوېده، سهار، اوس، وروسته، هغه وخت، نن ...)

-- څومره اوږد وخت؟ ( په ساعتونو، تراوسه پورې، تل، له هغې څخه ....)

--څومره ډېر؟ ( ډېر، کله کله، --- ...)

(Kausaladverb (Adverb des Grundes

کوزال ادورب ( د لامل ادورب)

ولې؟ له څه امله؟، په څه ترڅ کې؟، له څه سره؟، له څه څخه؟، د څه لپاره؟)

(Modaladverb (Adverb der Art und Weise

موډال ادورب ( د رقم او ډول ادورب)

څه ډول؟ څنګه؟

( د زړه له کومې، ځانګړی، بلډول، نېکمرغه، خرګند، بې ادبه، ډېرواره، نږدې، ډېر، لږ، نږدې)

ادوربونه کېدی شي وکارول شي

- له یوه کړنوي سره په تړاو د څنګه ورکړې په څېر ( زه دلته پاتېږم).

- له یوه خویوي یا له یوه بل ادورب سره په تړاو د اتریبوت په څېر( تل ارام پاتې شي، کله دباندې، کله دننه؟)

یو ادورب کړی شي د تړنوي دنده واخلي، که دا څنګیزه غونډاله ولري. تړنیز ادوربونه کېدی شي لکه خویویونه د خوندیونې او نیت یا قصد په څېر ووېشل شي.

اړیکوینیز ادوربونه جوړېږي دبېلګې په توګه... څخه

- دې + پسې= دې پسې

- دې(ځای) + پسې= دې پسې

- څه +پسې = څه پسې

- څه+ هکله (باره) = (په) څه هکله. سم یې: پر څه هکله باندې

له تړنوي سره کېدی شي ویونه، وییونډلې(-ګروپونه) او غونډالې یو له بل سره وتړل شي.

دا د غونډالو خپلواک غړي نه دي او اتریبوت هم نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ویونتړنو سره به ویونه، وییونډلې یا غونډلې یو له بل سره تړل کیږي؟

داخپلواک غونډالغړي نه دي او اتریبوت هم نه دي.

د وییونو تړنې: د بېلېدنخښې یا کوما سره

بېلګه: سپین، غرنی او تورګل و ګرځېدا (چکر) ته ځي.

سپینګل او ملالۍ سررول(بنسټرول یا اصل رول) لوبوي. ( لکه په فیلم کې)

له وییډلو(- ګروپونو) سره تړنه

بېلګې: د ډلې کار ولاس ته راوړنې به په یوه ستره پلاکات یا یوه لیدونکي تخته- لیک وښول شي.
په غونډالتړنو(Parataxe) کښې له دوه سرغونډالو سره.

بېلګې: سپین فیلمجوړونکی دی او سپینګل د کامرې و شا ته ولاړ دی.

ملالۍ غواړي وموزیم ته لاړه شي، خو (مګر) سپینه په مینه و سینما ته ځي.

له سر- یا بنسټغونډالې او څنګغونډالې سره غونډالزیاتونه یا ورزیاتونه

بېلګې: لمر بېرته ځلیږي، له هغې څخه وروسته چې ورېنګي ودرېده.

پوستوالا یا پوستوړونکي پوست راوړ، سره له دې چې د شپې توانمنده ورینګي وه.
یادونه: و ما ته ګرامري، سره له دې سم نه برېښي. دا ،،له دې سره،، باید وي، که د پسې ځاینیوو یا داتیو اړیتینګونه ده.

یادونه:

د ګرامر له مخې څخه به یې ،، سره له دې سره،، لیکنه سمه وي او دابه راته روښانه کړي، چې دا دواړه سره به توپیر ولري. ډولیز فکر اړیین دی.
له تړنویونو سره سړی کړی شي خپل نیت ووایي یا څرګند کړي.

یو له بل سره لړی کې(kopulativ):

بېلګې: همداسې، او، لکه څنګه - لکه هم، هم، پرته له دې ( له دې څخه پرته) یا ښه یې: له دې څخه پرته ، له دې ( سره) برابر، لومړی، پای، بالاخره(؟).

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګه: زه په سپورتټولنه کې غړی یم، همداسې په موزیکښونځي کې هم.

ځه پردیکول ( پردي)(disjunktiv):

یا- او یا، یا....

بېلګه: مور یا په ګاډي کې ځو یا په موټر کې.

(restriktiv): ځه بندول یا رابندول یا کمول

مګر، ځانله، ټیک ( فقط؟)، بیاهم، چېرته مخامخ، ترهغې پورې، دومره لرې....

بېلګه: موږ اوس له درس سره پیل کوو، ترهغې پورې چې ټول چمتو وي.
(kausal): لاملول ( لامل راوړل)

ځکه، که، سره له دې ( له دې سره سره)، داسې چې.....

بېلګه:هغه و تیاتر ته په وخت نه راغئ ( را نه غئ)، ځکه ګاډی ناوخته راورسېد.

(temporal): وخت ورکول

په ترځ کې، وروسته له دې څخه، له هغې سره، تر....

بېلګه: هغه یو سخت ټکر کړی وو. له هغې (وخت) څخه تل بیا دردیږي یا خوګیږي ( که غواړئ درد لري).

(negierend): ځه نه کول (نه والی) ( او که ځه نه ول، لکه تور، نه تور)

بې له دې څخه ، پر ځای باندې . نه-بلکه...

بېلګه: هغه په وریځو کې تېروت، چې په ځای یې ببرته وکوټه-ګی ته لاړ.

(konditional): یو شرط ایښول:

که، کله، بلډول، پرته له ( له دې څخه پرته)......

بېلګه: ملالئ هرومرو غواړي تیاتر ته لاړه شي، که لا کارتې شته وي.

(komparativ): پرتله کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګه، پس نو، کله چې، ټیک داسې....

بېلګه:سپین داسې اغېز وښود، چې ګوندې هغه به ډېر زړه بدی وي.

(instrumental): لار ښول (الات ښول)

له دې سره، په دې ترڅ کې، په دې کې.....

بېلګه: هغه په څرګند ډول خپل توان ښه کړ، داسې چې --- یا ځکه چې ---- یا له دې سره چې هغه زیات تمرین وکړ.

(konzessiv): قانع کېدل یا قانع کول، ښه یې:ورباندې منل :

په رښتیا... مګر،له دې سره، کله چې .. مګر، هممهال،

بېلګه: له دې سره چې له جګړ څخه خبروو، خو موږ بیا هم لاړو.

(adversativ): څه مخامخ کول:

مګر،بلکه، له دې زیات،مخامخ، هم، بیاهم، د څه مخامخ، خو

بېلګه: هغه د کور کار نه کوي، خو په مینه و سپورت ته ځي.

(proportional): نسبت څرګندونه ( متناسب) یا پرتله ییز یا ورته:

همغومره، څومره، څومره... همغومره

بېلګه:هرڅومره چې هغه ډېر کار کوي، همغومره ډېرې پیسې اخلي. یا: سپین و روښان ته جګ دی.

(modal): یو رقم او ډول څرګندونه یا ښونه
په دې چې، ځکه چې:

بېلګه: هغه مور نیکمرغه کوي، په دې چې یا ځکه چې ناولتوب غورځوي.

## سرغونډالې یا بنسټغونډالې: Hauptsätze

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه غونډاله، چې پوره موخه څرګندوي او هو همداسې د څنګغونډالې پيل کې راځي( تل داسې نه وي، خو د ې ته دې تل پام راوګرځول شي).

د غونډالي خونديونې له مخې سرې توپيروي:

:Haupsatz als Aussagesatz

سرغونډاله د ويناغونډالې په توګه

بېلګه: ورينګي وريږي. توپ رغړي. زدکونکی يوه غونډاله ليکي.

يادونه او پېژند: وينا د وييونو داسې څنګ پر څنګ باندې يوه موخه-وره اېښوونه ده، چې يو رښتيا ارزښا رښتيا يا نارښتيا ولري.

ويناغونډاله هغه غونډاله ده، چې رښتيا ارزښت رښتيا يا نارښتيا يې ښوول کېدی شي يا بايد و ښوول شي.

- د ما د ،،سم اند،، كتاب كتلی شی.

:Hauptsatz als Fragesatz

سر- يا بنستېغونډله د پوښتنغونډالې په توګه

بېلګه:

( ايا) سبا ورېنګي وريږي؟ ولې غونډوسکه ورغړېده؟ (ايا) ته يوه غونډاله ليکې؟

يادونه: که پام مو وي، نو د ويناغونډالي او پوښتنغونډالي په منځ کې توپير نه ليدل کيږي، نو دا پوښتنغونډاله به يواځې له پوښتننخښې سره موخه وره کوو او که ،،ايا،، به ورسره ليکو؟ ژبپوهان دې هم ورته فکر وکړي.

په ويېنه کې يې بيا روښانه توپير شته.

:Hauptsatz als Aufforderungssatz

بنستېغونډاله د امريه غونډالې په څېر

بېبلګه: سملاسي يوه غونډاله وليکه! ناسمون مه كوه!ليکه!

سرغونډاله د درنښت امريې په څېر:

بېلګه: هيله ده چې په غونډالليکنې پيل وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا: که و هغه ته څه ووایې.

بنسټغونډاله د غوښتنغونډالې په څېر:

بېلګه: کاش چې تا ناسمون نه وی کړی! تا کړی شو چې پوهنتون پیل کړې!

سرغونډله د غبرغونډلې په څېر:

بېلګه: ګوره، ډېر ناسمونونه دې درلودل! دا داسې ناوړه!
Infinitivsätze ایفینیتیو د کړنوي بنسټېنه یا بللېنه او و هغه ته خپله پوهېدنه ورکوي.هغه له وی بنسټ او پایوني څخه جوړه ده. اینفینیتیوغونډالې له ټاکلو ویونو او اوړونونو یا ښه یې بڼه بدلونونو وروسته کاروو.

بېلګه : ومخ ته لرل ( د یو څه کړنې). زه و مخ ته لرم، چې د تېنیس لوبه پیل کړم.

زیات وخت اینفینیتیوغونډاله له سرغونډالې وروسته ځای یاځای په ځای وي، داکړی شي چې د غونډالې پیل کې راشي..
spätlateinisch (modus) infinitivus = = نه نږدې ټاکونکی ( نه له نږدې څخه ټاکونکی)
اینفینتیوغونډالې د کړنویونو سره په بنسټېنه غونډالې دي.

”Infinitivsätze ohne “auf
اینفینیتیو غونډالې بې له،، باندې،، څخه

بېلګې: پر څوکۍ ناست پاتې شه. سم یې: پرڅوکۍ باندې ناست پاتې شه.

زه موټر ولاړ پرېږدم.

”Infinitivsätze mit “mit د الماني او پښتو غونډلجوړونه پوره توپیر لري.
اینفینیتیو غونډلې له ،،سره،، سره

بېلګې: زه وعده درکوم، چې و سبا ته به له تا سره وګورم.

”Infinitivsätze mit ”Modalverben
اینفینیتیوغونډالې ،، مودال کړنویونه)

بېلګې: زه غواړم تا په روغتون کې وګورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته کړی شي (اجازه لري) له ټولګې سره و رسختې یا و ارامی ته لاړ شي

"Infinitivsätze mit "werden
اینفیتیو غونډالي له ،، به،، سره

بېلګې: مور به نیا اونیکه وګورو.

ته به ناوخته راشې.

: Partizipialsätze

پارتیځیپغونډاله یوه ځنګیزه غونډاله ده له پارتیځیب ۱ سره( پارتیځیپ پرېزنس) یا له یوه پارتیځیب ۲ ( پارتیځیپ پرفکت) سره. دا برخغونډاله د سرغونډالې و شي ته موخه لري او داپارتیځیپ په ډېرو حالتونو کې غزیږي.

بېلګه: په بریا هیله من، هغوي وخپل ټیم ته دعا وکړه.

یو پارتیځیپ یوه ګراماتیکي یا ژبلاریزه بڼه ده، چې له یوه کړنوي را بېلیږي او له دې سره سره کله، کله د یوه خویویي خوي غوره کوي، په ځنو برخو کې د یوه کړنویي خوي هم غوره کوي.

Partizipialsätze
پارتیځیپ غونډالې د پارتیځیب ۱( پارتیځیپ اوس وخت) او پارتیځیپ ۲ ( پارتیځیپ تېر وخت) سره جوړیږي.

پارتیځیپ ۱ له یوې پارتیځیپغونډالې له دوه هممهالځغاستنده کړنو سره کارول کیږي.

بېلګې: په الوتکه کې ناست، وجګېدو ته صبر کوي.

پر ځمکه باندې پروت، هغه ستوري ګوري.
په پارتیځیپیالغونډاله کې له پارتیځیپ ۲ سره کړنه په بنسټ – یا سرغونډاله کې له کړنې څخه د مخه کړل کیږي.

بېلګه: پاس نا وخته ورکړل شو، تور لوبغاړي(تور ساتونکي یا ګولساتونکي) وکولی شو هغه ونیسي.

همدا اوس چې دی وېښ شو، هغه وو چې تلفون زنګ وواهه.

غونډال لړۍ Die Satzreihe

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوځایشوې غونډالې Der zusammengesetzte Satz

یوه غونډاللړی(Parataxe ) – غونډالترړنه هم بلل کیږي- له دوه یا ډېرو برابرارزښته غونډالو څخه جوړیږي:

بېلګه: مور وکار ته ځي. پلار و خرڅلاو ته.

مور وکار ته ځي(،) او پلار وخرڅلاو ته.

(Ein Satzgefüge (Hypotaxe

غونډالزیاتونه (Hypotaxe)له سر- یا بنسټغونډالې ( زیات وخت له یوه ترړنوي سره ترړلې) څخه جوړه ده.

په ژبلار کې د هیپوتاکس لاندې د یوې څنګیزغونډالې د بلې څنګیزغونډالې سره ترتیبول پوهیږو. یوه ګډوله غونډاله، چې له یو ځله یا له ډېرځلو هیپوتاکسو څخه لاس ته راغلې وي، په ژبلار کې غونډالزیاتونه پوهیږو. ( کېدی شي مور د مخه بل څه نومولي وي، خو زه ترې خبر نه یم. زه ملامته یم).

له غونډالزیاتونې څخه په ژبلار کې یوه ګډوله غونډاله پوهیږو، چې لږ تر لږه له یوې بنسټ – یا سرغونډالې او له یوې څنګغونډالې څخه جوړه وي( او یا هم زیاتې څنګیزغونډالې ولري). غونډالزیاتونه د هیپوتاکس په مېکانیزم جوړه یا ودانه ده.
بېلګه: زدکونکی پوهیږي. هغه باید زده کړي.

زدکونکی پوهیږي، چې هغه باید زده کړي.

غونډالزیاتونه یا له څو غونډالو څخه یوه جوړونه....

په غونډالزیاتونه- یا له څو غونډالو څخه یوه جوړونه کې بنسټ-یا سرغونډاله او څنګیزغونډاله.

څنګیز- یا څنګغونډاله د بنسټغونډالې و مخ ته، و څنګ ته او یا د بنسټغونډالې په منځ کې وي. هلته یوه غونډالزیاتونه و منځ ته راځي.

-- څنګیزغونډاله له بنسټغونډالې څخه د مخه:

بېلګې: دا چې یا ځکه چې باران وریږي، لوبه په کوټه کې کوو.

سره له دې چې زه وخت نه لرم، سینما ته ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- ځنګيز غونډاله د بنسټغونډالي پسې:

موږ لوبه په کوټه کې کوو، ځکه چې باران وريږي.

زه سينماته ځم، سره له دې چې وخت نه لرم.

-- ځنګيز غونډاله د بنسټغونډالي منځ کې:

بېلګې: موږ لوبه ، دا چې باران وريږي، په کوټه کې کوو.

زه، سره له دې، چې وخت نه لرم، سينما ته ځم.

-- ځنګيز غونډالې

ځنګيزغونډالي کېدی شي د هغوي د دندې له مخې ځخه توپير شي، بيا کېدی شي غړيغونډالي وبلل شي.

-- شيغونډالي( غړيغونډاله په کړوني حالت کې)

څوک چې وږی وي، بايد وخوري.( څوک بايد وخوري؟)

ډېر خوښېږم، چې ته مې نن کتو ته راځې . ـ څه (شی) مې خوښوي.

-- شيغونډاله( غړيغونډاله د خاوندوالي -، داتيو-، خاوندوالي- يا اړيکوين شی پر ځېر يا بڼه باندې):

بېلګه: زه پر ياد باندې لرم يا ښه يې: زه ياد لرم يا راوړم، چې هغې يوه جايزه ګټلې. ( څه(شی) زه څه په ياد لرم؟)

سپين سوچ وواهه، چې هغه څه کړی شي.( سپين څه سوچ وواهه)

هغه هکپک وو، چې هغه يوه جايزه ګټلې.( هغه په څه هکپک وو؟)

Adverbialsätze:ادوربال غونډالې:

بېلګې:

هغه و لمبا ته لاړ، (کله يا هغه وخت) چې هغه د کورکار و پای ته ورساوه. ( هغه کله و لمبا ته لاړ؟)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپين ناوخته راغی، ځکه چې ګاډی ناوخته شوی وو. ( ولې سپين ناوخته راغی؟)
اتريبوتغونډالې:Attributsätze

اتريبوتغونډالې په ژبلار کې يوه څنګيزه غونډاله ده، چې د يوه اتريبوت دنده لري، داسې چې له يوه نوم (سوبستانتيو) يا د يوه سوبستانتيو ګروپ په واک کې وي.

بېلګې: سپي، چې غاپي، نه داړي.( کوم سپي نه داړي؟)
پيل(فيل) اموخت(عادت) لري يا اموخته دی، چې (هغه) سر خوروي) ( پيل څه اموخت لري)

تړنغونډالې: Konjunktioalsätze

څنګغونډالې د تړنويونو له لارې لاربنوديږي

کړنوی زيات د څنګيزې غونډالې په پاي کې ځای په ځای وي.
د خپلې غوښتنې يا نيت سره سړی دا توپيرولی شي:

(Kausalsatz (Begründungssatz
کوزالغونډالې (لاملغونډالې)

( تړنې: چې، ځکه، ځکه چې، دا چې، داسې په نامه(؟))

بېلګه: زه تا واده کوم، ځکه چې راته ګرانه يې.
و سبا ته ښونځی نه شته، ځکه چې د رسختی پيل دئ

Konditionalsatz( شرطی غونډاله)
( شرطونه: څنګه والی (؟) (حالت) د خبرو دې، کله (چې)،که، پرته له، بل ډول...)

بېلګه:  نمرې به  دې ښې شي، که تا درسونه زده کړل.

زه چای جوړوم يا کړم، که ته راځې.

(Modalsatz (Satz der Art und Weise (د رقم او ډول غونډاله،)
(کنجنکشن يا تړنويونه: داسې چې يا که چېرې،  که چېرې،که)

بېلګه؛ تاسو لوبه ګټلی شی، که (چېرې) تاسو پوره وهڅيږئ.

(Temporalsatz (Zeitsatz(وختغونډاله)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ټرنويونه: ( چې، له هغې، دې ...) وروسته، په ترڅ کې، له هغې پسې، پورې( دلته مې ،، تر،، ليکلی وو، خو د وروستيو څېړنو له مخې ،، تر ،، ناسم دئ او څه پرېپوهېدنه نه لري. دا موصوع لږ پېچلې شوې، چې بل ځای کې به پرې وغږېږو)، ....)

يادونه: پورې د ټرنوي په څېر هم راځي، خو د له او ..... نورو ځاينيوی نه شي کېدی

۱۰ بجو تر ۱۱ بجو پورې. يا ۱۰ – ۱۱ بجو

بيا يادونه: دا ،، تر،، ګوره ټرنويي نه دي، دا د حالت اړوند مورفېم دی او دا ،، پورې،، پسبټرلی او ټرنويي دی. دا په ګرامري حالتونو کښې روښانه شوې.

بېلګه: ټولګی (هغه) مهال (د کاډو ) و تمځای ته راغلل، چې ګاډی راورسېد.
ګومان مې دی لږ تکرار شته.

## غونډالجوړونه

يوه ساده غونډاله څنګه جوړه ده؟

نجلی ليکي ( شينوم (نوم)+پرېديکات)

(ايا) نجلی ليکي؟ ( پوښتنوی+ شينوم يا نوم+پرېديکات)

ژونديپاتو د مړو (ومړو ته) دعا وکړه.( نومځاينيوی + خاوندوالی شی( د،،ته،، حالت)+ پرېديکات)

پلورونکي له مشتريانو څخه خوښنه وکړه.( شينوم + داتيو شی + پرېديکات)

ځوان ملګری ګوري. ( شينوم + خاوندوالي شی)

ښونکي ليکناسمون پام کې لري.(شينوم + اړيکويز شی+پرېديکات)

زه په شينوارو کې اوسېږم.( شينوم+ځايوربيال + پرېديکات)

ګاډی ناوخته ځي.( شينوم + وختيز ادوربيال + پرېديکات)

سترنج د وختتېرولو له امله کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ما د ملګري سپی په اوبو کې لامبي. ( د خاوندوالي اتريبوت+ شی+ځای ادوربال+ پريديکات)
وکوم ځايبدلونونو ته شونتيا شته؟ يا کوم ځايبدلونونه کېدی شي؟ ( خوښه مو)
ځوان خپل ملګری ګوري. ( شينوم+ د خاوندوالي شی+ پرېديکات)
پوښتنه يي هم همداسې ده، خو ،، ايا،، يي و مخه ته راتلی.
(ايا) دا ځوان خپل ملګری ګوري دا ځوان.( نوم+خاوندوالي شی+ پرېديکات)
شينوم( غونډال اله) او پرېديکات ( غونډالوينا)

( يادونه: پرېديکات هغه څه دي، چې يوه کړنه کړل کيږي يايوه کړنه کيږي)

د غونډالغړو سره شينوم( غونډال اله) او له پرېديکات( غونډالوينا) سره سړی کړی شي ساده غونډالې جوړې کړي.

بېلګې: کوچنی لوبيږي. موټر روانيږي. سړی پخوي. ښځه ګنډي.

د پوښتنې په بڼه: (ايا)هلک لوبيږي؟ (ايا) موټرروانيږي؟ (ايا) سړی پخوي؟

يادونه: زه پرېکړه نه کوم، چې دا به څنګه راغلي وي. موږ په پښتو کې لکه غونډاله يو ډول ليکو او بيا پوښتننخښه پسې زياتوو او يا يې د مخه ايا ليکو. فکر به ورته وکړو.
شی يا ښه يې نومويی کړی شي

يو نوم/ شينوم – يو نوموی -

يو نوموی له مل سره-

يونوم/شينوم له اتريبوت سره -

يا هم يو نومځاينيوی وي.

يادونه: په بخښنه. تاسو پوهيږي، چې دا پورته - د ،، وي،، په ځای ليکل شوی، دا په دې پوهېدنه،چې په هرځای کې د ،،-،، په ځای وي راتللی شي.
شينوم ( غونډال اله)

زدکونکي زده کوي.

څوک يا څه شی؟(نوميز)

څوک يا څه شی زدکوي؟ زدکونکی زده کوي.


شينوم: زدکونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

(Das Prädikat (Satzaussage
پرېديکات ( غونډالوينا) ( څه کيږي)

زده کونکی زدکوي.

څه کوي.... ؟ څه پېښيږي...؟

پرېديکات وايي، څه دي، څه پېښيږي يا څه کړل کيږي يا څه کيږي.

زدکونکی څه کوي؟ .... زده کونکی زده کوي.

برېديکات زده کول.

پرېديکات تل يو کړنوی دی.
شی – غونډالپوره کونه

Mit den Satzgliedern
له غونډالغړو سره

شينوم يا نوموېي( غونډال اله) او پرېديکات( غونډالوينا)

کېدی شي سړی ساده غونډالې جوړې کړي؟

بېلګه: کوچنی لوبې کوي. موټر ځغلي، سړی پخوي، ښځه کار کوي

د پوښتنغونډالي په څېر: ايا کوچنی لوبې کوي؟ ايامو‌ټر ځغلي؟

ايا سړی پخوي؟ ايا ښځه کار کوي؟

يادونه: په پښتو کې دا پوښتنوی له ويلو څرګنديږي او زيات وخت د ،، يا ،، ورسره نه ليکي يا وايي.

اتريبوت- ورزياتونه
اتريبوت خپلواک غونډلغړي نه دي.

ادجکتيوي يا خويوييز اتريبوت(هم: اتريبوتي خويوييونه):

خويوی يا هم ګنوی له يوه نوم/سوبستانتيو سره زياتيږي:



بېلګې: ښکلی کور. دما نوې غونډوسکه، دريم ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

:postpositionales Attribut

یادونه: د لته هم ماپه لومړي سر کې دا د پرېپوزیشن لپاره څېړل وو، خو پښتو پرېپوزېشن نه لري، نو د تېر غونډي به کله د پښتو یو او کله بل حالت وي.

اتریبوت: د نږدې ټاکنو لپاره د یوه شي ورزیاوتونه

اړیکوییز اتریبوت:

اتریبوت کېدی شي له ډېرو وییونو او له نورو وییونو – د یوه اړیکوي سره په تړنه- جوړ وي.

بېلګه: زه شمېرونی(کمپیوتر) له اعلاناتو څخه اخلم.

Genitivattribut: خاوندوالي اتریبوت:

شي یا نوم ته په خاوندوالي ورزیاتونه

بېلګه: دما د ملګري سپی ښه روزلشوی دئ.

د هنرمند انځورونه هکپکونکي وبرېښېده.

یادونه: مورږ د څنګه والي، حالت یا اړیکتېنګوونکي په هکله څه ستونځې لرو، په دې هکله مې په لنډ تېر وخت کې لیکنه هم خوره کړې، که هغه مو وکتله او د سمون په هکله مو یې فکر وکړ، خوښ به شم.

Partizipپارتیځیپ:

د کړنوي لپاره یوه د نخښوني بڼه ده، چې د کړنوي ( بېلابېل وختپوړی) او هم د خویوي (جګوالي توان) خویییونه لري او له دې سره د کړنوي او خویويي په منځ کې ځای نیسي ( په دواړو پارتیځیب شوی)

،، ،، تلونی،، د کړنوي ،، تلل،، اوسمهال پارتیځیپ دئ.،،
► Partizip als Attribut پارتیځیپ د اتریبوت په توګه

بېلګه:



خوښو لیدونکو پر خپلو ځایونو باندې چغې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په ځغاستندې – یا ځغاستېتې (ور) زدکړه (تمرین) ورکوله.

غونډالجوړ ونې
وختونه
اوس وخت: تلل
ځم، ځو،ځې، ځې، ځي

Präteritum oder Imperfekt = 1. Vergangenheit

لومړی تېر وخت: زه پرون ټوله ورځ په کور کې وم، ځکه چې (زه) ناروغ وم.

ما غوښتل و سینما ته لاړ شم، خو باید په بستره کې پاتې شم.

ما تبه لروده او د غاړې درد.

تېر وخت ۲ Perfekt = 2. Vergangenheit
تېر وخت ۳ ▶ Plusquamperfekt = 3. Vergangenheit
▶ ۱ Futur I = 1. Zukunft . راتلونکی
▶ ۲Futur II = 2. Zukunft . راتلونکی

تېر وخت او ۳ او . تېر وخت د مرستندوي کړنویونو ،، لرل،، یا ،، یل،، سره.

راتلونکي له مرستندوی کړنویي ،،به+ کړنوی،، سره. دلته هم مرستې ته اړتیاده،

په پښتو غونډله کې کړونی چې د اینکلیتیکي نومځاینیوو په بڼه دي، د کړنوي پای کې راځې او دا په ډېرو مهالونو کې او له دې سره غونډله- پوره غونډله- له یوه وي څخه جوړه ده، چې دا غونډله هممهال کړنوی او کړونی دواړه لري.

بېلګې: تلل: ځم، ځې، ځو او....لاړم....

خوړل: خورم، خورې...

یادونه: دا پورته، چې موږ اینکلتیکي نومځاینیوي بللي، دا په خټه کښې د کړنوییونو، له وخت سره سم یا وخت اړنونده بڼه بدلون یا ګردان دی. موږ په پښتو کښې داسې بلد شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو، چې ګونډۍ د بېلګې په توګه ،، له ځم سره،، که ،، زه ،، ونه لیکو، نو دا به بسیا کوي. موږ ور باندې پوهېږو، خو دلته مو هغه ګرامري پوهېدنه ناسمه کوي او دا په پاي کښېږي

**. ۵۶ ژبپوهنه۳ .**

دا د وخت اړونده مورفېمونه مو ونا سمونونو ته رابولي، چې ګونډۍ په ،،راځم،، کښېږي به دا ،،- م،، د نومځاینیوي لپاره وي، خو داسې نه ده او دا د کړنویي پوهېدنغزونه ده.

یادونه: په پښتو کښې کړنوییونه نه ګردانېږي، خو پوهېدنغزونې لري، چې پوهنه یې غزوي. که دا اینکلیتیکي نومځای نوي د کړنوییونو سره نښي راشي، نو دا کړنوییونه لوریز کوي او د نه کړناړیکتېنګوونو کښې بیا نومو‌ییونه یا ښه یې اینکلیتیکي نومځای نیوي ي.

وروسته څېړل شوي. لنډ: دا اینکلیتیکي نومځاینیوي بلل کیږي.

د کړنویونو غزېدنه دا د بدلون ګردان پرځای باندې دی.

بېلګې ناتوانه کړنویونه ............ بېلګې توانمند کړنویونه

اوسمهال: ..... زه وایم......... زه ځم

ته وایې ............ ته ځې

هغه ( ن، ښ) وايي ..... هغه (ن،ښ) خي

موږ وایو...............موږ ځو

تاسو وایئ........... تاسو ځئ

هغوي ( ن ښ) وايي.............. هغوي ( ن،ښ) ځئ

اوس تېر مهال یا پرفکت: ما ویل .................... زه تللم(*)

تا ویل............... ته تللې

هغه(هغې) ویل ........ هغه تللو، هغه تلله

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو ويل (ويلو)..... تاسو تللئ

هغوي ويل(ويلو).... هغوي تلل(تللې)

موږ وويل..................موږ لاړو (لاړلو)

تاسو وويل ..... ..... تاسو لاړئ ( لاړلئ)



هغوي وويل(وويلو)..... هغوي لاړل (ښ لاړلې)

پرفکت :...... ما وويل............ زه لاړم (لاړلم)

تا وويل (وويلو)....... ته لاړلې

هغه، هغې وويلو ... هغه لاړه(لاړلو)

ښ. لاړه ( لاړله)( توپير په ه کې دئ.

موږ وويلو ............ موږ لاړو( لاړلو)

تاسو وويلو......... تاسو لاړلئ

هغوي وويل ................هغوئ(ن،ښ) لاړل ( ښ. لاړلې)...

پلوسکوم پرفکت: ما وويل... زه لاړم فکر : ماويلي وو

تا وويل...... ته لاړلې .... تا ويلي وو

هغه، هغې وويل........ هغه(ن،ښ) لاړه (لاړله)

موږ وويلو ............... موږ لاړلو

تاسو وويلو ............ تاسو لاړلئ

هغوي وويلو................ هغوي (ن،ښ) لاړلو ( لاړلې)

راتلونکی ۱ : زه به وايم.................. زه به ځم

ته به وايې .................. ته به ځې

هغه به وايي................ هغه به ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ به وايو........موږ به ځو

تاسو به وايئ........... تاسو به ځئ

هغوي به وايئ........ هغوي به ځي

راتلونکی ۲ :   ما به ويلي وي .... زه به تللی وم (*)



تا به ويلي وي...... ته به تللی وې

هغه به ويلي وي........ هغه به تللی وي

هغه به ويلي وي..... هغه به تللې وي

موږ به ويلي وي........... موږ به تللي وو

تاسو به ويلي وي............ تاسو به تللي وئ

هغوي(ن،ښ) به ويلي وي.....هغوي (ن،ښ) به تللې وي

لاندې ته يادونه: په لاندې کې له لرل او يل کړنويونو سره بې له ځانيز نومځاينيوو ځخه هم دا غونډالې د يوه ويي په څېر سمې دي. لرم، يم او نور

# کړونی او  پرې – يا نه کړونیAktiv und Passiv

غوره يادونه: موږ په الماني يا لاتين کې اکتيو او پاسيو په دې پوهېدنه چې کړوني او نه کړوني  او په عربي کښې فاعل او مفعول، دا په دې پوهېدنه چې کړوني او پرېکړوني لرو، خو که په پښتو کښې ورته فکر وکړو، نو موږ په پښتو کې دا دريواړه لرو: کړونی، پرېکړوني او نه کړوني، چې دا په حالتونو يا پېر کښې ښه روښانه شوي دي. يا

يادونه:

او هغه عربي يې فاعل او مفعول ( کړونی، پرېکړونی)، خو په پښتو کې يې بايد پرېکړونی او بل يې نه کړونی  وبولو، خو که نه کړونی يې وبولو بسيا کوي، ځکه چې پرېکړونی هم نه کړونی دی.

 په کړنغونډالي کې  شی ( غونډالپوره کونکی) په نه کړونغونډاله کې سبجکت ( غونډال اله ) کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړنغونډاله( کړنبنه): ملالی(کړونی) و هوګۍ( پرېکړونی) ته ډاډ ورکوي (پرېډيکات).
ناکړنوی ( زورېډبنه): هوګۍ(کړنوی) ډاډمنه کيږي ( د ملالی له خوا څخه)

Aktivاکتيو دا په پښتو د کړوني اندول دی: په يوه اکتيو- يا کړنغونډله کې د سبجکت اندول کړونی دی، نو کړونی بيا په همغه حالت کې وي.

بېلګې: ملالي هوګۍ ډاډه کوي.( ملالی کړونې ده، هغه وهوګۍ ته ډاډ ورکوي. هوګۍ نه کړونې يا پرېکړوني يا موخه اله ده)



هوګۍ ربړيږي.( هوګۍ په همغه حالت پاتې ده.)

ځلمی دړه وازوي. ( ځلمی پخپله دړه وازوي.)

زه ښوروا لړم. ( زه پخپله ښوروا لړم)

Passivپښتو اندول يې:نه کړونی دا نه کړونی د کړوني مخامخ يا پرېکړونی دی.

بېلګې: هوګۍ ډاډه کيږي. ::::::: په څخه کښې..........

دړه وازيږي.

ښوروا لړلکيږي.

پرېکړونی: سپين هوګۍ وهي. دلته سپين کړونی او هوګۍ پرېکړونې ده.

هوګۍ وهل کيږي: دلته هوګۍ نه کړونې يا پرېکړوني ده.

سيده ـ، ناسيده شی

سيده شی: پېژند: غونډالغړی، چې د کړنوي، په خاوندوالي کښې ، د غونډلې په واک کې دي او د يوه شي سينتاکتيکي دنده ډکوي يا پوره کوي.

مخامخ وی يې ناسيده شی.

۱ ـ کارونبېلګه: په غونډله کې. ،، زه د کورکيلي لټوم.،، ،، د ما د کور کيلي،، يو نوميز غونډال غړی دی، چې د خاوندوالي په بنه کښې دی او د يوه سيده شي دنده وکړنوي ،،، لټوم،، ته پوره کوي.

يوه غوره يادونه: موږ بايد وهڅيږو، چې په خپلو ټولو ليکنو کې يو څه چې په پيداېښي توګه راتلی شي، بېپروا نه پرېږدو. لکه په پورته غونډاله کې، چې د کړنوي د مخه ،، و ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید ولیکو. له دې سره د غونډالي ځرنګوالی هم په پام کې نیول کېږي، چې باید ونیول شي. دا پورته په بل ځای کښې هم راغلي، خو زه نور پسې نه شم ګرځېدلی.

۱ – سیده شی نخښونه له سیمانتیکي دندې سره سراو کار لري، چې په ډېر دا ډول جوړښتونو کې خوندي ده، دا د کړنوي له کړنو څخه سیده اغیزمن شی یا ابجکت، چې هغه په دا ډول اړونده کېدنجوړښتونو شی یا ابجکت کیږي. ،، د کور کیلي د ما له خوا څخه لټول کیږي.،،

۱. ژبپوهنه۳ ۶۰ .

- ،، داسیده شی پسې نښتی له کړنویکړنو ( یا د کړنوي له کړنو) څخه اغیزمن دی...،،

ویی - یا لغاتپوهېدنه

( معنی)Wortbedeutung/Definition:
ناسیده شی

وییپوهېدنه/ پیژند

۱ – ژبه: غونډالبرخه، چې د کړنوي په واک کې دی، په داتیو ډول وي او د یوه شي سینتاکتیکي دنده پوره کوي. دا کلیمه د برخې په څېر د جینیتیو لپاره دنده هم پوره کوي –

او داتیو شی همداسې اړیکوي شي لپاره کارول کیږي. دلته نور هم ډېر څه شته، چې باید لیکل شوي وی، خو نور ورته ستړی شوم.( د ستړي څه ښه نه ده،خو کارغواړي) کارونبېلګه:

په غونډاله کې: ،، زه له تا سره مرسته کوم،، ،، له تا،، نومینال غونډالغړی دی، چې د الماني په داتیو او پښتو کې ،، له تا،، داتیو اړیکتیګوونی یا پېر کې دي او وکړنوي ،، مرسته کوم،، ته د یوه سیده شي دنده پوره کوي.

د ناسیده شي نخښونه د داتیو لپاره کله د همهغه پوهنیزه کلمه د پاس کلیمي( دا پاس په دې پوهېدنه دی، چې هغه بل څه خوندی لري. برخه ورته نه شو ویلی، هغه بیابل څه دي) لپاره کارول کیږي پرته له اکوزاتیو( سیده شی) څخه.

دا ناسیده شی په الماني کې (وپښتو ته دې پام وشي) له سیده شي څخه په څېر نه د یوه کېدوني غونډالي سبجک( نوموېي) په څېر کارول کیږي: ،، زه له تا سره مرسته کوم،، داسې کیږي، چې،، له تا سره به مرسته وشي،،، دا ناسیده شی ،، له تا،، په داتیو حالت پاتیږي.

Der Konjunktiv کونیونکتیو یا کنجنکشن(تړنویي یا تړن لغات)
Der Konjunktiv I

(c) ketabton.com: The Digital Library

کونیونکتیو ۱ تړنویی ۱

۱ – کونیونکتیو زیات یوه هیله، یوه غوښتنه یا (یوڅه) رابلنې ته وایي (افاده کوي).

دا چې ویل کیږي، لا تراوسه ربښتیا شوي یا کړل شوي نه دي، بلکه د ویونکي له خوا څخه داسې غوښتلکیږي.



بېلګه: - هوښ ولره

سړی دې دوه هګۍ واخلي

هغه دې صبر وکړي.

۲ – له کنجنکشن ۱ سره ناسیده/ نه ویېزې (نه ور غږیزه) ویناوي جوړیږي.

بېلګې: ځوان وايي، هغه هره ورځ خپله د خوښې مړۍ خوري.

پلار وايي، هغه دې پیسې سپما کړي.

(Konjunktiv II (Möglichkeitsform II

کونیونکتیو ۲ ( شونتیابنه) تړنوییز ۲ :

۱ – کونیونکتیو ۲ یو څه وايي چې په خیال کې وي، خو عملي شوي نه وي.

بېلګه: که شونتیا یې وی یا که کېدی شي یا که کېدونکې وي، هغه به هره ورځ خپله د مینې مړۍ خوري.

ما به داسې نه وی کړي.

زه به داسې څه هیڅ (وخت) ونه کړم.
کونیونکتیو ۲ زیات وخت د درنښت له امله هم کارول کیږي.

بېلګه: ما به هیله لرودی، چې تا دې یو ه غزل ویلي وی.

ما به و تا ته مشوره درکړې وی، چې دا کتاب دې ولولې.

۳ – کونیونکڅیون ۲ کارول کیږي، هغې پسې چې و یو څه ته لاسرسی شوی وي.
بېلګې: نو دا به وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ازموینې لومړی پړاو به تا اوس و سرته رسولی وي.

۴ – کونیونکڅیون ۲ کارول کیږي، چې یو څه تېر او سرته رسېدلي وي.

بېلګه:که بس په خپل وخت راغلی وی، زه به په سم وخت ښونځي کې وی.



– کونیونکڅیون ۲ کارول کیږي، که یو څه همدا اوس پېښېدلی.

بېلګه: که ما په همدې وخت کې پیسې لرودی، زه به له تاسره سینما ته لاړ شم.

۶ - کونیونکڅیون ۲ کارول کیږي، که یو څه لا نه وي پېښ شوي.

بېلګه: که موږ د ښونځي کار دا اوس نه لیکلی، زه به نېکمرغه وی.

Konjugation im Konjunktiv I

بدلون په تېرنویونو ۱ کې

اوسمهال

زه ځم زه وایم زه خبرې کوم

ته ځې ته وایې ته خبرې کوې

هغه، هغوي ځي هغه، هغوي وايي هغه، هغوي خبرې کوي.

موږ ځو موږ وایو موږ خبرې کوو

تاسو ځئ تاسو وایئ تاسو خبرې کوئ

هغوي ځي هغوي وايي هغوي خبرې کوي

Perfekt د تېر وخت کړنبنه او هم پایشوی راتلونکی

زه دې تللی وم ما ویلي دي ما خبرې کړي

ته دې تللی وې تا ویلي دي تا خبرې کړې دي

هغه، هغوي دې تللي وي هغه هغوي ویلي دي هغوي خبرې کړي دي

موږ دې تللي یو موږ ویلي دي موږ خبرې کړي دي

تاسو دې تللي وئ تاسو دې ویلي وي تاسو خبرې کړي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوي دې تللي وي   هغوي ويلي دي    هغوي خبرې کړې دي

Futur I راتلونکی ۱



زه به لاړشم      زه به ووايم         زه به خبرې وکړم

ته به لاړ شې        ته به ووايې       ته به خبرې وکړې

هغه، هغوي به لاړ شي    هغه، هغوي به ووايي     هغه، هغوي به خبرې وکړي

موږ به لاړ شو       موږ به  ووايو ،          موږ به خبرې وکړو

تاسو به لاړ شئ   تاسو به ووايئ    تاسو به خبرې وکړئ

تاسو به لاړ شئ  تاسو به ووايئ     تاسو به خبرې وکړئ

هغوي به لاړ شي  هغوي به ووايي     هغوي به خبرې وکړي

Futur II راتلونکی ۲

زه به تللی وم  مابه ويلي وي  ما به خبرې کړې وي

ته به تللی وې تابه ويلي وي    تا به خبرې کړي وي

هغه، هغوي  به تللي وي  هغه، هغوي به ويلي وي    هغه هغوي به خبرې کړې وي
موږ به تللي وو     موږ به ويلي وي     موږ به خبرې کړې وي

تاسو به تللي وئ     تاسو به ويلي وي    تاسو به خبرې کړي وي

هغوي به تللي وي    هغوي به ويلي وي    هغوي به خبرې کړي وي.

Die direkte Rede

سيده ويناوې يا – خبرې يا ګړېدل(؟)
يادونه: ما پورته د هغه اړوند ويي دوه ډوله پوهېدنې ليکلي. دا توپير لرى. د سم اند له مخې وينا يو څه او خبرې بل څه دى. وينا يو رښتيا ارزښت رښتيا يا نارښتيا لري او  هغه بايد وښوول شي، چې داوينا رښتيا او که نارښتيا ده او خبرې دا نه وايي. دا به داسې ووايو، چې ټول هغه ويل، چې دا د وينا پېژند نه لرې، خبرې يا ګړېدل دي.

سيده خبرې د يوې غونډالې برخه ده، چې  ويونه ښېرته ورکوي، کوم چې ويل شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ویل شوي چې پر نخښه باندې کړو، د نخښوننخښو منځ کې ځای په ځای کیږي.

شونتیاوې:
پلار وویل: ،، نن موږ یو چکر وهو.،،



،،نن موږ یو چکر وهو،، ، پلار وویل.

،، نن،، ، پلار وویل، ،، موږ یو چکر وهو،،.

،، ایا نن یو چکر وهو؟،، ، سپین وپوښتل.

،، موږ نن یو چکر وهو!،، ، سپین غږ کړ.

Dir indirekten Rede ناسیده خبرې

په ناسیده خبرو کې ( نه وییزې خبرې) دا ویلشوې وییونه بېرته نه ورکوي، بلکه په یوه وییزه خبرې خبر ورکول کیږي.

سړی دبېلګې په توګه په کار اچوي، که سړی د یوه بل یوه وییزه خبره یو دریم ته ورکوي.

ناسیده خبرې دې په کونیونکڅیون ۱ کې ځای په ځای وي.

سپین و ما ته وویل، هغه نن د فوتبال ( پښو غونډوسکې) و لوبغالي ته ځي.

سپین و ما ته وویل، چې هغه نن د فوټبال( پښو غونډوسکې) ولوبغالي ته ځي.

لوبغاړی په اند وو چې، هغه په ښه حالت کې دی.

ناسیده خبره په کونیونکڅیو ۲ کې ده، که کونیونکڅیون ۱ څخه یواځنی روښانه وي:

سپین وویل، که د هغه مورپلار نن یو نوی موټر اخستلی وی، ما به هیله لرلی وی، چې هغوي نن دلته راغلي وی.
ناسیده خبرې زیات په اینډیکاتیو وي، که روښانه وي، چې یوه ناسیده خبره مخ ته پرته وي، په ټوله کې په یوه غونډاله کې له یوه پیلویي سره .

سپین وایي، چې هغه د کورکار کوي.

موټروان په اند دی، چې دی مختګ لري یا ----،--لومړیتوب لري.

Interrogativsätze انتروګاتیوغونډالې

(c) ketabton.com: The Digital Library

روښانه ده، چې ته به په دې وېينو کې ځانله پوښتننخښنه په پام کې لرې. دا کېدی شي ډېره پارونکې یا په زړه پورې وي، چې ستا د ژبې نوي وېيونه و پېژنې. پښتو ژبه په تولیزه توګه یا په ټوله کې پوره پېچلې ده، ـخو ډېره دا بیا هم ښخې سم اندیزه او یواځې کېدی



(*) ،، د لیکلو هنر،،. نن موږ د دې لاندې د ویونو - او غونډالو پوهنه(۱) پوهېږو، دا په دې پوهېدنه چې د یوې ژبې لارسیستم. د نورو ژبو په څېر موږ هم کړی شو د موږ د پښتو ګرامر یا ژبلار په بېلابېلو موضوعچاپېریالونو ووېشو:

انعطاف(اوړېدنه). زموږ ستونځې دا دي، چې موږ په پوهنه کې د وېیونو د څرنګه والي سره نه یو مخامخ شوي.سړی په یوه څه هلته پوهیږي، چې ورسره مخامخ شي او په هغې کې یې پام ته راشي، چې څه! څه دي؟

اوړېدنه، بڼه بدلېدنه: د دې دوه وییوواو نورو کارول باید موخور وي.

اوړېدنه کې لور یا موخه له یوې لور یا یوې موخې بلې ته اوړي.

بدلېدوني هغه دي، چې موخه همغه ده، خو د وي بڼه بدلیږي.

یادونه: موږ په ځمککچپوهنه کې وایو: نقطه انعطاف: دا هغه ټکی دی، چې په هغه کې کږه خپله لوره اړوي، دا په دې پوهېدنه، چې لور بدلوي، نو له دې امله ،،اوړونټکی،، ورته وایو.

خوزندtransformiéren/

بڼه بدلول، اوړېدل، بلډول کول.

د ،، اوړېدل،، لاندې څه پوهېږو؟

۱ ا - ترانسفورمي یا خوزند تلونی: لور، ځای لور بدلول.

۱ ب – اوړېدل( ترانسفورمي، لکه په ۱ ا – کې د موټر و لوربدلون ته ځان چمتو کول...:
ب) رېفلکسیو یا بېرته راګرځېدونی راګرځېدل: ځان راتاوول، بل لور ښوول؟

پیداښت( بې له ډېرو):

یادونه: کېدی شي دلته لږ بیا راتلنه وي، خو لوستل یې ښه دي،

ټولې هغه ژوندۍ او مړې څرګندېدنې یا پېښېدنې یا پېښې، چې بې د انسان له څه کړنې څخه شته یا ومنځ ته راځي پیداښت دی. یا پیداښتي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

،، ناژوندی پیداښت،،



د بوټو، ژوو، اوبو او تیګو، د ځمکې د سر برخو په څېر ټولوالی یا د ټاکلو ځایونو( چې انسانان نه وي ورغلي او یا له هغوڅخه نه وي جوړشوي).

،، غوړېدلی پیداښت،،

وییډولونه

په پښتو کې .... ویډولونه شته: نوم، ادجګټیو یا خوی وی، نومځاینیوی، ګنیزویونه، کړلویونه، ادوربونه، اړیکویونه یا نسبتي ویونه، ترنویونه او انترجکشنونه. دا ویونه کېدی شي په بدلېدونکو او نه بدلېدونکو ویډولونو ووېشل شي. دا د یوه لنډه یادونه وي او نور و مخ ته نه شم تللی.

غونډالغړي

د غونډالي جوړښت او موخه د غونډالي د جوړښت په واک کې دی. دلته یا له دې سره باید ته غونډالغړي او وییډولونه سره ردبدل نه کړې. ویډول ټولګی یا کاتیګوري بلل کیږي، په کوم کې چې ته هر ځانکړی ویي ترتیب کولی شي. غونډالغړي په څټ د یوې غونډالي توکي دي، دوي یوه دنده سرته رسوئ او کله کله کړی شي له یواځې یوه وي څخه جوړ وي، کله کله له ډېرو وییونو څخه هم یا وییګروپونو څخه هم جوړ وي. د پښتو غونډالغړو پورې شینوم، برېډیکات، شی لکه خاوندوالی شی او داتیوشی او اړیکویشی او همداسې ادوربالي ټاکني، چې کله، چېرته، څنګه او یا ولې یو څه پېښیږی.

دا چې له کومو غونډالغړو غونډاله جوړه شوې ده، کړی شې د غونډالي له یوه ژورې څېړنې څخه راوباسې.

وختبڼه: موږ په پښتو کې درې وختبڼې لرو. اوسمهال، تېرمهال، او رتلونکی مهال.

د دې لپاره چې دا مهالبڼېAdpositionenاړیکویونه یا نسبتي ویونه د کسانو، شیانو یا پېښو په منځ کې اړیکې ټاکي. له دې امله اړیکویونه هم بللکیږي.دوی کړی شي کوزال kausale ( بنسټ – پرته ، بې، په ځای)، لوکال lokale ( ځای بېلګه: ( کره، باندې )،

تمپورال temporale ( وخت-بېلګه: (له یو وخت) څخه، شاوخوا، ترڅه ته) یا مودال modale رقم اوډول – بېلګه: پسې پېښه، مننه) نسبتونه یا اړیکې روښانه کوي.

کوزال(بې له ما څخه، پرته له ما څخه یا له ما څخه پرته، د ما پر ځای باندې)،

ځاییز: (پر یوه بجه باندې، د ۱۱ بجو په شاوخوا کې، پر ۱۱ بجو باندې)، وختیز ـ له ۱۱ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ګڼیز

ګڼیز ګڼونوییونه دي او ګڼون یا تعداد، درجه یا د ټاکلو شیانوډېرى(سټ) دي. داسې په نامه توانګڼونه هم شته( یو، دوه) یا هم ځوموالیز ( لومړی، دویم).

Interjektionenانترجکشنونه(وپین ویونه یا د وییونو ویونه) دا وپینوییونه یا افاده ویونه دئ یا ټیک(فقط) ویل کیږي. دوي په رېښتینې د غونډالې سره یوغږیزوالي کې نه راځي، خو دا یوچا ته غږ کول یا جګ غږونه دي، چې د هغو سره ته ټاکلي احساسونې ویلی شي( کله آ، هی هی ، بوی).

ویي جوړونه او وییپوهېدنه

ویي جوړونې په ویي سپماکي همداسې چټک مخ ته ځي لکه ویي له منځه تلنې. که د لرلو ژبنیزو الو په بنسټ ویونه منځ ته راځي، نو دې ته ویي جوړونه وایي. د ویي جوړونې غوره یې یوځای اېښول شوي ویونه( ګډوله ویونه) او رابېلېدنې دي.

غونډالشننه:

د دې لپاره چې سمه غونډالشننه وکړو، ته باید لومړی په یوګونو غونډالغړو باندې یو لید واچوې یا وپېژنې

### د ِغونډالغړو ټاکنه

غونډالې له غونډالغړو څخه جوړې دي. ته دلته زده کوي، چې ته څنګه غونډالغړي ټاکلی شې او ځومره غونډالغړي شتون لري یا شته دئ.

غونډلغړي څه شی دئ؟

لکه څنګه چې ته په ډاډ پوهېږې، غونډالې په خوښه نه دي جوړې شوې.دوي له غونډالغړو، په دې پوهېدنه چې له وییونو یا اړوند وییونډلې څخه جوړ دي. غونډالغړي د یوې غونډالې په دننه کې یواځې یا فقط د پوره برخې په څېر غونډالې ته ور اچول کیږي یا لرې یا د بل ځای نیوي کېدی شي. سړی غونډالغړي په ورڅخه نه تېرېدونکو او پوره کېدونکو غونډالغړو سره توپیروي.

د غونډالغړو او وییډولونو په منځ کې څه توپیر دئ؟

دا غوره ده، چې ته غونډالوییونه د وییډولونو سره ردبدل نه کړې، که څه هم دوي کله ورته اوربدلیکږي، د بېلګې په توګه ادورب( وییډول) او ادوربال( غونډالغړي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویډولونه د غونډالي توکي دي، له دې سره هر یو ویي تنظیم یا ترتیب کیږي. کړنوییونه،نومونه یا خویوییونه د وییونډولونو بېلګې دي.

غونډالغړي یې په څټ یا مخامخ د غونډالي غړي دي. غونډالغړي بیا له بېلابېلو وییونو، وییډولونو یا وییډلو جوړ دي.

سپین چټک له ښوونځي څخه وروسته خپل د کورکار وسرته رسوی، چې د خپل ګران ځمري لپاره ډېر وخت ولري.

سپین: کړونی یا نوم. دا په پښتو نوم دی خو کړونی یا نه کړونی کېدی شي

و سرته رسوي: پرېدیکات(Prädikat غونډلوینا، چې یو شی یا څوک څه کوي او یا له هغه سره څه پېښیږي.

له ښوونځي څخه وروسته: تمپورال ادورب

چټک: مودال ادوربال Modaladverbial

خپل د کور کار: خاوندوالي اړیکټینګوونی یه –حالت(؟)

چې دخپل ګران ځمري لپاره ډېر وخت ولري: Kausalobjekt

ګران : Attribut

کوم غونډالغړي شته دی یاشتون لري؟

ترې نه تېرېدونکو غونډالغړو پورې نوم او پرېدیکات اړه ( که غواړی تعلق) لري.

یوه پوره غونډاله لږ تر لږه دا دوه غونډالغړي لري. ټول نور غونډالغړی لکه adverbiale ادوربال ټاکنې یا شیان پوره کېدونکي غونډالغړي دي او نه هرومرو اړین.

ټاکل یا شیان پوره کونکي غونډالغړي دي او نه په زور اړیېن.

<u>**Das Subjekt**سبجکت یا نومویونه یا شیان: دا په الماني کښې د نومیناتیو اړیکټینګونو کښې راځې، پښتو یې نه لري، خو د پښتو اړوند یا انډول یې کړنوییونه دی</u>

<u>او پوښتنې یې،، څوک ، چا، څه؟،، ته ځواب ورکوي؟ کړنویي یا نومویي په یوه غونداله کې ښایي، څوک یا څه یو څه کوي. په هره پوره غونډاله کې باید یو کړنوی خوندي وي. کړنویی د بېلګې په توګه کولی شي، یو نوم، یو ځانیز نوم، یو نومځاینیوی یا یو نومیزکونکی وي.</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم: ځوان ببدیري.

ځانیز نوم: سپین ببدیري.

نومځاینیوي: هغه بېده دی.

نومیز کونه: خرار زوروي.

له پوښتنې ،، څوک، چا،څه؟ سره کړی شې په یوه غونډاله کې کړنویي وټاکې. دلته یو څو بېلګې:

پرون په تلوېزیون کې ښه فیلم و ښوولشو. پوښتنه: پرون په تلوېزیون کې څوک یا څه وښوولشو؟ کړنویي یا سبجکت: ښه فیلم.

هوګۍ په جګ غږ خاندي. پوښتنه: څوک یا څه (شی) په جګ غږ خاندي؟کړنویي: هوګۍ.

دا چې ته پرون دلته وې، زه خوښ شوم یا وماته یې خوښي راوبخښله.

پوښتنه: چا یا څه زه خوښ کړم؟ کړونی( نومویونه): دا چې ته پرون دلته وې. .......
یادونه: په پورته کښې ،، زه،، کړنوی دی، خو سبجکت نه دی، ځکه پښتو سبجکت نه لري.د الماني یا لاتین سبجکت پر ځای باندې یا ځا ی اړوند کړنوی راځي، خکه چې په پښتو کښې سبجکت نه شته(بل خای کښې روښانه شوې.

یادونه: که وګورو، نو په پښتو کې دا نوموی یا سبجکت ( دا ابجکت دی) د پرېکړوني لپاره هم راځي، خو د وخت سره اړوند یې د کړوني حالت سره نومځاینیوي بدلیږي.

بېلګه: څوک ووهل شو او چا وواهه. تېر وخت. او نور.

Transitivität ( له لاتین *trānsitiō* ) ترانزیتیواو اینترانزیتیو

ترانزیتیویتي( له لاتین څخه: اخوا تلل یا پورېوتل، اوښتل)

پیل یادونه اړیینه: دې ته مې دا اوس په ۲۰۲۵ ز. ک.فکر شو، چې ترانزیتیو په پښتو کښې کړونوییونه دي، چې له کړونې سره پرېکړونی هم لري او اینترانزیتیو یواځې کړونی لري. د سبجکت پرځای باندې کړونی او د ابجکت پر ځای باندې پرې کړونی لري. دا دې په ور پسې لیکنو کښې هم همداسې بدل شي. ما بدل نه کړل، په بخښنه.

ترانزیتیویتي( له لاتین څخه: اخوا تلل یا پورېوتل، اوښتل. زه ګوره اوړېدل نه لیکم، چې هغه لوربدلون ته وایې، دا په دې پوهېدنه چې له یوې لور بلې ته اوړي. لور بدلوي) یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبلاریز خوي دی، چې و یوه کړنوي یا په تولیزه توګه یوه جوړښت یا یوه غونډلې ته لیکل کېدی شي. ترانزیتیو مخ ته لرو، که په غونډله کې هم سبجکت او هم یو( سیده) ابجکت یا موخه اله و مخ ته ولرو یا همداسې له یوه کړنوي وغوښتل شي.

intransitiv اینترازیتیو هغه جوړښتونه همداسې کړنویونه بلل کیږي، چې سیده شی نه لري. که دوه شیان مخ ته ولرو، نو دا جوړښت همداسې کړنوی ditransitiv دیترانزیتیو( دي دوه ته وایي) بلل کیږي.

بیا:ترانزیتیو او اېنترانزیتویا کړنیز – اوکېدنیز کړنوییونه او یا لازمي او متعدي: که رېښتیا ووایم، نو په لازمي او متعدي باندې نه پوهېږم او په دې هم نه پوهېږم، چې کوم یې لازمي او کوم متعدي دی او دا څه پوهېدنه لري، خو داالماني یې ګورم، نو دا یو یې کړل کیږي او دابل یې کېدلکیږي( داپه دې پوهېدنه چې نه کړلکیږي)، نو ایا دابه کړلکېدونکي(کړلکېدونی) او کېدونکي(کېدونی) نه وي؟

او که غواړی خوزند او ناخوزند. موږ د دې پر ځای باندې کړنوییونه چې یواځې کړونی لري او کړنوییونه، چې له کړوني سره پرېکړونی هم لري.
بیا یې پېژند: هغه کړنوویونه ترانزیتیو دي، چې د کړوني په څنګ کې پرېکړونی هم لري ( دوه ارګومنتونه). اینترانزیتیو یې په مخامخ یو کړونی بسیا کوي، داپه دې پوهېدنه، چې دایوه کړوني ته اړنه دی( یو ارګومنت) چې یوه غونډاله ترانزیتیو یا اېنترانزیتیو دی،

کېدی شي له پوهېدني څخه یې وپېژنو. او د کړنوي له جوړښت څخه هم پرې پوهېدی شو، چې کوم یو ویي ترانزیتیو یا اېنترنزیتیو دي.

د دې لپاره بېلګې:

سپوږمۍ ډوډۍ پخوي(ت یا پرېکړونی هم لري)، ډوډۍ پخیږي(اېنت پرېکړونی نه لري)

سپین کتاب لولي( ت ) . کتاب لوستل کیږي(اینت).

د ترانزیتیو پښتو پوهېدنه: اخوا تلل یا پورېوتل ( لکه له یوې پولې).

د موږ ژبپوهان ورته لېرنده کړنه لیکلی، خو دا پر پښتو باندې هغه کړنوییونه، چې پرېکړونی هم ري.

پوهنیزه پرېکړه: د دې لپاره موخور بلل: کړنیز کړنوی او کېدنیز کړنوی یا کړونی کړنوی او کېدونی کړنوی. د دې لپاره اړتیا نه شته، چې موږ دې د ترانزتیو او اینترانزتیو لاتین ویي پوهېدنه ولیکو. دا د ما د وړاندیز نومونه هغه څه سیده په ګوته کوي یا ښایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار او ځوی یا ځوي او پلار ترانزیتیو دي او ورور او بل ورور دا اینترانزتیو دي. له یو و بل ته سیده تلل او له یو و بل ته ناسیده تلل دي. په ژبلار کې د ترانزیتیویتي د روښانونې په هکله نه هم اندیزوالی له بېلابېلو درسي اندونو له لارې هم منځ ته راځي. دلته د ښوونځي ژبلار اود تولیزې ژبنیز ژبلار ي سره مخامخ لیدلور.

اړینه یادونه: مورږ د ترانزیتی او انترانزیتیو لپاره په پښتو کښې د دې پر خای باندې هغه کړنوی، چې کړونی لري او هغه کړنویی، چې کړونی او پر کړونی لری

**ترانزیتیویتي د ښوونځي په ژبلار کې:**

په ورځني ښوونځي ژبلار کې به ترانزیتیویتي د یوه ویي پر خوي باندې، چې د څنګه والی یا حالت خاوندوالي واکوالی ولري، پېژندل شوي یا یې پېژند ورکړ شوی. د دې له مخې څخه یو کړنوی ترانزتیو دی( چې ،،موخه ور،، کړنوی هم بلل کیږي)، که د هغه یو مللوبغاړی څنګه والی یا حالت خاوندوالی ولري.

د ښوونځي په ژبلار کې توپیروننخښه په پاسیووالي( نه کړنوالي) کې ده. یو کړنوی د دې له مخې ترانزیتیو دی، که د پاسیو و مخ ته تګ په لور کارول کېدی شي، چې له هغې سره (خاوندوالي - ) ابجکت یا شی سبجکت کیږي.

بېلګه: هغه پیسې لیږي – دا پیسې د هغه لخوا ولېږل شوي

په ژبپوهنه کې ترانزیتیویتي

په تولیزه ژبپوهنه کې د دې ( د ښوونځي ژبپوهنې له مخې)په څټ لږ روښانه شوی. په دې ترڅ کې چې د ښوونځي ژبلارې له مخې خاوندوالي د ترانزیتیو ټاکنو پېژندنخښو په څېر په چوپړ کې دی، نو په ژبنیز لیدلور کې د خاوندوالي و منځ ته راتګ د یوه جوړښت ترانزیتیو خوي په څېر راوړل کیږي. په ژبپوهنه کې څنګه والی ، حالت یا کاسوس په سر کې یې پېژند د ترانزیتیویتي له مخې ورکول کیږي. له دې سره د هغو ژبو لپاره هم لار وازه ده، چې خاوندوالي( ؟) ښه یې یا اکوزاتیو( لکه Ergativsprachen ) نه لري او کېدی شي د تراتزیتیویتي پېژند ورکړل شي. لکه پښتو.

دا موضوع ډېره څېړنه دما لپاره هم ستونځمنه ده. ډېر څه لري، خو هغه له وتونژبې څخه یې را استل وموخه ژبې ته لږ څه ډېریږي او پېچلي کیږي هم. بخښنه دې وي. وځوانانوته

لنډ ښوونځي کې خاوندوالی او په تولیزه ژبپوهنه کې بې له خاوندوالي هم پېژند لري.

خو د دې لپاره به بېلګه راوړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپې پولیس وداړه.

پام، سپی داړي.

دا دویمه غونډاله یوه ټولیزه پوهېدنه لري، دویمه یو ځانګړی حالت روښانه کوي.

نورې بېلګې: کوچني غاب مات کړ(ت). غاب ماتیږي یا غاب مات شو(اینت)

مور مړی پخوي(ت)، مړی پخیږي(اینت)

لمرووړانګې د واورو سرې ویلې کوي(ت). د واورو سرې ویلې کیږي(اینت).

کړلکیږي او کېدلکیږي یا کړنیز او کېدنیز.

**سیمانتیک**SEMANTIK

سیمانتیک د ژبې برخه ده، له ،، نخښو،، پوهنې سره سر او کار لري، چې دلته دا نخښه د ویي ، کلیمې او د ژبې د ټولو برخو لپاره ځایناستې ده.

په ژبپوهنه کې داسې په نامه سیمانتیک د پیداښنتي ژبې – دا هغه ژبه چې مورږ یې پېژنو او هغه د ژبې په څېړ راوړو چې څه به په سیماتیک کې و څېړل شي

په سیمانتیک کې د یوه ویي، د یوې نخښونې او یوې غونډلې پر پوهیدلو باندې لومړیتوب لري. که د بېلګې په توکه یو بې موخې یا ناسمپوهېدنې غونډله جوړه شي، کېدی شي د سیمانتیکي څېړنو پر بنسټ باندې د ،، بې موخې،، په بڼه په نخښه شي.

که څوک د یوه شي ژبنیزه پوهېدنه غواړي وڅېړي، هغه تل د سیمانتیک سره بوخت وي.

## سیمانتیک په نوې مېډیا کې:

په دا اوس وخت کې سیمانتیک د برېښنا لټونماشینونو بنه والي کې هم یو غوره رول لوبوي. دا لټونماشینونه د یوه وي یا وییبرخو په مرسته یا لاس په پای کې کره میندي، چې پلټونکی یا لټوونکی یې لټوي او د دې په مرسته له ډېرو خپلوانو کلیمو سره تړل کیږي.

کړنډولونه او بدلونونه یې

یادونه: دلته هم شاید څه تکرار وي، خو کله سړی و تکرار ته هم اړ کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په دې پوهېدنه، چې کړنویونه ټولګيز دي او بايد ټولګيز شي.

دالاندې ټول هغه څه دي، چې که څېړلشوې وي، څو ډېر ښه او که نه، نو دايې بنسټيزه ليکنه او پيل دی، چې نوره بايد روښانه شی او روښانونه دې يې په ګرانو مينه والو لوستونکو او د ريښې خاوندانو باندې وي.

دا پوښتنې هم بايد وڅېړل شي. داسې پيل کوو:

و لاندې ته يادونه: له دې فکر سره مخ شوم او ومې غوښتل له تاسو سره يې ګډ کړم، چې يو له بل سره مو مرسته کړې وي. کېدی شي دا کار تاسو لا د مخه کړی وي. که مهالونه او نومونه يې را څخه سم ونه ليکل شو بخښنه دې وي او تاسو يې سم کړی، چې همدا له اوس څخه مو د مرستې مننه ( سم يې: له مرستې څخه مننه).

زه به دا وييونه داسې وبولم: کړنوييونه

۱ – ناځواکمن کړنوييونه: هغه ويونه، چې خپل بنسټ ساتي او د وختونو سره ښه بدلوي، ناځواکمن کړنوييونه بلل کيږي.

۲ – ځواکمن کړنوييونه: هغه وييونه چې پوره ښه نه ساتي او په يوه لار ښه بدلوي، خو ټوله ښه د ناځواکمن وييونو په څېر نه ساتي، خواکمن کړنوييونه بلل کيږي.

۳ – بې لارې ګړنوييونه: هغه ويونه، چې سوچ بوچ لار نه لري، بېلارې کړنوييونه بلل کيږي.

دا ټول کړنوييونه دې ګران لوستونکي په ټولګيو د وېشلو وروسته سره ټولګيز وليکې.

بېلګې:

بېلګه و ۱ – ته: درېدل:

اوسمهال: زه درېږم، ته درېږې، هغه درېږي او نور

روان اوس مهال: زه درېدلی يم، ته درېدلی وې، هغه درېدلی وو او نور

تېر مهال: زه درېدلی وم او نور

راتلونکی غوښتوني : زه به ودرېږم، ته به و درېږې، هغه به و درېږي او نور

زه درېدم، ته درېدې، هغه درېده او نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګه و ۲ ته: زه ډوډۍ خوړل

اوسمهال: زه ډوډۍ خورم، ته ډوډۍ خورې، هغ ډوډۍ خوري.

روان مهال: خوړل مې. خوړل دې، خوړل يې، خوړل مو

اوس تېر مهال: ډوډۍ مې (- دې، - مو، - يې) و خوړه، و خوړه يا خوړه

تېر مهال: خوړلي مې(دې، مو، يې) وو.

راتلونکی: وبه يې خورم ( معياري يې: زه به يې و خورم) او....

پوښتنې ته په ځواب کې ؟: خوړلې مې (مو، دې، يې) دي(وو).

بېلګه و ۳ ته: تلل:
يادونه: د ټولو کړنوييونو سره، چې کړونی او همداسې کړونی او برېکړونی ور سره نه وي ليکلشوي، ور سره دې و ليکل شي، پرته له دې څخه نېګړي غونډالې دي.

اوس مهال:ځم، ځې، ځو، او نور

اوس مهال: لاړم، لاړو، لاړې، لاړۍ، لاړه، لاړل، لاړه، لاړې(لاړلې)

روان مهال يا څنګه مهال؟؟؟: اوس تېر مهال:تللم، تللو او همداسې نور.

تېر مهال: تللی وم ( وو، وې ... او نور)

راتلونکی مهال: لاړ به شم. ژبلاريز سم نه دی. سم يې: زه به لاړ شم او نور

-؟ تللی به وی. زه به تللی وم.

دا پورته ګوره درې ډوله کړنويونه راغلي. دابايد ښه روښانه شي، چې داويونه څه بلل کيږي او دا ژبلاريز بدلونونه يې هم بايد پوره وڅېړل شي. هغه بنسټ يې دا پورته دی.

په پورته نومځاينيوو کې موږ ځانيز نومځاينيوي نه دي کارولې يا نه کاريږي او که څنګه؟. د دې ډول نومځاينييو لپاره دڅېړنې او بللو بل ځای شته. هغه ورته وګورۍ.

يادونه: دما د پښتو ژبلار د ښوونځې لپاره ليکنه کې کېدی شي دا نور ډولونه راغلي وي،او که نه، نو ورزيات به يې کړم او تاسو يې هم پوره کولی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله ستونځه:په پښتو ژبلار کې له یوې بلې ستونځې سره هم مخامخ شوم او هغه دا چې.
ځني خویویونه داسې انګېرل کیږي چې کړنوییونه دي، چې له تاسو سره یې ګډوم:

موږ خویویونه لرو او پوښتو، چې د دې خویویونو سره یو څه ځنګه ابادوو:

خویوییونه: سپین، رنګه، ښکلی، جګ، خراب، جوړ، ټیټ.

یوه څه ته خوي ورکړه څنګه کیږي؟

که یو څه غواړې ښکلی کړې، نو دا ښکلي کول دي. خویویی + کول

که یو څه غواړې خراب کړې، نو دا خرابول دي. خویوي + -ول

خراب، خرابول او که خراب کول؟ نابلد خو په ژبلار برابر.، سپین، سپینول، که سپینکول، رنګ کول او که رنګول. ښاپسته او ښاپستول او که ښاپسته کوم، خو ښکلي ښکلي کول، چې ښکلی کول ورسره سم نه راخي او که ښه نه برېښي؟ نور دې ګران مینوال سره جوړ کړي.

یو نوم او یا شي ته یو خوي ورکول:

په ځنو خویوییونو پسې ول زیاتیږي. داپه دې پوهېدنه چې خوي وی + ول

او په ځنو پسې بیا کول ورزیاتې، دا په دې پوهېدنه چې: خوي وی + کول

دا ځانګړنې دي او که باید یوې لار ته سره راوړل شي او ایا دې کې هم یوه لار شته او که توکلي همداسې دي.

رنګ کول

رنګول او رنګ کول.

ښکته کول، پورته کول

ټیټول جګول

دا هم فکر ته راځي، چې ګوندې دا به همهغه لار وي، چې په ځنو ځایونو کې دا د کول ،، ک ،، نه لیکل کیږي، خو زه پرېکړه پرې نه شم کولی او مشوره مو غواړم.

له بلې خوا په پورته کې یو توپیر په دې کې شته، چې دا لومړی خویوی په ،،ه،، پایکیږي او دا بل بیا په بېغږیزه توري پای مومي. دا دې نو ګران ژبمینه وال سره و څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خویوییونه په پښتو کې خپله بڼه نه بدلوي، جګېدنلار يې د نورو ژبو په څېر لکه الماني یا درې نه ده، خو بیاهم د جګېدنې توان يې په ډېر، خورا ډېر، زښتډېر سره کېږي.

# دویمه برخه

Case& Kasus اړیکتیګووني
داسې پیل کوو

پسې تړلی Saffix

Suffix پسې تړلی او دنده يې: پوهېدنغزونه یا پوهېدنغزووني

دا چې سفېکس یو افېکس(تړلی) دی، نو د افېکس له پېژند څخه به پیل وکړو.

Affix تړلی: افیکسونه یا د وییونو سره تړلي ( زه د تړي پر ځای باندې د تړلي پلوی یم، ځکه تاړي یا تړي راته سم ژبنیز جوړښتونه نه برېښي) د وییونو ژبنیز مورفولوژیکي ناخپلواکه برخې په ګوته کوي (یو ( په یو بنسټ پورې) تړلی مورفېم)، چې هغه پخپله له نورو ژبنیزو توکو د ورزیاتولو سره ځان نه شي پوره کولی، بلکه په څټ د نورو شته وییونو یا وییونبرخو غزولوسره مرسته کوي. دا د بنسټويي په څېر نه دی.

هغه وییونه چې افېکسونه ور سره تړلکیږي، بنسټوییونه بلل کیږي او د دې دنده د بنسټوییونو د دندې غزونه ده، نو له دې امله پوهېدنغزووني ورته ویلی شو یا وایو.

سفیکسونه یا د وییونو پسې تړلي، د وییونو ژبنیز مورفولوژیکي ناخپلواکه برخې په ګوته کوي (یو تړلی مورفېم)، چې هغه پخپله د نورو توکو د ورزیاتولو سره ځان نه شي پوره کولی، بلکه په څټ د نورو شته وییونو یا وییونبرخو غزولوسره مرسته کوي. دا د موږ په ادبیاتو کښې روستاړي(؟؟) بولي، خو له پېژند څخه داسې برېښي، چې پسې تړلي يې موخه سمه په ګوته کوي. تاړی د موږ ژبپوهان د تړلي د لنډیز لپاره کاروي، چې ژبلاریزه نه ده) دا د بنسټويي په څېر نه دی. هغه وییونه چې سفېکسونه ور پسې تړلکیږي، بنسټوییونه بلل کیږي او دا پسې تړلي، پوهېدنغزووني دي.

Suffix پسېتړلی یوه سیلبې( په پښتو کښې یو یا څو سېلبې؟) یا مورفېمونه چې په یوه ويي پسې تړل کیږي، له دې امله پسېتړلي بلل کیږي. لکه: -تیا، -والی، -توب لکه لویوالی، زړورتیا، کوچنیتوب، ګورو، چې دا پوهېدنغزونی يې موخه-وره نومونه هم ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په الماني ژبه کې سفېکس ته سيلبې هم وايي، خو دا په پښتو کښې داسې نه ده، ځکه چې په پښتو کې موږ ،، - والی،، لرو او دا دوه سيلبې دی او يا لکه پښتونولي. د الماني پر څېر باندې بيا سېلبې نه شي پوره کولی، لکه په ځم کښې –م .

کېدی شي يو سفېکس يا پوهېدنغزوونی د بنسټويي په پای کې نه وي، ځکه، چې يو بنسټ ويي پسې څو سفېکسونه يو په بل پسې راتللی شي. لکه ښکلتياوې. دلته ګوره ،،-تيا،، او ،، -وې،، سفېکسونه يا پسې تړلي يا پوهېدنغزووني دي يا زړه-ورتيا.

د مورفېم پېژند: مورفېم د يوې ژبې خورا کوچنی پوهېدنوړونکی يووالی دی. د بېلابېلو مورفېمونو ګډوله کولو له لارې څخه وييونه جوړيږي.

Suffix او سيلبې په بيلابيلو ګرامري هوارو يا سطحو کې پراته دي. سفېکسونه مورفولوژيکي يووالي دي او سيلبې غږيز جوړښتيووالي دي. مورفولوژيکي او غږيز وييونو توپيرکونه دې يو په بل هرو مرو بايد سر ونه خوري يا دې هرو مرو يو په بل نه وي پراته. د رابېليدنپسېتړلو لپاره داسې لار ده، چې د بنسټ وي او پسېتړلي په منځ کې د سيلبو بېلونه نه مني او يا په پښتو کې يې ځنې دوه سيلبې هم دي. لکه –والی. خپلوالی خپل – والی. پام به ورته کوو، چې له دې څخه لا ښه بېلګه پيدا شي.

يادونه: په اېنفورماتيک او شمېرپوهنه کې دا بل ډول کارول کيږي يا بل ډول ور څخه پوهېدل کيږي، چې هغه دلته نه څېړو.

Präfix پرېفېکس يا د مخ له لورې څخه پوهېدنغزوونی( مختاړي؟) لنډ: يوه مخسېلبې ده، چې خپله پوهېدنه نه لري، خو د بنسټويونو- چې دا د مخه ور سره تړلې وي- پوهېدنه غزوي. مختړلي په پښتو کې نه شته .

پسېتړلي لکه: -توب، -تيا، - والی. دا يو هم خلواکه پوهېدنه نه لري، خو د پسېتړلو بنسټوييونو پوهېدنې غزوي او همداسې –م،- ې، -و په ځم، ځې، ځو کښې.

يادونه: په ګډوله نومونو کې يې کوم يو مختړلي او پسېتړلي نه دي. لکه درملتون، پوهنتون بېلتون او نوړ. دا هم له مورفېمونو څخه جوړ دي، خو له دوه څخه نومونو جوړ نوم دی.

د پسېتړلو دندې:

نوميز کوونکي پسېتړلي: خوښېدل، خوښېدنه، زړور، زړورتيا، کوچنی، کوچنيتوب.

خوييز کېدونکی پسېتړلی، ښه يې پوهېدنغزووني: لکه سړيتوب، کوچنيوالی نرښځينه ټاکونکی پوهېدنغزووني: لکه سړيتوب،غمخور، غمخوره يا ښوونکی، ښوونکې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېدنغزووني کړی شي له يوه توري هم جوړ وي لکه پورته په ښوونکي او ښوونکې کښې. لويوالی، هوښيارتيا، کړونکی يا کړېدونکی.

کوچني کونه: مورکي ، خورکي ، کورګړی يا کورګوټی.

يادونه: که راوړل وګورو، نو کېدی شي واندو يا مو اند ته راشي، چې ګونډې دا ،، را،، به پرېفېکس وي، خو داسې نه ده. ،، را،، اينکليتيکي نومځاينيوی دی، چې له پېژند سره سم د کړنويي سره سرېښ او دا کړنويی لوريز کوي، چې دا لوريز کړنوييونه بولو.

يادونه: په يو څه پوهېدل او يو څه سم بلل يا ليکل، د دې توپير بايد وشي.

موږ ډېر يا لږ د ورسره بلدتيا له امله تل په ،، له ما څخه،، کې دا څخه نه ليکو او ويل کيږي، چې دا ،، څخه،، دلته حذف کيږي، خو دا نا سم دی. د ،، له ما،، يوازې دنومځاينيوي ،، ما،، چې په کړوني اړيکتيېنګوونکي کې د ،، له،، سره و نه کړوني اړيکتيېنګوونکي ته راځي.

موږ د ژبلار له بلدې لار څخه پوهېږو، چې له ،، څخه،، سره ،، له ،، راځي او په ځت که ولرو، چې ،، له،، ، نو پوهېږو، چې ،، څخه ،، د پسېځاينيوي پر ځېر باندې پسې راځي، نو که دا ونه ليکل شي هم سم به وي، خو دا سې نه ده. وربانډې پوهېږو، خو ناسم دی. پرته له ،، څخه،، سره، کره پسې هم ور سره د پسېځاينيوو په ځېر راځي، نو د ،، څخه،، نه ليکل يا حزف(حذف) ځکه هم ناسم دی، چې ،، له ما لاړ،، نو داسې به و اندو، چې له ما څخه لاړ، خو دلته هر يو له پورته اړيکويي ،،سره، کره، پسې او څخه،، څخه راتللی شي. ګورو، چې ،، له ما لاړ،، کښې هغه اړيکوی نه شته، چې دا بيا اړيکتيېنګوونکی نه شی کېدلی. له پسېټړلو يا ښه يې پوهېدنغزوونو سره د موږ د ليکوالانو ستونځې:

که پوهېدنغزووني له پورته پېژند څخه را اخلو، نو د کومو ستونځو سره نه مخ کيږو. په ښوونځي کې ګوره مختړلی نه شته، دا ګډوله نوم دی. په وړتيا کې دا ،، - تيا،، پسېټړلی دی. دا مې ګوره ،،تيا،، نه او ،،–تيا،، مې ليکلی، ځکه چې ،، تيا ،، يوازې نه راځي يا نه ليکلکيږي او تړننخښنه (-) بايد ورسره و ليکل شي.

پسې ځاينيوي يا ړيکوی؟) نسبتي ويونه) يا (و... ته ويونه) يا

## پسې ځاينيوي، خو ښه يې اړيکويونه

يادونه : دا دې دلته بيا هم په ګوته شي، چې په پښتو کې پرېپوزېشنونه نه شته او هغه څه چې ما هم – لکه د موږ ژبمينه والو - له دې څخه د مخه کله ، کله داسې يا مختړلي بللي دي، خو هغه ناسم دييا معياري نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ويونه، چې نور ويونه يو له بل سره اړيکوکې راولي اويو ټاکلی( ځايز، وختيز اوداسې نور، بې له بدلون څخه) نسبت يا اړوندوالی ورکوي، نسبتويي د بيلګې په توګه په، باندې، سره، لپاره،،څخه، ته. بلل کيږي

**پسبځاينيوي يا اړيکوييونه.**

پيژند: د ځای، مهال، نومونو او شيانو په منځ کې د اړيکو څرنګوالي باندې خبرې کوي، نو له دې امله اړيکويونه هم ورته ويلی شو

پوستپوزېشن د غوښتنې اړيکتينګوونوسره سم يا د پوهېدنې سره سم ټولګيزاو ډلييزکيږي

پوښتنې ته په ځواب کې،، وچيرته؟،، ( ( يو) شی وچيرته اېښودل شوی؟ يو شی وچيرته په خوزښت کې دی؟ )

کړنوييونه چې ځای اړوندوالی په نخښه کوي:

(پرېوتلliegen (= tolie

(درېدل stehen (= to stand

(کښيناستلsitzen (= tosit

(ځوړندېدل يا ځوړندول hängen (= to hang

چوخول(stecken (= to stick

(اېښول legen (sich) (= to lay

(ځايپه ځای کول stellen (sich) (= to place

(کښيناستل setzen (sich) (= to sit

_(زوړندول hängen (= to hang

(ننباسل،چوخول stecken (= to stick

بيا لنډ:

پسېځاينيوي يا اړيکوييونه  کيدی شي د خپلې کارونې له مخې سره توپيرولري يا بيل شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای اړوند ا/ پوښتنويونه: و چیر ته ، له کومې لور څخه، له کوم ځاي څخه

ته و چیرته اوسیږې؟ په خوست کې.

ښاغلی سپین و چیرته ځي؟ و ډاکتر ته

وخت اړونده پر یا ا: کله،پر څو بجو باندې، تر کله پورې، له کله( له کوم وخت- یا له څه وخت) څخه،

دیوکال پایلوبه کله ده؟ په راتلونکې یوه نی کښې او که پر... باندې.

فیلم پر څو بجو باندې پیلیږي؟ پر اته بجو اوپنځلس دقیقو باندې

له کوم وخت څخه الماني زده کوې؟ یا له کله څخه الماني زده کوې؟ له څلورومیاشتو څخه را په دې خوا.

موډال پ ......../ پوښتنې: څنګه، ولې، د څه لپاره.

ته پرون ولې له موږسره را نه غلې؟ د خرابې هوا له- امله ( ستونځې شته. دا له امله یو ویی دی دا هم لکه لپاره. الماني د څه لپاره زده کوې؟ د مسلکودې( کریرې ) لپاره

کله خراب بیدیږي؟ له پوره سپوږمۍ سره

کړنویینه له پوستپوزېشني پوره کېدنې سره

له یوه څه سره میل لرل: سپین له څه سره میل لري؟ ټیک له موټرو سره.

پر څه باندې خندل: پر څه باندې خاندې؟ - د هغه پر ټوکه باندې.

له څه څخه ژوند کول:زده کړی له څه څخه ژوند کوي؟ د خپلې مور- پلار له پیسو څخه. یادونه:

**و کازوس یا اړیکنټینګوونو ته لږ څه د مخه.**

د مخه یادونه:څنګه والي یا و اړیکټینګوونو ته څه اړتیا لرو؟

د اړیکټینګوونو په مرسته پوهېږو، چې نوم/شینوم په غونډله کې کوم رول غوره کوي یا نیسي او په کوم ،، نسبت،، (اړوندوالي یا په اړیکو کې ) د غونډالي د نورو وییونو سره ځای نیسي یا کارول کیږي. بې له اړیکټینګګونو څخه به ډېرې غونډالې نه پوهېدونې یا هکپکونکې برېښېدې یا برېښیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د یوه پوهنتوني پوهنیزه لیکنه نه ده، د ښوونځي ساده لیکنه ده.

د دې لیکنې په لیکنو کې څه راسره مرسته وکړه؟

۱ – پښتو ژبلار دوه اړیکتینګووني لري.

۲ – د یو چا په لیکنه کې مې ولوستل، چې ،، د ،، د خاوندوالي مورفېم دی.

۳ – مورفېمونه څه دنده لري؟

۴ – پښتو د الماني ژبې مخامخ د نومځاینیوو بدلون نه لري.

۵ – پښتو یوه اېرګاتیو ژبه ده. او

۶ – په یو ځای کې دپښتو په ژبلار کښې، په ګومان مې، چې د الماني ژبې لپاره یا د الماني ژبو لپاره لیکل شوې وه، چې ،، و ما ته،، داتیو اړیکتینګوونی دی. همدا یوه غونډله او بس.

داهغه مرسته کوونکې او هڅه کوونکي څه وو، خو هغه خورا ډېره یا بنسټیزه مرسته د الماني ژبې وه او ده. دې ته همدلته ګوته نیول شوې وې وي، چې الماني د نومیناتیو او اکوزاتیو د ژبو د ژبو له ډلې او پښتو نومیناتیو او اکوزاتیو ژبه نه ده. دا اوسنۍ لیکنې مې دا وروستنۍ لیکنې هم دي، چې دا وده د پرلپسې نویو څه کتل او له پورته یادو موضوعاتو څخه مرسته لاس ته راوړل وو.

دا چې د پښتو لپاره څوک د یوې بلې ژبې له کارولو څخه ګټه اخلي، په دې پوهېدنه نه ده، چې ګوندې د هغې بلې ژبې څه رانیسي. موږ د نورو ژبو دپېژندونو څخه ګټه اخلو او په پښتو کې انډول څه میندو یا مومو، چې دایې غوره ګټه اخستل دي.

## حالتونه، څنګه والی یا اړیکتېنګوونکي Case & Ksus

یادونه۱ :دا د ما توليي ګرامري لیکني، هغه د ښوونځي ساده لیکني او د هغو روښانه-وني او نه له دې څخه لوړې یا د لوړو څېړنو لیکنې دي، چې زه به هم دا ولیکلی شم.

په نورو ژبو یا الماني ژبه کې، دا په ښوونځیو کښي لوستل کیږي او زده کیږي، چې هلته یې د ښوونې لارې هم داسې ساده دي، خو په پښتو کې سره له دې هم لږ پېچلتیا لري.



یادونه: د پښتو اړیکتینګوونو په اړه وما ته تر اوسه پورې د پښتو ژبې کتابونو کښي څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومخ ته نه دي راغلي، نو اجازه به وي، چې دا داسې د ژبلارې په دې هکله ليکنې، د ما موندنې وبولم، که مخامخوالی يا بل ډولوالی يې و ما ته چا پوهنيز روښانه نه شو کړی.

پيل يادونه ۱: د اړيکتينګونو غوره والی: د موږ ډېرې ستونځې او د ناسم ليکلو ستونځې د اړيکتينګونو په نه پېژندلو کې دي. تر هغې پورې، چې دا اړيکتينګووني ژبې او همداسې و ښوونځيو ته نه وي ننوتلي، دا ستونځې مو نه اوبی کيږي. دا تراوسه پورې نه وو ميندل شوي يا سم نه وو روښانه شوي او اوس مې ډېرې ليکنې ورباندې کړې.

پيل يادونه ۲ : په پښتو کښې د اوس وخت لپاره د يوګڼ لپاره دوه نومځاينيوي زه، ما، ته، تا او هغه، هغهء او د ډېرګڼ لپاره يو يو نومځاينيوي - موږ، تاسو، هغوي- لرو.

يادونه: ليکلي مې وو يو ګنو او ډېرګنو، خو يوګڼ او ډېرګڼ سم دي.

دا د پښتو بل ځانګړنوالی دی، چې د هريوه لپاره بېلابېل کړنډولونه شته دی.

دا دوه يا له هغو و لاس ته راغلي څلور اړيکتينګووني به تل له موږ سره مل وي، نو ښه پام او څېړنه يې همدومره اړيينه ده: دا نور نه څېړم، په ډېرو ليکنو کې څېړل شوي.

## حالت، څنګه-والی يا اړيکتېنګوونکي څه شی دی؟

غوره پيليادونه: دا د حالت نوم راته مناسب نه برېښي او په ځای يې څنګه والی او يا نور هم ښه اړيکتېنګونکي، چې دا يې دنده هم ده، ښه برېښي، خو که ژبلايز يا ګرامري څنګه والی يې وبولو، نو دا به هم بد نه وي. زه به له اړيکتينګووني سره پاتې شم، ناسم نه دی.____

څنګه والی يا اړيکتينګوونی د نوم او نومځاينوو ګرامري يا ژبلاريزه واکوالی يا دنده ده، د نور وييونو سره. په پښتو کې دوه اړيکتينګووني لرو. دې ته به هم همدلته ګوته ونيسم، چې دا موږ په پښتو کې په دوه ډوله روښانه کولی شو.

**<u>پښتو ژبه دوه څنګه-والي يا اړيکتېنګووني لري:</u>**

**يوه غوره يادونه:** زه هم تلنوې زده-کړې کوم او دا ځل مې د دې ليکنې په نمونو کښې هم و بدلون راستل ته اړيين شوی يم. پلهېسې بله ليکنه کښې د کړونو او نه کړونو پر ځای باندې خوزنده ا نه خوزنده ليکلي او و ما ته موخور برېښي. تاسو يې ولولۍ او فکر ورباندې وکړي.

يادونه: دا دې په ياد ولرو، چې دا موضوع د کتاب په دننه کې غزولې روښانه شوې ده. دا دې هم په ياد وي چې، ما په دې اخر کښې د دې شننه بل ډول او معياري کړې ده.



لومړی: کړونی اړيکتينګوونکی، څنګه-والی يا حالت( لاتين يې Rektusرېکتوس): دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی شو نومیز (ښه یې: کړونی ما په نوې لیکنه کښې دا خوزند بللي لیکنه به به و تاسو ته ړاندې شي ) اړیکټیکوونی وبولو: په دې اړیکټینګووني کښې یو څوک څه کوي او همداسې یو چا څه وکړل او کړي؟
ګورو چې دا هم په دوه ډوله دی. زه، ما ، ته، تا او نور انډول يې. همداسې موږ، تاسو، هغوي.

بېلګې: ۱ - زه ځم. زه لاړم: د هغو کړنو لپاره چې څه کوي، خو پرېکړونی نه لري. او

۲ – زه مڼه خورم، ما مڼه وخوړه: دلته په یو څه څه کيږي، یا دا کړنه پرېکړونی لري.
خو په ډېرګڼ کښې: موږ منې خورو، موږ ځو. دلته یو موږ، تاسو، هغوي لرو اوبس

یادونه: نوره روښانونه یې هم په بل ځای کښې شته او ما، تا، هغه په پام کښې نیسو.

دویم:Obliqus : په پسې لیکنه کښې مې د نه کړوني حالت هم خوزنده بللي او په اوبلیکوس کښې ځای شوی دی.

نه کړونی حالت یا اوبلیکوس: له نوم څخه یې بربښي، چې دلته څه نه کړلکيږي. له دې به داسې وپوهېږو، چې کړونی نه دی.دا اړیکټینګونکی، څنګه-والی یا حالت په درې ډوله دئ یا درې برخې لري، چې یو یې پرېکړونی او دا نور دوه یې نه کړوني دي:
دویم ۱: پرېکړونی اړیکټینګوونی: په دې اړیکټینګووني کې په یوه څه کيږي، دپرېکړوني په څنګ کښ کړونی هم شته.دلته بیا د یوګڼ لپاره همهغه دوه نومخاینیوي لکه په کړوني اړیکټینګووني کښې، خو د بدلې دندې سره راځي. په دې اړیکټینګووني کښې د زه پر ځای باندې د کړوني ما او په څټ د ما د دندې لپاره زه راځي. دا یې یوه بله ځانګړنه ده._

بېلګه (په ډېر بخښنه، خو د ښه پوهېدلو لپاره به یې بېلګه دا وهل، ډبول راوړم):

لکه: سپین یې ووهه. په دې اړیکټینګوونکي کې یو څوک یا څه له یو چا یا یو څه څخه وهل کې. دلته ګوره سپین پرېکړونی دی ،، یې،، کلیتیکي نومځای نیو ي کړوني لپاره راغلی دی. دلته هم لکه پورته د ډېرګڼ لپاره: دی موږ وهي، ده موږ ووهلو او نور

بېلګې: ته ووهل شوې. دلته ګوره یو څوک یا څه وهل کيږي.کړنوی دلته وهل کېدل دي، د مرستندوي کړنوي سره. ته سپین ووهلې. یا: تا زه ووهلم. دلته،، تا،، کړونی دی او زه پرېکړونی یا نه کړونی دی.

دویم ۲ : د خاوندوالي اړیکټینګوونی: په دې اړیکټینګووني کې یو څه یا څوک د یوڅه خاوند دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



،، د ،، د خاوندوالي مورفیم، خپلواکه پوهېدنه نه لري او له نوم یانومځاینیوو سره هغه د کړونو نومځاینیوو پوهېدنه په نه کړونو بدلوي.

بېلګې: دما کور. د تا خولی. د هغه ځوي او نور او د پسېځاینیوو سره لکه:

د ما لپاره، د ما مخامخ. نور یې ما ونه موندل.

دویم ۳ : دا د الماني و دا تیو اړیکټینګوني ته ورته دی او ما د پسېځاینیوو اړیکټینګوونی بللی، خو نوم ته یې پام باید په ګډه وشي، که همدا داتیو به ښه وي؟:

یادونه: د موږ ستونځې هغه دېرې په همدې اړیکټینګوونو کې دي، چې پرې غږېدلي یو:

بېلګې: ۱ – له کور څخه. زه له کور څخه لاړم.

۲ – له کتاب سره. زه له کتاب سره راغلم یا لاړم.

۳ – له سپین کره. زه له سپین کره یم یا لاړم.

۴ – له تا پسې. زه له تا پسې روان یم یا لاړم.

یادونه: دې اړیکټینګوونو سره مې دا یو کړنویی،، لاړم،، ځکه و لیکي، چې ډېر وخت د موږ لیکوالان په ناسمه توګه دا ،، څخه،، له لیکنو غورځوي او دا ناسم دی. دلته څوک پوهېدلی هم نه شي، چې ولې دې څخه غورځېدلی وي او نه دا بل کوم.

۵ - تر کابل پورې. له کندهار څخه تر کابل پورې نږدې پنځه سوه کیلو متره لار ده. یا

له ننګرهار څخه تر کابل پورې.

دلته دا یادونه اړینه بولم، چې،، تر،، یواځې اویواځې په همداسې ځای کې راتللی شي،چې د وخت یا ځای پوله ټاکي او په نورو ځایونو کې ناسم دی. بیا یې یادونه. پرته له داسې ځایونو، نورو ځآیونو کښې سم ناسم ناسم دی. دا مورفېمونه د خپلو اړونده اړیکوییونه سره راځي.

۶ – په کور کښې. زه نن په کور کښې یم.

۷ – پر مېز باندې. کتاب پر مېز باندې پروت دی.

۸ – پر ما پورې. پر ما پورې ختې نښتي.

یادونه: دا باید اړین په یاد ولرو، چې هر یو مورفېم خپل اړونده اړیوکوییونه لري او په څټ هر یو اړیکوی خپل اړونده مورفېم لري، لکه په پورته بېلګو او نه کم او زیات، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې املې دا تر پرته له ،، پورې ،، ناسم دی، همداس دا تر هم. په الماني د کاسوس دنده ده، چې د نوموييونو گردان يا بڼه بدلون دی، په پښتو کښې دا دنده نه لري او پوهېدنه يې غزيږی د پوهېدنغزووونو له لار څخه کيږي.

## اړيکټينګووني د تکيه اړ- يا کليتيکي نومځاينيو سره:

يادونه: دې نومځاينيوو ته پسي – يا دمخه سلېش نومځاينيوي هم ويل کيږي.

بيا: که د ( ډېرو) ناسمونونو مخه غواړو ونيسو، نو پر اړيکټينګوونوباندې له پوهېدنو څخه پرته بله لار نه لرو.

د کليتيکي يا تکيه اړ نومځاينيوو پرمرسته باندې يا له مخې څخه هم دوه حالتونه لرو:

پروکليتيکي يا پسپتکيه اړ نومځاينيوي: مې، مو، دې، يې

اينکليتيکي – يا مختکيه اړ( و مخ ته تکيه اړ) نومځانيوي: را، در، ور

څنګه-والی يا حالت case ( Kasus) :

د تکيه اړ نومځاينيوو سره هم بايد دا حالتونه لکه په رېکتوس او اوبليکوس کې ببرته ورکړل شي. دلته به وګورو، چې دلته څه ځانګړنې شته. په پای کې.

لومړی: د پسي تکيه اړنومځاينيوو سره

لومړی پسي تکيه اړ نومځاينيوي.

۱ – کړونی: سپين مې ( مو، دې ، يې) وه واهه. سپين پرېکړونی او مې کړونی دی

لومړی۱۲ – د پرېکړوني اړيکټينګووني: سپين مې (مو، دې، يې) وهي.سپين کړونی، خو مې پرېکړونی دی.

په دې دواړو کښې دا کړونی او پرېکړونی د کړنوييونو له لارې څرګنديږي.

لومړی ۲۲ – خاوندوالي حالت:

سپين مې ( مو، دې، يې) ورور دی.

په اوبليکوس حالت کې: سپين د ما ورور دی. او

پسېځاينيوو سره...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښېلګې: ۱ – لپاره، مخامخ، نور دې ګران لوستونکي ومومي. دا پسېځاینیوي له دې څخه نه شي روښانه کېدی یا نه شي راتللی. دا حالتونه دلته داسې لږ ستونځې لري،

دویم: د مخه تکیه اړ نومځاینیو او حالت.

دویم ۱ – کړونی: زه کتاب راوړم، دروړم، ورووړم: دلته دا را وړم سره سلېښ دی.
دلته دا را ، در، ور لوریز نومځاینیوي هم بلل کیږي یا دي. و ما ته دا ښه برېښي، چې دا کړنوییونه، چې دا نومځآینیوي ور سره راځي لوریز کړنوییونه و بولو، فکر غواړي.

دویم ۲ – د پسېځاینیوو اړیکتینګوونی.

یادونه:

دا چې په دې ټولو برخڅنګه-والو کښې د تکیه اړ نومځاینیو پسې یواځې پسېځاینیوي دي، نو ما دا اړیکتینګوونی د پسېځاینیو اړیکتینګوونی هم بللی او که غواړی، نو دا د نورو ژبو و داتیو اړیکتینګوونی ته ورنږدې دی او داتیو اړیکتینګوونی یې هم بللی شو.

د مخه تکیه اړ نومځاینیوي: را، در، ور

دویم ۲ – اړیکتینګوونی داسې لرو:

را(در، ور) څخه(سره، کره، پسې، کې، باندې، پورې، ته...)

که غواړی، چې دا ښه روښانه شي، نو کړی شی د و مخ ته تیرې یا ښایې پسې لیکنې سره یې پرتله کړی. په دې ،،د اړیکتینګووني یا څنګه –والو کتاب،، کې دا ډېر ښه روښانه شوي دي.

هکپککوني: دلته هم شته. دا کړونی په دواړو نومځاینیوو کې راځي، په همهغه ډول لکه په ځانیز نومځاینیوو کې د زه، ما ....

په انکلیتیکي نومځاینیوي کې کړونی اړیکتینګوونی په کړنوکې راځي، چې پرېکړونی نه لري او په څټ د پروکلیتیکي نومځاینیوو کې کړونی آړیکتینګوونی د هغو کړونو سره دی، چې پرېکړونی ولري.

بله ځانګړنتیا په دې کې ده، چې په پروکلیتیکي نومځانیوو پسې د اړونده اړیکتینګوونی پسېځاینیوي نه راځي. پر دې پوهېدنه باندې چې پر ،،مې،، پسې لپاره او لخوا نه راځي.

اړیکتینګوونی د پوښتنو په بنسټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیل یادونه: د لیکني دا برخه د الماني اړیکتېنګوونوپه بنسټ لیکل شوې وه، چې توپیر یې یوائې په نومیز حالت کې دی، چې هغه په پښتو کې کړونی اړیکتېنګوونی دی او نه اکوزاتیو، چې هغه اړیکتېنګوونی پښتو نه لري او د الماني د اکوزاتیو غونډالو ژباړه په پښتو د خاوندوالي اړیکتېنګوونی او یا د پرېکړوني اړیکتېنګوونی په ګوته کوي. اړونده ځای کښې دې غونډلو ته پام وشي. دې ته به هرومرو پام وي، چې دلته به د پښتو سره ستونځي وي، ځکه چې دا اړیکتېنګوونی په پښتو کښې نه شته. ما غوښتل له کتاب څه دا برخه وغورځوم، خو زړه مې نه ورابندې کېده.

په پښتوکښې نه شته: پل:نومیناتیوNominativ **( دا اړیکتېنګوونی پهپښتو کښې نه شته راوړل یې بیا بد نه دي)** (له لاتین څخه، نومونی یا نومونیز) په ګرامر کې د یوه اړیکتېنګووني نومونه ده، چې د هرڅه له مخه ( سمه لیکنه یې: له هرڅه څخه دمخه ) په جمله کې د شي د نخښونې په چوپړکې دی، د دې لپاره دا هم تیپیکي دی چې د یوه شي د خپلواک کاروني لپاره رامنځ ته کیږي ( دا په دې مانا چې بې د بل له واکه). پای.

لنډ: دا اړیکتېنګوونی دی، چې د ،،څوک-، چا – او څه اړیکتېنګوونی،، بلل کیږي.

موږ د کړنوییونو له مخې څخه، چې یو یې کړونی لري او دا بل کړونی او پرېکړونی دواړه لري له دوه ډوله لیکنو سره مخامخ یو:_

لومړی:

سپین یا هغه و کار ته ځي

سپین یا هغه و کار ته لاړ

سپین یا هغه به و کار ته لاړ شي

سپین یا هغه و کار ته تللی وو

څوک و کار ته.......

سپین یا هغه

زه و کار ته ځم

زه و کار ته لاړم

زه به و کار ته لاړ شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه و کار ته تللی وم.

دویم ډول یې:

زه منه خورم

زه به منه وخورم

ما منه وخوړه

ما منه خوړلې وه.

دا همداسې د دویم کس لپاره ته او تاسې راځې او د ریم کس له پاره هم هغه او هغه راځي( په دې دریم کس کې لیکنه یو ډول ده، خو د ویلو څخه برېښي، چې لومړۍ ه څرګنده یا روښانه ده او په دویم کې بیا دا پڅه ه ده او که بل ډول یې بولۍ.

یعنې په دریواړو کسانو کې یې توپیر یو ډول دئ، چې د کړنې پرته یې په څو کړنو

کې نومځاینیوی هم بدلیږي، نو له دې امله دا د څه - ، چا- او څه اړیکتېنګوونی دې.

مور و کار ته ځي.

څوک و کار ته ځي؟ ځواب: مور

کالیمینځی خرابیږي.

څه شی خرابیږي؟ ځواب:کالیمینځی

جینیتیو DerGenitiv د خاوندوالي اړیکتېنګوونی

جینیتیو د المانې ګرامردویم اړیکتېنګوونی دئ.

یادونه: دا اړیکتېنګوونی په پښتو کښې نه شته او دا چې پر ځای باندې څه راځي، د لیکنې پهاوړدو کښې کتل کېدی شي.

دا به موږ په پښتو کې هم داسې روښانه کړو، چې د خبرو باید وي:

لومړی: دا اړیکتېنګوونی د ملکیت یا د ،،دچا،،،، د څه،، په نامه هم یادیږي.

یادونه: په کړنې اړیکتېنګووني کښې ،، چا-،، وو او دلته ،، د چا-،، حالت دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلګې: ،،د ګاونډې کور،،.

دا د چا کور دي. دا د ګاوندې

،، د یوه لرې زنګ غږ،،.

دا لاندې غونډله د داتیو اړیکتینګوونی دی. د ،، پر،، مورفېم له نوموېونو څخه د مخه د داتیو اړیکتینګووني پوهېدنبدلون لپاره راخي.

هغه پر غلا باندې تورن دی.

هغه پر څه (شي) باندې تورن دي ؟ ځواب: پر غلا باندې.

DerDativداتیو

داتیو د پښتو ژبې دویم ۳ اړیکتینګوونکی دی یا په جمله کې دریم حالت په ګوته کوي. داتیو د ،، و چاته اړیکتنیګوونی ،، هم بلل کیږي._

د داتیولپاره پوښتنه کیږي، چې و چا ته؟

بیلګې: زه و دې میرمن ته د یادښت کتابچه ورکوم. زه و چا ته د یادښت کتابچه ورکوم؟ ځواب: و دې میرمن ته.

هوګی سوغات و سپین ته ورکړ.

هوګی سوغات وچا ته ورکړ؟ځواب: و سپین ته

زه زما ( دما) و ملګري ته یوکتاب سوغات ورکوم.

و چا ته سوغات ورکوم؟ځواب: زما و ملګري ته.

## اکوزاتیو *Akkusativ*

**غوره یادونه: اکوزاتیو اړیکتیګوونی په پښتو کښې نه شته، نو هغه غونډلې، چې دلته مو د اکوزاتیو لپاره راوړي یا د مخه راوړې وې، هغو ته دې پام وشي، چې دا به د خاوندوالي او که د کړوني یا پریکړوني حالتونه وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه: د دې حالت اړونده حالت لیکنې په نورو حالتونو کښې بربښي.

**.                    ژبپوهنه۳                    ۹۰.**

دلته د دې د روښانتیا لپاره. چې د خاوندوالي یا پرېکړوني   حالت دی. په ورځنې پښتو ژبلار کښې دا د دویم الف او دویم ب حالتونو سره ترتیبیږي. د دې د روښانتیا له پاره په پښتو کې پوښتنه کیږي، چې ،،څه (شی)،، یا څوک او که ،،د چا،، نو دا له دې امله د څوک اړیکتینګوونکی هم بلل کیږي.

ښاغلی سپین خپل ورور ګوري

ښاغلی سپین د چا لیدنه کوي یا څوک ګوري؟ ځواب: خپل ورور

دا پورته غونډاله د موږ په پښتو ژبه کې داسې ورځنۍ نه ده، نو دا څنګه ده؟ سمه او که ناسمه.

زه و خپل ملګري ته یوکتاب ډالۍ یا سوغات ورکوم.
دا په ایرګاتیو لیکنه کښې روښانه شوی دی. وروسته راځي.

.

یادونه: هیله ده هغه د مخه مو هم له دې سره پلتله باندې کړئ او بیا یې همهغه راونیسئ.

# د اړیکتینګونو نوی څېړن-پوهنه

بیا ژبلاریزه نوې څېړن-اند یا څېړنپوهنه:

یادونه: دا موضوع مې باید د د مخه د اړیکتینګوو پر ځای بانې لیکلې ه، خو نور د زیاتو کړنو توان نه لرم.

پښتود ژبلار له مخې څخه هم یوه هکپکګونکې ژبلاریزه او نه (پوره) څېړل شوې ژبه ده

نن د ۲۰۲۲ زکـ دسپتمبر ۲۶ د سهار یاشپې ۴ بجې. فکر مې ټول د پښتو په ژبلار کې دی او په ژبلار کې دې څېړن اند ( د څېړنې په بنسټ اند ) ته ورسېدم، چې:

پښتو یوه ډېره  ښه روښانه ژبلار لري.دا چې ژبلار په ژبو کې د ژبې د جوړښت شته لارې څېړي، نو زه تل له یوه اند څخه وبل ته ځم او د نوې څېړنپوهې سره مخامخ کېږم، چې هغه له تاسو درنو لوستونکو سره ګډوم.

پر پښتو باندې چې زه تراوسه پورې له پښتنو څخه لیکل شوي ژبلار سره داسې لږ بلدنیا لرم او د پښتو ژبلار د ترتیب لپاره مې زیات  د ژبلار لپاره الماني ادبیات کارولی او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه، چې د دباندنيو له خوا ليکل شوی، نو هرو مرو د زيات فکر وړ دي، ځکه چې د ټولو



ژبو ژبلارې ډېر توپير سره لري، چې يو له بل څخه ګټه اخستلکېدی شي، خو ورته والی به ونه لري يا ډېر کم.

زه چې د ما په څېړنو کې تر اوسه پورې وپوهېدم، هغه دا ده، چې موږ په اړيکنيونو يا ښه يې اړيکتيينګوونو کې ډېرې ستونځې لرو، چې په هکله يې له دې امله ما هم ډېرې ليکنې کړي او دا هم تل د تېرو ليکنو په بشپړېدو. او دا اوس هم د ۲۰۲۵ زک ۱۷ د اپريل هم بيا په دې کښې سمون ور زيات شو.
اوس خپلې دې راته پيدا موخې اند ته، چې کړی شو د پښتو ژبلار د دوه حالتونو کړونی او نه کړوني په ځای په څلورو حالتونو ووېشو او يا په دوه حالتونو داسې چې دا نه کړونی حالت بيا درې برخې ولري. دا به نو ګران لوستونکي او هيله ده ژبپوهان په ګډه سره برابر کړی شو.

## د پښتو اړيکتيينګووني، بې له ډېرې شنني څخه:

لومړی – کړونی : نومويونه (نومونه او نومځاينيوي): زه، ما، ته ، تا، هغه، هغه او نور، چې د نورو راوړلو ته بيا اړتيا هم نه وي. (۱)

بېلګې: يادونه: دا مې اوس بيا د نوو ميندنو په بنسټ بدله کړې،چې په مناسب ځای به يې ولرئ.

لومړی ۱ - زه مړی خورم. ما مړی وخوړه.

لومړی ۲ – ته مړئ خورې. تا مړی وخوړه.

لومړی ۳ – هغه مړئ خوري. هغه(هغې) مړی و خوړه. او داسې نور هم....
لومړی۱۱ – ۱۳-زه، ته، هغه ځم، ځې، ځي، لاړم، لاړئ، لاړل.

دويم: پرېکړونی: هغه نومونه يا نومځاينيوي دي، چې څه پرې کيږي،

لکه: ما، زه، تا، ته، هغه، هغه او نور. دلته هم همدا بسيا کوي.

يادونه: د کړوني او پرېکړوني په منځکي دا توپير دی، چې کله، چې کړونی په زه پيل شي، نو پرېکړونی يې ما دی او په څټ، چې کړونی ما وي، نو پرېکړونی زه دی.

بېلګې: دويم ۱ - ته (ما، هغه) وهې. تا (زه، هغه) ووهلم.

دويم ۱الف - هغه (ما، تا) وهي. هغه (هغې) زه ووهلم ( ته ووهلې).

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګومان مې دی، دابه بسیا وکړي.



یادونه: په نورو اړیکتېنګوونو کې د زه، ته، هغه.....

دریم یا دویم ۲: د خاوندوالي حالت: د خاوندوالي لپاره د نوموېونو(نومونو، نومځاینیوو) سره د خانوندوالي مورفیم ،، د ،، د مخه یا و مخ ته راځي.

بېلګه: دما( دتا، د هغه) کتاب.

څلورم یا دویم ۳: د پسېځاینیوو اړیکتېنګوونکی:

بېلګې:

څلورم دویم۳ ۱ – له ما ( څخه، سره، کره...)

څلورم دویم۳ ۲ – پرما باندې

څلورم یادویم ۳ ۳ – په ما کې_

څلورم یا دویم ۳ ۴- و ما ته.

څلورم یا دیوم ۳ ۵ – تر ما پورې. او نور.....

په څلورم کې څخه، سره،.. کې،باندې، پورې، ته ... اړیکوییونه دي او، له، تر، په، پر، و د اړیکوییونو اړونده مورفېمونه دي، یواځې او یواځې همداسې راځي او بل ډولی نه راځي

ګورو، چې دلته د نوموېونو د مخه د بېلا بېلو اړیکوییونو اړونده مورفیمونه راځي، نو له دې امله دا اړیکتېنوونکي بللی شو.

بیا: په څلورم کښې: څخه، سره،.. کې،باندې، پورې، ته ... اړیکوییونه دي او، له، تر، په، پر، و ...د اړیکوییونو اړونده مورفېمونه دي.

څنګه کړی شو دا وښایو؟

د تکیه اړ نومځاینیوو په بنسټ

۱ - پسي تکیه اړ: مې، مو، دې، یې: دا پسې تکیه اړ نومځاینیوي د یوه نوموي پسې راځي

۲ - د مخه تکیه اړ: را، در، ور : دا د مخه تکیه اړ نومځاینیوي په دویم ۳ اړیکتېنګووني کښې د یوه اړیکوي او یواځې د اړیکوي د مخه راځي، نو له دې امله د اړیکوییونو اړیکتېنګوونی یې بولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



و ۱ ته - دا پسي تکيه اړ يا اينکليتيکي نومځاينيوي درې ډوله لرې يا درې اړيکتيينګووني ( ګورو، چې دلته دا اړيکتيينګوونی بل ډول پو هېدنه لري) کې راځي يا جوړوي:

دانومځاينيوي، چې نوموېونو پسې راځی، که د مخه نومځاينيوی يې د پرېکړوني په حالت کې وي، نو پخپله دا پسې نومځاينيوي يې کړونی دی.

بېلګه: کتاب مې واخسته. دلته کتاب پرېکړونی دی او مې کړونی. يا

سپين يې وواهه.

۱ ۲ – سپين يې وهې. دلته سپين کړونی دی او ،، يې( دريم شی)،، پرېکړونی دی.

دا د اوس مهال له هغه کړنوييونو سره راځي، چې کړونی لري او بس._

۱ ۳ – که د دې نومځاينيوي د مخه نوموی د دې نومځاينيوي پسې د يوه خوي يا يو بل ويډول – پرته له کړوني او پرېکړوني - سره سنبال وي، نو دا د خاوندوالي اړيکتيينګوونی دی. کتاب مې سره پوښونه لري.

و ۲ ته –

۲ ۱ – دا نومځاينيوي که د کړنوي د مخه راشي، نو دا لوريز کړنويونه دي، چې و موږ ته د دې اوس موخې له امله دا همدومره بسيا کوی. لکه: منه راوړم، منه دروړم او نور

۲ ۲ – که دا نومځاينيوي د اړيکوييونو د مخه راشي، نو دا له دې امله د اړيکوييونو اړيکتيينګونی دی او لرو: (را، در، ور) ( څخه، سره، پسې،پورې، باندې، کې، ته...).

ګورو دا دلته يواځې له اړيکوييونو څخه د مخه راځي.

که غواړئ داسې هم کېدی شي، چې ووايو:

پښتو دوه اړيکتيينګووني رېکتوس او اوبليکو يا کړونی او نه کړوني لري، چې دا لومړی يې کړونی او پسې درې به يې نه کړوني اړيکتيينګووني وبولو. دنورې روښانتيا لپاره پوره ليکنې په کتاب کې شته.

له دې سره مو هغه اړين څه وښوول، خو اوس به اندونه، ګوتنيوني، سمونونه او وړانديزونه سره ګډ کړو.

ما د دې ليکنې سره - داسې اندم- چې د ټولو له ما څخه د اړيکتيينګونو په هکله ليکنو ته پايتکی (د پای ټکی) کښېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو ټول دې راته بريالي وی. دا مې په ۱۷.۴.۲۰۲۵ بیا وغزاوه او نوی کړ.

## د پښتو اړیکتیینګونو د ستونځوبیو بریا

څنګه و دې لاس ته راوړنې ته بریالی شوم؟

ډېر خوښ یم او باوروکړی، چې ورته پام مې شو، چې دا کار خو د لومړي ځل لپاره د ما مونډنه ده او د ډېرو کلونو د څېړنو لاس ته راوړنه ده، چې غونډه شپه مې خوب کډه وکړه. د ما ډېر څه، چې څه مې کړي یا څه باید وکړم، د شپې په چرت یا د شپې په فکر

ګړنجولو- مه راپورې خاندی، دا تکیه کلام لکه چې کارول کیږي- کې را پیدا کیږي. خو اجازه راکړي، چې له هر څه څخه  د مخه یوه اړینه یادونه وکړم.

اړینه یادونه: باور وکړی، چې ځانپالی نه یم او بل د لیونتوب یا د زورواکوال  ګومان مې هم په ځان نه راځي. دا باید روښانه کړم، چې تر څو پورې دا د ما په پوهنه ولاړ ماته راپیدا اند چا په  پوهنیزو دلایلو نه وي رد کړی، تر هغې پورې باید سم وګڼل شي او که داسې وي، نو بیا موږ ټولو ته د دې بریا مبارکي وایم. د ما په دې دعوه  کې دوه موخې دي، چې د موږ ژبپوهان او نور ژبمینه-وال و دې ته راوپارېږي، د نورو پوهنیزه څېړنو په بنسټ یې رد کړي، چې دا به هم د ما دِوښتنو ردول، خو بیا به هم دا هڅول د ما بریا وي.

د ما په څېړنو کې مې تل دې ته فکر شته، چې  په پښتو کې اړیکتیینګووني کم یا هېڅ نه دي څېړل شوي او که زه ورڅخه نا خبر یم، هغه به هم رامیدان ته شي، چې زه به ورته خوښ او د دې بریا په څرګندولو به هم هېڅ زړه بدی نه شم.

دا فکر راته ودرېد، چې په همدې هکله مې د خپلو څېړنو یو کتاب برابراوه.

دې بریا ته مې نو څنګه لار ومینده؟

-د اړیکتیینګونو په څېړنو مې پیل وکړ، چې د ما په لومړنیو د پښتو ژبلار کتابونو کې- د حالت د نامه لاندې- هم شته.

لومړی مې دا اړیکتیینګوونی د الماني کاسوس په بنسټ وڅېړل، خو په پښتو کونه کې یې کوم ناسمون نه دی راغلی، خو دې څېړلو موخه وره او و پایلاس ته راوړنه یې نه لروده. بیا مې ځنو ملګرو او ژبمینه والو دې ته پام راواړاوه، چې  پښتو دوه حالتونه رېکتوس(ولاړ یا کړوني اړیکتیینګوونی) او اوبلیکوس ( پروت یا نه کړونی حالت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړیکتېینګووني لري. هغه مې وڅېړل او په هکله مې د یوه ځوان د م ک ملګري لیکنه یا و ما ته په کمنت ولیکل، چې ،، د ،، د خاوندوالي مورفېم دی. یوه شوم، چې ،، د ،، پرته له نوموییونو کومه خپلواکه پوهېدنه نه لري او همدلته مې ورته پام شو، چې ،، د ،، د خاوندوالي حالت یو مورفېم وي خپلواکه پوهېدنه نه لري او پوهېدنه لېګدوي یا وړی، نو دا له، په، پر، او.... هم باید د کوم اړیکتېینګوونی مورفېمونه وي او پرته له نوموییونو څخه به خپلواکه پوهېدنه ونه لري. ګومان مې سم وو، خو پرې باوري کېدل یې راته ستونځمن وو، تر څو پورې چې د نور حالتونو په دې پوهېدنه چې لومړی د اینکلیتیکي اړیکتېینګوونی ( پسې تکیه اړ حالت)._

سره مخ شوم. دې هم پوره روښانتیا ځکه نه شوه راوستلی چې دې پسې او د مخه تکیه اړ نومځاینیوي هم ورسره مل څېړل شوي وو، خو همدلته راته د نومځاینیوو را، در، ور چې پروکلیتیکي یا د مخه تکیه اړ نومځاینیوی دي، پر مرسته باندې دا فکر پیدا شو چې دا له، په، پر، او نور هم لکه،، د،، د حالتونو مورفېمونه دي او دا د ( را،در، ور)( څخه، سره، کره، ته، پورې، کې او نور) کاروني له امله بیا د وخت په تېرېدو سره دا فکر هم راته پیداشو، چې پښتو نو یواځې پوستپوزېشنونه لري.

کله چې د کلیتیکي ( تکیه اړ) کلمې سره مخامخ شوم، چې په دوه برخو اینکلیتیکي ( پسې تکیه اړ) او پروکلیتیکي ( د مخه تکیه اړ) نومځاینیوي لري، نو دې پای ته راورسېدم.

د دوه حالتونو کړوني او نه کړونو څخه بیا همدې څلورو حالتونو ته راغلم.

له دې څخه د مخه مې دا بریاوې هم لوي څښتن په برخه کړي، چې له، پر، او نور – لکه دباندني او افغاني پښتوپوهان یې وایي- پرېپوزېشنونه نه دي او دا یواځې د اړیکتېینګوونو اړونده مورفېمونه دي، چې پرته له نوموییونو پوهېدنوړنې څخه بله پوهېدنه نه لري او همداسې چې پښتو یواځې پوستپوزېشنونه لري او بس.

دا څه میندني چې دي، له نوم څخه یې پوهېږو، چې په ژبه کې شته څه دي، چې هغې ته مو باید پام شوی وي.

یوه غوره خبره داده، چې د موږ تېرو ژبپوهانو خپلې ژبې ته په دې لنډ وخت کې ډېر کار کړی، ځکه چې پښتو ژبې ته د کار کړلو وخت ډېر لږ وو. ژبه مو داسې په ۱۹۳۲ ز ک کې داسې په نامه په رسمیت کې دننه شوه او بیا په ۱۹۶۴ ز ک کې - چې هلته د پښتو ټولنه هم جوړه وه - ملي شوه، د ودې کېدا(امکان) ورته پیدا شوه نو دا د یوې ژبې د ودې لپاره ډېر لږ وخت دی، چې د دوي کار زه بیا بیا ستایم.

پرتله کونه: له دې څخه د مخه چې په دې موضوع پیل کوم، د اړتیا له مخې غواړم دا لاندې ستاسو و مخ ته کېږدم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دموړزیات یا نږدې ټول لیکونکي اولیکوالان ژبپوهان د شیانو یوله بل سره پرتله کونه او په همدې ډول یې د پرتله کونې خویوی جګېدنه په ،، تر ،، کوي. موږ ،،تر،، پوره څېړلی، چې څه شی او څنګه کارول کیږي.
لومړی: د موږلیکونکي په دې اند دي، چې پرتله کونه د ،، تر،، سره کیږي.یعنې سپین تر شین(هغې هغه،هغوي،تا،تاسو،ما، موږ) (ډېر- ،خورا – ) ښکلی دی.

دویم: په پیداښتي ډول یې، چې د موږ هیوادوال په بیلابیلوځایونوکې کاروي:
هغه د ،، له ... څخه ،، سره پرتله کیږي.
پوښتنه : له دوي، تاسو...او ... څخه کوم ښکلی دئ؟
سپین له شین (هغې، هغه،هغوي،تا،تاسو،ما، موږ) څخه ښکلی (ډېر- ،خورا – ) دئ.
دریم: سپین (را، ور، در) څخه ښکلی ( ډېر – ، خورا – ) دئ.
په پورته لیکنه کې دا د ،، ور څخه،، په ځای ځنې لیکوالان کله کله ،، تر یا نوره ،، لیکي یعنې:
که پوښتنه وشي، چې له سپین اوشین څخه کوم ښکلی دئ اوسپین ور څخه ښکلی وي، نووایو: سپین تر شین ښکلی دئ. دلته ،، تر څخه،، نه وایو.
تر د هغه مهال، ځای اویوه څه د پوله په نخښه کونې سره یعنې ،،تر...پورې،، سره توپیر لري.
ګورو چې دا پورته ،،تر چې دلته د او یا ،،ترې،، پوهېدنه لري د یا ،،ورڅخه،، په ځای راغلی.
موخه: پرتله ونه د هغه ،، تر،، سره چې موخه ورڅخه د ...پای وي، نه کیږي، دا په دې پوهېدنه چې په لاندې کې ،، تر،،
سپین تر(ما،هغه، تاسو او...) ښکلی ( ډېر -،خورا -) ښکلی دی، ناسم دئ.

یادونه: یعنې دا ،،تر،، هغه اړیکوی نه دئ، دا له یوڅه یا چا یا شي څخه ښکلی دئ، چې زیات کسان یې لیکي:: ترې ښکلی..... چې دا ترې هغه د ،، ورڅخه ،، په موخه یا مانا دئ.

لنډ بیا
پرتله کونه یا نسبت:

موږ په پښتوکښې و نسبت ته څه وایو؟

( څه ووایو سم نه دئ، ځکه دا موږنه وایو، دا څه ورته ویلکیږي، دئ. له دې امله: څه وایو،دئ).

یادونه: د موږ ځنې ادیبان لیکي، چې: پرتلنه دا ناسمه ده، ځکه چې دا پر تله کول دي، له دې امله پر تله کونه او نه پر تلل. چې بیا به پرتلنه وی. آوس: پر تله باندې کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرتله باندې کونه: پرتله کونه په څېړه کې داسې دي: سپین و تور ته ستر دی. دا پرتله باندې
کونه د ،، ته ،، له پسېځاینیوي کیږي
دلته هم شیان سره پرتله کیږي
دا چې نسبت پښتو نه دی، نوکارونه یې کیدی شي له عربي څخه بل ډول وي، خومونږ یې

هغه پښتو ډول سره کولی شو، ځکه پر عربي باندې خو مونږ ډېر نه پوهیږو.
په ګڼونو کې لویوالی، کوچنیوالی اوبرابروالی سره پرتله کیږي.
۲ نسبت و۴ (ته) کوچني (دی)
په کسانو یا شیانوکې، لویوالی، ښکلا، پلنوالی، ...
کسان یا شیان:
الف نسبت وب (ته) ښکلی ( جګ،پلن،...) دی.
تناسب: په ګڼونو کې:
د دوه ګڼونو پرتله کونه که دا سې وي، لکه د نورودوه ګڼونو،نو وایو:
۲ نسبت و۴ته متناسب دي لکه۳ نسبت و ۶ ته
یا یې انډول ۲ پر څلور باندې برابردي له ۳ پر۶باندې سره. یا دا لاندې

دوه و ۴ ته داسې دی یا برابر دي لکه ۳ و۶ته

نسبت به نو په پښتوڅه وي؟
په ګڼونوکې پرتله کونه:
۲ و ۵ ته کوچني دي

کسانو یا شیانو کې
سپین وشین ته ښکلی(جګ،....) دی
د ننګرهار انګور د کابل و انګورو ته ځواږه (تروه، ستر....) دي
نوګورو، چې د عربي ،،نسبت،، د پښتو ،، و..ته،، سره انډول دی.

تناسب به نوپه پښتو څه وي؟
۲ و۴ته داسې دي لکه ۳ و۶ته
یعنې ۲ په څلورو برابردي د ۳ پر ۶ سره.
سپین وشین ته داسې، ډومره یا برابرجګ( ښکلی،....) دی لکه برګ وخړته.
په پورته کې نوتناسب د برابر په مانا دی

یا داسې هم وایو چې:
سپین وشین ته په جګوالي کې داسې ځان نیسي، لکه برګ وخړ ته.
ګوروچې دلته تناسب ته د پښتو انډول،،ځان نیونه،، کیدی شي.

که شمیرپوهنې ته پام وکړو،نومتناسب دبرابرپه پوهېدنه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف وبه ته داسې، دومره یا برابر جګ دئ، لکه پ و ت ته ـ

یا

الف و ب ته برابر جګ دئ لکه پ و ت ته.

تناسب داسې هم لیکو.

a/b = c/d

پخوا موداسې هم لیکه:

a:b::c:d

ګومان مې دئ انګرېزي کې یې اوس هم داسې لیکي.

لاس ته راوړنه: ګورو، چې پرتله کونه د ،،تر ،، سره نه کیږي.

بیا: سپین وشین ته ښکلی دي یا

سپین له شین څخه ښکلی دئ.

ناسم: سپین تر شین ښکلی دي.

خو سمې پرتله کونې له پاره لیکو، چې : سپین و شین ته ښکلی دی یا سپین له شین څخه ښکلی دئ.

نو د ،،تر،، سره پرتله کونه نه شي کیدی.

Adjektiv mit Postposition

خویوییونه د پسېځاینیوو سره:

و څه ته چمتوپاتې کیدل: ته و څه ته تر اوسه پورې چمتو نه یې. یا: ته د څه لپاره تر اوسه پورې چمتو نه یې؟

د واده لپاره.

ته وڅه ته چمتو نه یې ؟

و واده ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر څه باندې قهرېدل: پر چا باندې هيڅ وخت نه شې قهرېدلی؟ د ما پر بچيانو باندې.

و څه ته چمتوکيدل: هغه و څه ته توانمند نه دئ؟ و کارکولو ته.

Nomengefüge

و نظم ته راوړل يا سمول: دا بيرته و نظم ته راوله! يا سم کړه!دا بيرته ونظم ته راوړه!

ارام پريږده: هيله ده، چې ما ارام پريږده.

و پای ته لاړ شه: هرڅه يو وخت و پای ته ځي.

يو پوستپوزېشن يا اړيکويی هيڅ وخت يواځې نه وي. تر لړو ځانګړنو پورې دا ( يعنې پ) د يوه نسبتي وی پسې راځي.

هم د ليکلووې، خو له يوبخوا څخه يې زه په هغه ګرامري پوهېدنه نه پوهيدم، نولومړی مې بايد ځان وربانده پوه کړی وی،بيا مې هر ګرامري نوم بايد د پيژند سره څيړلی وی، چې دا ليکنه بيا نوره هم غزېدله.

دا دې په ياد وي، چې داهم يوه اوږده موضوع ده،چې ګران ژبپوهان پرې پوهيږي؟

Postpositionenپسځاينيوي يا اړيکوييونه ( دا پسې ورسره ځکه نه ليکم، چې موږ مخځاينيوي نه لرو).

يادونه: په الماني ژبه کې پرېپوزېشنونه شته يا ډېر دي، خو پښتو پرېپوزېشنونه نه لري، د پښتو ژبه يواځې پوستپوزېشنونه لري او د الماني پرېپوزېشنونه که په پښتو اړول يې راوړل شي، نو ټول يې پوستپوزېشنونه دي.

د نوم/شينوم يا له يو څه څخه لرې کېدنه:

بېلګه: د سين له غاړې څخه اخوا هغه کوچنی وچه (ټاپو) ليدلی شوه. له جلال اباد څخه لرې.
-- له نومځاينيوي سره:_

بېلګه: ځمری نن له ما کره شپه کوي. ځمری نن له ماسره دئ

-- له خوينوم او نوم/شينوم څخه د مخه:

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګه: هغه د پستو، سرو شګو له منځ څخه و اوبو ته وځغلېد.

له ادورب سره:

بېلګه: هغه د شا له خوا څخه غونډوسکه تر منځګردئ پورې غورځوي.

اړيکويونه په نخښه کوي:

يو ځای ( دباندې، لاندې)

يو وخت( څخه، ترڅ يا منځ )

يو ډول او رقم( ټيک آو ټيک...).

-يو لامل( سره ( سره له دې )، امله)

د اړيکټينګوونو و روښانونو ته د مخه غوره پيليادوني:

له تکرار سره مه تنګيږي!

۱ – نومځاينيوي: په انګريزي او الملاني د نومځانيوو بڼه بدليږي او د بڼه بدلېدنې سره يو حالت په ګوته کوي، په پښتو کې د نومځاينيوو بڼه بدلېدنه نه شته، خو د دې پرځای باندې د کړوني نومځاينيوي سره يا حالت بدلون سره د ،،ما،، ومخ ته يو اړونده مورفيم ورزياتيږي، چې هغه د ،، ما ،، سره يوه د هغه اړيکټينګوني نومځاينيوی ،، د ما ،، جوړوي يا د هغه پوهېدنه بدلون يا د هغې پوهېدنه د حالت اړوند بدلوي يا له حالت سره برابروي. پسې راځي. ښايي اړتيا ورته نه وي وروسته راغلي.

که نومونه يو له بل سره يو ګډوله نوم جوړ کړي، نو دا يو يې مختړی او دا بل يې پسې – ياو وروستړی دی، خو دا سې څه په مختړي کې نه ګورم، لکه وروستړو کې، چې خپلواکه پوهېدنه نه لري، خو د ورسره راغلي خوی يا نوم يا له بل کوم ويي سره د هغه پوهېدنه بدلوي.

هغه ډېرې له پښتو سر د موږ ستونځې او که د پښتو ستونځې په حالتونو يا اړيکټينګوونو کې دي. پر حالتونو باندې مو خبرې کړي يا به دلته له دې څخه وروسته په وغږېږو. اوس يوازې داستونځې، چې ولې دي، دا لږ روښانه کوو

په نورو ژبو يا چې زه پرې پوهېږم، الماني او انګريزي کې د کړنوييونو، خوييوييونو او د نومځاينيو بڼه بدليږي. په پښتو کې پرته له کړنوييونو( دا ناسم دی، د کړنوييونو بڼه هم نه بدليږي، دا پوهېدنغزيږي) د دې نورو دوه وو دنومويونو او خوييوييونو بڼه نه بدليږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید پیداښتي داسې یو بل ژبنیز یا ژبلاریز څه وي، چې ځان د هغه حالت سره برابر کړي، چې ستونځې همدا پیدا کوي.

۲ – د کړنوییونو بڼه نه بدلیږي. لکه زه ځم، زه لاړم. دلته کړنوییونه پوهېدنغزیږي.

۳ – خویوییونه: لرو جګ، تور. دلته هم د نورو ژبو په څېر، چې بڼه بدلیږي، خو د دې جګېدنه وي، چې هغه پر ډېر، ډېر ښه، خورا، خورا ښه او زښت ډېر باندې کیږي.

۴ – د نومځاینیو لپاره هم باید ژبنیزې لارې وي، چې د هغو په مرسته نومویيونه له حالت یا اړیکتېنګوونو سره برابر شي.

په انګرېزي او الماني کښې د حالتونو اړوند، چې هغه یې حالتټاکونکي دي، د نومځاینیوو بدلېدنه یا بڼه بدلېدنه او که غواړئ ګردان یې داسې دی:

I, me; my und deutsch: Ich, mein, mir, mich

و دې ته به د اړیکتېنګونو په څېړنو کې فکر وکړو، چې دا نوموییونو بڼه بدلون یا په پښتو کښې یې هغه انډول هم په اړیکتېنګونو کښې څنګه راځي.

د مورفیمونو پېژنداو ونډه یې د نومځاینیو پوهېدنه، چې و نومځاینیوو ته حالت یا اړیکتېنګوني اړونده پوهېدنه ورکوي:

دا مورفېمونه دي، چې خپلواکه پوهېدنه نه لري او د نوموییونو سره یوځای د هغوي پوهېدنه د حالت سره اړوند بدلوي. د خاوندوالي لپاره دا مورفېم ،،د،، دی او د داتیو یا د پسېځاینیو حالت دی، چې هغوي سره مورفېمونه، چې دا هم خپلواکه پوهېدنه نه لرې او دې حالت سره د نومځاینیوو دنده جوړوي او دا دي:

له، په، پر، تر، دما و فکر ته نور نه راځي، ګران لوستونکي دې ورته فکر وکړي.

هغه ژبنیز توکي یا وییونه چې د حالتونو لپاره خوراغوره یا بنسټیز دي، هغه پسېځاینیوي یا اړیکوییونه دي.

## پسېځاینیوي Postpositionیا اړیکویونه

پیلیادونه: له دې ځای څخه د موږ لپاره یا د پښتو ژبې لپاره هغه غوره برخه له دې امله پیلیږي، چې ما تراوسه پورې داسې د دې اړیکویونو یا داسې ښې لیکنې د خپرونو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارې هم ونه ليدې. دا چې دا د ځای، مهال، نومونو او شيانو په منځ کې د اړيکو ځرنګوالي باندې خبرې کوي، نو له دې امله اړيکويونه هم.

يادونه: باوروکړی، چې دا ټول کارما د ،، تر ،، په خپلو پولوکې د رابندولو له امله وکه، چې يواځې او يواځې د مهال،ځای او ...پاي په ګوته کولولپاره راځي اونوريې هر ځای کې راوړل ناسم دي اود ژبې د ټولولاروسره مخامخ.

## پسېځاينيوي يا اړيکوييونه:

د ښوونځي په ژبلاريزو ادبياتو کې اړيکويونه يا پسې وييونه هم بلل کيږي، يو وييډول دی، چې يو رابند ټولګی جوړوي او د منځپانګ ويي او په ګرامري نښونو کې ځاينيوی شوی. اړيکوييونه په قانونمندۍ کې د يوه نومورييونو ګروپ يا ډله غواړي او له دې سره يو حالت لړيکتېنګونی ليدوړ په نخښه کوي. دا چې پر نومويينو پسې ځای نيوی راځي، له همدې امله اړيکويونه هم بلل کيږي اودا يوه ډله ده، چې ځاييز، وختيز، څنګه والي، راټولونکی، سره له دې، اړيينواليپوهېدني لېږدوي يا وړي او په پښتو او نور ژبو کې بڼه بدلېدونکي نه دي.

د دې لپاره چې دا غوره موضوع بريالی و مخ ته بوزو، اړيينه بولم دا د يوه لښتکي له لارڅخه روښانه کړم:

| ۱ –نومورييونه | ۲ -اړيکتېنګوني د اړوند مورفيم سره نومورييونه | ۳-اينکلی-تيکي نومويون | ۴ –اړيکوييونه يا پسېځاينيوي | ۵ – اړونده غونډلپای او پروت لښتکی | |
|---|---|---|---|---|---|
| زه ، هغه | له ما، له تا، له هغه... | را،در،ور | څخه،سره،کره | ځم، ځي | ۱ |
| سپين | په کور | --=-- | کې | دی | ۲ |
| کتاب | پر مېز | را،در، ور | باندې، پورې | ايښي | ۳ |
| ما | و سپين | را، در، ور | ته | ووېل | ۴ |
| ته | تر کور | را ... | پورې | لاړې | ۵ |

يادونې ۱: له ما څخه هرو مرو کېدی شي ډېر اړيکوييونه پاتې وي، خو هغه ستاسو دنده ده. لار روښانه ده.



يادونه ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ولرو ( ا ، ب ) نو ا ولاړ لښتکی ورکوي او ب پروت لښتکی

(۳ ــ،۱ ) او (۴ ــ، ۱ ) داسې هم ليکلی شو: (را، در، ور) ( څخه، سره، کره،کې باندې، ته، پورې او نور؟)

روښانونه:

د ښه روښانې يا رڼې روښانونې لپاره داسې و مخ ته ځو:

يو: (۳ ــ،۱) او (۴ ــ،۱) داسې د (۵ ــ،۱ ) غونډله جوړوي، چې د (۴ ــ، ۱) له يوه اړيکوييونوڅخه نه شو تېرېدلی (حذف)

دوه: د ۳ ــ په مرسته مو د مخه ليکنو کې ۲ ــ روښانه کړي وو او له دې لارې

درې: له (۴ ــ،۱ ) څخه (۲ ــ،۱ ) تيک يا سيده لاس ته راځي. په دې پوهېدنه، چې که په (۴ ــ،۱ ) کې هر پسېځاينيوي ولرو، سملاسې ورڅخه همهغه د اړوند مورفېم سره يوځای په ( ۲ ــ،۱ ) کې نوموييونه راکوي._

--- که دا د اړيکتينګوونې اړونده مورفېمونه او دا اړونده نوموويونه يوځای اړيکتينګون اړونده نوموييونه وبولو، خو ګومان مې دی، کومه تېروتنه يا ناسمون به ځان پسې ونه لري.

څلور: همداسې که له دوه کوم د اړونده مورفېم سره اړونده نوموی ولرو، نو سملاسې پوهېږو، چې

د ۴ ــ کوم پسېځاينيوي يې اړوند دی.

--که ولرو( ۴ -، ۳) نو دلته ور څخه ،،باندې،، او هداسې ،، پورې،، پوهېږو.

نو که پسېځاينيوی (۴ -،۵) ولرو اړونده نوموی د اړونده مورفيم سره ( ۲ - ،۵ ).

که ولر ( ۲ -، ۳ )، نو سملاس ورڅخه (۴ - ، ۳ ) پوهېږو.

او همداسې نور

که د يوه ژبنې ويی يا توکې يا مورفېم هغه د کارونځای او پر هغه باندې پوهېدنه چې درته روښانه شي، بيا له هغو څخه په غونډلجوړونه کې ناسمون نه راځي، دا دموږ ستونځې په دې حالتونو کې سره اوبی کيږي.



# اړيکوييونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ – د خاوندوالي اړیکتینګووني لپاره دا دي: لپاره ، مخامخ. ( د مخه ؟؟) و ما ته نور دما وفکر ته نه راځي، خو که په دې حالت کې له ،، د ما،، پسې نوم یا نومځاینییوي را شي، نو بیا پسېځاینیوي نه شته.

۲ – د داتیو یا د اړیکوییونو اړیکتینګوونی لپاره: څخه، سره،کره، پسې، ته ، کښې، باندې، پورې، دمخه(؟)....

## لاندې شیان شته دی:

خاوندوالي شي، داتیو شی، خاوندوالي شی، اړیکویز شی.

خاوندوالي شي ( ګرامري دویم څنګه والی یا اړیکتینګوونی)

پوښتنه: د چا؟ د څه؟ او څوک

بېلګه: ژوندیو د مړو دعا وکړه.

ژوندیو د چا دعا وکړه؟ هغوي د مړو دعا وکړه.

یادونه: اړیکتینګووني( پېر یا حالت): موږ اوس په دې توانېدلي یو، چې اړیکتینګووني په پښتو کې ومومو
داتیوشی ( دریم څنګه والی یا پېر) یا د پسیځاینیوو شی

پوښتنه: له چا، له څه؟ ( سره، څخه، کره)، وچا، وڅه؟ ( ته)، په چا، په څه؟ (کښې)، پر چا، پر څه (باندې) .....هیله ده، چې د نورو په میندلو کښې به مرسته وکړی.

یادونه: دلته د خبرو ډېر څه شته او هغه ،، د ما نوې موندنو،، کې ښه روښانه شوي.

قلم وملګري ته ورکوم.

قلم وچا ته ورکوي؟

و ملګري ته.

قلم له ما سره دی.

قلم له چا سره دی؟



له ما سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قلم له سپین څخه اخلم.

قلم له چا څخه اخلې؟

له سپین څخه.ـ

نن له سپین کره وم.

نن له چا کره وم؟

له سپین کره.

یادونه:دې ته په چا، په څه؟ او پرچا او پرڅه ؟ هم ورزیات کړئ او همداسې و چا، وڅه ؟

دلته څه نور هم د ویلو شته، چې دا به بیا ورزیات کړم.

دا لاندې د پښتو په پرې کړوني او د خاوندوالي حالت کې راځي،

پوښتنه: څوک، چا، څه (شی)؟

بېلګه: هغه مې وواهه.

نن د ما ملګری ګورم.

هغه و چا ته دوه موټر ورکوي؟

هغه دا وما ته راکوي.

هغه نن څوک ګوري؟

هغه نن دما مګری ګوري.

نن د ما ملګری ګورم.

**پرېدیکات یا غونډالوینا**Das Prädikat

پرېدیکات وایې، چې دا شی څه کوي یا یې په تېر وخت کې څه وکړه. د پرېدیکات پسې د پوښتنې سره پوښتي: دا شی څه کوي؟.



سړی یوه برخیزه او دوه برخیزه پرېدیکا ت سره توپیروي. په لومړۍ بېلګه کې پرېدیکات بېدیړي دی. سړی پوښتي: هلک څه کوي؟ . په یو دوه برخیز پرېدیکات کې یوه دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخې شوی پرېدیکات مخ ته لرو، که په غونډاله کې له یوه پرېدیکات ډېر وي. په لاندې غونډاله کې دوه برخیز پرېدیکات خوندي دی:

- هلک بېدیږي

- نن غرمه هلک بېده شو.

په دې غونډاله کې پرېدیکات دی: هلک بېده شو. که پرېدیکاتبرخې ویونه رابند کړي یاراغونډ کړي یا په غبرږ کې ونیسي، چې هغه پرېدیکات اړوند نه دي، نو سړی د پرېدیکات غبرږ یا له غونډال نوکانو څخه غږیږي.

د پوښتنې سره ،، دا شی څه کوي؟،، کړی شې ته پرېدیکات وټاکې. ته دلته د پرېدیکات ټاکنو لپاره یو جوړه غونډالې مومې.

- پر شیبو شېبو باندې وریږي. پوښتنه: دا څه کوي؟ پرېدیکات: وریږي.

- ما له ځمکلاندې څخه کتابونه راوړل. پوښتنه: ما څه وکړل؟ پرېدیکات: (...) راوړل.

- دوي پر جګ غږ باندې خاندي. پوښتنه: دوي څه کوي؟ پرېدیکات: (...) خاندي

خاوندولي- ، داتیو شی

شیان پوره کېدونکي غونډالغړي دي او کېدی شي له ډېرو وییونو جوړ وي. په یو هغونډاله کې کېدی شي، ډېر شیان خوندي وي. دا کېدی شي په بېلا بېلو ګرامري یا ژبلاریزه څنګه والي یا حالتونو کې وي او داسې د خاوندوالي شی، داتیو شی یا خاوندوالي شی په څېر وي. ته د شیانو پوښتنه کوي، چې ته د ژبلاریزو حالتونو یا څنګه والو پوښتنه وکړې:

- خاوندوالي شی : د چا؟، د څه؟

- داتیو: له چا ؟، له څه؟ وچا؟، وڅه؟، په چا؟، په څه؟، پرچا؟، پرڅه؟... او داسې نور

دلته هم موږ دټا لپاره یو څو بېلګې چمتو کړي. دا شیان داسې د غونډالغړو په څېر تاکي:

زه د ښکلو کلونو  یاد لرم. پوښتنه : د څه یاد لرم؟ خاوندوالی: د ښکلو کلونو.

- سپین و ځمري ته یوه سپینه پیاله سوغات ورکوي. پوښتنه: څوک یا څه سپین و ځمري ته سوغات ورکوي؟ نومیز شی: یوه سپینه پیاله.



- زه د ما له ملګرو سره مرسته کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: زه له چا سره مرسته کوم؟ داتیو شی: د ما له ملګرو سره.

**اړیکویز شی** Das Postpositionalobjekt

اړیکویز شی یو شی دی، چې د اړیکوي له لارې، یوه مخویي سره تړلی وي. د نورو شیانو بل ډول کړی شي اړیکوی (یا اړیکګر) په خاوندوالي، داتیو څنګه والي کې وي. دا اړیکوییز شی کړی شي د دې پوښتنو سره وټاکل شي.،، د چا، د څه، وچا/ وڅه ....او داسې نور

اړیکوییز شی د اړیکویي له مخې څخه پېژندل کیږي. دبېلګې په توګه په لاندې غونډله کې: زه د ما له ورور سره ولمنځتون ته ځم.

د اړیکویي د شي پسې پوښتنه داسې ده: زه له چا سره ولمنځتون ته ځم؟

د اړیکوي شي لپاره نورې بېلګې:

زه دما و ملګرې ته درېږم. زه وچا ته درېږم؟ د ما و ملګري ته.

هوګی د زړه له کومې د هغې په سیتار لوبې کوي. هوګی پر څه باندې د زړه له کومې لوبې کوي؟ د هغې په سیتار باندې.

Das Postpositionalobjekt

اړیکویز شی یا پسېځاینیوي شی:

دا لاندې غونډالې، چې ما لیکلې وې، تر هغې پورې مې دا پښتو حالتونه نه پېژندل، پام وکړی، چې دا لاندې غونډالې کله د پښتو یوه او کله به بل حالت کښې وي، مننه.

پوښتنه: له چا یا له څه سره؟ د څه په هکله؟ پر څه - یا پرچا باندې؟ په چا- یا په څه کې؟ و چا یا وڅه ته؟ تر چا- یا – تر څه پورې؟ (اړیکوي سره پوښتنه)

بېلګه: ښوونکي له زدکونکو سره د کار په هکله خبرې وکړې.
ښوونکي له چاسره خبرې وکړي؟ ښونکي له زدکونکو سره خبرې وکړې.

پر څه هکله باندې ( له څه شي څخه) ښونکي خبرې وکړې؟_

ښوونکي د کار پر هکله باندې خبرې وکړې.



په څنو څنګه والو کې روښانه توپیر نه دی کړي، چې ایا یو خپلواک غونډالغړی ( اړیکویز شی) یا یو ورزیاتونه ( اړیکویز اتریبوت) مخ ته پروت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګومان په څنګه والي یا حالت کې دواړه شونتیاوې شته.

## Adverbiale **Bestimmungen** ادوربال ټاکنې( د قید(؟)- رابند-)

ادوربال - یا خوییزې ټاکنې هم د غونډالپوره-کونو سره سر او کار لري. هغه د کړنو ټیک څنګه ولي روښانه کوي. لاندې ادوربالټاکنې سره بېلوو:

-- د ځای ادوربالټاکنې ( لوکال) روښانه کوي، چې څه پېښیږي. د دې پوښتنه د ،، و چېرته،، ، ،،وکومځای ته،، یا ،، له کوم ځای څخه؟ سره کیږي.

-- د وخت ادوربال ټاکنې( تمپورال) روښانه کوي، چې کله څه پېښیږي. د دې پوښتنه د ،، کله؟،، ، ،،څومره اود وخت،،؟ یا ،،څومره زیات،،؟

-- د ډول او څېرې ادوربال ټاکنې (مودال) روښانه کوي، چې یو څه څنګه شوي وي. د دې پوښتنه ده، چې څنګه.

-- د لامل ادوربالټاکنې ( کاوزال) وایي، ولې یو څه پېښ شوي دي. له دې پوښتنویونو سره پوښتنه کوي، چې ولې او له څه امله.

سره له دې چې ادوربالټاکنې او اړیکوییز شیان ورته کېدی شي، خو سړی کړی شي د پوښتنویونو په مرسته یو له بل توپیر کړي، لکه ولې یو څه پېښ شوي دي.

د د ادوربالټاکنو د ټاکل لپاره یې بېلګه.

-- ځمری د خرابې هوا له امله ښه خویه نه دئ. پوښتنه : ولې ځمری ښه خویه نه دی؟
کاوزال ادوربال: د خرابې هوا له امله.

--غوټئ او ځمری د اوبو وغاړې ته تللي. پوښتنه: غوټئ او ځمری چېرته تللی؟
لوکال ادوربال. د اوبو وغاړې ته.

-- هغه له (زوړند) ټیټ سر سره کورته راغی. پوښتنه: هِغه څنګه کور ته راغی؟_

له (زوړند) ټیټ سر سره.

-- زه نن په سینما کې یم.



پوښتنه: زه کله په سینما کې وم. تمپورال ادوربال: نن.

**اتریبوت د غونډالغړي برخې په څېر**

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتریبوت خپلواکه غونډالبرخه نه ده. هغه یوې غونډالغړي ته زیاتونه ده او ځانله ځای نه لري. اتریبوت کېدی شي په بېلابېلو بڼو رامنځ ته شي.

Adjektiv-Attribut خوییز اتریبوت: که یو نوم د اتریبوت له لارې نږدې ټاکل کېدی شي، نو دا خوي وی یو اتریبوت دی. لکه د بېلګې په توګه: کوښښي زدکونکی.

Genitiv-Attribut خاوندوالي اتریبوت:دا اتریبوت یو د خاوندوالي او اړوندوالي یو څه ښايي او له دې سره د خاوندوالي په حالت کې دی: د زدکوونکي قلم.

و دې لاندې ته یادونه:

موږ په پښتو کې مخځاینیوی نه لرو، نو دا لاندې غونډالي به د څه وي؟ فکر ورته وکړی.

<u>Postpositionales Attribut اړیکوییز اتریبوت:</u>

دا اتریبوت که اړیکوییز شی له یو اړیکوي سره تړل کیږي لکه د بېلګې په توګه: زدکوونکي له تورو بوټانو سره.

ادوربال اتریبوت: دا ادوربال اتریبوت له یوه ادورب څخه جوړ دي، دا یوه ویی ته زیاتوالی انځوروي، لکه د بېلګې په توګه: دا هلته پوښتنې ډېرې مرستندوي دي.

Appositionاپیوزېشن : یو اپوزېشن و یوه نوم ته یوه ورزیاتونه ده او پخپله هم له یوه نوم څخه انځوریږي یا جوړ دی او د یوې بېلېدننځښي له لارې سره رابندیږي.

بېلګه: مېرمن هوګې، چې د ښوونځي مدیره ده، ډېره سخته ده.

Konjunktiv und indirekte Rede تړنویزې او ناسیده خبرې (وینا؟)

د کړنویونو سره اړوند یوه بله ګرامري کاتیګوري داسې په نامه مودوس دی. دا وی یو_

رېښتینی پېښه، یو امر، مګر یوه غوښتنه هم یا یوه کېدنه یا شونتیا ووایي یا افاده کړي. تړنوی د حالتونو لپاره راځي، چې تراوسه رېښتیني ، مګر کېدونکي دي. له دې امله دا شونتیابڼه هم بلل کیږي. په ناسیده خبرو(وینا) کې هم یا شرطیی غونډالو کې، دا کارونه مومي. خو دلته یو څو توپیرونه شته، له کومه لامله، چې تړنوی ۱ او تړنوی ۲ سره باید توپیر شي.



دا لاندې تکرار برېښي، خو نوي څه لري.

Konjunktiv I **تړنوی**۱ : راتلونکی ۱ په ناسیده خبرو کې پیداکیږي، خو په کره کارونو کې(و چا ته غږ کول، (له چا)غوښتل).

(c) ketabton.com: The Digital Library

-- پلار ویل، چې هغه د دې لپاره وخت نه لري.

-- هغه دې خوښ ژوندی وي!( کره کارونه)

Konjunktiv II ترنوی ۲ : دا ته هلته کاروي، چې ته یو څه غواړې، او هم په ناسیده خبرو کې، په شرطي غونډلو او یا په ځانګړې توګه په درنښت جوړو جوړښتونو کې.

-- هغه به غوښتلو، چې که (کاش چې ) دا څه ګرمه وی.( هیله).

-- کړی شم له تاسو هیله ولرم، چې وما ته یو څه له ځان سره راوړې.( هیله منده یا مؤدبه غوښتنه)

-- که ما د موټربیولو اجازه لرلی، زه به اوس تللی وی( شرطي غونډله).

Adjektiv (Eigenschafts-wort) ادورب ( خویوی یا ستاینپنوم( نه شته))

،، څنګه ویونه،، خوږ، شین، ښکلی، سترږی، کوچنی، چټک، برګ( په غوصه).

Adverb (Umstands-wort)ادورب( څنګه والي وی یا خویویي)

-- لوکال – یا ځاییز- ادورب: (یو)چېرته، ، کېنې، هلته، دلته، و مخته، و هرچېرته یا هرځای، دباندې او نور

-- تمپورال - د وخت ادورب: تل، تراوسه پورې، له هغې، هېڅ (کله)_

-- موډال – د ډول(رقم) ادورب: ښایي، په خواشینی، ټیک،، کم، ډېر، کله کله......

-- کوزال – د لامل ادورب: له دې امله، له دې سره، د دې لپاره

پرونومیال – حالت لپاره ویونه: په دې، ترڅ، داسې چې، (په ) څه باندې

ناټاکلي پېژند نخښه ( د نر-ښځېوالي لپاره):



یو، یوه Diphthong (Zweilaut) دوه غږیز: یو دوه غږیز له دوه بېلابېلو غږلرونکو څخه لکه یو، دوه، بیا او نور.

Imperativ (Befehlsform) امربڼه: کېښېنه! ولوله! وخوره! چپ اوسه! ځان بدل کړه!

Indikati (Wirklichkeits-form)رېښتیاوالیبڼه:نړۍ ښکلې ده. انسانان مري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احساساتويي: ای، اوهو ، وی، پوو. (Interjektion (Empfindungs-wort

کېدی شي څه تکرار وي، خو هر تکرار کښې څه نوي څه هم ميندل کيږي او ترې تېرېدنه و ماته څه ستونځمنه برېښي. په بخښنه.

## رکتوس او اوبليکوس يا ولاړ او پراته اړيکتينګووني.

پيل يادونه: ما په دېرواره اړيکتينګوونو ليکلي، چې هغه هم په دې د پښتو اړيکتينګوونو کې خوندي دي او د پښتو اړيکتينګوونې له الماني څخه توپير لري.

ما پخپله دېرې ليکنې په څلورو حالتونو کړي او اوس به دا په پښتو کې اړيکتينګووني وڅېړو: په پښتو کې دوه اړيکتينګووني شتون لري. رکتوس او اوبليکوس

**د رکتوس – ، کړونی - يا ولاړ اړيکتينګوونی Ca|susrec|tus,**

ويي پېژند: (ژبنيز نوميز Nominativ ولاړ...( دا چې پښتو اېرګاتيو ژبه ده، نو نوميز اړيکتينګوون لري او دا په پښتو کې کړونی اړيکتينګوونی دی)) کړوني اړيکتينګوونی کليمې سرچينه: لاتين "casus rectus" ،،نيغ، ولاړ حالت يا څنګه والی يا ښه يې کړونی حالت،، ، همغه پوهنيز يوناني "ptōsisorthē" مخ ته لرو.:

مخامخ ويي يې Casus obliquus اوبليکوس حالت يا اړيکتينګوونی دی. کړونی اړيکتينګوونی رېکتوس اړيکتينګوونی دی: دا کړونی اړيکتينګوونی دی، چې له دې امله ولاړ حالت هم ورته ويل کيږي.

— په بنستيزه توګه و دې ته مخامخ يا برعکس او و دې نورو اړيکتينګوونو ته کاسوس اوبليکوس دی، چې څنګيز، ننوتي، پروت، ...اړيکتينګوونيا دي، .

**اوبليک اړيتينګووني يا څنګه والی:** (Casus obliquus (Deutsch

ويی ترپيوهېدنه/ پېژند:



– ژبنيز: نه ولاړ -، پروت –، ننوتی – ، وتلی او يا کوږ اړيکتينګووني يا څنګه والی . له دې امله په بسيا وکړي، که نه کړونی حالت يا اړيکتينونکی يې وبولو.

اوبليکوس نه کړونی – يا يا پراته اړيکتينګوونی دا لاندې اړيکتينګووني خوندي لري:

نه کړوني اړيکتينګووني: جينيتيو، داتيو، ابلاتيو او دا اوس هم غږيزد کليمې بنسټ: له لاتی نه کړوني اړيکتينګووني ، چې يوناني څخه يې پوهېدنه هم همدا ده نه کړونی کازوس، اوبليک کازوس، ناولاړ، زوړند يه پروت اړيکتينګووني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ – کازوس اوبلیک جینیتیو، داتیو دي. دا مې په بل ځای کې څېړلي، چې په پښتو کې نور څنګه والي هم شته، لوریز،..د پوره څرګندونې لپاره دې هلته وکتل شي.

د نورو حالتونو لپاره مخ ته ځو:یادونه: که دا لاندې بیا هم راغلي وي، لوستل یې بد نه دي.

Enklitische Pronominaاینکلیتیکي نومځاینیوي.

د مخه تکیه اړ- یا اینکلیتیکي نومځاینیوي یوه کیدنه لري، چې له یوه کړنوي سره ورزیات یا ورسره ونښلي یا ورسره ویلې شي. کړنوی + ځانیز پسې تړی. ډېر زیات د خبرو ژبه همداسې په شاعرۍ کې منځ ته راځي. په ډېرو لیکنیزه ژبه کې ترې ډډه کیږي یا دا د کړنوي سره یوځای په یو بل کې سره وېلې یا ولې شوي، چې یو نوی ویي و منځ ته راوړي چې د دې تړنې سره پوهېدنه هم پوره کوي.

د بېلګې په توګه: اینکلیتیکي نومځاینیوي د یوه شي دنده لري، که دا یوه کړنوي سر ورزیات شي.
که دا له کړنوییونو سره راشي، ن هغه بیا لوریز کړنوییونه دي یا کیږي. ، راځه، درځم..._

یادونه: و به ګورو، چې له دې نومځاینیو سره هم اړیکتینګوني روښانه یا ښوولکېدی شي. دا دې د اړیکتینګوونو په برخه کې وکتل شي.

ګډوله کونه:

– کړنویي + ځانیز پسېتړی په وینژبه او لیکنژبه کې مخ ته راځي او همداسې بله برخه یې

– ځانیزمختړي نومځاینیوي یا اینکلیتیکي نومځاینیوی + کړنوی، چې دا دواړه به لړ و څېړو.



دا نومځاینیوي، نو څنګه روښانه کړو، چې کوم دي؟

که غواړې عکسونه درته ښایم. که غواړې وتا ته عکسونه ښایم.

دا نسبتي وی و پسې ځاینیوی یاپوستپوزېشن ،، ته،، ته یو اوبلیک دی. او د الماني و داتیو ایکتینګوني ته انډول دی. له دې سره د پوست پوزېشن په څیر د موخه لور (و چېرته) دنده لري. بېلګه: و کور ته ځم.

پرمېز(حالت) باندې (اړیکوی) د انګورو (خاوندوالی اړ.) له جنډې ( آړ.) څخه (اړیکوی) انګورو (نوم) له ځان(اړ.) سره ( اړیکوی) وتا( اړ.) ته (آړیکوی) دروړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګورو، چې ټول اړیکویونه پسېځاینیوي یا پوستپوزېشنونه دي او حالت پر پښو باندې اړیکتینګوونی دی.

دا مې تر اوسه پورې سنترپوزېشنونه بلل، چې ناسم دي او دا پر، په او نور چې راځي، دا د اړیکتیینګوونومورفېمونه دي، لکه ،،د،، د خاوندوالي مورفېم.

د اینکلیتیکي نومځاینیوو څلور دندې:

زه دې، ته مې، هغه مو، دا یې....

دا څلورواړه په یوه ګډوله یا لړۍ څنګیزه غونډاله کې

زه دې دلته راوغوښتم، چې ته مې ولیدې او هغه مو، چې ولیده دایې وویل:_

## لوریز نومځاینیوي:

لوریز نومځاینیوي: نومځاینیوي را، در، ور یوه لور غوره کوي، نو له دې امله لوریز نومځاینیوي.

لرو: ـ (را، در، ور) (سره،څخه،کره، ته، پورې، کې، باندې،...)

په پورته کې په لومړي نوکانو کې نومځاینیوي دي او په دویم کې اړیکویونه یا پسېځاینیوي دي، چې په نومځاینیوو پسې تړلي راځي. دا بیا داسې هم لیکلی شو:

له ما، له تا، له موږ،له هغه......سره(څخه، کره) ، وما ته، وتا ته، وهغه ته، پر میز باندې یاپر هغه باندې....په کور کې

داسې له یوه توري جوړ نومځاینیوي شته، موږ چې یو څه کوو، په پای کې د هغه کړونې پسې نومځاینیوی( انکلیټیکي نومځاینیوي بلل کیږي)) ورزیاتوو یاورسره نښلو



اړیینه یادونه: دا له یوه توري جوړ نومځاینیوي، چې ما لیکلي، سم نه دي. دا نومځاینیوي نه دي. دا د کړنویي بنه بدلون دی(دا ناسم دی، دا د کړنوییونه پوهېدنغزونه ده). دا لاندې هم همداسې. دا که موږ د موږ په ادبیاتو کښې همداسې بللي، خو داسې نه دي.

بېلګې یې: ځم، ځو،ځې ، ځئ، ځي( د دریم کس ن، ښ یو او ډېرو لپاره ). دا پورته د کړنویونو بڼه بدلون نه دی دا د مورفېمونو له لارې د کړنوییونو پوهېدنغزونه ده.

بیا اړیینه یادونه: په پښتو کې کړنوییونه بڼه بدلون نه لري.

وییزې یا له یوه ویي جوړې پوره غونډاله ده: ځه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

له یوه ویي جوړې غونډالي کېدی شي، له کړنویی څخه جوړې وي، لکه همدا پوړته. که څوک ووایي چې. ځم. خو دا سمه ویینه یې ده: زه ځم.

پوښتنه: څوک ځي؟

ځواب : زه ځم.

دا پورته راپورته شوې ستونځې له دې لاندې پېژندونو سره اوبی شوې:_

ــــ له بلې لور له داسې کړونو سره د را، در، ور نومځاینیوي مخ ته تړل کیږي او کړنویي پسې هممهال دا د ــم، -ې، -ئ او نور هم تړل کیږي او داسې یووویېزې پوره غونډالي جوړوي: درځم، راځي، ورځم او نور. دا کړنوییونه د بسې غزوونو سره غزېدلي دي. دا څنګه ونوموو، خو دا هم پسې تړلي دي، چې خپله کومه پوهېدنه نه لري او نه د ورسره تړلي له لارې کومه پوهېدنه غوره کوي، خو هغه د پسې تړلي پوهېدنه غزوي. دا لوریز نومځاینیوي، کړنویي سره د مخه تړلي او پسې تړلي یې دا اینکلییکتیکي نومځای نیوي دا یوه کړنوویي او دوه وو نومځاینیوو سره په ګډه یوه یوویېزه غونډاله جوړوي.

**<u>یادونه:</u>**

**<u>که موږ له پیل څخه ابلاتیواریکتینګووني د داتیو پر ځای باندي و کاروو، ښه دی</u>**

**ابلاتیو یا بېلېدنه (Ablativ (Deutsch**

ویي پېژند: لاتین ژبلار: ابلاتیو د پرېدیکات نږدې پېژندنې ټاکلو په چوپړ کې دي. دا اړیکتینګونه ورکوي، چې د هغو لاندې کړنه کیږي. دا داسې کارول کیږي
Ablativusinstrumentalis اله ییز ابلاتیو: د پوښتنې په ځواب کې:،، له څه یاڅه شي سره،،؟ ، ،، د څه له لارې څخه،، ؟، ،، له چا سره یوځای،،؟



– Ablativusseparativus د بېلېدنې ابلاتیو: د بېلېدنې ابلاتیو و پوښتنې ته دی، چې : له کومه څخه،،؟ ، ،، له څه څخه،،؟

Ablativuscomparationis

د پرتله کونې ابلاتیو له و چا ته یا نسبت و چا ته سره.

ځمری و چا ته جګ دی؟ یا ځمری نسبت و چا ته جګ دی؟

غونډاله پیچلې برېښي، خو ژبلاریز او پوهېدنیزه سمه ده. فکر غواړي.

Ablativuslimitationis

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کليمې د رابندونې ابلاتيو رابېلېدنه د پوښتنې،،په کومه اړيکه کې،،؟

Ablativuslocativus

ځايټاکنيز ابلاتيو و پوښتنې ته ،، و چېرته،،؟

Ablativus temporalis #

د مهالټاکنې ابلاتيو و پوښتنې ته ،، کله،،؟ ، د،، د کوم وخت په دننه کې،،؟

Ablativusmensurae

د ډېرۍ - يا ست- يا څومره والي ورکړه، و پوښتنې ته ،، پر څو باندې،،؟

Ablativusqualitatis

د ځنګه والي يا خوي ابلاتيو يا رابېلېدنه.

له ،، د ،، سره خاوندوالي جوړونه: دا ،، د ،، په ځنو ادبياتو کې د خاوندوالي مورفيم بلل کيږي او ځنې يې بيا په بلابېلو لاملونو د مخځاينيوی( پرېپوزېشن) بولي، خو دا چې دا يو مورفيم دی او خپلواکه پوهېدنه نه لري، نو دا د خاوندوالي مورفيم يې سم دی.

بېلګه : د کور ښکلی باغ.

Vokativ د غږ کولو اړيکتينګوونی

.



په پښتو کې د غږکولو په حالت کې د ناغږيزو نورو پسې يوه ،، ه ،، تړلکيږي( دا خو ځانله د دې سره نه دی، د نور لکه ی سره هم راځي) او نورو ته دې يې په ګډه فکر وشي.

بېلګې: ورور، وروره،

سړی، سړيه

ملګری، (اې) ملګريه.

د ښځينه وو لپاره :

بېلګې: مور، مورې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خور، خورې

د ډېر لپاره په ټولیزه توګه باور لري، چې غږیز/ ډېر = اوبلیک/ډېر
.بېلګې: ګرانه ملګریه، ګرانو ملګرو! ښځې/ (اې) ښځو!

پسې نومځاینیوي د خبرو دي، خو ما په دې هکله پوره لیکنې کړي، نورې نه وربانديې کوم، خو ستاسو پام یواځې د ې ځنې ځانیزو نومځاینیوو ته رااړوم.

زه، ته، هغه، ما، تا، هغه، او نور

په دې ټولو حالتونو پوره خبرې شوي.

Demonstrativpronomina (اشاري نومځاینیوي)

اشاري نومځاینیوي ( رکتوس)

دا، دغه،

نور اشاري نومځاینیوي: هغومره، دغسی، داسی، هغسی، همدا، همداسې، همدغسې ... دومره ، هومره، دومره...څومره داسی، داسی، همدا، همداسې، همدغسې دا، دغه،دغې،هغه،هغې

لوریز نومځاینیوي: د اړیکویونې سره دا لوریزې ټوټې د پوستپوزېښن د لوریزنومځانیوو کیږي. سره تړاو یا تړنه.

دا لوریزې ټوټې : را، در، ور دي، چې د پرېپوزېشن په څېر د اړیکویونو په څېر د کړنوییو سره نښلي یا ویلې کیږي. یو څو بېلګې...



پوښتننومځځاینیوي:

څوک، چا، څه، څو، څومره، کوم...څومه، څنګه، څرنګه

Indefinitpronomina ((ناتړلی نومځاینیوي)

څوک،څه، څو، کوم، یو شی، یو څوک، یو چا، د یوه چا، څومره، ځنې، هر، ټول، نور، هېڅ. په ژبلار یا ګرامر کې ناتړلي یاخپلواک نومځاینیوي د نومځاینیو دا لاندې ډله جوړوي(برخډله مې لیکله وه، خو د لاندېډلې او برخډلې په منځ کې مې توپیر ته پام نه وو). د و ي.

د پام یادونه: ښه به وي، چې د داتیو پر ځای باندې ابلاتیو ولیکو._

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوي مو یوګونو یا افرادو ته پام اړوي، چې د هغوي ایدنتیتي یا پېژندنه له نږدې څخه نه ده ټاکل شوې یا د ناټاکلې ګڼون ( تعداد) افرادو همداسې په افرادو ( یوګونو کسانو) باندې شتونوینا کوي.

## Indefinitpronomen mit vorangestellten Wörtern

ناټرلي نومځاینیوي و مخ ته د ټرلو وییونو سره:

هېڅ څوک، هرڅوک، لږڅه، یو څه ، یوڅوک

Unbestimmter Artikelناټاکلې پېژند نخښې (ن،ښ)

۱ – رکتوس: (ن،ښ)یو، یوه

۲ – اوبلیکوس: ( ن،ښ) یوه، یوې

یادونه: ۱ – داپورته داسې برېښي، چې ګوندې د بېلګې په توګه یوسړی راغی. یوه ښځه راغله او

۲ – یوه سړي وویل. یوې ښځې وویل.

دا دواړه حالتونه کړوني دي او د پښتو ژبلارې له مخې او د رکتوس او اوبلیکوس د پېژند له مخې باید رکتوس وي، نو اوبلیکوس به یې څه وي؟

اوبلیکوس: له یوه سړي څخه. له یوې ښځې څخه. دلته ››له‹‹ د یوه مورفېم په څېر راغلی، یو پروت اړیکتینګوونی دی. دا شبلاتیو یا رابېلیدونکي که و بولو، ښه به وي.



دا موضوع هم دما نوې مخامخ کېدنه ده. له دې څخه د مخه ورسره نه وم مخامخ شوی، نو د څېړنې او د خبرو به پوره څه په کې وي.

موږ د نورو ژبو څخه ګټه اخلو، په زیاتو ځایونو کې د نورو ژبو څخه ګټه اخستل کېدی شي، خو یو له بل سره ورته ژبنیزې لارې نه لري.

په پښتو کې: ځم، ځو، ځي، ځې ... او ور خو موږ مې (دې، یې) په پښتو د کړنوي پسې، -م،-ې، -ي ټرلي او د خاوندوالي نومځاینیوو پسې بیا مې، دې، یې مو د مخه وڅېړل._

بیا دا اړیینه یادونه: دلته –م،-ې،-و او نور توري دي له یوه توري څخه جوړ سافیکسونه یا پسېټړلي دي، چې د کړنوییونو د (بنه بدلون(بنه بدلون نه شته)) پوهېدنغزونې له امله د کړنوییونو پوهېدنغزوونې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې يو لامل دا کېدی شي، چې په پښتو کې د ګړنويي اخر کې دا ورسره زياتېدنه دکړنوي پسې تړلی يا سره ويلې شوې شته، خو د خاوندوالي نومځای نيوي خپلواک شته دی.

دا نور نومځاينيوي به د څنګه والي يا حالت نومځاينيوي وبولو او ګورو، چې د اينکليتيکي نومځاينيوو سره توپير لري.

## Vokativ (د غږ کولو حالت( بيا لنډ)

يو چاته څه ويل يا ورته غږ کول په پښتو کې د يوه ځانګړي غږبنې په څېر جوړيږي. په ټولو نارينه نومونو کې، چې په زور اچوونې ی پای مومي په پای کې ه پسې نښلي پر نارينه نوم پورې چې زور پرې نه اچول کيږي، چې په پای کې يي ييي پسې نښلي. پر دې باندې نور زياته ليکنه نه کوم، خو يو دوه بېلګې راوړم. دا نور چې کوم اخر توری په څه بدليږي او يا څنګه کيږي ، هغه تاسو راپيداکولی شی. لرو. خمری. غږ: ځمريه. لرو: خوره، غږ: خورې ملالی بيا هم ملالی. هغه لارې هم تاسو ورته وليکی.

## Reziproke مات

رامات شوي اړيکټينګووني د ،،يو،، او ،،بل،، له لارې څخه يا سره جوړيږي. بېلګې: يو له بل سره. يو له بل څخه. يو وبل ته او نور.

## Interrogativsatz پوښتنغِونډاله

پېژند د اوکسفورد ژبې څخه: اېنټېروګاتيوغونډاله څه ده؟



پوښتنغونډاله ( Interrogativsatz يا Erotema) يوه غونډاله ده، چې د هغې دنده تيپيکي پوښتنکونه ده. د پوښتني ويېنډول د دې په چوپړ کې دی، چې يو معلوماتي ځواب ترې لاس ته راوړو. پوښتنغونډاله داسې ده، لکه ويناغونډاله او غوښتنغونډاله، يو د غونډالې ډول.

د اېنتروګاتيونومځاينيوواو نسبتي نومځاينيوو په منځ کې څه توپير دي؟

Relativpronomen يا نسبتي نومځاينيوي د نومويبونو پر ځای باندې کارول کيږي. دا يوه غړېغونډاله ( نسبتي غونډاله) لاربنودوي او د يوې پر سر يا پورته باندې ترتيب شوې غونډالې يوه نوم(يا نومځاينيوي) نښلوي يا تړي. اېنتروګاتيو نومځاينيوي يوه پوښتنغونډاله (اېنتروګاتيو غونډالې) لاربنودوي او د غږکوني غونډالو په څېر هم کارېدلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېلګې؛

کتاب، کوم (هغه) چې زه يې لولم، ستړی کېدونکي دي.
يادونه: دلته ګوره دا د کتاب لوستل ستړي کېدونکي دی

دا د باور نه دي، څه چې ته و ماته وايې.

اېنتروګاتيو غونډالي پوښتنغونډالي لاربښودوي، کېدی شي دغږغونډالي په څېر هم راشي.

بېلګه: چا به دا فکر کړی وی!

ځنې نومځاينيوي کېدی شي نسبتي – او اېنتروګاتيو نومځاينيوي وي .

بېلکه: څوک،چا، څه (شی)، کوم،کومه، د يوڅه لپاره.

دا کېدی شي چې وکارول شي.

اينتروګاتيو غونډاله – ناسيده پوښتنغونډاله.

۲ - ښونکی زدکونکي پوښتي، چې چا دا کړکی ماته کړې ده.

۲ – ښونکی زدکونکي پوښتي، چې ايا له دوي څخه کوم يوه دا کړکۍ ماته کړې ده.
اېنتروګاتيو غونډاله( ناسيده پوښتنغونډاله) يوه څنګغونډاله يا که غواړئ څنګيزه غونډاله ده. د پوره کونکې پوښتنې په څېر(۱-) څنګغونډاله د يوې پوښتنغونډالې په څېر پيل کيږي.
د پرېکړه غونډالې په څېر(۲ -) دا د ايا له لارې يا سره پيل کيږي.

.



يادونه: په دې ټولو ليکنو کې کمښت شته، چې بايد تل ګران لوستونکي يا ډېر کار پرې وکړي._

د اېنتروګاتيو غونډالو برخکلمي

۱ – غږډوليزه پوښتنغونډاله، ۲ – پرېکړييزه پوښتنغونډاله، پوره کېدونکې پوښتنغونډاله.

بېلګې:

۱ – يوه پوښتنغونډاله ده، ، چې ټيک د غږېدونکې د معلومات کنډو يا تشيا خوندي لري، او دا هممهال د خبرو و مل ته انځوروي، چې دا تشيا ډکه کړي.

( ۱ ) غونډاله: ،،( ايا) ته نن راځې؟،، يوه اېنتروګاتيو غونډاله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

( ۱ ) اېنتېروګاتيو – يا پوښتنغونډاله  له غونډالنخښي،،؟،، سره په نخښنه کيږي، که دا يوه سر – يا بنسټغونډاله وي.

ځنې پوښتنغونډالې د پوښتنغونډالې په چوپړ کې نه دي، دوی(يو څه ته ) رابلنغونډالې دي، لکه د بېلګې په توګه: نه غواړې تر اخره يا تر پای(بلاخره، يا بالاخره( رېښتيا نه پرې پوهېږم. په بخښنه)؟؟) پورې راشې؟،، يا ،، بيا هم يا: تر اخره پورې نه غواړې راشې؟،،

## ګڼل او شمېرل

دا ليکنه يواځې د يوه مسلکي چا لپاره نه ده، دا ليکنه د هرچا لپاره ده، چې  پوه شو، چې په ګڼلو او شمېرلو کې  د څه سره او کار لرو او دا څنګه کاروو. له دې څخه د مخه چې دموږ د موخې ليکنې سره پيل کوو، د ډېرۍ يا  set,die Menge  پېژند به ورکړو، چې دلته هم هر څوک ور باندې پوه شي، چې ډېرۍ څه شی دی.

يادونه: دې نوم کښنې دې يې پام وشي. ما خو ښځينه ليکلې، ځکه چې، زه له بنډکيو او خزلو و مخ ته تللی يم، چې اوبه يې راوړي او په يو ځای کښې يې  ډېرۍ اچوي، خو که څوک يې نارينه هم وليکي د سم اند له لارې به ورسره مخامخوالی نه وي. موخه د لته له ډېرو څه څخه ده، چې د ځانګړي پېژند له لارې روښانه کيږي يا ځانګړی پېژند لري.

ډېرۍ پوهنه د شمېرپوهنې يوه برخه ده او ډېرۍ داسې پېژند لري:

**ډېرۍ ( مجموعه يا set ): پېژند**

زموږ د فکر او خيال د ټولو يو له بل کره بېلا بېلوشيانو( دا په دې پوهېدنه، چې يو شی دوه ځله نه راځي) ټولوالی دی ( ما په خپلو تېرو ليکنو کې د ټولوالي لپاره ټولګه ليکلې وه



خو ټولوالی موخه- ور او ښه دی).

هغه شيان چې ډېرۍ ور څخه جوړه ده، د ډېرۍ توکي بلل کيږي.

په ډېرۍ پوهنه کې  يوه پايډېرۍ هغه ده، چې پای ډېر توکي ولري. د بېلګې په توګه ډېرۍ

(M={1 ;2; 3; 4; 5; 6; 8

يا

{M={a,b,c,d, ….h

يا

{M={a,3,spin, spogmai, c,d,8, ….h

دا دټاکلو شيانو، چې په فکر اوخيال کې مو دې، ټولوالی دی اوپايډېر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه: په پورته کښې مو د لاتین لوي توري، د ډېرۍ لپاره لیکلي او کوچني توري مو یې د توکو لپاره لیکلي دي.

**ګڼل او شمېرل**

دا په پښتو کښې څنګه بولو اوڅنګه لولو او هم څنګه لیکو؟

دابخښنه دې وي، چې په ،،پښتو،، کښې یې لیکل او لوستل لیکم. دا ځکه چې موږ تر اوسه پورې پرته له ما څخه د شمېرپوهنې کتابونو له لیکنو، بل چا تراوسه پورې دا پر پښتو باندې نه اړوند بللي او نه لیکلي. داپه دې پوهېدنه، چې زه په دې لار او کار کې لومړی او لومړنی کس یم یا لومړنی لیونی یم، چې دا کار مې د سره کړی <u>یا تر یو کچې، نه! نه تر یوې کچې، دا ناسم دی، تر یوه ځایه- یا یوې پولې پورې</u> و سرته رسولی.

دلته یوځه نه په کچه کیږي، خو تر یوې پولې، خآیه،سویې(؟) پورې کېدی شي.

په دې هکله نورې خبرې نه کوم، راځم خپلې موخې ته.

موږ په شمېرپوهنه کې د دوه نومونو سره ډېر سر او کارلرو، چې هغه ګڼل او شمېرل دي، چې تراوسه پورې مو دا یو له بل سره نه دي توپیر کړي، چې د خپلو زده کړو له امله، چې په خپله ژبه مو نه دی کړي، نه یو بلد او مسلکي نومونو سره بې له دې څخه هم پر پښتو باندې بلد نه یو. داکار به اوس وکړو، خو په خبرو اولیکلو کې مو ګڼل د شمېرلو لپاره پرېښودي یا ښه یې: د ګڼلو ځای مو هم شمېرلو ته ورکړی یا شمېرلو نیولی.

**ګڼل څه شی ی؟_**

ګڼل، چې انګرېزي یې Counting او الماني یې zählen دی، عربي یې ګومان مې دی حساب دی او په درې کې ورته شمردن وایې. په دې برخه کې نورې روښانه-ونې هم شته، خو له هغې څخه دلته تېرېږو.

.



پېژند: ګڼل د یوې همغه ډول مګر بېلابېلو شیانو پای ډېرۍ توکو د څومروالي یا ګڼون (تعداد) یا کوانتیتي پیداکول دي. ګڼل د ګڼونو پلونو زیات وخت د یوه پل سره، دکوم سره چې اړونده ګڼونو پرلپسې یا د ګڼونو ویونو پرلپسې په څېر کیږي، د بېلګې په توګه، یو، دوه، درې یا دوه، څلور، شپږ، اته سره ځغلي. د جګېدونکې پرلپسې د ،، ومخ ته تلنګڼل،، په نخښه کیږي او په لوېدونکې پرلپسې ،، پسې یا شاته یا په څټ (تلن) ګڼل،، په نخښه کیږي. د بېلابېلو شیانو( دا هم همغه ډول شیان دي، خو همغه شي نه دۍ) ورزیاتول یا ورجمعه کول، چې یوه جګېدونکې ګڼونپرلپسې یې بنسټ دۍ، ګڼل بلل کیږي.

یادونه: دلته مې ګڼلی د یو ډول څه یا ګڼونو ډېرۍ یاده کړه، خو یواځې دا نه ګڼو، موږ د یوې ډېرې د توکو څومره-والی هم ګڼو. که دلته موږ یواځې د ګڼونو په ډېرۍ تکیه کړه، نو دا دې کوم مخامخوالی نه وي، د لته دې د ډېرۍ پېژند ته هم پام وشي او هغه راوړلو بېلګو ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګڼنه: د اړونده نوم ګڼنه د ګڼلتلنه یا د هغه لاس ته راوړنه( د بېلګې په توګه د نفوسو ګڼل) په نخښه کوي یا (را) ښايي یا راپوهوي. د پېژندل شویو یا د ورکړل شویو پېژند یووالو(موړ ورته ناسم واحد وایو)، شیانو یا پېښنو د یوې کچونې بڼه، د څومروالي پیداکونه ده یا د ګڼلو نوم.

**له څه وخته ( دلته هم سم: ،،له څه وخت څخه،، دی)ګڼل:**

د ارښیولوګي شواهدو له مخې روښانه شوې، چې انسان لږ ترلږه له ۵۰۰۰۰ کلونو څخه راپه دېخوا ګڼلتوان ( د ګڼلو توان) لري. ګڼل په زړو کلتورونو کې کارول کېدل، چې د ټولنیزو او اقتصادي ګڼلشیانو لکه د یوې ډلې غړي، ښکارشوي ژوي، خاوندتوب یا د پوړونو ګڼون راټول کړي یا راونیسي. د ګنونلیکنې، ګڼونسیستم او لیکنو ته مو ګڼل هم ( هم په دې پوهېدنه، چې د نورو په څنګ کې ( نږدې وه، لیکلي مې وی ،،د نورو تر څنګ،،، خو داناسم دی)) لارښود کړو.

له ګوتو سره ګڼل، دلته ګڼ ۵ .Zählen mit Fingern, hier die Zahl 5

ګڼل انساني ژبنیز توان دی، چې په راتنګه موخه ګومان کیږي چې انسان ته د خپل Stammesentwicklung) (۳)Phylogenese (۲)biosozialen (بنسټوده)) په ترڅ کې له پخوانیو راپاتې شوی. ژوي لکه مرغان هم – که هګی یې ورکه شي- پوهیږي، خو ګڼلی یې نه شي. دګڼلو لپاره تیزذهني توان ته اړتیا شته.( Biosoziologieبیوسوڅیولوګي دې وکتل شي)

**ګڼون یا څومره والی، که غواړئ تعداد:**

یادونه: دا ګڼون مو په ژبه کې ورځنی نه دی، نونه پوهېږم، چې دا به زماپرېکړه وي او یا به د تاریخ په اوږدو کې هېرشوی وي، خو راته مناسب بریښي، ستاسې مرسته تهٔ ته اړتیاشته.



په ټوله کې د ګڼلو سره د یوې پایڅیرۍ د توکو ګڼون(څومره والی یا تعداد) کره کیږي، داسې چې د ۱ سره پیل ( اوس دا له صفر(۰) سره پیل دی) یو بل پسې هر شی پسې بنسټیز یا پیداښتي ګڼ باندې ترتیب کوي، تر هغې پورې، چې د کوم شي توکی نور پاتې نه شي( د یواځنې څېروني له لارې(شمېرپوهنیزه وی دی، چې نور یې نږدې نه څېږم، خو په دې هکله مې یوه لیکنه په تاند او همداسې دعوت خپرونو کې په ۹ د دسمبر خوره شوې)). دا وروستي ترتیب شوی ګڼ هغه غوښتونی ګڼون یا تعاد راکوي.

**څومره- یا څووالی او څوموالی:**

موږ نو د ګڼلو سره څه غواړو ځان ته روښانه یا څرګند کړو؟

څومروالی: موږ د ګڼلو سره د څو کره ټاکلو همهغو (لږ تر لږه په دې لیکنه کې) شیانو څومروالی او په همهغو شیانو کې د یوه شي څوموالی و ځان ته روښانه یا جوتوو. که په یوه ځاي کې د څه موخې لپاره څوکسان راټولوي او غواړو وپوهېږو، چې دا څو کسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې، نو ګڼو یې او دا راته د دې کسانو څووالی یا ګڼون راکوي. که په څوکسانو کښې، که د کسانو په ځایترتیب کې د یوه کس ځای غواړو جوت کړو، نو ګڼو یې چې دا څوم کس دی، نو لړو

**ګڼه یا څوموالی په څه پوهېدنه دی؟**

**ګڼه:** که څوک په یوه لیکه ولاړ وي، یا د شتون په کتاب کې د زدکونکو نومونه د ، څوک په څومه ګڼه نمره دي، نو په همهغه ځای کې لیکل کیږي.

د ښوونځي شتونکتاب یا د حاضرۍ کتاب کښې به ما د شمارې په ځای ګڼه لیکله، چې موخه ترې همغه څوموالی په ګوته کوي. دا په دې پوهېدنه چې:

ویل یا په تورو لیکل یې: لومړی، دویم(دوهم؟) دریم ( دا درېیم یا درییيم نه لیکل کیږي)، اتم، نویم، سلم، یوسلودېرشم او نور.

په ګڼنخښو لیکل یې

۱ ـم، ۲ ـم ، ......۶ـم، ۷-م،،،، ۱۰۰ـم، ۱۲۰ـم ...

ځنې لیکونکي دا بې له ـم لیکي، چې ناسم دي. دا – ترڼنخښه ده، م له هغه ګڼ سره تړي._

یادونه: دا د ګڼونو لار ده، چې له پیداښت څخه همدا ـم ورسره لیکل باید ولیکل شي او څوک ورته څه له ځان څخه د جوړولو اجازه نه لري، لکه له دېرش سلمې څخه یې دېرش سلنه جوړه کړي، دا ژبې تخریب او بېلارې ده).

یادونه: په دا پورته کې موږ سلن یا ۱۰۰ ـن نه دي لیکلي چې ډېیییېر ناسم دی.

د شتونکتاب ګڼه به د ښوونځي د نمرو په ترتیب لیکل کېده، نو د دې سره به څه کوو؟

دا هم د ګڼلو له لار سره سم داسې لیکو:



اولنمره = لومړی یا یوم، دویم (که دوې وي، خو دویم او دوه وي خو دوهم) ، لسم نمره او داسې نور لیکو. دا که څو واره بیابیا وویل شي، نو ورسره بلدېږو، ستونځې په کې نه شته او د ژبلار سره سم دی.

یادونه: د دې ګڼونو او یا اړونده لیکنډول لپاره زموږ لیکوالان لیکي، چې شمېرنیز لیکل او لیکنیز لیکل. شمېرنیز او لیکنیز دواړه لیکنیز دي، دا په دې پوهېدنه چې دواړه لیکل کیږي.

سم یې دی: په تورو لیکل او په ګڼنخښو لیکل.

ګڼ (ز. ګڼونه) څه شی دی؟

الماني او انګرېزي یې number zahl

یادونه: دا مو هم په ژبه کې ورځنی نه دی، مرسته به سره کوو.

ګڼونه ( ډېر ګڼ، یو یې یو ګڼ): هغه څه چې موږ ګڼل پرې کوو، نو هغه به هرو مرو ګڼونه وي. یو یې ګڼ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ګڼونه چې موږ ګڼل پرې کوو، دا په دې مانا چې د ګوموالي او ګومره والي پرې لاس ته راوړو، پيداېښتي(طبيعي يا بنسټ) ګڼونه دي او دا پيداېښتي ګڼونه داسې ليکو.

بيا

**ګڼنخښې:**

هغه نخښې دي، چې ګڼونه انځوروي، ګڼنخښې بلل کيږي.

د پيداېښتي ګڼونو ګڼنخښې دا لاندې دي:

(0); 1 ; 2; 3; 4;5; 6; 7; 8; 9

دا ټکی يا صفر مې ځکه نوکانو کې نيولی، چې د څه وخت د مخه پورې دا په پيداېښتي ګڼونو کې نه ګڼل کېده، خو اوس صفر هم يو پيداېښتي ګڼ ګڼل کيږي.

دا نو څنګه وايو؟_

صفر ، يو، دوه (دوې)، درې، څلور، پنځه، شپږ، اووه، اته ، نهه.

په پورته کې ګورو، چې بنسټيز ګڼونه دا لس دی، له صفر تر نهه پورې.

ګڼونه ذهني شمېرپوهنيز شيان يا همداسې د فکر شيان دي، چې زموږ د خيال د لويو او ګڼون (ګومره والي) څخه وده کوي.

شمېرپوهنيز شيان: ګڼونه، ډېرۍ، ځمککچيز تنونه، ګرافونه، اېنټيګرال او نور.

وموويل، چې ګڼونه(ډېرګڼ) يو يې ګڼ(يوګڼ) هغه څه دي، چې موږ ګڼل او شمېرل پرې کوو. دا په دې پوهېدنه، چې ګڼل به له شمېرلو بېل کړو، ښه يې بېل دي.



داکار د هغه چا لپاره ستونځمن دی، چې ريښه يې شمېرپوهنه نه وي، خو ځانونه به پرې پوهو.

ګڼونه څو ډولونه لري، چې موږ د اوس لپاره دا څو يادوو:

ګڼونه په ګڼنخښو سره پېژنو، چې په ترتيب به په خپل ځای راوړل شي.

پيداېښتي ګڼونه: لکه د مخه مو چې وويل، موږ دې ساده ګڼلو لپاره چې ګڼل پرې کوو، د پيداېښتي ګڼونو څخه کار اخلو. دا ګڼونه بنسټيز لس دی. دا دې په ياد وي، چې د دې لږ لنډ وخت پورې صفر په پيداېښتي ګڼونو کې نه ګڼلکېده.

ګڼونه ارزښت لري، چې په پسې ګڼ يو ورزيايږي، نوی ګڼ ترې لاس ته راځي يعنې لکه ورسره بلد له کيڼ ښي لور ته. بنسټيز ګڼونه دا لاندې ګڼنځښې لري؛

۰ ، ۱ ، ۲ ، ۳، ۴ ، ۵ ، ۶ ، ۷، ۸ ، ۹ او يا

0,1,2,3,4,5,6,7,8,9 يا 1,2,3,4,5,6,7,8,9,10

کېدی شي د ګڼونود دې ډول ليکنو سره ځنې شمېرپوهان هم انده نه وي، ګوندې داصفر يا همداسې دا لس څنګه ورزيات شوي، خو دا مو د خبرو موخه نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ په ادبیاتو کې رقم او ارقام ګورم، خو زه پرې نه پوهېږم، چې داڅنګه او ولې. نه پوهېږم چې رقم څه پوهېدنه لري، خو سم یې دا د ګڼونو نخښې دي.

ګڼونه همداسې د ځای ارزښت له لارې خپل ارزښت ښايي، دا په دې مانا چې ګڼونه ځای لري او د هغې ځای سره ځرګندیږي، چې دا په کوم ځای پروت یالیکل شوی یا ځاینیولی ګڼې څه ارزښت لري. دا د ګڼونو یو سیستم جوړوي داسې په نامه لسیز سیستم یادیږي.

ګڼونسیستم د ګڼونو د انځورولو له پاره یو سیستم دئ.

د ګڼونو څو سیستمونه شته، خو د هغو نورو سره موږ سر او کار نه لرو.

لسیز سیستم کوم دئ؟_

د دې لپاره دا لاندې لښتکی باسو او ګڼونه یې بیا روښانه کوو، چې دا کورونه یا ځایونه کوم ګڼې ارزښت لري.

| یوېز | لسیز | سلیز | زرېز | لسز ریز | سلز ریز | میلیو نیز | لسم یلیو نیز | سلم یونیز ز |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۶ | | | | | | | | |
| ۸ | ۳ | | | | | | | |
| ۰ | ۱ | ۲ | ۰ | ۵ | ۸ | ۰ | ۰ | ۲ |

ګڼونه له کیڼ ښي لور ته – لکه د تل په څېر- لیکو او د ګڼونو ځایونه یا کورونه له ښي کیڼ لور ته: هر ځای له ۰ څخه تر ۹ پورې ګڼونه خوندي کولی شي او بیا یې ارزښت له ځایه ځرګندیږي.

یادونه: که صفر د یوه ګڼ کیڼ لور ته وي، چې بل ګڼ پسې نه راځي،نو هغه نه لیکو.

پورته د هر کور لاندې تاسو هغه ګڼ لوستلی شئ، لکه له پورته څخه و کښته ته د دریم لښتکي په سلزریز کور کې ۸ دي، نو د دې ګڼ ارزښت اته سوه زره دی. په دویم لښتکي کې په لسیز کور یا ځای کې ۳ دي، نو دا د دې ګڼ ارزښت دېرش دئ او داسې نور ور زیات یې هغه و ښي لور ته ګڼونه.

ګڼون: د ګڼلو له لارې چې د یوې ډېرۍ(سټ) توکو څومروالی راکوي، دا د دې ډېرۍ دتوکو له ګڼون څخه جوړه ده، چې موږ ورته تراوسه پورې تعداد – چې د پښتو پوهېدنه یې څومره والی دی- وایه یا وایو

ځنې کسان په ځانګړې توګه کوچنیان د ګڼلمرستې لپاره د لاسشمېرونې ( د ګوتو شمېرلو په مرسته) څخه کار اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې موضوع د لا ډېرو روښانولو څخه تېرېږو او په دې بسیا کوو.

ګڼ: په یوه ځای کې چې یو څه شیان ډېر سره یوځای شوې وي، نو وایو، چې ګڼ کسان راټول وو، نو باید فکر ورته وکړو، چې دا به همغه د عربي متعدد نه وي؟

ګڼ ( ډېر یې ګڼونه) هغه څه دي- لکه پورته مو چې ګوته ورته ونیوله – چې ګڼل پرې کیږي.

ګڼون: نن غونډې ته ګڼ کسان راټول شوي وو، چې ومو ګڼل، ګڼون یې تر ۱۲۰پورې رسېده.

موږ په ورځنې ژوند کې وایو یا زموږ ځنې کسان یا لیکونکي، چې په ګڼ شمېر خلک راغلي وو. دلته موخه هم د شمېر څخه زماپه اند دا ګڼ دی. که ووایو، چې نن ... ګڼ کسان یا ډېر ګڼ کسا ...، نو هم موخه پوره کوي.

شمېرل: الماني یې rechnen اګرېزي یې

To comute;to reckon;chage; estimate; to sum up, to value نورهم .....د ګڼونو سره شمېرل کیږي. داپه دې مانا، چې دا ګڼونه د اړونده کارونو یا نښلونو له لارې سره شمېرو. داپه دې پوهېدنه چې دا کمښت، وېش، زیاتون، ځل، ریښنه نیول، اېنتیګرال او داسې نور چې موږ و سرته رسوو، نو ګڼونه سره نښلوو او دا شمېرل دي.



د ګڼونو سره شمېرل:

دا ګڼونه چې یو په بل زیاتوو، یا یو له بل کموو، یا وېش، ترې رابېلېدنې( مشتق) او نور، نو دا کاروني په شمېرپوهنه کې څه بولو؟

دا په دې تړپوهېدنه، چې د ګڼونو سره یو کار یا شمېرپوهنیز کارونه سرته رسوو، چې همدا د ګڼونو سره شمېرل بولو.

د ګڼونو نور ډولونه:

که موږ څلور افغانۍ ولرو او پنځه افغانۍ راباندې پور وي او داڅلور افانۍ پهپور ې ورکړو، نو له څلورو پنځه کموو – نورو شمېرنیزو کارونو څخه یې تېرېږو- او داسې یې لیکو:

$4 - 5 = -1$

دا -۱ خو پیداښتي ګڼ نه دی، نو له دې امله دا ګڼونو چې پیداښتي ګڼونه ورسره شي ټولګڼو ته غزیږي او ټولګڼونه داسې لیکو.

ټولګڼونه:

{...- 4, -3, -2, -2, 1,0,1,2,3,4,5- ....} دا د ټولګڼونو ډېرۍ ده .

rational Zahlen:راشنل ګڼونه: هغه ګڼونه، چې د ټولګڼونو د ماتو په څېر لیکل کیږي یا لیکلکېدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما دا هوښيار ګڼونه بللي. دا ناخيالي هم بللی شو، چې ابراشتل يې بيا خيالي ګڼونه وبولو( پسې راځي)

Das rationale Denken  رښتيا اند يا رېښتونی اند.

Der Mensch als rationales wesen انسان د يوه  رېښتينې شته په څېر.

هوښيار، پر فکر باندې سم او يا  موخور.

Ration هره ورځ  د خوراکي موادو وېشل شوې ډېرۍ._

دا ګڼونه داسې ليکو:

يا

په پورته کې دا مات دي، چې دا پورته کرښه يې نځښه ده، پنځه ماتباندې او دا اوه يې ماتلاندې بلل کيږي. موږ ورته صورت او مخرج وايو، خو زه نه پوهيږم، چې له دې څه پوه شو يايې ترپپوهېدنه څه ده.

له دې نو څه وپوهيږو؟



دلته د بېلګې په توګه يو يووالی ( موږ به ورته وايو واحد، خو ناسم دی، ځکه دا يو نه دی) په اوه برابرو برخو يا ټوټو وېشل کيږي او پنځه ترې اخستل کيږي. لکه که يو درمند ولرو او دا درمند  د بزګر او خاوند په منځ کې داسې ووېشل شي، چې د درمند د اوه برخو څخه پنځهبرخې دې بزګر ته ورکړي، نو داسې يې ليکو.

لوستل يې: پنځه پر اوه يا پنځه له اوه او يا پنځه اومه، همداسې که ولرو:

نو دا هم داسې لول: پنځه دېرش په سلو يا پنځه دېرش له سلو  او يا پنځه دېرش سلمه ( له شل کاله را په دې خوا زموږ ډېر ژبپ،هان او نور ليکوالان دې ته ډېر ناسم پنځه دېرش سلنه وايې، چې د ژبې او شمېرپوهنې له لارې سره ډېره بېلاري ده. زه تل دا هيله کوم، چې داسلنه نه شته).

ګورئ چې پيداپښتې – اوټولګڼونه هم د دې ګڼونو برخه ياښهيې برخدېرئ ده، چې هر يو يې يو ماتلاندې لري.

يو بل ډول مات هم لرو، چې هغه لسميز مات بلل کيږي او داسې يې ليکو: لکه څنګه چې ورسره بلد يو، له کيڼ ښي لور ته:

0,378  دلته په دې ګڼ کې په يوېز کور يا ځای کې صفر دئ، پسې لسميزه نځښه ده پسې داسې لوستل کيږي: درې، اوه، اته او ...

څه ترې پوهيږو؟

په لسميزو ځايونو کې له کيڼ ښي لور ته لومړی ځای لسميز ، دويم ځای سلميز او دريم ځای زرميز او دا سې نوردې. دا په دې ترپپوهېدنه  چې درېلسميز اوه سلميز او اته_

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرميز دي. له دې داسې پوهېږو، چې درې له لسو، اوه له سلو او اته له زرو. داسې هم په ناورځني ډول ويل شو، چې درېسوه اته له زرو ځو که دا په دې بل مات غواړی واړوی دا بيا داسې ليکو:

او دا مات يې داسې يې لولو: درېسوه اته اويا پر زرو يا درېسوه اته اويا زرمه

Irationale Zahlen( شمېرپوهنيز)ابراشنل ګڼونه ، ګڼونه چې يواځې د ناپای لسميز مات په څېر ليکلکېدی شي ; ، او نور. اې د اويلر ګڼ او پي د ګردی ګڼ بلل کيږي. چې دا په لسميز مات ناپای ليکنه لري او نه پرې کيږي.

دا ګڼونه ياخيالي او يا ناهوښيار ګڼونه بللی شو.

د دې دواړو ګڼونو ډېريو ټولنې ته ريل يارېښتوني ګڼونه وايو.

او دا نو دا موږ چې ورسره شمېرل کوو، د دې ټولو ګڼونو ډېريو ټولنډېری ده.

يادونه:

زموږ د درې ژبې شمېرپوهنيزو ليکنو کې يې، چې په پښتو مو هم همداسې ترې رانيولي دا ناطق او غيرناطق اعداد بولي. نه پوهيږم، چې په کوم دليل او يا به په عربي کې



همداسې بلل کيږي. وړانديز: که هوښيار او ناهوښيار ګڼونه يې وبولو، هم موخه ور او هوښيار به وي.

دا وی ګڼل او اړونده ويونه يې بايد له لاس څخه ورنه کړو: موږ په شمېرپوهنه کې دا ګڼل نږدې د شمېرلو له پاره له لاس څخه ورکړي يا د دې وې له منځ څخه تلل مو لا له پخوا څخه پيل کړي، خو دا بايد بېرته راوګرځوو په هغه خپله اړونده کړلو سره. هغه چې په درې کې ورته شمردن د شيانو د ځومره والي لپاره کاروي، موږ هم په پښتو کښې دې ګڼلو ته شمارل يا شمېرل وايو، داپه دې پوهېدنه، چې هغه خپل ګڼل مو د دې شمېرلو لپاره له لاس څخه ورکړي.

يادونه: که يو وی ډېر وخت ونه کارول شي او په ځای يې بل وی وکارول شي، نو دا وی بيا له ژبې ورکيږي، نو راځی وهڅېږو، چې دا ګڼل راڅخه ورک نه شي.

لنډ بيا:

ګڼل : د يوې ډېری د توکو د څومره والي اوڅو موالي د څرګندولو لپاره دا شيان ګڼو. دا مو تل لرده.

ګڼنه: د ګڼلو نوم يا سبستانتيو ( دا مو هېر کړي يا نه لرودل)

ګڼ(ز. ګڼونه). هغه څه چې ګڼل برې کيږي ( دا نه لرو يا مو هېر کړی).

ګڼ( څه شيان يا کسان، چې يو ځای راټول او يو له بل سره تنګ ځای په ځای شوي يا ځای نيولی وي) لکه: نن په غونډه کې ګڼ کسان يا ډېر ګڼ کسان ( د ګڼشمير څخه څه نه پوهيږو) راغلي وو. دا مو لروده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګڼون: تعداد يا انګرېزي او الماني Anzahl, Nummer ( دا ورځنی نه دی، دپام وړ دی)

ګڼه: شماره . دا مو لروده.

ګڼنخښنه: ګومان مې دی، چې دې ته رقم او ارقام وايو(؟). زه نه پوهېږم، چې له ارقامو څخه څه پوهېږو، که څنګه؟

يادونه: زما ليکنې داسې راته برېښي، چې زه به سوچ بوچ ځانله وم او ځانله يم هم، له دې به دا و لاس ته راوړنه ولرو، چې د ما مغذ به څه سم کار نه ورکوي. که داسې وي، خو دا تېر کار شوی، تاسو مې ورسره ستړي کړي ياستئ نو له دې پسې به نور- که تاسو دا زما د ليکنو لوستونکي غواړئ- که څه هم نور څه نه شم کولی خو نور به له ليکنولاس واخلم.

يواځنۍ هيله مې دا ده، چې څوک راسره ستړي شوي نه وی.

دا يو څو غونډالي دې هم په ورزياتې وي:

Also, es gibt keine größte **Zahl**



So there is no largest **number**

نو، خورا ستر ګڼ نه شته.

Das ist der Abstand zwischen jeder **Zahl** und dem Mittelwert

This is the distance between each **number** and the mean

دا د هر ګڼ او منځ ارزښت په منځ کې واټن دی

Lassen Sie mich die **Zahl** errechnen

So let me get the **number**

اجازه راکړئ چې ګڼ يې وشمېرم. او د انګرېزي ژباړه به يې داسې وي: اجازه راکړئ ګڼ راواخلم ياراوباسم يه ښهيې : و لاس ته راوړم.

# نوې څېړنه

د کازوس يا اړيکټينګوونو روښانونه له پوښتنونمځاينيوو سره:

بيا د اړيکټينګوونو پېژند: تازه په پښتو ژبلار کښې حالت يا اړيکټينګونی، هغه بڼې دي، چې کړنوييڼه، نومويونه، کسان، يا خويوييونه يې نيسي يا غوره کوي، چې په غونډله کښې خپله دنده ووايي يا روښانه کړي. په پښتو کښې دوه اړيکټينګووني رېکتوس ( ولاړ) يا کړونی او اوبليکوس ( پورت) يا نه کړوني لرو. ما دې ولاړ ته په تېره ليکنه کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړونی او نه کړونی بللي وو، چې هلته مې د نوم لور غوره رااېستلی وو، خو دا سې لکه چې موخه-وره نه وه، اوس د کړنوییونو رول غوره دی او برېښي، چې داسې سم هم دی.

## د اړیکتېینګونو پر دې نوې بڼه باندې و لیکنو ته بیا د سمون له امله اړ شوم.

زه او د مور ژبپوهان او ژبمینه-والو د ما د ټولو لیکنو سره او په ځانګړې توګه د اړیکتیګوونو د لیکنو سره ځکه ستونځې لري، چې دا موضوع پرته له ما څخه بل چا نه ده څېړلې، نو زه هم تل بیا، بیا باید وداسې لیکنو ته اړ شم او دا لیکنې به د تیرو لیکنو سره په ټپیر کښې نه، چې د هو سمون به وي.

څنګه مې و دې لیکنې ته لار و موندله؟

د ما په لومړیو لیکنو کښې مې همغه د الماني اړیکتیګوونی نومیناتی، ګینیتیو، داتیواو اکوزاتیو لیکلي وو، چې و پوهېدم پښتو اېرګاتیو ژبه ده، دا په دې پوهېدنه چې نومیناتیو او



اکوزاتی نه لري او دا مې و ځان ته روښانه هم کړه، نو دا مې پوره غزولې و څېړله او د ،، پښتو یوه اېرګاتیو ژبه ده،، لاندې مې یوه کوچنۍ لیکنه د کتاب په څېر هم په ketabton:comکښې خوره کړه.

د ۲۰۲۵ ز ک د اګست څخه وروسته مې و دې ته پام شو، چې په دې ،،پښتو اېرګاتیو ژبه ده،، کښې مې دا اړیکتېینګووني خوز نده نه دې بېرته ورکړې او همغه ګومان مې سمه لار و میندله، نو د دې نومه-ونو له بدلون سره مې نوی لیکنه وکړه.

مور اوس دا دوه اړیکتېینګووني ځوزنده او نه خوزنده لرو، چې هر یو یې دوه برخې لري.

دا دې هم ورزیاته وي، چې په هغو لیکنو کښې په دې هکله ناسمونونه نه شته، خو هغه نومه-وني یې باید بدلې شي. په پای کښې مې ودې ته پام شو، چې د پښتو پر خوزنده اړیکتېینګوونو باندې غوره رول د کړنوویونو دی او نه د کړونو، نو دا بدلون هم را ته سم وبرېښېده، چې لیکنه مې په همدې لار لورېزه سمه و لیکم.

پیل یادونه: دا چې هغه د مخه غونډالې اونور څه د اړیتینګوونو په هکله لیکل شوې وې، هغه همهغسې باوري دي. دلته یوازې د اړیکتېینګوونو نومونه سره بدل شوي. نوره لیکنه یا لیکنې همهغسې سمې دي.

په هغه د مخه د اړیتینګونو په هکله لیکنوکښې د نومویيونو رول را وتلی وو، چې کړونې، پرېکړونې او نه کړونې مې بللي وو، خو هغه د رېکتوس او اوبلیکوس پوهېدنه ما د اړونده نه سم اند سره نا سمه کړې وه او یا د نومویيونو غوره-والې څخه نه شوم تېرېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا اوس ګورو، چې د دې نومه-ونه خوزند او نه خوزند سمه ده او وبه ګورو، چې د نومځاینیوو پر ځای باندې د کړنویونو رول، چې له همدې امله یې دا غوره-والی دی.

دا چې په پښتو ژبه کښې بڼه بدلون نه شته، نو پر ځانګړې توګه باندې یې باید زبلاریز توپیر هم جوت وي.

دا چې پښتو ژبه اېرګاتیو ژبه ده، نو پښتو ژبه نومیناتیو او اکوزاتیو نه لري یا نومیناتیو او اکوزاتیو ژبه نه ده او دا ترانزیتیو نومیناتیو او اکوزاتیو ابجکت لري نو پښتو ترانزیتیو او له دې امله اینترانزیتیو ژبه هم نه ده.

## په پښتو کښې کړنوییونه:

پښتو ژبه د دې لپاره هغه کړنوییونه لري، چې کړوني او پرېکړوني لري، چې همدا یې د وخت اړونه دندې سره بدلوي او دا له نومځاینیو سره هم روښانه کیږي، چې پښتو د عربي



،، انا، انت، هو؟؟،، لپاره ،، او د الماني ،، ich ، er;du; ،، لپاره وخت اړونده دوه نومځاینیوي لري. چېرته مو لیکلي.

بیا

الماني ژبه نومیناتیو، جینیتیو، داتیو او اکوزاتیو څلور اړیکتینګووني لري:_

نو ګورو، هغه توپیر، چې د پښتو ژبه یې له عربي ژبې سره لري ( زه په عربي نه پوهېږم،خو دا مې د ګوګل له لټون څخه زده کړل، چې عربي درې اړیکتنیګووني لري، نومیناتیو، جینیتیو او اکوراتیو)، دا به له هغه توپیر څخه ډېر وي، چې پښتو یې له الماني ژبې سره لري، ځکه چې پښتو ژبه دوه اړیکتینګووني رېکتوس یا خوزند او اوبلیکوس یا نه خوزند لري، چې د خوزند اړیکتینګووني دنده یې د کړنوییونو له لورې څخه تاکل کیږي، چې کړنویی یواځې یو کړونی لري او دا بل کړنویی او په همهغه وخت کښې وخت اړونده یو کړونی او یو پرېکړوني لري او د نه خوزند له نامه څخه داسې برېښي، چې دا کړنوویونه او همداسې کړوني نه لري. پر دې باندې باید سم وپوهېږو، چې موخه مو غونډله نه موخه مو اړیکتینګووني دي. دا چې نه خوزند اړیکتینګووني کړنه نه لري، نو په دوی کښې بیا ،، د ما، له تا، پر هغه هغه(هغوی)،، .... نو بیا څه شی دی.

د ا هم باید په ګوته کړم، چې دا خوزنده اړیکتینګووني، په همدې وخت کښې غونډلې هم دي. په پوره غونډله کښې باید دا کړونی او کړنوییونه دواړه وي.

دلته به دا لړ روښانه کړو، چې ولې د اړیکتینګوونو لپاره دا خوزند او نه خوزند نومه-ونه سمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په پښتو کښې اړیکتېنګوونې:

د ۲۰۲۵ زک له اوګوست څخه وروسته مې خپله لیکنه داسې بدله کړه.

بیا: نومځاینیوي: یوګڼ: ره، ما، ته،تا، هغهء، هغه او د ډېرګڼ لپاره، موږ، تاسو، هغوي دلته به له شیانوڅخه تېر شو.

## پښتو دوه ډول اړیکتېنګووني لري:

لومړی: رېکتوس یا ځوزنده اړیکتېنګووني.

دویم: اوبلیکوس یا نه خوزنده اړیکتېنګووني.

و لومړي ته: خوزنده اړیکتېنګووني: له نوم څخه به یې هم و پوهېږو، چې دلته باید



کړنوییونه رول ولري، ځکه چې دا خوزندوالی یې د کړنوییونو دی.

پېژند: خوزنده هغه اړیکتېنګوونی دی، چې دوه ډوله کړنوییونه لري، په دې پوهېدنه چې دا دوه دي:_

لومړی ۱: خوزنده اړیکتېنګوونی، هغه چې کړنوییونه یې یواځې یو کړونی لري د اوس او د تېر مهال لپاره، لکه:

زه کښنیم. زه کښېناستم یا زه ځم. زه لاړم. همهغه نومځاینیوي راځي.

دا دې په ګوته وي، چې دا پوره غونډالې دي.

لومړی ۲ : دا هغه خوزند اړیکتېنګوونی دي، چې کړنویونه یې هر یو کړوني او پرېکړوني، له همهغو نومځاینییو سره لري، چې د وخت په واک کښې سره خپل ځایونه بدلوي.

که ولرو: زه تا وهم. ته ماوهې. تا زه ووهلم. ما ته ووهلې.

ګورو، چې په پورته غوندلو کښې، زه، ما او ته، تا وخت اړونده ځایونه بدلوي.

دا هم پوره غونډالې دي.

نو پوښتنه دلته دا ده، چې ایا دا غوندله کړنغونډله ده او که پرېکړنغونډله، ځکه چې هر، زه، ما .... په همدې وخت کښې وخت اړوند، کړونی او پرېکړونی دی، نو له دې امله یې دا د کړوني یاپرېکړوني بلل مو له ستونځو سره مخامخ کوي، خو دا کړنوی به ستونځې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه و نه لري، چې دا دواړه د پېژند له مخې څخه کړونی او پرېکړونی لري. دلته يې هغه منظم کوونکی دا کړنوييونه  دی او له دې امله خوزند هم.

دويم: نه خوزنده اړيکټينګووني: له دې څخه داسې برېښي، چې په دې اړيکټينکونکو کښې کړنوييونه نه شته، چې له دې امله نه خوزنده دي يا خوزند نه دي، نو:

دا اړيکټينګووني، هغه اړيکټينګووني دي، چې کړنوييونه نه لري او د هر کس لپاره همهغه يو نومځاينيوی، ما، تا، هغهء، موږ، تاسو، هغوي لري او هغ ،، زه، ته، هغه، په کښې نه شته، چې دنده يې ګورو چې کړوني نه دي، نو دلته څه کيږي يا څهشوي، ځنه چې دا ما، تا ...، خو کړوني. دا د پوهېدنوړونکو مورفيمونو ،،د، له، پر، په، تر، و،، له لارې څخه  پوهېدنه له کړونو څخه و نه کړونو ته وړل کيږي.

دا هم دوه دي



دويم۱: د خاوندوالي اړيکټينګوونی:

بېلګه:   د ما لپاره. ګورو چې دلته  ،، ما ،، څه نه کوي يا د کړوني دنده نه لري. نو څه شوي دي؟

له ،، د ،، سره د ،، ما،، دنده يا پوهېدنه، چې کړونی دی  و  ،،د ما،، ته يووړل شوه، چې دا ،، د ما،، نه کړونی دی يا شو. دا روښانه ده، چې څه نه کوي. دا د خاوندوالي اړيکټينګوونی دی، د پسېځاينيوي يا د اړيکويي ،، لپاره،، سره.

دويم۲: دا تيويا د اړيکوييونو اړيکټيګوونکي او ابلاتيو- يا رابېلېدونکي اړيکټينګووني:

يادونه: د دې په نوم ټاکلو کښې بايد په ګډه فکر وشي. دا ژبلاريز نيمګړی دی، پوره يې پر ګډه باندې....

د راتلونکي لپاره: د کړنوييونو دنده ګوره دلته غوره او ټاکونکي نه ده.

بېلګي:  له پوښتننومځاينيوو څخه يا سره پيل کوو.

---- له يوڅه، له يو چا (نوم يا نومځاينيوی ما،تا،هغهء) سره(څخه، کره، پسې).

---- په يو څه، په يو چا (نوم يا نومځاينيوی ما، تا، هغهء) کښې.

---- پر يو څه، پر يو چا (نوم يا نومځاينيوی ما، تا، هغهء) باندې( پورې ، يو پورې و نښته)

---- تر يو څه، تر يو چا (نوم يا نومځاينيوی ما، تا، هغهء) پورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---- و یو  څه، یو چا  (نوم یا نومځاینیوی ما، تا، هغهء) ته.

یادونه: په پورته کښې د هر اړیکويي لپاره  خپل اړونده پوهېدنوړونی مورفېم راځي، لکه چې پورته مو راوړي.

یادونه : دلته هر یو پوهېدنوونکی مورفېم خپل اړونده پسېځاینیو او اړیکوی لري، چې د هغې بل ډوی راوړل ناسم دي.

یادونه: دا ،، تر ،، د موړ د لیک لوست خاوندان ټول ناسم کاروي. د ې اړیکوي ،، پورې،، ته تل پام وي، چې دا له ،، تر،، سره باید وي او بس. د بل هر اړیکويي یا پسېځاینیوي سره یې کارول ناسم دي.

بیا و ،، تر،، ته، چې د موړ ژبپوهان او ژبمینه-وال یې ژبلاریز سم نه کاروي.



بېلګه: د دوه ډلو په ،، منځ،، کښې روغه کېږي او نه تر منځ.

تر منځ یواځې هلته راځي، چې اړیکوی ،،پورې،، پسې راتللی شي او بس.

غوره یادونه: په رېکتوس کښې د کړنوییونو د دندې له امله اړیکتېنګووني ټاکل کېږي او په اوبلیکوس کښې دا غوره دنده د نومځاینیو د دندې بدلېدنه د مورفېمونو، د،له، تر، په، پر، و، له لار څخه(سره) ده.

دلته باید یوه غوره یادونه د څرګندونو سره راوړل شي

# دریمه برخه

# پښتو یوه اېرګاتیو ژبه ده

ګرانو لوستونکو! په لیکنه کښې به د تخنیکي ناسمو لیکنو بخښنه راته کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسریزې پر ځای باندې

ګرانو هیوادوالو!

که د سریزه له ورسره بلدو سریزو سره توپیر لروده یا توپیر لري، نو بخښنه به وي او زه هم و همدې ته ځان داسې لېږ اړ بولم.

## له پیل څخه د مخه

د پښتو د ژبلاریز سمې زده-کړې د ژبپوهانو لومړنی دنده ده او بیا یې د همدې سمې ور ښولو دنده ده. دا دې داسې لېږ ستوغه خبره نه وي او دا خبره نو ولې کړم یا کوم؟
زه پر دې باندې باورې یم او دا مې ښوولې هم ده، چې پښتو اېرګاتیو ژبه ده او چې څوک

<u>پښتو یوه اېرګاتیو ژبه ده</u>

۱۳۶ پر دې د پښتو پر اېراتیووالي باندې و نه پوهېږې، هغه د پښتو پر ژبلار باندې هم بیا نه پوهېږي یا نه شي پوهېدلی، ځکه چې موږ ډېر ناسمونونه د پښتو په کاز یا کېز الماني یې کاسوس، چې پښتو اندول یې د روښانه پېژند له مخې څخه آړیکټېنګوونی دی او ما تر اوسه پورې ډېر زړه نا زړه حالت باله.

که رښتیا ووایم، زه نور لږ ستړی یم او دا سریزه هم نوره نه شم غزولی.
دا کتاب مې له هغوخورونو څخه را یوځای کړی، چې د دعوت په درنه خپرونه کښې مې خواره شوي دي، نو کېدی شي، داسې یو په بل کښې لږ ننوتي وي، خو دا بیا هم ژبه پوره او غښتلي کوي، د ما په اند به پروا ونه لري. دا کتاب او داسې کتاب په پښتو ژبه کښې د لومړي ځل لپاره لیکلکیږي، نو نابلدتیا به هرو مرو لري.

له ټولو پوهانو او په تېره بیا له ژبپوهانو څخه هیله: پوهنه د یوه ملت نه، چې د نړی د وګړو خاوندوالی دی، څوک یې یواځې خاوند نه شي کېدی او څوک دومره وربانديې نه شی پوهېدلی، چې پر ټوله پوهېدنه باندې یې دعوه وکړي. په پوهنه یا ژبپوهنه کښې رقابت باید نه وي، چې د ما خبره دې له ده او هغه څخه سمه وي یا دې نو په دې کښې بل څوک څه غواړي، بې له دې، چې دا یې په خپله کړنه کښې ښوولې وي. په یو څه ټینګار په کار دی، چې هغه یې سمون او ناسمون دی.
پښتو ژبه په ټولو پوهنو کښې ډېرې ستونځې لري، خو د پښتو ستونځې یواځې پښتانه اوبی کولی شي او له دې امله پښتانه پوهان و یوه ګډ کا ر ته سره اړتیا لري.

په هره پوهنه کښې سم او ناسم پژندلکېدی شي، نو پښانه پوهان باید په ګډه په ځانکړې توګه د ژبپوهنې و سمون ته ملا راوتړي او څوک، چې فکر کوی، په ژبه کښې څه کړی شي، هغه مه ترې بې برخې کوی، دا د پوهانو پوهنیزه او اخلاقي دنده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څه د مخه راوړنې: اړیکتینګووني، چې اړیینې راته برېښي

د کړوني اړیکتینګووني: زه ځم، زه منه خورم. ما منه و

د پرېکړوني اړیکتینګووني:  زه پیشو وډارولم

د خاوندوالي اړیکتینګووني: د ما کتاب سپین رنګ لري. سپین کتاب د ما لپاره راوړ. سپن د ما مخامخ ناست دی. د لته لپاره او مخامخ د خاوندوالي اړیکوییونه یا پسېځاینیوي دي.

د پسېځاینیو یا اړیکوییونو اړیکتیګووني: له یو څه ځخه ( سره، کره،پسې)، په کور کښې، پر کور باندې، تر کور پورې، چې همدا اړونده نومځاینیوي تل له همدې پسېځاینیو یا

**پښتو بوه ابرګاتبو ژبه ده** .

۱۳۷ اړېکنیونو پسې د اړیکتینګوونو جوړوني لپاره راځي. دا مې ډېر ځله لیکلي، چې د موږ ژبپوهانو د داسې لیکنو سره نابلده دي او دا لیکنې، چې ژبلاریز ډېرې اړینې او ترې تېرېدل یې ژبلار ډېره زیانمنه کوي.

دا به په دې بنستیزه لیکنه کښې هم ښه څېړلشوي وي.

تکیه-اړ یا کلیتیکي نومځای نیوي:

۱ -- پسېتکیه-اړ نومځاینیوي مې، دې، مو، یې

--- روښانونه (روښانه-ونه): د مې(دې، یې) د کارولو ستونځې، چې کله د رکتوس او کله د اوبلېکوس په څېر کارول کیږي او کارونه یې د کړنوییونو او خوییونو په واک کښې ده. کتاب مې واخست. دلته مې کړونی دی. کتاب مې شین رنګ لري.  دلته کتاب مې دلته دا د خاوندوالي دنده لري او اوبلیکوس دی. ما کتاب واخست. د ما کتاب شین رنګ لري.

--- یادونه: پورته په ،،روښانه-ونه،، کښې دا کرښه په دې پوهېدنه ده، چې دا ،،روښانه،، د ،، -ونه،، سره تړلې ده یا یو ویی دی، ځکه چې په داسې ځایونو کښې په ،، ه،، پسې بل توری نه شی تړلکېدی.

په کړوني او پرېکړوني کښې:

سپین مې وهي. ( مې پرېکړونی دی. اوس وخت)
سپین زه ووهلم.( دلته مې نه راځي. بل ځانګړنوالی تېر وخت).
په اوس وخت کښې ګوره چې ،، مې،، نه راځي. دا  ولې؟ دا همداسې ده.
کتاب مې سپین رنګ لري. دلته  مې د کتاب خاوند دی. د خاوندوالي اړیکتیګووني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

--- و مخ ته تکیه اړ نومځاینیوي را، در، ور : دا ( مختکیه: دا ژبلاریز سم نه دی، دا ،، و مخ ته ( دا د خاوندوالي اړیکتینګوونی، نو داسې لنډهونه یې سمه نه ده) تکیه-اړ دي) و مخ ته تکیه-اړ نومځاینیوي

۱ – که د کړنوییونو د مخه راشي، نو هغه کړنوییونه لوربز دي یا لوریز وي، لکه تلل، چې ګورو دا کړنوی لوریز دی او همداسې یې بیا راتلل، ورتلل او درتلل لوریز دي. دا دلته د مخه سلبېښ دي. ګوره دا ټوله د پښتو ژبلاریز پوره ځانګړنه ده، چې ګومان مې دی په بله ژبه کښې به نه وي.



– دا که له پسېځاینیوو یا بنه یې اړیکوییونو څخه د مخه وي، نو هلته د تکیه اړ نومځاینیوو دنده و سرته رسوي یا تکیه اړنومځاینیوي دي، لکه: (را،در، ور)( څخه، سره، کره، پسې، باندې، کښې،پورې)، چې له دې سره یې د داتیو کازوس یا د اړیکوییونو اړیکتینګوونی جوړ کړ، چې لرو:

--- له کور(یوڅه) څخه( سره، کره، پسې).

--- پر یو چا باندې.

--- په یو څه کښې.

--- تر یو څه پورې.

--- و یو څه ته.

یادونه: که دلته کوم یو اړیکوی له لیکنې څخه و غورځول شي، نو وبه لرو: لکه که په ،،له کور څخه،، کښې یا په ور څخه کښې، که ،،څخه،، وغورځو، نو و به لرو: ،،له کور،، او همداسې ،، ور،،، دلته به نو یواځې همهغه نوموییونه پاتې شي، چې نور څه به ونه وایي.

## --- خویوییونه او ستایینومونه؟ څېړنه یې.

د لاتین ادجکتیو، چې په الماني کښې یې خویوی بولی، په عربي کښې ورته صفت وایې، چې زه یې پر عربي ژبه پېژند باندې نه پوهېږم، خو د موږ پښتانه ژبپوهان ورته ستایېنوم وایې. پر دې باندې باید هم وپوهږو چې داسې څه ستایېننوم شته او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پردې باندې هم نه پوهېږو، چې دا ستايېننوم به له ستايېلو څخه جوړ نوم وي او که څه چې خبرې پرې کوو يا د لاتين هغه ادجکتيو به نوم وي. دومره پوهېږو، چې هغه پښتو خويووی، خو خوی يې نوم نه دی هغه يې خوي دی، خو کېدی شي، نوم هم شي.

را لنډ به يې کړو:

خويوييونه: ، سپين، زېړ، جګ، غښتلی، ډارن،....

ستايېننومنه: ستايېننوم نه شته. ستايېل (کړنويی) شته، چې مخامخ يې غندل دي او نومونه يې ستايېنه او غندنه دي.



يو څوک د خپل خوی له مخې څخه ستايېل کيږي او يا غندل کيږي، لکه هغه يا سپينګل کاکا ښه سړی دی او هغه ورور يې تورګل کاکل لږ ډارن دی.

دلته ګورو، چې د خويوييونو څخه خوينومونه هم جوړيږي.

لنډ: موږ ستايېل او ستايېنه لرو او ستايېننوم نه شته، خو خويوييونه او له دې څخه جوړ خوينومونه شته.

## ولې ليکو: کړنوييونه يا کړلوييونه، نومويیونه، خويوييونه..؟

يادونه: دا موږ چې وايو، ،،کړ،، دا ګوره څه نه وايي. که وګورو: ،،تلل،، دا خو کړ نه دی او دلته يو څه کړلکيږي يا يوه کړنه و سر ته رسيږي. دا يو وی دی او له دې امله دا يو کړنويي يا کړلويي (پام دې ورته وي) دی، چې ډېر ګڼ يې کړلوييونه دي،نو:
ټولې غونډلې له ويونو جوړې دې او هره پوهنيزه موضوع کښې د وييونو يوه ډله دننه وي، نو کړنه له يوې ډلې وييونو، لکه خوړل، تلل، پرېوتل او نور، دا ټول کړنوييونه ده او همداسې نومويیونه، خويوييونه، اړيکوييونه او نور.

ژبه له وييونو څخه جوړه ده او دې وييونو کښې کړنوييونه، نومويیونه، ...هم دي، چې له دې امله يې داسې نوموني.

**--- کړنوييونه په دوه ډوله دي:**

--- هغه کړنوييونه، چې کړونی نه لري، لکه ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

--- هغه کړنوییونه چې کړونی او پرېکړونی لري، لکه خوړل، اخستل کښې لکه زه منه خورم، زه کتابچه اخلم.

--- په پښتو کښې کړنوییونه نه بڼه بدلیږي، هغه د پوهېدنغزونو یا د پسې تړلو مورفېمونو په مرسته پوهېدنغزیږي. دا تړنوییونه دی: -م، -ې،-ي..

خویوییونه: په پښتو کښې هم بڼه بدلېدنه نه لري، جګېدنه لري.لکه ډېر.خورا ډېر او زښتډېر. سپینچک ګوره د سپین خوی بل ډولولی دی.

:



نومویيونه هم په پښتو کښې بڼه-بدلېدنه نه لري، خو انډول یې د اړونده مورفېمونو سره پوهېدنه وروړل کیږي، لکه، له، په، پر، تر، و، سره د اړونده پسېځاينيو يا اړيکوييونو سره، چې دا د کتاب په دننه کښې روښانه شوي او ځنې یې بیا د پوهېدنغزوونو یا پسې تړلو سره پوهېدنغزیږي، لکه زړه، زړه-ور، لوي، لویوالی او نور. دلته دې و د پښتو ټولو ځانګرتیاو ته هم فکر وکړی.

دلته خو همدا لنډه راوړنه موخه وه. په دې یا د ما د نورو ژبپوهنې په کتابونو کښې غزېدلي روښانه شوي دي.

## د ځنو ژبنیزو توکو پېژند:

دا چې د پښتو ژبپوهانو له خوا څخه د ځنو ژبنیزو توکو روښانه پېژند نه شته، نو له دې امله مې د ځنو لپاره دا پېژندونه بیا بیا راوړي، هیله ده، چې شتړي مو نه کړي. که د لیکنې په ترتیب کې مو ناسمون سترګو ته کېده بخښنه به وي، خو دې پېژندونو ماته پوره خوند راکړ.

وی څه شی دی؟

وی یو خپلواک ژبنیز یووالی( ناسم یې واحد) دی. په پیداښتې ژبه کې دا – د غږ یا سیلبې مخامخ- یو خپلواکه یا ښه یې نااړونده مانا لري. یو ټولیز منل شوی پېژند نه شته او ستونځمن هم دی، ځکه چې دا د کلیمه ،، وی ،، د ژبپوهانو منځ کې یا پوره اوبی نه ده او یا یې په بل څه یادوي . ګومان مې دی یو فرانسوی ژبپوه د ،، وی،، په ځای ساده ،، نخښه،، کاروي. دلته هم د لیکلو او روښانه وني، ښه یې څېړنې و څېړنې ته اړتیا شته او په نورو ژبو کې خبرې پرې شوي نورو ژبوکې یې وګوری..

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کلمه څه شی دی؟

کلمه انګرېزي او الماني يې trem; Begriff ;

د ويي ،، کلمې ،، سره د يوې نخښه-ونې يا يوه اندلرنې يا حدث وهنې مانامنځپانګه ويل کيږي يا پوهېدل کيږي. يوه کلمه يو سيمانتيکي يووالی جوړوي، چې د يوه نومځاينيوي يا يوه اند برخه ده. دا هم همدومره. پوهېږم، چې دا څه همدومره روښانه کولی شم، ډېروخت نيسي، چې دا و سرته رسوم. ډېر نه دی، خو ورسره بوختيا بايد زياته وي ( په بخښنه).



غونډاله: يا غونډله يوه غونډاله له يوه يا ډېرو ويونو جوړ رابند ژبنی يووالی دی. د غونډالکليمې پېژند له بېلابېلو ليدلورو ورکړ شوی دی، چې يو بل سره نه پټوي يا ښه يې نه پوښي. په ټوله کې يوه غونډاله له ژبپوهنيزې لارې، د يوه ستر يووالي په څېر، پېژندلکېدی شي، چې د سينتاکس(پېژند يې ورکړل شوی) له لارې ورکول کېدی شي.ځنې څرګندونغونډاله د خبرو اترو.کمونيکېشن) د خورا کوچني د پوهونی يووالي پېژندل کيږي. خبرکړنې(خبراکت) په څېرمنځ ته راتلی شي، له بل انده څخه دلته د څرګندونې کلمه کارول کيږي.

د غونډالي کلمې ټاکلو لپاره ډېرډوله ليکنې يا اندونه شتون لري، چې د ټولو يوځايکونه نږدې ۲۰۰ ته د غونډالي پېژندونه رسيږي. هرژبنی ښوونځې خپله ځانله د غونډالي پېژند منځ ته راوړي. بېلا بېل سم انديز، فلسفی، د خبرو اترو پوهنيز او ساپوهنيز اړخونه لړ يو بل سره يوغګېزکوي ليدل کيږي. ورته نيولکيږي، ، چې د نخښونو پسې غونډاله يوه يواځنۍ کلمه ده، بلکه يوه ټوله کورنې، چې يو بل سره غوځووني يا ګډغوځوونکې ـ په دې مانا چې ګډ څه سره لري) ځان پسې لري.

کلمه

۱ . ۱Definitionsbefund پېژندپيداکونه

1.1.1Schulduden د ښوونځې دودن

1.1.2Duden-Grammatik د دودن ژبلار-

1.1.3Satz als Subjekt- und Prädikateinheit

غونډاله د سبجکت- اوپرېديکات په څېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

1.1.4Satz als Rede- oder Textelement

غونډاله د خبرو- یا لیکنتوکي په څېر

1.1.5Satz als kommunikative Einheit

غونډاله د خبرو اترو یووالي په څېر

دا موضوع نوره نه غزوو، که څه هم ډېره خوندوره او په زړه پورې ده.



د پېژند پیداکونه : دلته کېدی شي د غونډالې یوڅو خواره شوي پېژندونه بېرته ورکړل شي:

د ښوونځي دودن ـ( دودن د الماني ژبې شننیزه کتابونه دي، چې په هره څانګه یا نړدې په هره څانګه کې یې لري) : د غونډالې د ښوونځي دودن پېژند دی: ،، ژبه یو رابند ژبني یا تړلی یووالی دی، چې له کوچنیو یوونونو( ویونه او ویونډلې یا – ګروپونه) یوځای( اینوول) شوي،،

دا چې غونډالې د یوه وي سره شتون لري( بېلګه یی :څه! دا که غواړی و ما ته یواځنی داسې بېلګه بربېښي)، نو کېدی شي د یوې داسې غونډلې پېژند د ویې څخه توپیر ونه لري یا توپیر نه شو کړی. دا هم روښانه نه ده،، چې د ژبني یووالي لاندې څه پوهړو. یوه ویډله (سنتاګما) هم په خپل دننه کې هم رابند یا پوښلی ژبني یووالی دی. نو له دې امله په پورته پېژند کې دویونو پسې راتلنه یا تعقیب په خپل دننه کې یو ژبنی رابند یا پوښلی یووالی دی

له دې سره پورته پېژند د ویونو موخه-ور پرلپسې (راتلنه) ،، په خپل دننه کې یو رابند ژبني یووالی دی.،، یو په خپل دننه کې رابند ژبني یووالی، بې له دې چې د پېژند له مخې روښانه وی، چې د څه له امله یا کومې لارې یوه داسې ویډله دې ځان له یوې غونډالې سره بېل کړي.

غونډاله ستر یووال یا یوون (واحد ناسم دی) دی، چې د سینتاکس له لارې جوړېدی شي،،

د بلومفیلد پېژند له مخې څخه: غونډاله،، د خورا لویې خپلواک سینتاکتیکې بڼې په څېر ، چې د خپلې لوري د هیڅ ګراماتیکي جوړښت په یوه خورا لویه سینتاکتیکي بنه کې خوندي نه ده. ،،

د دودن ګرامر: د دودن ګرامر زیات غونډالپېزندونه راته وړاندې کوي:

،، یوه غونډاله یو پوښلی یا رابند یووالی دی، کوم چې د سنتاکس له لارې جوړ شوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا بنه یې: غونډاله د وییونو موخورځنګ پر ځنګ باندې اېښوونه ده

مورږ نا پوره غونډالې هم لرو، چې په لاندې ډول یې لږ روښانه کوو: ناپوره غونډالې :

د ،،غونډالې،، کلیمې لاندې نا پوره غونډالې هم راځي، نو داسې غونډالې چې د هغوي اړتیا له مخې یا اړینډوله د غونډالې یو یا ډېر غړي نه وي. بېلابېل تیوپونه سره توپیریږي:

Anakoluth[on] (= Satzbruch غونډالماتېدنه:



،، په څه مو غوښتل بیا... هو بیا مې په یاد راغلل:دا د پرون لوبې په هکله.،،

یوه پیچلې غونډاله دغونډاللړۍ او غونډالزیاتونو سره سړی یو غونډالراګرځېدونکې هم بولي.

غونډالې کړی شي د یوه یوه تړوني( سنیدېتیک) یا د ډېرو تړونو (پولسینډېتیکي) یا بې تړونې( اسینډېتیکي) یو د بل سره وتړل شي.

Beispiel:سینډېتیکي: سینډېتیکي: ،، زه راغلم، ما وکتل او زه بریالی شوم،،.

پولیوسینډیتیکي: ،،زه راغلم او ما ولیدل او زه بریالی شوم،،.

اسینډېتیکي: ،، زه راغلم، ما ولیدل، زه بریالی شوم

نومیزه غونډاله، چې ډېر وخت ترې یا ورڅخه ( له دې څخه) غونډالې بې له مرستندویکړنې دي پو هیږو.

بېلګه: ،، ښځه لاړه، پیسې لاړې، کور لاړ

له انسانانو څخه ویل کیږي یا له انسانانو څخه خبرې ورباندې کیږي یا یوه زېږېدلې ژبه، چې له یوه نا لاربنود شوي ودې څخه ومنځ ته راغلې وي.دلته به دې ته هم ګوته ونیسم، چې،.ژبه -لکه چې څنګه یې زمورږ ژبپوهان وایي- معامله نه ده پیدابښت دی. د ژبې نور ډولونه، لکه جوړې شوې یا مصنوعي ژبې، هنري ژبې، د نخښو ژبې او نورې شته، چې مورږ یې نور د څېړنو نیت نه لرو.. بیا: چې له پیدابښتي ژبې څخه غږیږو، نو له دې سره جوړه پوهېږو، چې ژبه قرارداد نه دی، پرته له مورږڅخه و منځ ته راغلي هغه ویونه، چې په پیدابښت کې په ژبه کې نه و، خو مورږ له دې سره مخامخ نه یو، له دې سره پرمختللي هیوادونه مخامخ دي، چې هغوي نوي څه و منځ ته راوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ټوليز پېژند يا غونډالجوړښت ښونه:

Syntax د سينتاكس د سينتاكس لاندې سرى د غونډالو جوړونو ښوونه پوهيږو. دا كره كوي ، چې څنګه له يوګونو برخو- ويونو - موخه ورې غونډالې جوړيږي - د سينتاكس لاندې سرى يوځاى ايښول شوى پيداښتي يا جوړښتيز نخښه سيستم په ټوليزه توګه ساده نخښنو ته ګډوله لارسيستم پوهيږي



دا لاندې ليكنه، چې الماني ژبې په مرسته ليكل شوې وګورى، چې د پښتو سره سرخوري او كه؟ او كه نه نو په ګډه يې راسمولى شو.

د غونډالو جوړښت

غونډالې د ژبې د توكو له يوځاى موخه-ور يو ځاى ايښوولو څخه جوړيږي.

ګډوله غونډالې- پيلونه

يوه ګډوله غونډاله له دوه يا ډېرو پوره غونډالو جوړه ده، چې هغوي يو د بل سره تړلې ، سم انديز خپلواكې غونډالې دي، چې ګډه موضوع لري او تړنويونو،، او،، او همداسې ،،يا،، سره تړل كيږي. دا ډول غونډالتړنه تنظيم شوې ( بنستغونډاله يا اصلي غونډاله) تړنه بلل كيږي. تړنويونه ( د بېلګې په توګه يا، او) سرى منظمكوونكي تړنويونه بولي.

بېلګه: او

سپين له ننګرهار څخه راځي. خوږه له خوست څخه راځي..

سپين له ننګرهار څخه راځي او خوږه له خوست څخه راځي

زيات وخت د دوه غونډالو په منځ كې يوه سم انديزه تړنه شته وي يا شتون لري.

په لاندې بېلګه كې دويمه غونډاله د لومړى غونډالې له پاره يو لامل دى او لومړى غونډاله د دويمې غونډالې يو سم انديز پسې رتلنه يا پرلپسې ده.

بېلګه: پرلپسې( تعقيب) – لامل

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه نه راځي. هغه ناروغ دئ. د دوه غونډالو سم انديز ګډاړيکوالی د دوه ترنويونو له لارې جوړيږي. سرې کړی شي د يوه سم انديز دليل-پرلپسي-اړيکي د بېلګې په توګه ترنويونه (ولې) چې، له دې امله، ، ځکه چې) و کاروي.

بېلګه:

دا(ولې) چې: هغه نه راځي، دا (ولې)چې هغه ناروغه دی

له دې امله: هغه ناروغه دی، له دې امله هغه نه راځي.

ۂ



ځکه چې: هغه نه راځي، ځکه چې هغه ناروغه دی.

ترلشوې غونډالي د يوې کوما له لارې سره بېليږي ( ما ،، ، ،، بېلېد نخښه بللی. ترنويونه لومړی او يا دويمئ غونډالي پورې اړه لري. هغه دا غونډاله ،، په نخښه،، کوي. سرې کړی شي د ځنو ترنويونو له لارې( د بېلګې په توګه ځکه چې( د غونډالو لړئ پرلپسې سره بدلې کړي، د ځنو سره نه ) د بېلګې په توګه داچې، له دې امله).

بېلګه: ځکه چې.

هغه نه راځي، ځکه چې هغه ناروغ دئ.

ځکه چې هغه ناروغ دئ، هغه نه راځي.

بنسټغونډال – او څنګيزغونډالترنه

ترنويونه د کړنې يا کړنځای ټاکي. د کړنځای ټاکنې پسې سرې کړی شي د سم انديز غونډالترنې دوه اريز- يا اصلي ډولونه سره بېل کړي:

لومړی داچې ترنه، چې په هغې کې کړنه په يوه غونډاله کې په اخر ځای کې ولاړه وي( که غواړئ: ځای په ځای وي). د ترنې دا ډول څنګيزغونډالترنه بلل کيږي يا سرې دا ډول ترنه څنګيزغونډالترنه – يا نيممنظمه ترنه بولې. ترنويونه سرې نيممنظمه ترونې بولې.

بېلګه: ځکه چې( څنګيز غونډالترنه= کړنه په پای کې)

هغه نه راځي، ځکه چې هغه ناروغ دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په الماني ژبلار کې.

دويمه تړنه، چې په هغې کې کړنه يا کړنوی، چې د هغې سره په دواړو غونډالو کې په نورمال تړنځای ۲ کې ولاړ وي. دا تړنه ادوربال(يا ارجمله) تړنه بلل کيږي.

الماني يې:

(Beispiel: *deshalb (Hauptsatzverbindung = Verb in Position 2*

.Er ist krank, *deshalb kommt* er heute nicht

:



که دا پورته په الماني ترتيب وژباړو، نو وبه ليکو: .

په سمه پښتو کې: دا په پښتو کې هم ورسره بلد ځای کې راځي .

بېلګه: له دې امله:

هغه ناروغ دی، له دې امله هغه نن نه راځي.

الماني ژبلار يا ګرامر کې:

بېلګه:

(Beispiel: *denn (Hauptsatzverbindung = Verb in Position 3*
.Er kommt heute nicht, *denn* er *ist* krank

په پښتو کې دا هم په هغه د پښتو ګرامر ور سره بلد ځای کې راځي.

بېلګه: هغه نن نه راځي، دا چې ( ځکه چې) هغه ناروغ دی.

په پښتو کې،، دا چې،، او ،،ځکه چې،، زما په اند همغه يو ډول دي او که څنګه؟

تړنوييزې وييني يا افادې

سړی کړی شي د غونډالو يو سم انديزه تړنه د تړنويونو له لارې ووايي يا افاده کړي. له دې سره يوه برخغونډاله نوميزه کيږي او په يوه تړنوييزه وييڼه يا فاده کې په يوه غونډاله کې ورګډيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېلګه: ځکه چې – له دې امله چې

څنګېزغونډالتړنه: ځکه چې( دا چې ) هغه ناروغ دی، نن نه راځي

تړنوییزه ویېنه: د هغه د ناروغتیا له لامله څخه هغه نن نه راځي.

تړنوییزه ویېنه کې په غونډاله کې د بېلېدنخښې یا کوما له لارې بېلیدنه نه راځي.

دا د پیل راوړنه دې تر دې ځایه پورې بس وي.

.



--- په ژبه کښي د سم یا موخه-ور پېژند لرنې څخه پرته توکلي ویيونه مه وراچوی، لکه ،، کچه،، چې ګومان مې دی و پېژند ته یې د موړ لیکوالان هېڅ پام نه کوي و سرک ته هم کچه ور اچوي او لیکي:،، د سرک په کچه،،، دا به نو څه شی وي، یا همداسې په دولتی، کلیوالي او رسمي کچه. ستره لیکنه وربانديږ شته.

--- په ژبه کښي هم چې جوړښت یې سم اندیز دی، سم اندیزې لیکنې هم اړینې دی. دا دې یواځې د ژبپوهان دنده هم نه وي.

د بېلګې په توګه: که ولرو: سړ کال تر تولو ډېر انګور شوي دي. پر دې باندې باید هرڅوک وپوهېږي، چې دا څه نه وایي. یا تر ډېره برېده. ډېر برید نه شته، خو ډېر برېدونه شته.

هیله: په لیکنه چې تکرار شته، د هغې کتل و ما ته ښه برېښي، هیله ده را سره ونه ځورېږي.

.اړیینه یادونه: له دې درس څخه د مخه مې په اړیکوییونو یوه اخرنۍ لیکنه یا څېړنه وړاندې کړې، په دې اند، چې دا به مې د ژبلار دا برخه پوره یا معیاري کړي وي.

د ما تر اوسهپورې لیکنو کښې مې دا اړیکتینګوونې

لومړی: کروني بللي وو، چې اوس مې دا خوزند وبلل، خکهدلته هه واک دا کروني نه لري، دا کړنوییونه لري، چې خورند دي. همداسې مې دویم لومړی اړیکتینګونې پرېکرونی بللی و، چې هغه هم اوس د خوزند برخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دویم مې په ورته تګه نه خوزند بللی، ځکه چې، په دوی کښې کړنوییونه ځای نه لري او کړونو او پربکړونو پر ځای باندې دلته د مورفېمونو له لارې یې دنده بدله شوې یا نې پوهېدنه یې وروړې او نه کړونې ور څخه جوړ شوې دي.

دواړه و ګورئ. فکر به وړباندې کوو یارباندې کوی، ځکه چې زه زوړ یم او ما خپلهدنده، چې د ځان روغ ساتل وو، هغه موخه و ما ته پوره کړه.

# پیل: پښتو یوه اېرګاتیو ژبه ده



دا چې پښتو یوه اېرګاتیو ژبه ده، له دې سره، چې دا مې پوره تر توانه پورې دلته ښوولې- د ژبلار سره سم- ، نو د پښتو دا تراوسه پورې ژبلار، نوره باید پوره او په همدې موخه لوریزه شي او د ژبپوهانو مخه باید ورته راواړول شي. د ما په ښوولو او ښووندول کښې به بدلون راشي، خو دا یوه ایرګاتیو ژبه ده او ژبلار یې هم د ایرګاتیو ژبې دی، په دې کښې به څوک څه ونه شي ویلی، نو

## راځئ، پښتو په همدې لور معیاري کړو او وده ورکړو.

پښتو یوه اېرګاتیو ژبه ده او په دې چې څوک ونه پوهېږي، د پښتو ژبلار پر لار باندې هم سم – یا -----هېڅ- نه شي پوهېدلی. دا به سره په ګډه وښایو.

په دې به بیا هم ټینګار وکړم، چې د پښتو ژبلار پرته له دې، چې و پوهېږو پښتو یوه اېرګاتیو ژبه ده، بله لار نه شته او پرته له دې به یې سمه څېړنه ناشوني وي، چې ما په خپلو لیکنو کښې ښوولې او پوره روښانه کړې او دا له څو لارو څخه، چې په ژبلار باندې دا لارې تکیه دي.

څو پلونه و مخ ته ځو یا څو موضوعات په ګوته کوو، چې که دلته مې غزولې لیکنه پرې نه لروده، خو په نورو لیکنو کښې مې شته:

۱ – د ا ښوونه، چې پښتو اېرګاتیو ژبه ده:

پر دې باندې باید هر ژبپوه وپوهېږي او همداسې یې بېرته ژبپوهنیزه ور کړي.
۲ – په همدې بنسټ پښتو – چې موږ یې لیکو- ترانزتیو ورب نه لري او همداسې سبجکت او ابجکت او اکتیو او پاسیو هم نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته باید ګډ فکر وشي، دا و ما ته اړیین برېښي، خو اندول یې هرو مرو شته.

۳ – د کړنوییونو ګردان یا بنه-بدلون په پښتو کښې نه شته

۴- د نومویيونو بنه-بدلون په پښتو کښې نه شته

۵ – د خویوییونو بنه-بدلون په پښتو کښې نه شته

۶ – پسېځاینیوي یا اړیکوییونه او دنده یې اړیکې دي: لپاره، څخه،سره، کره ...

یادونه: پښتو مخځاینیوي یا پربېوزېشنونه نه لري.



– مورفېونه. هغه غوره یې: پوهېدنوړوني له، تر، پر.. او پوهېدنغزوني یا سفېکسونه

۸ - اړیکټینګوني او همدا یې دندې دي. ما د مخه حالت بللی اود موږ ژبپوهانو، که داسې کله رایاد کړي وي، نو پېر یې بللي، خو د دندې له مخې دا د وییونو په منځ کښې اړیکې ټینګوي، چې له همدې امله یې دا نوم کېدی شي.

د موږ یوه ستره ستونځه نابلدتیا ده، چې دا د ژبې وروسته- پاتېوالی دی او هر څه یې را ته ستونځمن کړي دي، خو دا چې له خپلې ژبې او د هغې له وییونو سره بلد یو، ورسره بلدېدل یې دومره ستونځمن نه دي. اول پرېپوهېدل، بیا بلدېدل.

پښتو ژبه ډېرې ځانګړتیاوې لري، لکه پورته مو چې ځنې په ګوته کړل، نو له دې امله له نورو ژبو څخه سخته او د پېچلي ژبلار لرونکې ژبه ده، چې دا د ما په لیکنو کښې روښانه کوم..

## له الماني سره یې پرتله باندې کوونه

زه غوښتوني دا لاندې الماني پر پښتو باندې نه ژباړم.

الماني ژبه څلور کاز، کاسوس یا بنه یې اړیکتیګووني case & Kasus لري، بنه بدلیږی یا فلکتیرن کیږي او له پښتو سره یې پرتله کونه:
یادونه: له الماني پسې بیا پښتو راځي.

den <u>Nominativ</u>, 1. Fall, Wer/Was-Fall

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی:په پښتو کښې دا د کړوني اړيکټينګووني. د څوک، چا، څه. دلته ګوره نوميناتيو نه شته. دلته کړونی دی. دلته دا پوښتنځاينيوي درې دي او دا هم د اوسمهال لپاره. دا په وروسته ليکنه کښې روښانه شوی.

دويم: د نه کړوني اړيکټينګووني. دا په درې ډوله دی:

دويم ۱ : د پرېکړوني اړيکټينګووني. چا، څوک، څه. دلته ګوره چا او څوک ځايونه سره بدل کړي دي. وروسته روښانه کېږي.

دا ګوره پرېکړونی دی، چې الماني يې نه لري.

den Genitiv, 2. Fall, Wes(sen)-Fall



دويم۲ : د خاوندوالي اړيکټيګووني. د چا، د څه. دا په پښتو کښې هم لرو.

den Dativ, 3. Fall, Wem-Fall يا د اړيکوييونو اړيکټينګووني

دويم۳ : د داتيو يا اړيکوييونو اړيکټينګووني. له-، په-،پر- و- تر-. ترچا، تر څه، په چا، په څه او ..... دا هم په پښتو کښې لرو، خو دلته له پسېځاينيو، څخه، سره، کره، او پسې سره. ګورو چې پښتو مخځاينيوي نه لري.

den Akkusativ, 4. Fall, Wen/Was-Fall

اکوزاتيو حالت: پښتو اکوزاتيو ژبه نه ده

په لاندې کښې يې په الماني ژبې بېلګه

*“.Die Frau gibt ihrem Bruder den Hut ihres Mannes,,*

*Die Frau* das Subjekt (im Nominativ),gibt(transitiv verb) *ihrem Bruder* das Dativ-Objekt (= Ergänzung im Dativ), *den Hut* das Akkusativ-Objekt (= Ergänzung im Akkusativ) und *ihres Mannes* das .(Genitiv-Attribut (= Ergänzung im Genitiv

پښتو يې: ښځه(کړونې( دا په الماني کښې سبجکت( په نوميتاتيو کښې) دی)) و ورور ته( داتيو يا د اړيکويينو اړيکټينګووني دی) د هغې( خاوندوالی) د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېره(خاوندوالی( دا په الماني کښې اکوزاتیو وو او په پښتو کښې خاوندوالی دی ) خولې( پرېکړونی یا شی) ورکوي( کړنويي، چې کړونی او پرېکړونی لری).

په یو څه، چې یو څه و سرته رسیږي، نو هغه پر یو څه باندې کړنه ده او هغه څه نو باید پرېکړونی وي. داسې ښه نه برېښي، دا ،،ورکوي،، باید د ترانزېتیو ورب انډول کړنويی وي، چې له کړوني سره پرېکړونی ولري.

دا د کړنویيونو لکه، ځم، خورم، د ـــم سره غزونه د نومويیونو اړیکې د غونډالې و توکو ته د هغوي د روښانه کولو لپاره غزوي.

یادونه: په دې لیکنه کښې مو دې لاندې څه ته ګوته ونیوله، چې پښتو نومیناتیو نه لری، خو موږ په پښتو بیا کړونی لرو او کله، کله یې همداسې د اکوزتیو پر ځای باندې نه



کړونی او همداسې د اکتیو او پاسیو لپاره، همداسې د ترانزیتیو ورب لپاره په پښتو کښې کړنوییونه لرو، چې هغه کړوني او پرېکړوني لري.

ګورو، چې دا د کړنوییونو غزونه یواځنی ده.

دا به بیا لنډ وڅېړو، چې و ما ته پوره غوره برېښي.

:

## له اېرګاتیو ځخه ژبلاریز څه پوهېږو؟

اېرګاتیو د ژبو له هغې ډلې ځخه ده، چې هغه نومیناتیو او اکوزاتیو زبې نه وي؟

دا نو ځنګه نومیناتیو او اکوزاتیو ژبې نه دی؟

روښانونه یې: دا د ما ژبپوهنې یا دلته په لومړۍ برخه کتاب کښې روښانه دي، خو دا چې دا تر یوې پولې پورې ستونځمنه ده، نو دا به هم لږ وڅېړو او دا دې هم په یاد وي، چې همدلته په همدې کتاب کښې مې په یوه نابلده او روښانه توګه ښوولې ده.

په پښتو ژبلار کښې دا په اړیکتینګوونو کښې روښانه ده، خو دې د الماني کاسوس Kasus دا دوه اړیکتینګووني به یې داسې لږ روښانه کړو.

Wer; was

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاز یا کاسوس، چې پښتو یې اړیکتینګووني دي تر اوسه پورې د پښتو ادبیاتو کښې داسې منظم نه دې څېړل شوي. د ما په کتاب کښې شته او دا د سم لیکلو لپاره ډېر اړیین دی.

د دې پورته دوه نومځاینیو ته موږ درې پوښتنځاینیوي لرو: څوک، چا، څه، چې دا د هغوي په څېر نومیناتیو نه دي او کړوني دي.

پښتو دوه اړیکتینګوني، کېز یا کازوس لري: رېکتوس او اوبلیکوس یا کړوني او نه کړوني، چې دا هم د پښتو د ژبپوهانو کتابونو کښې هېڅ نه دي څېړل شوي.

دا چې زه په الماني ژبه پوهېږم او هغه مې وتونژبه هم ده، نو دا خپلې غوښتنې به یې د الماني ژبې پر بنست باندې یا له پرتله کولو سره وښایم، چې دا یا لماني یوه اېرګاتیو ژبه

نه ده او په یوه یادوه بېلګو سره به یې هغه بېلوالی وښایم:



پښتو چې ایرګاتیو ژبه ده، نو نومیناتیو اواکوزاتیو ژبه نه ده.

که موږ ولرو:

(Er(1) hat(2) mich(3) geschlagen(4

دا پورته د الماني ژبلار پر بنسټ باندې یوه اکوزاتیو غونډاله ده، اېر(۱) نومیناتیو او میښ (۳) او اکوزاتیو ابجکت دی، چې په پښتو کښې نه شته، نو ژباړه یې د داسې لړروښانونې

سره: ګیشلاګېن(۴) ( د شلاګېن ورب،، تېر وخت) ترانزیتیو ورب دی چې سبجکت او اکوزاتیو ابجکت لري. سبجکت چې نومیناتیو دنده لري او ابجکت اکوزاتیو دنده لري.

بیا: پښتو سبجکت، ابجکت او له دې سره نو ترانزیتیو ورب هم نه لري

د الماني پښتو ژبلاریزه ژباړه یا ښه یې انډول:

هغه زه ووهلم.

په پښتو کښې ،،هغه،، کړونی دی. دا په دې پوهېدنه چې نومیناتیو نه دی( موږ په پښتو کښې دوه کړوني لرو: زه او ما، چې دواړه په بېلابېلو وختونو او له بېلابېلو وییونوسره بل ډول کارول کېږي)، ،،زه،، د اوس وخت لپاره پرېکړونی دی او نه اکوزاتیو. ګورو چې ،،وهل،، هغه کړنوی یا بوختوالیوی دی، چې کړونی او پرېکړونی لري. موږ دلته دا کړنویي ترانزیتیو نه لیکو، دا هغه کړونی دی، چې کړونی او پرېکړونی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بله بېلګه یې له الماني څخه.

(Für(1) mich(2

په پورته کښې (۱) اکوزاتیو مخ-اړیکوی یا مخځاینیوی دی او (۲)اکوزاتیو نومځاینیو دی.

پښتو یې: د ما لپاره.

په پورته کښې ،، د ،، پوهېدنوړونکی مورفیم، په ،، د ما،، کښې و ،، ما،، ته د خاوندوالی پوهېدنه ورېږ او ،،لپاره،، پسځاینیو دی یا اړیکویی دی. ګورو چې د ،، د ما لپاره،، د خاوندوالي اړیکتینګوونی دی.

ګورو، چې د دواړو ژبو ژبلاریز تو پیر یې څومره دی.



نو د دې د پوهېدنې لپاره باید د ژبې په کورنۍ وپوهیږو، چې د ابرګاتیو له کورنۍ څخه ده.

له درې یا فارسي ژبې سره یې پرتله کونه:

زه د فارسي پر ژبلار باندې نه پوهیږم، خو په څه چې پوهیږم او ستونځې یې، نو هغه به داسي وښایم:

تو مرا( یا ما را) زدي.

زه به دا د فارسي ګرامر(؟) له مخې او یا دا درې ژبي څوک یې چې ژباړي -او ستونځې همدلته دي- وژباړم.

تا ما ته ووهل، ځکه چې دوی نه پوهیږي یا ودې ته یې پام نه ویی یا نه شي کېدی، چې پښتو دوه کړوني لري. خو اوس به یې د پښتو ژبلار سره سم وژباړو:

تا زه ووهلم.

ګوری کړوني په پښتو کښې زه او ما دي او د دې لپاره په درې کښې یو من ( د ما اند) او په نورو ژبو لکه انګرېزي او الماني کښې هم یو شتون لري، نو اوس به دا ،، زه،، دی څنګه و ژباړي د ،،را،، پر پښتو پوهېدنه باندې نه پوهیږي یا یې پام ور ته نه شي کېدی.

که اوس له پښتو څخه، تا زه و وهلم، نو څنګه به یې په درې و ژباړم؟....

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته به پر دې باندې يوه غزولې ليکنه وکړم، که وخت اجازه راکړه.

ما پر دې باندې نسبتاً ځان ښه پوه کړی، ځکه چې زه په الماني پوهېږم او الماني يوه نه اېرگايو ژبه ده، چې دا اوس يې پر ژبلار باندې هم پوهېږم، له دې امله و خپلو ستونځوبيو ته رسېدلی شم. ژبه په رېښتيا سره يو ستونځمن رېښه ده.

## په اړيکټينگوونو کښې د کړونو او نه کړونو پوښتنوييونه:

يادونه: دا مې خوزند او نه خوزند اړيکټينگووني بللي.

پوښتنه: د کړونو: څوک، چا،څه.

د نه کړونو : د پرېکړونو: چا، څوک، څه



د خاوندوالي: د چا، د څه. دلته گوره ،، څوک،، نه شته او نه ،، زه،، شته دی.

د داتيو: له چا، له څه. په چا، په څه، پر چا، پر څه، تر چا، ترڅه، و چا، و څه.

دلته پوښتنه دا پورته ،،د، له، پر، په، تر، و او نور. دا نو پوهېدنوړونکي مورفېمونه دي، چې د ،، چا،،، چې د تېر مهال لپاره کړونی او د اوس مهال لپاره پرېکړونی دی

پوهېدنه يې پر نه کړونو و د چا، د څه، له چا، له څه ، پرچا، پر څه، او و نورو ته وړل کيږي. يا دا هغه نومويونه دي، چې د ،، ما ،، پوهېدنه يې، چې کړونی او په اوس مهال کښې نه کړونی دی و ، د ما، له ما، پرما ... ته يې د نه کړونو پوهېدنه وړې ده.

په دې پسې نو بيا پسېځاينيوي يا اړيکوييونه- لپاره، څخه، سره، کره، پسې، پورې، باندې، کښې، ته او که نور وي- راځي .

دا کېږ(کاز)، کازوس يا اړيکټينگووني جوړوي يا د دې اړونده اړيکويونو دنده يې بيا په اړيکټينگوونو کښې روښانه کړې ده:

دا اړيکټينگووني تل د غونډالو په منځنۍ برخه کښې ځای نيسي.

--- دا هم ـ لکه چې ومو ليدل- هرو مرو نه ده، چې موږ دې د هرې بلې ژبې پوهنيز وييونه ولرو، خو بايد ښه وڅېړل شي، چې اړونده يې ميندلکېدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا لاندې به د  ومخ ته ليکنې څه  تکرار او څه ورزياتونه وي، خو داسې په بل ډول ده او و ما ته يې هغه د ليکلې بلډولوالی او لوستل يې و ما ته کټور بربښي. په زړه پورې ده.

## -- پښتو يوه اېرگاتيو ژبه ده. پيل

دا چې په نورو ژبو او په پښتو کښې له دې سره د موړ ژبپوهان سوچبوچ نا بلده دی او دا به دلته په گوته کړم، چې موړ په پښتو کښې ټولې ستونځې هم- له دې سره د نابلدتيا له امله - لرو، نو دا به لږ ښه وڅېړو او دا به د خبرو منځ زړی يا منځټکی وگرځوو:

## له اېرگاتيو څخه ژبلاريز څه پوهېږو؟



يوه پيل يادونه١: دا به په داسې يو ډول وښايو، چې دا ښوونډول به يې همداسې نابلد وي، لکه خپله دا د څېړلو څه، خو پوهوړ دي.

-- په هره ژبه کښې هر ژبتوکی يو پېژند لري او په بنسټ يې دنده پېژندل کيږي، بېلگه يې راوړل کيږي او بايد راوړل شي.

## پېژند:

اېرگاتيو ژبې د ژبو له هغې ډلې څخه دي، چې هغه نوميناتيو او اکوزاتيو ژبې نه وي.

دا نو څنگه نوميناتيو او اکوزاتيو ژبې نه دی؟

## روښانونه يې:

گورو چې خبره ټوله په کاسوز يا کاز case & kasus کښې ده.  ما دا د دې نوم  له دندې سره سم اړيکنيوونی يا ښه يې اړيکټينگوونی بللی، چې دا يې ټيکټاک خوی يا کارونځای دی. دا چې پښتو نوميناتيو او اکوزاتيو ژبه نه ده، نو هرو مرو له اړيکټينگووني سره مو سر  او کار دی.

لومړی به د الماني ژبې کاسوس داسې لږ يا د کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ – الماني ژبه چې د ابرګاتيو ژبو له ډلې څخه نه ده، څلور کاسوس يا اړيکتينګووني لري: بې له څېړنې

نوميناتيو، جينيتيو، داتيو او اکوزاتيو.

د کازوس سره سم يا له دندې سره يې سم په الماني کښې نومويوونه فلکتيرن کيږي يا بڼه بدليږي او دا نومويونه غوره کوي يا داسې دي:

Ich; mein, mir, mich

دا د الماني نومويونو بڼه بدلېدنه ده، چې موږ يې په پښتو کښې دا بڼه بدلېدنه نه لرو

--- دا د کازوس يا اړيکتينګوونو غوره دنده ده او داسې و مخ ته ځو:

--- و به ګورو چې د Ich لپاره چې نوميناتيو دی، پښتو اړوند دوه نومځاينيوي لرو:



زه او ما، چې د کارولو دندې د ما د ژبپوهنې په کتاب کښې پر ورسره بلده توګه باندې روښانه دي. ( دلته هم ستونځې شته، چې روښانه به يې کړو). بلځای کښې.

-- و به ګورو چې د mein لپاره پښتو اړوند ،،زه،، نه لرو او ،،ما،، يې لپاره ليکلی شو، خو د پوهېدنبدلېدني سره، چې د،،ما ،، پوهېدنه بايد بدله شي او دا د کړونی او پرېکړوني ،، ما ،، نه وي يا د هغوی سره ،، ما ،، نه وي يا بڼه يې: چې هغه کړونی او پرېکړونی يواځې،، ما ،، نه وي. دلته نو بايد د ،، ما ،، دنده د يوه مورفېم له لارې څخه يا پر مرسته باندې بدله شي، چې دا مورفېم ،،د ،، دی او دا ،، د ما،، کيږي، چې خاوندوالی دی.

-- و به ګورو چې د mir لپاره پښتو اړوند،،زه،، نه راځي او،،ما،، يواځې نه شو لرودی، ځکه چې ،، ما ،، کړونی دی، نو بايد يو څه وي، چې دنده يې له کړوني او پرېکړوني څخه ونه کړوني ته راواړوي. پوهېدنوړنه.

---- دا به ګوره ښه په پام کښې ونيسو، چې پر دې باندې به نو موږ دا زه، ما د پښتو د اړيکتينګوونو لپاره څنګه برابروو او ايا د اړيکتينګوونو سره سم دا د پښتو نومځاينيوو لپاره څنګه ترتيبوو يا بڼه يې ترتيبيږي؟

په دې هکله په پښتو ليکنو کښې تر اوسه پورې هېڅ - يا هېڅ بريالۍ او سمه څېړنه نه ده شوې، نو له دې امله هم لږ نابلده او ستونځمنه ده او سره منل هم همدومره ستونځې لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ما هم ورته له هغې بلدې لارې څخه یوه بله د روښانه-کولو لار هم ( هغه بل ډول یې د ما په بل کتاب کښې شته یا به دلته هم راوړل شوې وي)غوره کړه

پر ترتیب باندې دلته به د ، زه،، یا ،،ما،، لپاره دا راوړم:

دا نه څېړم، خو دا چې پښتو ولې نومیناتیو او اکوزاتیو ژبه نه ده، دا به لږ روښانه کړو:

یوه پر المانی باندې یا د الماني اکوزاتیو غونډاله:

Ich schlage dich

په پورته کښې Ich سبجکت، schlagen ترانزیتیو ورب او dich اکوزاتیو سبجکت دی.

که موږ دا پورته غونډاله په پښتو وژباړو یا یې انډول ولیکو، نو لیکو:

د دې پورته په بدنه د اوس مهال لپاره.



--- زه تا وهم.

د تېر مهال لپاره:

(Ich(1) habe(2) dich(3) geschlagen(4

د پورته غونډلې لږ روښانونه:

(۱) نومیناتیو یا سبجګت، (۲) د تېروخت مرستندوي کړنوی، (۳) اکوزاتیو ابجکت او (۴) ترانزیتیو کړنویی دي.

د ا به پروا ونه لري، که دلته هم راوړو، چې په پورته غونډله کښې دا اصلي د غونډلې وییونه شته. دا به وروسته روښانه شي.

د الماني ژبلار سره به سر او کار ونه لرو، خو د پښتو به روښانه کوو.

د پورته الماني غونډالې پښتو پوهېدنه:

---- ما ته ووهلې.

له همدې ځایه څخه به هرڅه په پام کښې نیسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

--- موږ په پورته دواړو غونډالو کښې، کړونی، پرېکړونی او کړنوییونه لرو، چې خپله دا نومونه یې د الماني له نومونو سره پوره توپیر لري.

ګوری الماني همهغه سبجکت دی او ابجکت لري د ترانزیتیو کړنوي سره او له دې امله دا الماني غونډاله اکوزاتیو ده. دا سجکت او ابجکت پر پښتو باندې یا په پښتو کښې انډول یې کړوني او پرېکړوني دي او ترانزیتیو پر پښتو باندې هغه کړنویی دی، چې کړونی او پرېکړونی لري. دلته دې د دې و پوهېدلو ته پوره پام وشي.

--- دا د پښتو غونډالې، نو د ژبلار له مخې کړوني دی. نو په پښتو کښې د اړیکتینګوونو

پېژند:

--- پښتو دوه کاز، کازوس یا اړیکتینګووني لري: رېکتوس( ولاړ یا کړونی) او اوبلیکوس( پروت یا نه کړونی)



کاز یا کاسوس، چې پښتو یې اړیکتینګووني دي تر اوسه پورې داسې منظم یا پر دې توګه باندې یا هېڅ نه دې څېړل شوي. د تکرار بخښنه دې وي.

دا چې دا ډېرېږ غوره دي، نو که لږ ورسره ډېر تم شو هم بده به نه وي:

# پښتو ژبه دوه اړیکتینګووني لري

یادونه: له دې لیکنې څخه د مخه ( له مخ ۱۴۹ څخه) په اړونده لیکنه کښې مې دا نومونه او متن داسې په بل ډول او هیله مې ده چې معیاري شوی به وي، لیکلی. خوزند او نه خوزند.

لومړی: rektus کړونی اړیکنیوونی یا اړیتینګوونی.

دویم: oblikus نه کړونی اړیکنیوونی یا اړیتینګوونی:

یادونه: ما دا اوس پهیوه تېره لیکنه کښې خوزنده – او نهخوزندهاړیکتینګووني بللي او را راته موخه-ور بربښي. دا نو چې څنګه نور تاسو ځغلوئی د اسو کار دی.

دویم۱ : پرېکړونی اړیکنییونی یا اړیتینګوونی

دویم ۲: نه کړوني اړیکنیووني یا اړیتینګوونی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دویم ۲ هم دوه دي:

دويم۲۱ : د خاوندوالي اړيکنيوونی يا اړيتينګوونی.

دويم ۲۲ : د اړيکوييونو اړيکنييونی يا داتيو يا د اړيکوييونو اړيتينګوونی. که دا ابلاتيو يا رابېلېدونکی و بولو، ښه به وي. که وشو په بل ځای کښې به دا لړ روښانه کړو :

لومړی: کړوني اړيکتينګوون: دا چې ښه وربانديې و پوهېږو، دا لانديې يادونه:

## لومړی غوره يادونه: پښتودوه ډوله کړنوييونه لري

۱ ـ هغه کړنوييونه، چې يواځې کړونی لري يا هغه وييونه چې کړل کيږي.

يادونه: دا د خبرو ده، چې دا به دريې وي يا دوه، خو زه اوس د دوه-وو پلوی يم.



لکه: کړوني: زه ځم، زه لاړم....

۲ ــ هغه کړنوييونه چې د کړونې برسېره پرېکړونی هم ولري يا يو ځوک پر يو څه بانديې څه کوي. لکه: زه تا وهم. ما ته ووهلي.

يوه غوره د کړنوييونو له پېژند ځخه:

کړنوييونه په پښتو کښې ښه بدلېدنه نه لري او د دې ښه بدلېدنې اندول يې د سفېکسونو يا هغه پښتو يې پسې تړلی، چې د ندې له مخې ما پوهېدنغزوونی او کاروني له مخې

هداسې دی، بللي، ځکه دا د نورو وييونو سره چې راځي، نو پوهنه يې غزوي او دلته د کړنوييونو پوهېدنغزووني دي. دا پوهېدنه يې چې غزيږي، دا بنستوييونه دي.

اوس راځو و لومړي اړيکتينګووني ته:

دې لاندې ته به هم همدلته پام وکړو:

موږ په پښتو کښې د نومووييونو د يوګڼ لپاره دوه نومځاينيوي لرو، چې دا يې د نورو ژبو سره پوره توپير لري:

لومړی کس:زه، ما.

دويم کس: ته، تا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم کس: هغه، هغه، هغې.

کله، کله د ه پر سر باندې یو ګوډی الف راځي، چې ما تراوسه پورې یا کله نه دي لیکلی.

---او د ډېرګڼ لپاره لرو: موږ، تاسو، هغوي....

یادونه زه به زه او ما د لیکنې د لنډونې لپاره راونیسم.

## د اړیکتېنګوونو یا کاسوسcase; Kasus پیل:

په دې لیکنه کښې داسې په نابلده توګه و مخ ته تللی یم، خو فکر په دې کې وکړی، چې څنګه مې دا د پښتو اړګاتیووالی ښوولی.



موږ له کازوس یا اړیکتېنګوونی څخه و مخ ته ځو او دا په پښتو کې دوه دي، چې همدلته به و ښوول شي. ۱ – کړونی. ۲ – نه کړونی: دا هم دوه دي: ۲ ۱ پرېکړونی. ۲ ۲ نه کړونی او دا هم دوه دی ۲ ۲ ۱ د خاوندوالې اړیتېنګوی. ۲ ۲ ۲ : د داتیو یا د اړیکوییونو اړیکتېنګوونی.

لومړی: کړونی:

--- د اوس او تېر مهال لپاره: له هغه کړنویی سره، چې پرېکړونی نه لري: زه ځم، زه لاړم. پام دې وي، چې دا دنده یواځې ،،زه،، و سر ته رسوي.

--- د تېر مهال لپاره کړنوییونه، چې پرېکړونی لري: زه منه خورم، ما منه وخوړه.

یادونه۱ :

په پورته کښې ګورو، چې د اوس مهال لپاره ،، زه،، کړنوی راځي او د تېر مهال لپاره ،، ما ،، ، چې دا ،، ما ،، به وروسته هم مل وي د مورفېمونو له لار څخه، چې هغه پوهنوړونکي دي او اړونده پوهېدنه به و نومو‌ییونو ته یووړل شي.

یادونه: دا یادونه راته همدلته اړینه برېښي، چې غونډلې باید پوره ولیکل شي او نه یواځې پوه وړ او نیمې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو خو د موږ ژبه ده، که کومه غونډاله نیمه ولیکو، نو هم پوهېږو، چې موخه څه ده. لکه: ځم. دا به لومړی کس وي، خو دا پوره غونډله نه ده. د کړنوي څخه یواځې غونډاله نه جوړیږي.

هره غونډله لږ تر لږه له دوه وییونو یا ژبتوکو څخه جوړه، چې نوموی یی دی او کړنوی.

هغه کوچنۍ غونډاله کښې باید د کړنویي سره کړونی وي، لکه: زه ځم او همداسې له ،،وهم،، سره. له دې سره باید کړونی او پرېکړونی وي، که نه! نو بیا دا ناپوره غونډاله ده. زه یو څوک یا یو شی وهم او نه یواځې ،،وهم،، یا زه وهم. دې کښې به ورسته یوه کوچنۍ لیکنه و لیک، چې دا کړونی به په پرېکړونی اړیکوي پورې اړه و نه لري؟

دویم اړیکټینګوونی، کاز یا کازوس :

دا له هغو کړنوییونه سره راځي، چې کړونی هم ولري. دا له نامه څخه هم څرګنده ده.



اوس مهال: ته ما وهې.

تېر مهال: تا زه ووهلم

یادونه: ګورو، چې په کړوني اړیکټنګووني کې زه د اوس مهال لپاره کارول کیږي او ،، ما ،، د تېر مهال لپاره، خو په پرېکړوني کښې په څټ د اوس مهال لپاره ما او د تېر مهال لپاره زه راځي.

یادونه: موږ د نه کړونو اړیکنیوونو یااړیکټینګوونو لپاره دوه څه ته اړتیالرو، چې هغه به یې د مخه و څېړو او دا دوه اړیکټینګوونو کې به دا په یاد ولرو، چې،، ما ،، په یوه کښې د تېر مها لپاره کړونی او بل کښې د اوس مهال لپاره پرېکړونی دی، نو دا ،، ما،، په نورو اړیکټینګوونو کښې داسې خپلواکه دنده یا هغه لرلې پوهېدنه نه شي لرلی، چې هغه یواځې د کړونو او نه کړونو لپاره یې لري. دا دي:

پېژند-
مورفېم د ژبپوهنې یوه غوره کلمه ده او د مورفولوژي( د وییونو د جوړښت او بنې پوهنه) جوړښتبرخه ده. دا کلمه د زړې یوناني له *morphē* (مورف= بڼې) څخه رابېله شوې ده.

لند: مورفېمونه یا پوهېدنوړوني: موږ د پوهېدنوړونې لپاره ځانګړي مورفېمونه لرو او دا دي: د ، له، په، پر، تر، و، چې دا ،،د،، د خانوندوالي اړیکنیووني لپاره دی یا راځي او دا نور د پسېځاینییو- یا داتیو اړیکټینګوونو لپاره کارول کیږي یا له هغو سره راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پسي ځاينيوی (پوستپوزېشن) يا ښه يي اړيکوييونه:  دا د دندي له مخې د اړيکو لپاره کارول کيږي، نو د دندې يا د خوي له مخې  ځکه اړکوييونه بلل کيږي

دا دي: لپاره، مخامخ، څخه، سره، کره، پسې، باندې، پورې، کښې،ته او تر.

د خاوندوالي اړيکتېنګوني لپاره: لپاره، مخامخ( ؟؟). او دا نور يې د اړيکوييونو اړيکتېنګووني لپاره راځي.

او س دا دوه۲ اړيکتېنګوني:د خاوندوالي اړيکتېنګيووني: دما لپاره، د ما مخامخ

دويم ۳ اړيکتېنګووني: د اړيکويونو اړيکتېنووني يا داتيو – لپاره: څخه، سره، کره، پسې، باندې، پورې، کښې،ته-



که نور وي، هغه دي بيا نور ژبمينه-وال وليکي- کارول يې:

--- له هغه څخه( سره، کره، پسې)

--- په هغه کښې.

--- پر هغه باندې. پرما پورې، لکه پرما پورې ختې نښتي.

--- تر هغه پورې.

-- - و هغه ته

يادونه او ډېره اړيينه: د دې ،،تر،، وزر پرېکړې، دا پرته له داسې ځای څخه، چې يو څه پای مومې، په بل خای کښې يې راوړل پوررررره ناسم دي.

--- و ما ته.

يادونه: له دې سره مو دا هم وښوله، چې دا ،،له، تر، پر...،، او نور يې پرېپوزېشنونه نه دي او په دې يادونه کښې غوره دا هم ده، چې پښتو ژبه پرې پوزېشنونه نه لري.

دا به هم په پام کښې ونيسو، چې دا دلته راغلي فونېمونه چې و نومونيونو ته پوهېدنه وړي، هر يو يې لکه دلته چې ليکل شوي، د خپل اړونده اړيکوييونو سره راځي او نه په بل ځای کښې، دا ،، تر،، يواځې د پورې سره راځي او نه په بل ځای کښې او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس به دا اړیکتیننګوونې د تکیه-اړ نومځاینیوو سره هم وڅېړو، خو لومړی د اینکلیتیکي نومځاینیوی، چې له دې سره هم پر منظمه توګه باندې پوره نابلد یو او معیاري کار ورباندې نه دی شوی.

## اړیکتینوونې یا کازوس د اینکلیتیکي او پروکلیتیکي نومځاینیوو سره:

پروکلیتیکي:

لومړی: کتاب مې-، دې -، یې واخست

دویم ۱ : سپین مې وهې.

یادنه: دلته ګوره داد تېر وخت لپاره نه راځي.



زه سپین ووهلم.

دا داسې بربښی چې دا ،،دویم۱ :،، د ،، زه،، لپاره نه راځي.

دویم ۲ : سپین مې ورور دی.

اړیکتیننګوونی د اینکلیتیکي نومځاینیوو سره

لومړی: را، در، ور د لوریز کړنوییونو سره. راځه، درځه....

دویم ـ را(، در، ور) ځخه( سره، کره، پسې، باندې، کښې، پورې)

له دې امله مې دا د اړیکوییونو اړیکتینوونی (هم) بللی یا بولم.

دا اوس په اینکلیتیکی او پروکلیتیکي یا پسې تکیه-اړ او مختکیه اړ نومځاینیوي

یادونه: په پښتو کې د موږ ستونځې تولې همدلته دي، چې پرې غږېدلي یو:

بېلګې:

۱ ـزه له هغه ځخه ( سره،کره، پسې...) لاړم.

۱۱- زه ور ځخه( سره، کره، پسې) لاړم.

لرو: له هغه = ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ - تر کابل پورې. ور پورې. تر کابل = ور

۳ –زه نن په کور کښې یم. په کور کښې. زه نن ور کښې یم. په کور= ور

۴ –کتاب پر مېز باندې پروت دی. کتاب ور باندې پروت دی. پر مېز= ور

۵ – پر ما پورې. راپورې. پر ما =را

۶ – و سپين ته. ما و سپين ته وويل. ور ته وويل. و سپين = ور

بیا لنډ: (له ما، له تا، له هغه...تر ما...، پرما...وما،.. ) = ( را، در، ور).

.



له دې سره مو دا وښوول چې: له، تر، پر، و، په.... بل څه نه دي پرته له مورفېمونو څخه، چې د نوموييونو يا و يو بل څه ته پوهېدنه ورې، چې اړيکنيوونو سره سمه پوهېدنه ولري. دا هم پوره نابلد څه دي، خو بنستيز او پرلار دي، چې پوهېدنه يې ساده ده.

اړيينه يادونه: د پښتو په زياتو ادبياتو کښې لولو، چې په پښتو کښې، په ځانګړې توګه اړيکوييونه نه ليکل کيږي يا پرېښوولکيږي يا ور څخه تېريږي( زه يې په رښتيا درته وايم، چې پر ،،حذف،، باندې نه پوهيږم، چې څه ته به وايي، خو دومره پوهيږم، چې يو څه دا د ما له ليکلو څه څخه به وي. بخښنه دې وي)

دا دمخه تېر به په ياد کښې لرو او اوس بېرته ځو و هغې د الماني غونډالې ته.

Ich habe dich geschlagen

موږ له دې سره وښوول، چې پښتونوميناتيو ژبه نه ده. اوس راځودې ته دا کړنويی ګرداني حالت geschlagen په الماني ژبه کښې ترانزتيو بللکيږي او دا يې ځوی دی، چې سبجکت او ابجکت لري. دا د پښتو انډول يې نو څه دی؟

دا د پښتو انډول يې کړنويی دی، چې کړونی او پرېکړونی لري.

اوس به دا په يوه بله الماني غونډله کښې وښايو، چې دله ته هم د خاوندوالي حالت په ګوته کوي او د خاوندوالي اړيکټينګوونی دی.

لرو: Dieses Buch ist für mich

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د mich ځاینیوو په پښتو کښې ،، د ما ،،دی. ،، د ،، مورفېم او ،، ما،، کړونی ته پوهېدنه وړي. الماني اکوزاتیو ده او پښتو د خاوندوالي غونډله ده.

دا کتاب د ما لپاره دی.

ګورو، چې دا یوه د خاوندوالي اړیکټینګووني غونډاله ده.

موږ څه وکړل؟

موږ له دې لیکنې سره دا وښوول، چې پښتو یوه اېرګاتیو ژبه ده.

**لنډ بیا:** اېرګاتیو ژبې هغه دي، چې نومیناتیو او اکوزاتیو ژبې نه وي.



پښتو یوه اېرګاتیو ژبه ده.

**د ویيونو نه لیکل او پوهنیز څه چې پښتو يې نه لري.**

لږ ګوته به دې ته ونیسو، چې په پوهنو کښې د پښتو ویيونو له پرېښولو یا نه کارولو سره دا ویيونه ورکیږي او د دې لیکنې بله هغه غوره برخه به داوي، چې څه مو د نورو ژبو یا الماني په پرتله ژبه نه لري او څه سم نه دي، څېړل شوي.

پښتو یوه لرغونې ځوانه ژبه ده. ځوانه ځکه ده، چې پښتو، ګومان مې دی، له ۱۹۶۴ ز ک (؟) څخه راپه دې خوا په افغانستان کښې رسمې او ملي ژبه منل شوې ده، خوله هغې څخه وروسته یا تر اوسه پورې داسې غښتلې نه ده پیل شوې.

بله ستونځه دا ده، چې د پښتو په ټولو پوهنو آن په پښتو کښې هم، دې ژبې – د هیواد د لومړۍ ژبې په څېر- خپل پوهنیز ځای نه دې نیولی.

هو! ګورو، چې ټول پوهنیز ویيونه، هغه د ژبې پوهنیز ویيونه مو هم په پښتونه دې او په ژبه کښې مو د پښتو ویيونه لږ برېښي، دا له دې امله، چې د موږ د لیک لوست خاوندانو خپلې زدکړې په پښتو نه وې کړې او دا لړۍ لا تر اوسه پورې لږ یا ډېره همداسې روانه ده. که په کومه پوهنیزه لیکنه کښې پښتو نومونه ولېکې، نو د موږ پښتانه دې هم تورنوي، چې یا ژبه ستونمنځه کیږي او یا د نورو نا پښتنو لپاره پوهنه هم وربانديې ستونځمنه کیږي. موږ ګورو، چې موږ هغه ډېر ساده نومونه هم په پښتو نه شو منلی. زه پر دې باندې ځکه پوهېږم، چې زه ګورم، یواځنی کس یم، چې په ځانګړې توګه پوهنیزې لیکنې مې هم په پښتو کوم، د سمون کونتنیونه په دې کښې نه شته، خو د پښتو په نومونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه پوهېدل یا ځان نه پوهول یې هغه ستره ستونځه ده یا و دې نورو ته کله، کله د خندا برېښېدل . ما له خپل ځان سره دا پرېکړه کړې، چې تر کېدونکي پولې پورې به زه خپلې لیکنې په پښتو کوم او همداسې له خپلې پرېکړې سره ریښتونی پاتې شوی یم. زه دا خبرې نه غزوم، ودې ته راځم، چې اوسنۍ موخه مې ځرګنده کړم، چې پښتو پوهنیزه ده او پر پښتو باندې پوهنیزې لیکنې کولی شو.

-- پښتو ژبې په دې لنډ او نه پوره ورته چمتو شوې وخت کښې پوره وده کړې او دا تر اوسه پورې د پښتو استادانو برکت او نه ستړې کېدونکې هلې ځلې دي.

.



-- موږ په پښتو ژبه کښې او په ځانګړې توګه ګرامر یا ژبلار کښې پوره ستونځې لرو، چې د دې لپاره د چا د نه کار کولو ملامتیا نه شته، ګوته مې ورته ونیوله، چې د موږ د مشرانو کار په دې لار کښې نه هېرېدونکی او نه ستړی کېدونکی وو او دی.

ما هم له شلو کالو څخه را پر دې خوا باندې ځان د ژبې یا له ژبلار سره بوخت کړی او په دې ترڅ کې مې د لسو کتابونو په شاوخوا کښې – د پښتو ګرامر او اړوند- لیکلی، چې اخرنی کتاب مې دا دوه میاشتې د مخه چاپ شوی او له یوې اونۍ راپه دې خوا په

ketabton.com کښې هم د لیدلو لپاره خور شوی، چې د ما په اند ژبلاریزې ستونځې په کښې له توان سره سم پوره اوبې شوي دي او دا هلته کتل کېدی شي.

دې ته به ګوته ونیسم، چې د ما کتابونو منځپانګه – د ژبلارې هم- د نورو ژبپوهانو دکتابونو له منځپانګې سره پوره توپیر لري. زه له دې لیکنې سره لنډ و تاسوته هغه څه وړاندې کوم، چې په ژبه کښې شته، خو دا تر اوسه پورې نه دې لیکل شوی، یا ورته پام نه دی شوی او یا ورته پام نه شو کېدی.

زه به هغه څه دلته و تاسو ته وړاندې کړم، چې په ژبلار کښې باید وي، خو هغه تراوسه پورې نه دې لیکل شوی، پرته د ما له لیکلو څخه.، چې

یادونه: د ما لیکنې په پښتو دي، دا به د ګرانو لوستونکو لپاره یوه ستونځه وي، خو که څوک یې د ورباندې پوهېدلو مینه لري، نو ساده – دا چې په پښتو دي - ورباندې پوهېدلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پيل څخه يې رانيسو، بې له شنني، شننه يې د ما د ژبپوهنې په اخرني کتابتون کښې کتلی کېدی شي، زه هم خبرو ته وخت پوره لرم.

يادونه: په ليکنه کښې دا پېژندونه نه – يا سم نه دي ورکړشوی، د اړونده ژبوييونو د کارولو موخه هم نه ده روښانه يا هغه خوي يې، چې دا کړنوييونه ورڅخه پوهېدلی شي.

-- هرڅومره چې يو څوک په بله ژبه و پوهيږي، د خپلې مورنۍ ژبې ځای نه شي نيولی.

په مسلکي يا رېښنه-اړونده وييونو کښې خپلې ژبې ته مه شا کوئ. په هيڅ پوهنه کښې او په ځانګړې توګه پښتوپوهنه کښې هم په خپله ژبه کښې و خپلو وييونو ته مه شا کوئ.
ما شمېرپوهنه، فزيک، پښتو ژبه، هوښيارو ويناو، فلسفه او ټوليز سم اند کښې کتابونه ليکلي او ژباړل. دا مې په پښتو ليکلي او که ګورئ يې او پام ورته وکړئ، دا مې په پښتو



ليکلي. که خپله ژبه په مسلک يا رېښنه کښې ونه کاروو، نو دا مو د ژبې له کار څخه د لوېدلو او له منځ څخه د تللو هغه ساده، لنډه او هرو مرو لار ده. هر څه د ځان او خپلې ژبې لپاره کوئ او د بل چا و ژبې ته د زيان رسولو اجازه نه شته.

--- دا چې پښتو يوه ابرګاتيو ژبه ده، دا د موږ ژبپوهانو په پام کښې نه ده نيولې يا و پام ته نه راتلله.

--دموږ د پښتو ليکوالانو د ژبنيزو او نورو غوره وييونو پېژندونه روښانه نه دي ورکړي.

--- دا بايد همدلته په ياد راوړو، چې په ژبه کښې هر وی ياژبتوکی يو پېژند لري او په بنسټ يې دا بيا يوه کارونه يا ښه يې، دنده لري او بېلګې يې راوړلکېدی شي.

--کړنوييونه، بوختوالي وييونه يا مهالوييونه: کړنويوونه په پښتو ژبه کښې بڼه بدلېدنه نه لري، خو دا کړنوييونه دا دنده له سفېکسونو يا پسي تړلو، خو ښه يې <u>پوهبدنغزوونو</u> سره پوره کوي.

--نومووييونه: په پښتو ګښې نومووييونه بڼه بدلېدنه نه لري. روښانونه يې په اړيکتينګوونو کښې راغلې.

-- خويوييونه: په پښتو کښې خويوييونه هم نه بڼه بدليږي، خو جګيري د ښه، ډېر ښه، خوراښه او خورا ډېر ښه سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د موږ د پښتو ژبلار کښې  د موږ ژبپوهان دا ستاپښنومونه بولي، خو داد ستاپښنوییونو یا خویوونو سره توپیر لري او د څېړنې موخه یې خویوویونه دي

یادونه: په الماني ژبه کښې د درېواړو بڼه بدلیږي.

-- په پښتو ژبه کښې پرېپوزېشنونه  یا  د مخه اړیکوییونه نه شته. دموږ لیکوالان هغه څه چې پرېپوزېشنونه بولي، ناسم دي او  هغه پوهېدنوړونکي مورفېمونه دي.

-- په پښتو کښې موږ یوازې پوستپوزېشنونه یا پسې اړېکوییونه لرو.

-- په پښتو کښې پرېفېکس یا مختړلی، خو ښه یې و مخ ته پوهېدنغزوونې نه لرو. خو اړونده  پسې تړلي پسې پوهېدنغزووني  لرو، چې له دې امله به یې پوهېدنغزووني و بولم.

-- په پښتو کښې د مورفیمونو په هکله ډېرې لیکنې شوي، خو د سم پېژند او د کارونو



دندې  یې هېڅ نه دې روښانه شوې.

-- موږ د پښتو ژبې ژبلار لپاره دوه ډوله هغه غوره او روښانه دنده لرونکي مورفېمونه لرو، چې هغه مو هرو مرو ډېر په کار راځي او دا یوازې د ما په کتاب کښې کتل کېدی شي او یا یوازې د ما څېړنه شته او باوري ده.

## -- پوهېدنوړوني او پوهېدنغزوني مورفېمونه.

-- پوهېدنغزووني سفېکسونه یا پسېتړلي،  چې د مورفېمونو یوه ډله ده .

-- په پښتو ژبلار کښې سم یا پوره د کاز یا کازوس – چې د پېژند له مخې دا اړیکتینګوونکي دی - څېړنه نه ده شوې، چې د موږ د پښتو لیکوالانو نا سمونونه ټول یا هغه ډېر یې له همدې امله دي.

-- موږ پښتو لیکولان په دې نه پوهېږو، چې پښتو یوه ابرګاتیو ژبه ده، نو په دې هم نه پوهېږو، چې پېژند یې څه دی.

-- موږ پښتانه ژبپوهان یا ډېر یې په دې نه پوهېږو، چې پښتو پرته له ځانیزو نومځاینیو ځخه کلیتیکي- یا تکیه اړ نومځاینیوي هم لري. دا مختکیه-اړ پسې تکیه-اړ نومځاینیوي، دا د موږ ژبپوهان د ناتوانه، لوریز او ځنې نورو نومونو لاندې لیکي، خو دا چې دا یوه ګډه ډله ده، پر دې باندې نه پوهېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه چې د ژبپوهنې کتابونه ګورم، پوره ورسره زوريږم، دا......

لنډ: پښتو دا لاندې څه نه لري؟

--- د کړنوييونو بڼه-بدلون يا ګردان.

--- د نومورييونو بڼه-بدلون يا ګردان.

--- د خويوييونو بڼه-بدلون بدلون يا ګردان.

--- پرېپوزېشنونه يامخ-اړيکوييونه يا و مختـه اړيکوييونـه.

--- پرېفېکسونه، و مخ ته تړلې يا مختړلې يا ښه يې: پوهېدنغزونې.

د دې په پام کښې له نه نيولو يا نه لرلو سره پوره ناسمونونه و رامنځ ته کيږ.



څه په پام کښې نه دي نيول شوي يا نه شو نيولکېدی؟

پوهېدنوړونکي مورفېمونه يا ناسم ور څخه پوهېدل او اړيکتيينګوونکي. پوستپوزېشن او دنده يې، چې پوهېدنغزونه ده. رېکتوس او اوبليکوس.

په پښتو کښې د دې پورته په کوته شوو پېژند او کارونه يې تر اوسه پورې نه دې پېژندل شوي يا يې پېژند نه دی ورکړل شوی او تولې يا هغه ډېرې ستونځې هم خوندي لري.

## له وييونو څخه تېرېدنه نه شته(څه تکرار لري)

په پښتو غونډلو کې له وييونو څخه تېرېدل ژبلاريز نه دي. بل ډول تکرار، خو ګټور.

د مور ډېر يا ټول ژبپوهان او ژبمينه وال په دې اند دي، چې ګوندې پښتو کې د ځنو وييونو ويلو او ليکلو ته اړتيا نه شته او کېدی شي ورڅخه تېر شو ( حذف ؟؟؟ ).

راځئ ، چې دې ته لږ فکر وکړو، چې په پښتو کې له وييونو تېريدی شو او که نه؟

--- د پيداښت پر بنسټ باندې يا - له لورې څخه: دا چې ژبه پيداښتي ده، نو له پيداښتي پيداښت څخه خو تېرېدل د پيداښت سره په مخامخوالي کې دی.

دپيداښت سره سم د پښتو وييونو څخه تېرېدل، نو له دې امله ناسم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

--- دې ته دې پام وي، چې ژبه د مشورو او ګوتپورته کونو له لارې نه ټاکل کیږي، ځکه چې پيداښت نه ټاکل کيږي، دا دي، چې څنګه دي. کله هم چې يو څه د مشورې له لارې شوي، ناسم شوي، نو ناسم او پوره ناسم شوی، چې بېلګې يې ډېرې دي، خو دوه به يې له تاسو سره شريکې کړم.

۱ – ژبپوهانو غوښتل، چې ګوندي د عربي مايع لپاره به په پښتو کې څه نه وي، هغه ته يې اوبلن نوم وټاکه، چې اوس هم دمور. ليکوالان يا له راديو-تلوېزيون د ښتپدوني يا غاز لپاره اوبلن واورم، پوره زوربرم او همداسې يې د ستاندارد، سويه او ستحې لپاره د کچې کارول، چې دا هم ناروا دی، کارول او د دوي ټاکل پوره ناسم دی. سړی له دې څخه داسې بايد وپوهيږي، چې دوي پر دې باندې نه پوهيږي. ما ته به ډېره بخښنه کوي، زه په رښتيا د خپلو پښتنو پوهانو ډېر درناوی کوم، خو دلته نو بل څه ولیکم؟

هغه څه چې بهيږي، بهېدونکي دي. دا تل لرو اوستاندارد او سويه د کچونې څه نه لري،



او له دې امله ورته نه کچون اله او له همدې امله نه کچيږي. دامې يوه ورځ له راديو څخه واورېدل، چې ،،په جلال اباد کې د کابل په کچه روغتون جوړ شو،، او سمه بده راته وبرېښېده.

ما چې څېړنه په کې کړې، دا له وييونو څخه تېرېدلو ستونځې هم ټولې دپښتو په څلورم حالت کې يا ښه په ۲ ۲ ۲ اړيکټينګوونې کښې دي، چې اوس به يې سره روښانه کړو.

د دې روښانونه هم ډېره ساده او د پيداښت په مټ پوره روښانه ده.

داسې به و مخ ته ولاړ شو او له پيل څخه به پردې اړونده غونډلو باندې پيل وکړ:

لومړی:

-- په هغه باران ورېده.

-- هغه باندې باران ورېده.

-- پر هغه باران ورېد

-- پر هغه باندې باران ورېده

دويم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

-- په کور یم او همداسې

-- کور یم.

-- کور کې یم.

-- په کور کښې یم

-- له ما لاړ

-- د ما نه لاړ.

-- له ما څخه(سره، کره، پسې) لاړ.

ولې موږ په دې پوهېږو، چې موخه مو څه ده او ولې هغه موخه بې له ژبلار له لارې



څخه سمه یا نیمګړې سمه برېښي؟

ور څخه تېرېدل یا حذفول ژبلار ده او که څنګه؟

ژبلار له ژبې څخه راوزي او نه ژبه له ژبلار څخه. دې ته مو تل باید پام وي.

لرو: له ما څخه نو انډول یې راڅخه. که له ،،څخه،، څخه تېر شو، څه به ولرو.

## -- ولې نو دا ستونځې تر اوسه پورې نه وې یا نه دي اوبې شوې؟

ژبه مو پنځه زره کلنه، خو دپوهنې ډګرته دا شاوخوا اویا کاله کېږي، و دولتې ته راوتلې او دا هم داسې په نیمه نیمخوره توګه یا داسې په خوبېدا، چې پخپله پښتنو یې هم د څېړلو توان دومره نه لاره.

پوښتنه: دا ولې، چې پښتنو د ژبلاریزې ودې توان نه لاره؟

ځواب: دا ځکه چې پښتنو یا هغه ډېرو پښتنو خپلې زده-کړې له ښوونځې څخه نیولې تر پوهنتون پورې په پښتو نه دې یا نه وې کړې، نو یو څه پر ژبلار باندې هم نه پوهېدل او

سم یې و فکر ته نه شو راتللی. له دې امله مو هم په ټولو پوهنو کښې هغه ریشه-یې یا مسلکې نومونه هم په پښتو نه دي، چې دا مو د ریښه-ییزو ستونځو سره هم مخامخ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ما بېلګه د الماني ژبې سره: پرته له فارسی او پښتو له بلې ژبې سره هم نه دې مخامخ شوې، چې په هغې کښې مخمس ته د ژباړې له مخې پنځه ګوډی وايي. خبره د بلد او نه بلد نه ده، خبره د نابلد ده او دا کېدی شي بلد شي او بايد بلد شي. د فارسي له امله موږ همهغه د عربی نومونو سره بلد يو او غواړو چې – که ژبې ته مو زيان وي او که نه – همهغه وساتو، دا چې زه دا بل ډول په نورو ژبو بلد يم، د ما زړه دا نه شي منلی، دا دې همداسې وي، خکه چې ورسره بلد يو.

د ما پرابلم: له يوې خوا پوهنې په خپله خونديونه کښې ستونځې لری او له بلې خوا د نابلد پښتو ويونو سره مخامخ کېدل دوه برابره ستونځې و منځ ته راوړي.

هيله ده مرسته وکړی:

۱ – د موږ د پښتو له ستورو څخه کوم يوه ښوونځی اونورې زدکړې په پښتو کړي؟



- لومړی د پښتو ژبلار يا ګرامر چا په پښتو ليکلی او ايا خپلې د ښوونځي او پوهنتون زدکړې يې په پښتو يا بله کومه ژبه کړې وې.

۳ – د موږ له ستورو څخه اروابناد رېښتين صيب خپل د پښتو ګرامر کتاب په فارسي ليکلی وو، دا چا، کله په پښتو ژباړلی او له دې ژبلار کتاب څخه چا د مخه د پښتو ژبلار کتاب په پښتو ليکلی؟

هرو مرو دې نيټه داسې نږدې که وي هم سمه ده

په هر ډول د دې شرايطو لاندې اوس هم دموږ ژبې د موږ د ژبپوهانو په هلو ځلو او د ډېرو ربړو پر ګاللو باندې يې دومره د پام وړ وده کړې. په هغه وخت کې د موږ ژبپوهانو دومره امکانات هم نه لرل، چې پرته له عربي او په ځانګړې توګه فارسي، د نورو ژبو له ژبلار څخه کار واخستلی شي. د ژبلار لپاره خو له نورو ژبو څخه نور څه و لاس ته نه راځي، خو داپېژندونه بايد سم راواخستل شي، چې هغه اوس کېدونکي دي.

که تاسو د موږ د پښتو ژبې ټولې د بېلا بېلو پوهنو پوهنيزې ليکنې وګورئ، نېمګړې نه، چې له ترنوييونو او اړيکوييونو څخه پرته پښتو په کې نه شته.

موږ د ژبې پر غنی کولو پسې ګرځو، خو د خپلو وييونو په ساتلو کې ناتوانه يو، چې دا د خپلو پښتو وييونو ساتل مو بايد لومړنی دنده وي.

له ما څخه مې تل ليکنې اوږديږي، خو لنډ داسې مخ ته ځو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د موږ څلورم حالت مو د پسېځاینیو حالت بللی او ګورو چې ستونځې په همدې کې دي، نو غواړم لومړی تازه د پسېځاینیو پېژند بیا راوړم.

پسېځاینیوي: د ښوونځي په ژبلاریزو ادبیاتو کې اړیکویونه یا پسې وییونه هم بلل کیږي، یو وییډول دی، چې یو رابند ټولګی جوړوي او د منځپانګ وي او په ګرامري ښونو کې ځاینیوی شوی. پسېځاینیوي د ژبلار له مخې څخه د یوه نومویونو ګروپ یا ډله غواړي او له دې سره یو حالت یا اړیکټینګوونی لیدوړ په نخښه کوي. دا چې د نومویینو پسې ځای نیوی یا اړیکویونه راځي، له همدې امله پسېځاینیوی یا اړیکویونه هم بلل کیږي او دا یوه ډله ده، چې ځاییز، وختیز، څنګه والي، راټولونکی، سره له دې، اړیینوالی پوهېدنې

لیږدوي یا وړي او په پښتو او نور ژبو کې بڼه بدلېدونکي نه دي.لکه: څخه، سره ،کره، لپاره، پورې، کښې او نور



یادونه: دا لاندې لیکنه کېدی شي تکرار وي، د دېبخښنه دې وي.

## تکیه اړ- او ځانیز نومځاینیوي. دا هم تکرار لري

داسې یو څه به د پسېځاینیوو یا اړیکوییونو او اړیکټینګوونو ښه روښانونه نوره هم تکرار وځېږو. تکرار ته مه ستړي کېږئ.

له هرڅه څخه د مخه د اړیکټینګوونو Kasus پېژند: په پښتو کې دوه اړیکټینګوني لرو: کړوني او نه کړوني: ۱- کړونی. ۲ – نه کړوني. پرېکړونی، د خاوندوالي حالت او د پسېځاینیوو حالت، کاسوس یا حالت څېړي چې نومویونه د غونډلې د نورو توکو سره څه اړیکې لري او دا نومویونه څنګه له حالت سره ځان سنبالوي. په نورو ژبو له بېلګې څخه یې په الماني ژبه کې نومځاینیوي بدلیږي، خو په پښتو کې دا دنده د حالت مورفېمونو

نیولې، چې خپله کومه پوهېدنه نه لري، خو د نومویون سره مل ځان د حالت سره سنبالوي یا برابروي او که سموي او دا دي: ،، د ،، د خاوندوالي لپاره د نومویونو دنده بدلون لپاره مورفېم.

،، له، تر، پر، په، و،، د پسېځاینیو لپاره د نومویونو دنده بدلون لپاره مورفېمونه.

دې ته بیا بیا ګوته نیسم، ځکه چې زیات ناسمونونه همدلته راځي، چې دا مورفېمونه یواځې او یواځې په همدې ټاکلو ځایونو کارول کیږي او بس.

اوس راځو نومځاینیوو ته: موږ په پښتو کې دوه ډوله نومځاینیوي لرو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی - ځانیز نومځاینیوي او کاروني یې

دویم-   کلیتیکي یا تکیه اړ نومځاینیوي او کارونه یې. دا نومځانیوي په رېښتوني په یوه څه پسې تکیه اړ وي او یا ان چې ورپسې سلیش - یا نښتي وي.

ګډه کارونه او د کاره-ونو پرتله- کونه یې.

و لومړي ته : دا په دوه برخو وېشو:

پیل یادونه: زه به یوائې د لومړي کس نومځاینیوي یا - - لپاره نومځاینیوي وکاروم.

لومړی ۱ – یوګڼ: زه، ته، هغه،هغې...



لومړی ۲ – ډېرګڼ: موږ، تاسو، هغوي

لومړي ۱ ته: دلته د هر کس لپاره دوه دوه نومځاینیوي لرو:

لومړی ۱ ۱ – زه، چې د کړنویونو لپاره د اوس او راتلونکي وخت لپاره کارول کیږي او د هغه کړنوییونو لپاره، چې پرېکړونی نه لري، د تېر وخت لپاره هم.

زه ځم، زه لاړم، زه خورم،ما وخوړه، خو.. نور لاندې.

لومړی ۱ ۲ – ما، چې د تېروخت د هغه کړني لپاره کارول کیږي، چې پرېکړونی ولري، په دې پوهېدنه، چې دا کار په یو څه د څه د کړو سره سرته رسیږي. ما وخوړ(ه)

و لومړی ۲ ته: د ډېرګړو د کړنو لپاره دا نومځاینیوی ،، ما، موږ، ...،، نه بدلیږي. موږ(تاسو، هغوي) وخوړل ( لاړو) .

یادونه: پوښتننومځاینیوي دي: څه، چا. که موږ دلته پوښتن نومځاینیوي د زه او ما په ځای ولیکو، نو دا چا د کړوني لپاره راځي او په پرېکړوني کې نه راځي.

بېلګه: څوک څوک وهي. چاڅوک وواهه.

و دویم ته: تکیه اړ نومځانیوي په دوه ډوله دي:

دویم ۱ – د مخه تکیه اړ نومځاینیوي دي: را ، در، ور

دویم ۲ – پسې تکیه اړ نومځایمیوي:مې، دې، یې، مو( دا د موږ او همداسې د تاسو لپاره کارول کیږي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

و دویم ۱ ته- دا دوه ځایونو کې یا دوه ډوله کارول کیږي یا که له کړونو او نه کړونو سره نومځاینیوو(رېکتوس - او اوبلیکوس) حالتونو څخه و مخ ته لاړ شو، نو په دواړو کې کارول کیږي.

دویم ۱ ۱ – که دا نومځاینیوي د کړونو په څېر وییونو و مخ ته راشي یا ورسره نښتي یا سلېښ وي، نو د کړنوییونو سره لوریز کړنوییونه په ګوته کوي، لکه راځم، راځي، ورځې، ورځي، ورځۍ....

بله بېلګه: راکوې، ورکوم، درکوي او نور.



و دویم ۲ ته: دا هم دوه ډوله کارول کیږي یا ښه یې په دوه حالتونو کې کارولکیږي.

دویم ۱ ۲ – دا تکیه اړ نومځاینیوي تل په یوه نوم، نومځاینیوي او یا یو څه پسې تکیه وي.

که دا نوم یا دا یو څه یانومځاینیوی د پرېکړوني په حالت کې وي، نو پسې کړنه راځي یا که کړنه پسې راشي، نو دا پسې تړلی نوموي یا څه یې پرېکړونی دی.

بېلګه: ته مې ووهلې، زه یې ګوزار کړم. هغه دې راوړ. کور مې واخست.

یادونه: ګورو، چې موږ په پښتو کې همدا دوه نومځاینیوي ، زه ،ما او... لرو، چې د کړوني او پرېکړوني لپاره کارول کیږي. له دې څخه داسې پوهېږو، چې د لومړي او دویم حالت یا د کړوني او پرېکړوني حالت لپاره.

دویم ۱ ۲ - که ولرو: (را،در، ور)( څخه، سره،کره،پورې، باندې، ته.....)

دلته دا پوره یو حالت دی، چې کېدی شي د پسځاینیوو حالت یې وبولو، ځکه، چې دا و مخ ته تکیه اړ نومځاینیوي، ټیک وپسځاینیوو ته تکیه دي او نه بل څه ته.

دا اوس د ځانیزنومځاینیوو سره څنګه لیکو؟

له ما سره (څخه، کره، پسې) = را سره(څخه، کره، پسې) له دې لرو چې:

را = له ما

تر ما پورې = را پورې دلته بیا را = ترما

په ما کې = را کې له دې لرو: په ما= را

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ما باندې = را باندې.له دې څخه لرو: پرما = را

و ما ته = را ته. له دې څخه لرو: و ما = را

له پورته څخه لاس ته راځي، چې: له، په ،پر، تر ، ته، باندې...... مورفېمونه دي، چې خپلواکه پوهېدنه نه لري، خو د اړونده پسې نوم یا نومځاینیوي دنده بدلوي. دلته د ،، ما ،، ، چې د کړوني او پرېکړوني لپاره په بدل ډول کارول کیږي، دلته یې دنده، له ،، د ،، سره، چې ،، دما کور ،، لیکل کیږي او ،،د ما،، د خاوندوالي نومځاینیوي کیږي او همداسې د پسېځاینیوي حالت کې هم د د ،، ما ،، دنده د ( له، په ، پر، تر ....) سره په اړونده ډول



بدلیږي.

دا یداونه دې ورسره د نورو روښانونو له امله مل وي: که د ،، ما ،، کړنوی وي، خو دا د رېکتوس یا پرې کړوني حالت دی او که د پرېکړوني کړنوی پسې راشي، نو پرېکړونی یا

اوبلیکوس دی او که نه، نو دابیا د نهکړونو حالت دی، چې په اړونده ځای کښې به روښانه شي.

په پورته پسېځاینیوي اړیکتینګووني کې دا هم غوره ده، چې:

۱ - له ،،له،، سره: څخه، کره، پسې ټاکلکیږي او له څخه، سره ، کره پسې سره ،،له،، یواځنی ټاکلکیږي.

۲ – له ،،تر،، سره ،،پورې،، یو یواځنی ټاکلکیږي.(دا یو ویاځنی په دې پوهېدنه چې تر یواځې هلته راځي، چې پورې یې پای کې راځي او پورې هم هلته راځي، چې تر وي ،، تر کور پورې،، بل ډول ناسم دی او بس).

۳ - همداسې له پر سره باندې او په ځېټ له باندې سره پر.

۴ - له ،،و،، سره ،،ته،، او په ځېټ

دا اړیین دي، چې بیا هم ګوته ورته ونیسو، چې، له، تر، په، پر، و او که نور په مدې ژبلاریزه ډله کې راځي، بل ځای کې ځای نه لري، د مور ژبپوهان او ژبمینه وال یې دا ،، تر ،، دېر کله ناسم کاروي.

یوه غونډله او شننه یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه و خپل ورور ته د خپل مېړه خولۍ ورکوي.

په پورته کې ښځه کړوني، وخپل میره ته (د پسېځاینیوي حالت پوره کونه)، د خپل مېړه( خاوندوالي حالت پوره کونه)، خولۍ ( پرېکړوني حالت) ورکوي( کړنه).

پای لاس ته راوړنه: موږ د دې لیکنې سره داسې وښوده یا ښه یې: بیا نوره هم روښانه کړه، چې پښتو څلور حالتونه لري: کړونی، پرېکړونی، خاوندوالي او د پسېځاینیو حالت ( دې ته دې پام وشي، چې څنګه ښه نومول کیږي).



یوه غوره یادونه: د موږ ډېر ناسمونونه له همدې مورفیمونو له ناسم کاروني سره و منځ ته راځي، نو ما هم لږ زیات پام و همدې ته وکړ.

و دویم: ۲ ۲ ته: که ولرو: کور مې کوچنی دی، نو دا د ځانیز نومځاینیوي سره دا سې لیکو: د ما کور کوچنی دی، په دې پوهېدنه چې د ،، ما ،، سره یو بل مورفېم ،، د ،، مل شو او ،، ما ،، دنده یې بدله کړه.

د مخه مو په لیکنه کې ولېدل، چې هلته ،، مې ،، د ،، ما،، په پوهېدنه وو.

د ژبې د پیداېښت په بنسټ پوهېږو، چې لرو: د ما کور کوچنی دی. دلته خو بې له ،، د ،، څخه، چې ،، ما ،، یواځې وي، څه نه پوهېدل کیږي او ،، د ،، هم دیوه مورفېم په څېر خپلواکه پوهېدنه نه لري، نو ،، د ،، له ،، ما،، سره یو ځای د خاوندوالي نومځای نیوی کیږي ( دلته دې فکر وشي، چې دا ،، د ما،، نومځاینیوی شو او که ؟؟؟؟) چې د خاوندوالي حالت اړیکتینګونی غوره کړ.

دلته لیکوچې: دما کور کوچنی دی. دا به د خاوندوالي اړیکتینګونی وبولو، چې دی.

دلته نو ،، د ،، څه شی دی او دنده یې څه ده؟

بیا: دلته ،،د،، یو مورفېم دی او کومه خپلواکه پوهېدنه نه لري، نو دنده یې باید بل څه وي او هغه داده، چې د لته د ،، ما ،، دنده بدلوي، چې دا ،، ما،، په مرسته د خاوندوالي نومځاینیوی شو او د ،، ما ،، دنده یې د کړوني څخه و د ،، د ،، سره مل د خاوندوالي – یا نه کړوني نومځاینیوي و ،، د ما ،، ته راوسته.

دا بیا روښانه په ګوته کوو، چې ،، د ،، یواځې او یواځې همدا دنده لري او بس.

دا حالتونه یا اړیکتینګوني د پوښتنو په بنسټ رامنځ ته کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه: دا لیکنه مي هم څه وخت د مخه لیکلې، چې دامې لا نه وو څېړلي، چې پښتو ابرګاتیو ژبه ده.

پیل یادونه: په پیل یادونه کې به دا په پام کې ونیسو، چې ما دا اړیکتېنګووني د الماني له حالتونو یا اړیکتېنګوونو څخه څېړلي، چې پښتو حالتونه یا اړیکتېنګووني یې ورسره سر نه خوري، خو کټه مي ترې اخستې او پل په پل به په دې لیکنې کې د دې ستونځو لپاره اوبي ګورو ( ستونځوبی لکه ګړوبی)



نومیناتیوNominativ (له لاتین څخه، نومونی یا نومونیز)

یادونه: دا چې پښتو ابرګاتیو ژبه ده، نو نومیز یا نومیناتیو په پښتو کښې نه شته او دا نومیزپه پښتو کښې کړونی دی.

په ګرامر کې د یوه اړیکتېنګووني نومه-ونه ده، چې له هرڅه څخه دمخه ( دمخه مې ناسمه،، د هرڅه له مخه،، لیکلی وو) په جمله کې د شي د نخښوني په چوپړکې دی، د دې له پاره دا هم تیپیکي یا نومه-ونییز دی چې د یوه شي د خپلواک کاروني له پاره رامنځ ته کیږي ( دا په دې پوهېدنه، چې بې د بل له واکه).

یادنه: یوې له مخه تېرې یادوني سره موږ نومیز اړیکتېنګوونی په پښتو کې نه لرو او دا په پښتو کښې کړونی اړیکتېنګوونی دی.

لنډ: دا اړیکتېنګوونی دی، چې د ،،څوک-، چا – او څه اړیکتېنګوونی،، بلل کیږي، د یوه اړیکتېنګووني سیستم په توګه رامنځ ته کیږي، چې دا نومیناتیو – اکوزاتیوسیستم بلل کیږي.

بیا: د نومیناتیو یا د ،، څوک-،،،چا - ،، او ،،څه اړیکتېنګوونی.

موږ د ګړنو یا بوختوالي له مخې د دوه ډوله لیکنو سره مخامخ یو:

لومړی:

یوه یادونه پسې شته

سپین یا هغه وکار ته ځي

سپین یا هغه و کار ته لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین یا هغه به  وکار ته لاړ شي

سپین یا هغه و کار ته تللی وو

ځوک و کار ته.......

سپین یا هغه



زه و کار ته ځم

زه و کار ته لاړم

زه به و کار ته لاړ شم.

زه  و کار ته تللی وم.

دویم ډول يې:

زه مڼه خورم

زه به مڼه وخورم

ما مڼه وخوړه

ما مڼه خوړلې وه.

لنډه یادونه: وروسته به وګورو، د ،، زه کا رته لاړم،، په ځای به سم ،، زه وکار ته (و)لاړم،، سم ولیکو. د ژبلار او په ژبلار کې د ما د نوو میندنو په بنسټ ( دا دې هملته ( همهغلته) وکتل شي).

دا همداسې د دویم کس له پاره ته او تاسې راځي او د ریم کس له پاره هم هغه او هغه راځي( په دې دریم کس کې لیکنه یو ډول ده، خو د ویلو ځخه برېښي، چې لومړۍ ه ځرګنده یا روښانه ه ده او په دویم کې بیا دا پڅه ه ده او که بل ډول يې بولۍ. هغه زور او زورکی مې ښه نه راځي، چې په پښتو کې نه شته)

یعنې په دریواړو کسانو کې یې توپیر یو ډول دی، چې د کړنې پرته یې په څو کړنو کې پوښتننومځاینیوی هم بدلیږي، نو له دې امله دا د څه - ، چا- او څه حالت دې.

مور و کار ته ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

 څوک و کار ته ځي؟ ځواب: مور

کالیمینځی خرابیږي.

څه شی خرابیږي؟ ځواب:کالیمینځی



یادونه: و ماته هم دا نومونه توکلي د لیکونې ( قلم) خولې ته راځي.نه پوهیږم،،چې دا اله، چې کالي پرېمینځي،کالیمینځی، کالیمینځونی یا کالیمینځونکی وبولو. او که نه،نو کالي مینځلو اله. څنګه مو چې خوښه وي.

لاندې به کلیوالي لیکنې او معیاري لیکنې سره یا ښه د اړیکتینګونو له غونډلي سره په ګډه وګورړ او دا او اړونده لیکنې تل داسې سمې او معیاري ي :

زه باغ ته ننوتم زه و باغ ته ننوتم.

زه باغ کې یم. زه په باغ کې یم.

زه د باغ نه لاړم او نور. زه له باغ څخه لاړم(ولاړم)

د ما سره له ما سره

په میز شته پر میز باندې شته

ما پورې راشه یا تر ما پورې راشه

تر ما راشه. تر ما پورې راشه

انګلیسي نومویونه، چې د یوه اړیکتینګوونې اړوند دي

بیا او بیا لیکم، تر منځ...، ترمخه، ... او او دا ټول ناسم دي. ،،تر،، یواځې او یواځې د پسبځاینیوي مورفېم دی، چې دا پسبځاینیوی یې ، پورې دی او له نوموي څخه د مخه

راځي، چې و هغه ته پوهېدنه وړي اوبس.

دا مو هم باید په پام کې وي، چې پښتو یواځې او یواځې پسبځاینیوي لري او دا دي:

پورې، ته، سره، څخه، کره، باندې، کې، او نور یې تاسو ولیکی.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورمه برخه

ولې مو و ژبې ته ناسم نومونو یا ویيونه راننباسل شوي دي؟

که ومې کړای شو، نو په دې هکله به یوه بله لیکنه وکړم.

## و پښتو ته ناسم راننباسل شوي ویيونه

دا لاندې لیکنې له دې څخه د مخه په درنو خورونو دعوت او تاند کښې خورې شوي دي.

دلته هم هڅېدلی یم، غونډلې اولیکنې یې ژبلاریز سمې کړم.

## په ژبه کې باید انارښي (ګډوډي) واکمنه نه وي

ژبه د ولس ده او څوک یې په خپله خوښه نه شي بدلولی، بې له پوهنیزو څېړنو څخه.

دا تر اوسه پورې وماته تجربو ښوولې، چې ناسم څه ټولنه زر خپلوي، ځکه چې نوي وي اود دې پر هکله باندې مخامخ بیا هرڅومره هلې ځلې چې وشی، ډېر یې ډېرې ستونځمنې و بیرته سمیږي.

## **پر پښتو باندې لیکل اوکه پښتو سوچه کول:**

هر څه چې په پښتو کښې کېدونکې وي، کېدی شي یا شونتیا لري، باید پر پښتو باندې شي او په اندوله پښتو، که نه د یو څه لپاره باید د پښتو یو نامناسب ناانډول وی له ځان څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پيدا نه کړو، چې دا کار مو په ليکنو کې ډېر کيږي او ما له همدې امله ليکنې هم پرې يا ور باندې کړي.



زه په دې ډول ليکنوکې سوچبوچ ځانله يم اوپه دې اند کښې هم ځانله يم، نو بايد له دې څخه د مخه ملامت وکڼل شم. خوکه د ما په دې ليکنوکې، که بې ځايه د ژبلارې اوسم اند څخه لرې څه وو، نوتاسو په ما ځان مه ګوناه کاره کوی، زه به ځان پخپله هغه و ځان ته مناسبه جزا و اکم.

زه نه ځانپالی يم او نه په هرڅه ځان راته پوه برېښي، خو د ما هسې په پښتو کې و دې ناسمونونو ته را فکر شو.

په ژبه کې انارښي يا ګډوډي واکمنه او ځواکمنه نه ده اونه بايد وي. په ژبه کې هم ـ لکه نوروپوهنوکې ـ د هر څنګه ودې لپاره لارې ( قوانين) شته دی.

دا چې د موږ ټولنه وروسته پاتې ده، نوژبه مو هم ورسره کړيږي، موږ په خپله ژبه کې زيات وخت د نورو ژبو د هغو زياتو مسلکي ويونو لپاره انډول په خپله ژبه کې نه پيژنو، داسې نه وايم، چې نه يې لرو، ځکه چې په هره ژبه کې هر وی چې په پيداښتي توګه په بله ژبه کې شته، هغه هرومرو په پښتو کې هم شته دی. موږ په خپله ژبه کښې ډېرلرودي ويونه پرېښودې، نه دې ليکلی يا نوره هم ښه را څخه پاتې دي، ځکه چې پوهنه موپه بله ژبه زده کړې او هغه د خپلې ژبې ويونه راته اوس داسې هکپک کونکي برېښي.

يوه ساده بيلګه يې همدلته راوړو:

موږغونډوسکه لرو، خودا چې په پوهنه کې موکره کارولې، دا نه منو، چې ګوندې د عربې د کرې انډول به پر پښتو باندې غونډوسکه وي. يعنې د کرې انډول مو، چې غونډوسکه ده شته، خوله ياده مو وېستل شوې او اوس چې چا ته ووايي در پورې خاندې هم، چې ګوندې کره څنګه غونډوسکه شي.

موږ چې تراوسه پورې په ټولو پوهنو کې څه لوستي، نوهغه موپه نورو ژبو لوستي او د نورو ژبو ويونه مو په خپله ژبه کې راننباسلي او ان تردې پورې چې دا مو منلي. موږ هغه څه چې لولو، په پيژند يې پوهيږو، خو لا تراوسه پورې په خپله ژبه کې د هغه نوم پر انډول باندې نه پوهيږو، نو له دې امله اړتيا پيښيږي، چې د دې ويونو انډول پر پښتو باندې پيدا کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایا دا انډول شته او که پیدا کوو یې اوکه دا انډول ټاکو؟



پورته مو وویل، چې په ژبه کې ګډوډي واکمنه نه ده، په ژبه کې د هر څه له پاره لارې شته، نو له دې امله موږ د نه بللو یا په پوهنو کې پرېښودي، چې د نورژبوانډول ویونه باید په پښتوکې پیدا کړو، ټاکل یې ناسم دي او تراوسه مو چې څه ټاکلي هغه هم ناسم دي، چې په لاندې کې به یې روښانه کړو.

موږ دا په ژبه اویا نوروپوهنو پوه کسان، موځانونه باید دومره غوره ونه ګڼو، چې په ژبه یا نوروڅه کې مو څه شي منځ ته راوړی اویا مود کومې بلې پرې پوهيدلي ويي لپاره کوم بل وی منځ ته راوړی اوکه دا کار مو کړی وي، نوناسم به وي، چې دا به هم وروسته وګورو

په ډېره بخښنه: زموږ پخوانیو ژبپوهانو پښتو ته اړیین ډېر ښه نومونه هم ټاکلي، د خوي سره سم، چې موږ یې تل باید مننديو وو.

## سلمه به څنګه سلنه شوې وي؟

زموږځني پښتوپوهان اوبیا چې دوی ژورنالستان هم وي، د خپل ( نه ) ابتکار له امله چې کړی یې وي، نو د شپې خوب وګوري اوپه فکر کې شي، چې راځه نن یوڅه وکړه او هغه نو بې له دې چې په سم او ناسم یې پوه وي په ژبه کښې خپل ګډوډ اند ورتپي اووايي، چې دا سلم خوماته ښه نه برېښي راځه دا سلن کړه، خکه چې دا اسې اوهغسې دی او یا د درې ژبې د دې یا هغه وي سره..... دی او یو پر ژبلار باندې سم او سم اندیز دلیل خو ورته نه لري او نه یې لرودی شي. دی خوژورنالست یا پښتو پوه دی، دا چې یوڅوکسان دا له رادیو تلوېزیون څخه واوري، نو اندي، چې دا خوګوره چې څومره ښه یونوي وی د

موږ ادیبانو او ژورنالستانو راپیدا کړی، چې په دې توګه ټوله ټولنه دا ناسم وی خپلوي اوهمداسې ناسم یې کاروي. دا و ما ته ښه روښانه دی، چې دا کار په دوه زرم کال کې شوی او زه له همغه وخته د دې په مخامخ ولاړ یم، خو نه بریالی کېږم.

اویا و مایع ته د پښتو انډول پیداکول:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنې پښتو پوهان سره يوځای کيږي او وايي، چې مورږد مايع وی کاروو، چې عربي دی، نودې ته به په پښتوڅه ووايو. په دې ډول خبروکې ما هم کله کله ګډون لروده، خپله خبره مې کړې، خوچا ورته غوږنه دی نيولی، وايي، چې دی خو څه ژبپوه نه دی. مخامخ يې



تکيه شوی يم، خو لا تراوسه ( دلته مې ناسم ليکلی. سم يې لا تر اوسه پورې) يې ګټه نه ده کړې او نه زه له خپله ( څخه) نيته تير شوی يم. دوي ډېر ناسم دا اوبلن بولي، خو زه تر اوسه پورې ناتوان يم، چې دوی يې هغه سم يې بهېدونکی و منې.

دوی خوپه عربي نه پوهيږي او ځنې زيات يې پر بله کومه ژبه باندې هم نه پوهيږي، نو له دې امله يې په پښتو انډول هم نه شي پيداکولی اوپه فزيک هم نه پوهيږي، چې د مايع پر پيژند باندې وپوهيږي، چې بيا يې د پښتو انډول ساده کيده. دا چې دا په ختۀ کې څه شی دی يعنې په دې نه پوهيږي، چې دا خو د تنونو د يوه ټولګي ګډ خوی دی اواوبلن خو لا تراوسه ( پورې) کلک دي پخپله هم لا مايع يعنې اوبه نه دی، چې و بهيږي.

دوی داسې نه کوي، چې (و) يوه کس ته دا دنده ورکړي، چې په هکله يې څيړنې وکړي او فزيکپوهان هم و مرستې ته را وغواړي.

بله بيلګه: مستطيل په پښتو کښې يعنې څه؟

ما د پوهنې وزارت نصاب کې له استادانو څخه وپوښتل چې مستطيل به څه ته وايي، هر يوه پيژند ورکاوه، نوما ورته وويل، چې دا نوم يې نوڅه مانا لري، څوک پرې نه پوهيده، هلته يو مولوي صيب روان وو، چې ورڅخه ومې پوښتل ويې وی: د مستطيل مانا غزېدلې (څيره ده ځکه ښځينه) ده. دلته نو څلوری غزيدلې.

بله بيلګه دا په پښتوتېل شوې ،، ئ،، ده.
دا يواځې د کړنې لپاره اوبيا يواځې د د اوربېدونکو( ډېر ګڼ) کړنې لپاره، چې سړی ورته هکپک کيږي.

ولې ورته هکپک کيږي؟

ما پردې باندې يوه ليکنه کړې، چې پښتو، چې ئ په پښتو تېل شوې. که داسې ئ – ګانې پيدا کوو، چې کړوالي يا نوموالی يې نوموو.....

لومړی: مورږد غږلرونکوتورو له مخې نوم، کړل او خوي اوداسې نورنه ټاکو اوکه داسې وکړو، نوالله دې خير را پيښ کړي، چې بيا به نوپه همدې کې رابند يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم: که داسې وي، نو دا به بیا یوه لار (قانون) وي. چې دا لار وي، نوبیا د دویم کس یو، او ویونکو، اودریمو لپاره هم باید دا لار وي، چې بیا به نولړترلړه اته، که نه ۱۲ او.. بیګانې ولرو.



## ژبه قرارداد دی او که څنګه؟

:

څنې په پښتوکې ناسم ورځني شوي ویونه چې له چا سره و خبرو ته راواچوو اوناسمون ته یې ګوته ونیسو، چې دا وییونه موخه ور نه ده، نو سملاسي اورو، چې ژبه خو قرارداد دی، دا په دې پوهېدنه یا مانا، چې که موږ یو څه ناسم ووایو اودا خلک همداسې ناسم واخلي او ورځني شي، نو د هغه قرارداد له مخې څخه بیا منلي ګڼل کیږي، چې بیانو باید سم وي.

موږ خو لا تراوسه پورې د ژبسمون لپاره کومه ژمنه ټولنه، چې هغه پر دې باندې پوه وي، نه لرو، چې دا کار و سرته ورسوي اوکه وي هم، د موږد ژبې د ځوانی له مخې کیدی وي شي څني ناسم ویونه مو و ژبې ته راننوتي وي.

تر هغه ځایه پورې چې د ما تجربه ده، موږتراوسه پورې ژبې ته کوم داسې وی نه دي راننباسلی، چې هغه دې د هغه وي غوښتونی خوي ورکړي.

زما تجربه – په ډېره خواشینی باید ووایم – داسې ده، چې موږ په ژبه کې یوکره پیژند لرونکي یا پیژندل شوي وی د یوه بل کره پیژندلرونکي وي - چې پیژند یې هم کره روښانه وي - په ځای ناسم ځای په ځای کوو. دا نو قرار داد نه شي کیدی.

موږ دې موضوع ته داسې خپل پام رااړوو:

لومړی:

هغه ویونه چې له پیدابښت څخه نورو ژبو کې شته دی، نو دای ټول یې موږ هم په خپله ژبه کې لرو، چې موږ یې باید په خپله ژبه کې راپیدا کړی شو او دا کار د مسلک اوپر ژبه باندې پوهیدني له امله شونی دی.

بیا: دا کار مسلکي کسان، چې د مسلک برسیره په یوه بله دباندنی ژبه هم ښه پوه وي، کولی شي یا ښه کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څوک پر داسې نومونوباندې، چې د پښتو په انډول يې - د مسلک او ژبې له مخې – نه پوهيږي اودا بيا غواړي په پښتو انډول ونوموي، نو ناسمون ورسره له پيل څخه مل دی.

موږيې دلته يوه بېلګه راوړو:



د مايع اوبلن بلل. ايا دا به نو هم بيا قرارداد وي او که څنګه؟

يادونه له دې څخه د مخه چې پر دې بېلګه باندې روښنايي اچوم، د فزيک له مخې څخه د تنونو نومونه لنډ اخلم، چې په درې ټولګيو وېشل شوي، بې له زياتې شننې:

۱ – د کلک تنونوټولګی، چې زرې يې يو له بل څخه پخپله بې له باندني زور څخه نه بېليږي.

۲ - د تښتيدونکو تنونو ( غازونو) ټولګی، چې څنګه بې له دباندني زور څخه يا چې ازاد شي يوې اوبلې لورته ځغلي يا تښتي.

۳ – د بهيدونکو تنونو ټولګی، چې بهيږي.

زموږژبپوهان، چې د مايع په پښتو انډول - د مسلک له مخې هم – نه پوهيدل، دا يې اوبلن وبلل، چې پوره ناسم اود مسلک څخه لرې دی.

اوبلن څه پيژند لري؟

ګوروچې اوبلن ځان ته کره پيژند لري. دا د دوه هايدروژن اويوه اکسيجن خوي دی، چې لا اوبه هم نه دي او په کلکو بدنونوکې ګډل کيږي.

اوبه واوره کيږي، چې کلک بدن يا تن دي، دا واوره بيا اوبلنه کيږي، چې بيا اوبه، خولا تراوسه کلکه ده اواوبه شوې نه ده.

که د دې تودوخي نوره هم جګه شي، نو دا اوبلنه واوره بيا اوبه کيږي.

و دې ته دې د ګرانو لوستونکو پوره پام وي، چې دا يواځې او يواځې د اوبو خوي دی او د تنونو د کوم ټولګي خوي نه دی، دا په دې پوهېدنه يا مانا، چې شږومبې يا شيدې نه اوبلنيږي او نه کوم غاز يا تښتيدونکی اوبلنيږي. دا په دې پوهېدنه يا مانا، چې اوبلن غازنه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډ: ټول هغه تنونه چې بهیري بهیدونکي تنونه دي او نه اوبلن. دا بهیدنه یې ګډ خوي دی. یوائې واورې او بلنې کیږي او بس. جبې تههم وایو اوبلنه، و هلته هم اوبو دا ځمکه داسې لمده کړې، له له کلک او بهېدونکي حالت څخه یې و اوبلن حالت ته راوستې ده.

دا نوقرارداد نه دی، چې نوم د بل نوم ځایناستی کیږي او ان د یوه ټولګي تر نوم پورې.

. ۱۸۷ و پښتو ته ناسم رانناسبل شوي... .

د پیداپښتي نومونویا ویونویوه بله بیلګه: سلم ته سلن ویل هم ناسم دی، دا د ځنو کسانو د یوه ناسمې مینې په بنسټ همداسې بې له پرې پوهیدنې او کوم دلیله و منځ ته راوړل شوي.

دا هم کوم قرارداد نه دی او نه قرارداد کیدی شي.

دویم:

ځنې داسې نومونې لرو، چې د هغې لپاره له پیداپښته (حخه) سم نوم، د نورو ژبو په(پر) مرسته (باندې) لرودی شو، خو دا چې زموږ د ژبې سمه وده له څه باندې شپیته کالو څخه را په دې خوا ده، چې له دې امله ځنې ناسمونونه په دې کې راغلي، چې اوس ښه بریښي، خو د ناسمو نومه-ونو په ډله کې باید راشي.

بیلګه ۱ :

روغتون ته په ټولو ژبوکې د پښتو اندول ناروغتون یا رغنتون یا رغنځی ویل کیږي، چې د خوي او ژبې له مخې څخه یې همدا سمه نومه ونه هم ده.

دا هم قرارداد نه دی، خو دا چې موږ ډېر یا له سره داسې بللی، اوس یې بله نومه ونه راته پردی بریښي.

بیلګه ۲ :

د کورنیوچارو وزارت، چې باید د دننیو چارو وزارت بلل شوی وي، خوموږداسې بللی. د کورنیوچارو وزارت هم باید ولرو، چې د کورنیو چارو سره سر اوکار لري.

یادونه: په دې ناسمونو کې دلیل نه شي ویل کیدی، چې دا د روحیاتو له امله ښه یا بد بریښي، په ژبه کې هر څه شته، چې ځنې به په ځنو کسانو ښه او په ځنو بد اغیز لري.

دا هم د قرارداد سره سر اوکار نه لري، چې یو څه ښکلي یا بدرنګ بریښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم:

هغه نومونه چې د انساني ټولنې د ودې سره د پرتلې له امله و منځه ته راغلي:

زه يې دلته يادونه کوم. زما په بله د مخه تيرې ليکنه کې شته اويواځې نومونه يې اخلم، کره پيژند لري او پر ځای يې د يوه بل کره پيژند وی تاسم کارول کيږي.



بيلکه:

ستاندارد، سطحې، سويې او و نورو ته کچه ويل پوره ناسم دي.

زموږ په ژبه کې خودا ټول ناسم بلل شوي ويونه د يوه کس د شپې د چرت څخه راوتلي او سهار بيا دا نورو کسانوراخستلي او ټوليز شوي.

د ژبو د اسانتياو لپاره د نورو ژبو پوهان هم د ليک بڼه بدلون اونوروناوبشتونو لپاره کار کوي.

دا څو کاله دمخه د المان دولت له خوا څخه پنځه ميليارده يورو وټاکل شوې، ځنې بدلونونه په ژبه کې راغلل، چې د نوې بڼې ليکنو له پاره پنځه کاله وخت ورکړشوی وو، چې په ښوونځيو او نورو دفترونو کې دا نوې بڼه ورځنی شي. په دې کې ورسره سوېس اتريش او ليښتنشتاين هم ګډ وو.

ز ه يې يوه بيلګه راوړم:

پخوا دوي فيل Elephant ليکه او اوس يې Elefant ليکي.

که ګران لوستونکي مرسته کوي او د قرارداد په توګه سم نومونه غوره شوي وي، هيله ده، چې ويې ليکي.

# دموږ ستونځې په ټولو پوهنوکې.

په هره پوهنه کې موږ دباندنيو ژبو ته اړتيا لرو او له هغو څخه زده کړه هم کوو او دا بايد داسې وي. موږپه ژبه کې د ودې لپاره هم کوم داسې نوموتي ادبيات نه لرو او هغه څوک چې په ژبه کې لوړې زده کړې کړې وي او کوي يې ، هغوي هم په دباندنيوهيوادونوکې زدکړې کړی، چې دا حال موپه ژبه کې هم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرو پښتنو او سترو پښتنو په پښتو ژبه کې هم پوره ليکنې کړي، خو دا له نورو ژبو سره پر تله باندې کېدو نه دي. که تاسو وغواړئ د بېلګې په توګه د پرېپوزېشنونو له پاره څه وګورئ، دا ګوګل ته ورکړئ، نو په لسګونو ليکنې به په دې هکله شوې وي.

ما په شمير پوهنه کې نړدې څلوېښت کتابونه ژباړلي او ليکلي، خو دا په شمير پوهنه کې



ډېره وړه برخه ده او د پوهنيزو څېړنولپاره خو په پوښتنه کې نه راځي، يواځې هغه لومړنۍ زده کړې ترې يا ور څخه شونې دي يعنې د پوهنتون تر سويې پورې، چې هغه غوره يې پسې څېړنې دي، همداسې مو ټولې پوهنې.

# په پيداېښتي پوهنو کې وده

په پوهنوکې او په ځانګړې توګه پيداېښتي پوهنو کې - چې زه ژبه هم يوه له پيداېښته پيدا پوهنه ځکه بولم، چې له پيداېښت څخه راسره ده اوله پيداېښت څخه د اړتياوو په بنسټ و منځ ته راغلي - هره وده د نوښتونو او د نوو پرې ابادولو پوهنيزو کړنو او کارونو په بنسټ سره و منځ ته راځي.

يعنې پرمخ باندې تګ يا وده او نوښتونه.

دا پرمخ باندې تګ او پسې راتلنه يې نوښتونه څنګه و منځ ته راځي؟

دا د نړۍ تر دې ځايه پورې ټوله وده په نوښتونو اباده ده.

دا وده داسې منځ ته راځي، چې د اړتياوله مخې د اړونده ريښې پوهان د دې اړتياو په هکله څېړنې کوي، چې دا ټولې څېړنې په دمخه تيرو او د اړونده پوهنوپه لاروا و قوانينوابادې وي، چې د دې څېړنو لاس ته راوړنې بيا د ټولنې د پرمختګ له پاره کارولکيږي. دا څېړنې نوپه رښتيا ډېر ې پيچلې پروسه ده اود يوه اړتيا سره سمې موضوع په هکله کيدی شي په لسګونه ، که نه سلګونه کتابونه وکتل شي، وارزول شي، ټولې موخې ته رسيدونکې لارې او قوانين وکتل شي، چې اړونده لاس ته راوړنه ترې راووېستل شي.

هغه څه، چې ورته په کلکه ګوته نيسم، هغه دا ده، چې هيڅ يو څه په پوهنوکې د کسانويا نوره هم ښه، دپوهانو د خوښې کارنه دئ، يعنې دا چې په شميرپوهنه کې دوه زيات درې برابر پنځه کيږي، نو دا څوک په خپله خوښه شيږ کولی نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېره بخښنه، چې داسې يوه بيلګه راوړم، خووبه ګورو، چې ورته اړيم.

.



## دما موخه: پښتوژبه ده:

زه په پښتوژبه کې ډېرد نوښتونو پلوی يم، خو هغه بايد د ژبې پر لار باندې (ژبلار قوانينو) او پر سم اندیز بنسټ باندې وي. په ژبه کې نوښت د چا د خوښې کار نه دی.

نوښتونه په څه کې غواړو؟

ډېر زموږ پښتانه په دې اند دي، چې ژبه موسوچه شي.

## په ژبه يا ژبو کې څنګه ويونه لرو؟

زما په اند ټولې ژبې سره غبرګې پيدا دي، چې په لاندې ډول يې را لنډوم:

۱ – هغه ويونه يانومونه، چې د هغه څه و منځ ته راوړل د کسانوکار وي اودا بيا د هغوي د نومونو پسې نومول شوي. دا نومونه لکه الځهايمر( الزايمر)، څلزيوس، ساديست او نور، همداسې نومول کيږي اوپه بله ژبه کې هم همداسې دي.

۲ – هغه څه چې د يو څه د ودې يا پرتله باندې کونې په بنسټ منځ ته راځي.

له دې جملې څخه به ستاندارد راوړم، چې عربي يې معياردی. د دې له پاره هم په پښتو کې انډول نه لرو او له دې امله به يې همداسې ستاندارد يا معيار بولو.

۳ – د ژبو پيداېښتي ويونه.

داسې ويونه د انسانانو د اړتياوسره منځ ته راغلي، په پيداېښتي ډول. دا ويونه په ټولوژبوکې انډول لري، د ډېرو لږو ځانګړنو سره.

په دې هکله زياته ليکنه نه کوم. دا خبرې ما په خپل کتاب کې چې په کتابتون.کوم کې شته کتل کيدی شي.

بيا به هم لنډ و اوبلن او و سلنې ته د تاسو پام راواړم، چې دا موږ په شنه روز ناسموو، ځکه موږ بهېدونکی او سلم د ژبلار، فزيم او شمېرپوهنې سره سم يا پر لا بادې لرو او موږ يې بېلارې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیله ده چې د یوې بلې ژبې وی له پاره چې په مانا یې نه پوهیږو د پښتو وی مه لیکۍ، دا همغه په دباندنۍ ژبه وبولۍ.

دا د چا یا زموږ د خوښې کار نه دۍ او دا هم سمه نه ده، چې ژبه د قرارداد خبره ده. اوس ژبه لرواوداسې څه هم نه شته، چې موږ یې په هکله قراردادوکړو. له دې امله دا ژبه نوره هم تخریبیږي، که پرته له پوره پوهنې په دې کې ګوتې ووهو.

لکه:

لومړی:د ستاندارد یا معیار، سطحې، سویې او ...لپاره کچه مه کاروي.

دا داسې برېښي، چې ګوندې موږ په کچه هم نه پوهیږو او ستاندارد ا، ...هم نه پوهیږو.

دویم: د مایع له پاره چې وی ګورۍ، نونورې ژبې هم وګورۍ، که په عربي ښه نه پوهیږي اویا د یوه کس څخه وپوښتۍ، چې په عربي پوهیږي. د خوي له مخې مایع د شیانویوه ټولګي ته وایي، چې بهیږي او نه اوبلنیږي.اوبلن لا اوبه نه دي، هغه لا تراوسه واوره ده.

هیله ده چې په پښتو کښې د یوه لرودي څه لپاره یو بل لرودی، چې موخه یې بله وي، مه کاروي.

لکه غبرګون، چې د هغې لپاره اړوند د کاروني وړ یا مناسب ویونه شته. تاسو هغوغونډالو ته وګورۍ، وبه وینۍ، چې بل د همغه څه له پاره په کار وی شته.

هیله ده چې په پښتوکې لرلی او سم څه بل ډول مه بولۍ او مه یې تخریبوۍ.

دېرش سلمه چې څوک یې دېرش سلنه بولي، د ژبپوهنې او شمېرپوهنې له لار څخه هم تخریب اوتیری دۍ.

## ژبه سوچه کیدنه.

د موږ پښتنولیکوالواو ژبپوهانو کې دا درې موضوعګانې په ډېره مینه د لیکنو اوویلو سرټکي ګرځیدلي، چې غواړم زه یې همدا اوس د خبرولپاره و رامنځ ته کړم.

لومړی: ژبه سوچه کیدنه ( کونه).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم: ژبه معياري کيدنه(کونه).

دريم: ژبه پوهنيزه کيدنه ( کونه).

لومړي ته: ژبه سوچه کونه يا کيدنه.

دنړۍ ژبې، چې ومنځ ته راغلي دي، ټولې د اړتياوپه بنسټ دي. غبرګې و منځ ته راغلي اوله دې امله ټولې ژبې سوچه دي او د هرې ژبې وی په بلې ژبې کې انډول وی لري.

د ژبې سوچه کيدني څخه به موخه دا وي، چې ګوندې موږ ټولې ليکنې بايد په پښتو وکړۍ شو. دا کيدی شي، ځکه چې زموږد پښتو منځپانګه – لکه د بلې هرې ژبې هم- له پيداښته پوره ده.

## د ژبې سوچه کيده نو څه دي؟

دا نور بل څه نه دې پرته له دې څخه، چې ټولې پوهنې بايد په پښتو وليکلی شو، دا په دې پوهېدنه يا مانا چې ژبه بايد پوهنيزه شي.

ژبه په هغه وخت کې پوهنيزه ده، چې داسې لږ تر لږه دا لومړنيو ستونځو ته اوبی پيداشي.

يادونه: ګومان مې دی، چې د موږزيات کسان به د لومړي ځل لپاره له ،،ستونځوبي،، سره مخامخ شوي وي او دا د مشکلاتو- يا ستونځو حل، لپاره موږ نه پيدا کوو او ما هم نه دی پيدا کړی، دما ورته پام شوی، چې دا مو په ژبه کې شته.

لکه: ملګوبی، ګوړوبی، خړوبی او نور

موږ په پښتوکې – دا بايد په ډېره خواشينی سره ووايم- چې د هغه ساده اړتياولپاره هم پوره مسلکي کسان نه لرو، موږ ان له هغه پيليزو پوهنو سره له پيل څخه پر پښتو باندې څه نه لرو، موږ ان دا د ښوونځي پوهنو د سم څېړنو لپاره ادبيات نه لرو. موږ خپلې او اوس هم د ډېر پوانو ليکني ګورو، چې هغوي پهښوونځي پهپښتو درس ه دی ويلی او لهدې امله د پښتو نومونو سره نابلد دي او ورته بل ډول برېښي او ور پورې خاندې هم ( د ما تجربه). بيا د موږ لومړني ژبه پښتو نه ده او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی: په پښتو نه دي او

دویم: موږ چې د ښوونځي لپاره څه لیکلي هغه هم ناسم دي او دا ناسمي مو هم لا تراوسه نه دي سمې کړې .

ما د شمیرپوهنې یو کتاب لیکلی، چې Ketabton.com کې خپور دئ اوله اوم ټولګي څخه تر ۱۲ –م ټولګي پورې مود هر کتاب څخه یوه یوه برخه څیړلې، چې له څومره ناسمونونو ډکه ده. متآسفانه، چې ټول د شمیرپوهنې یا ریاضي کتابونه – چې ما لوستلي - همداسې ناسم دي. موږ په نورو برخو کې هم پوره ستونځې لرو.

## په پښتو کې څېړنې څنګه شونې دي؟

زموږ ژبپوهانو، چې په پښتوکې یې تراوسه ماستري یا داکتري لروده یا لري او یا یې له دې وروسته لاسته راوړي، دا یې هم له نورو ژبو څخه لاس ته راوړي، دا په دې پوهېدنه یا مانا چې دپښتو د اکادمیک زده-کړولپاره هم د نورو ژبو څخه ګټه پورته کوو او س هم په خپل هیواد کې ورته د جګو زده کړو ادبیات نه لرو. نو زما په اند که څوک غواړي، په پښتو کې – لکه څنګه په نورو ریښوکي هم- څېړنې وکړي یا لوړې زده کړې، ډېر اړیین دئ، چې یوه پر مخ باندې تللې دباندنۍ ژبه ښه زده کړي، که په دباندې کې د زده کړې شونتیا نه وي، نوداهځې دې په کوردننه وکړي.

لکه څنګه موچې هیواد وروسته پاتې دئ، همداسې مو په ورته ډول ژبه هم وروسته پاتې ده، چې له نږدې شپیته کاله څخه د مخه داسې لږه رسمي سوې( په قانون کې پوره، خو قانون ته څوک ګوري)، نوکه هر پښتون غواړي څه ولیکي ډېر ښه به وي.

نه ! ډېر اړیین به وي، چې یوه پرمختللې ژبه باندې، چې له ټولو یې انګرېزي ښه ده او پسې روسي، فرانسوي او الماني، زده وي او د خپلې ژبې لپاره ترې کار واخلي.

دا په دې پوهېدنه یا مانا، چې د نصاب لپاره د ښوونځي اوپوهنتون کتابونه سیده له انګریزي او یا له دې نورو پرمختللو ژبو څخه را وژباړي، خوهغه ژباړی باید پر مسلک اوپر دواړو ژبو باندې ښه واک ولري.

## نومونې ( نومه-ونې)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومونه او په ټولیزه توګه – د ما په اند- ژبه څنګه و منځ ته راغلي؟

یادونه:

ما نومونه لیکلي، خوموخه دې د ژبې ویونه وي، که دا نومونه، کړنې یا فعلونه، نومځاینیوي او یا نور څه وي. دا به وییونه او دا د وییونو ډلې د، چې کړنوییونه، نوموییونه او ... یې بولو.

ځنې شیان د هغو د خویونوله لارې څخهه راته روښانه کیږي.

و موږ ته پوهنه پر پښتو باندې کونه ډېره ستونځمنه پر دې باندې ده، چې دا پښتو نومونه او ویونه راته ورځني نه دي، لږ ترلږه په پوهنو کې. په ځنو پوهنوکې خو نه دا چې دا نومونه ورځني نه دي، په هغې پوهیدل هم را ته ستونځمن دي. زه کله کله، چې له الماني څخه کوم نوم په پښتو ژباړم یا پښتو کوم یا یې نوره هم ښه په پښتوکې یې انډول پیداکوم، چې ور باندې پوهیدل راته ستونځمن وي، بیا یې انګریزي ګورم اوبیا یې د عربي سره هم پرتله کوم، ګورم، چې دا څنګه وبلل شي یا یې نوره هم ښه انډول یې څه دی. نه چې دا څنکه وبلل شي، بلکې چې دا څنکه یا کوم نوم یا وی دی، داسې نومونې(ښه به یې داسي نومه-ونې ) په تخنیک کې ډېرې و مخ ته راځي، ځکه چې د نوروپوهنو د ژبې په څنګ کې په تخنیک کې هم ستونځې لرو او د موږ تخنیکي نومونه، چې پښتو انډول یې که ساده هم وي، خو د موږ له پښتو سره د نه بدلتیا له امله ان چې د خندا بربښی لکه: درېګوډی ا داسې نور.

لنډ: د ژبې ستونځې او مسلکي ستونځې لرو، چې د شیانو پښتو بلل راته ستونځمن کوي.

د نومونو اوویونو له لارې څخه یو شی یا د شیانوډله یا ښه یې ټولګی یواځني ټاکل کیږي. نه! داسې نه ده، یواځنی ټاکلی دی اودا ټاکنه زیات وخت د شیانو د خویونوپه بنسټ و سرته رسیږي، لکه هم دا پورته درېګوډی.

موږدلته د بیلګې په توګه نومونه څېرو یا د څیرنې لاندې نیسو.

## موږ درې ډوله نومونه او ویونه لرو:

یو: هغه ویونه او نومونه چې له پیداښت څخه راسره مل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه :

الف: هغه نومونه اوویونه، چې د هغه څه لپاره و منخ ته راغلي، چې د هغو د و منځ ته راوړونکو نومونوباندې یادیږي، یایې ورته دځانګړي خوي څخه و منځ ته راوړل شوي.

ب : هغه نومونه اوویونه، چې د شیانود میندلو له لارې و منځ ته راغلي.

درې: هغه نومونه یا ویونه چې د پوهنې د ودې سره و منځ ته راغلي.

## و یو ته:

دا پیداښتي نومونه اوویونه په هره بله ژبه کې خپل اندول په پښتو کې هم لري او باید موږیې ورته پیدا نه کړو. دا موږ یې په لاندې ډول لږ روښانه کوو:

الف: ټولګیزنومونه اود ټولګیز ویونو له لارې نومه ونې:

۱ – ټولګیز نومونه، چې د ګډو خویونو په بنسټ وي:

لکه انسان، نبات اوداسې نور اویا همداسې تور، سور،برګ او نور، دا ډول نومونه او ویونه هره ژبه لري، که په کومه ژبه کې ستونځې ورسره وي، نو د نوروژبوپه مرسته یې د خوي له مخې نومونه پیداکولی شي.

۲ – ټولګیزنومونه، چې د تودوخې درجې اړوند د ګډو خویونو له مخې چې د شیانو ګډ حالت له ځنو خانګړو شرایطو سره په ګوته کوي یا لنډ: د شیانوفزیکي خویونه، حالت یا څنګه-والی.

دا شیان په درې ټولګیو وېشل کیږي:

اول: کلک . یعنې د کلکو شیانوټولګی، چې زرې یې سره کلکې نښتې وي، لکه تیږه، یخ،واوره ، که اوبلنه هم وي.

دویم – بهیدوني ( د هغوتنونوټولګی، چې بهیږي یا یې زرې کلکې سره نه وي نښتي) یا بهیدونکي ( دا نوم زموږ.ادیبانوتخریب کړی او اوبلن یې بولې، چې دا د دې ټولګي د یوه شي ( اوبه) خوی دی( او هغه هم اوبه نه دي))، لکه اوبه، شیدې ...

دا ولې؟



ځکه چې زموږ د دې ناسم نوم اېښوونکي او ناسم وي بلل کووني( که بلونکي؟؟).

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی ۱: د دې کلکو شیانود ټولګیو په فزیکي خوي نه پوهیدل او

دویم ۱:همداسې دوي نه شوکولی، چې دانومونه له نوروژبو لکه بهېدوکي راواخلي، هلته دا پوره روښانه دي اوهرڅوک پرې پوهیدلی شي.

دریم – تېښتیدوني (بخار،غازونه او غازډوله):

د دې لپاره چې خبرې اوږدې نه شي، داسې یې را لنډوو:

و یو ته: هغه څه چې له پیداېښته ورسره بلد یویا باید بلد وو، هغه په ټولو ژبو کې شته، ځانګړنې به یې ډېرې کمې وي.

د دې شننه ډېر وخت غواړي اوڅوک ورته سره سینه هم نه شي لرودی، چې ویې لولي، نو دلته به اوس په همدې بسیا وکړو، دویم اودریم ته به راشو:

دوه اوهمداسې درې ته: غزوم یې نه لنډ: داسې نومونه په ټولو ژبوکې همغه دي اوڅوک ورته بل څه نه شي ویلی.

دریم ته: دا د هغو تنونوټولګه ده ( موږ ټولګه د لنډیز لپاره لیکو، نو دا د هغو تنونو ټولوالی دی)، چې زرې یې یوله بله تېښتي، لکه د بویولو تنونه یا بخار، غاز او ....

دا نومونه د شیانود ټولګیو د پیژند له مخې څخه و منځ ته راځي.

## ژبه معیاري کونه

معیاري ژبه نوڅه؟

معیاري ژبه باید د کلیوالي ژبې سره توپیرولري، ژبه باید خپل ګرامر ولري اوویيکتابونه اود اړتیاولپاره په معیاري ژبه یا لوړه ژبه اویا اکادمیک ژبه د لوستلو اومرسته اخستلو لپاره پوره پانګه ولري

تراوسه پورې چې په پښتو ژبه کې څه شوي، دا ځانله یا یو کس کړي دي اودا هرومرو ستر کار، خو ډېر کم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډ ورځنۍ ژبه یا کلیوالي ژبه، چې په هغه ژبه چاپیریال کې، د ټولوینژبې سره په ویلو او لیکلو کښې توپیر لري او لوړه یا معیاري ژبه هغه وي، چې د هغې ژبې ټول ویونکي پرې لیکنه اولوستنه کوي، ښوونځی، پوهنتونونه پر همدې ژبه باندې وي.

دانو په څه پوهېدنه یا مانا؟

دا په دې پوهېدنه، چې د ختیز، سهیلي او لودیز افغانستان خلک پر خپلو کلیوالي ژبو باندې غږیږي، چې سره تو پیر لري، خو معیاري ژبه دا ده، چې ټول یو ډول لیکل پرې کوي.

لنډ: معیاري ژبه د هغې ژبې د خلکود پوهې لاس ته راوړنواړتیاوې پوره کوي.

و دریم ته: پوهنیزه ژبه هغه ده، چې د اړتیا ټولې پوهنې لکه د مخه مو چې ګوته ورته ونیوله، پوره کړي. دا داسې بریښي، چې دژبې سوچه کونه اود ژبې معیاري کونه په ختِه کې د ژبې پوهنیزه کیدنه ده.

پام:

د ژبې معیاري کیدنه یا کونه باید پر دې موخه باندې نه وي، چې یوخیالي – بې له کوم ژبني او سم اندیزدلیل- څه ژبې ته ورواچوو، چې ګوندې یوڅه خووشو.

لکه:

،، غني د ترمپ د خبرو په غبرګون کې وویل،، یا ،، ....غبرګون وښوده،،. نه پوهیږم، چې ،، په غبرګون کې وویل،، کې به د لیکونکي موخه څه وي، خو وماته څه نه وايي. دا به نور کسان ووايي، چې دا یا هغه یا دغه موخه لري. دا چې موخه یې که هرڅه وي، خودا یوه سمه وینا نه ده، چې څوک ور څخه څه پوه شي.

داچې ژبې سره غبرګې دي اود یوې ژبې اړول پر بله ژبه باندې اوس ـ زموږ لپاره – اړتیا ده، باید دا خپلې ژبې انډول په بله ژبه کښې هم په همغه انډول واړولی شو، چې دا مو نو د دې ،، غبرګون،، سره وران کړ.

که د غبرګون په ځای ،، ګرنګون،، هم ولیکو همدا یوډول به ترې پوه شو. نو اوس باید و اندو، چې موخه به څه یې وي.

وايو: غني د ترمپ د خبرو په هکله یا مخامخ، او یا په پلوۍ څه وویل یا غني د ترمپ د خبرو په هکله خپل اند څرګند کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دا نوښتګه کیږي؟

دا داسې کیږي، چې د ښونځي ښخه نیولې تر پوهنتون پورې اوله دې ښخه وراخوا د هغې ټولنې اړتیاوې پوره کړي، دا په دې مانا یا پوهېدنه، چې ته پوهنیزې ښېړنې هم باید پر خپله ژبه باندې وکړی شې.

موږ.لا تراوسه پورې و دې ستر کار ته پوره هلې ځلې و مخ ته لرو، خودا کار د حکومت دئ او په ځانله یا له یو څو کسانو سره و سرته نه شي رسیدلی

زه دا لیکنه دلته رالندوم اود نورخبرو لپاره نوراړینې لیکنې هم شته، چې باید یو له بل سره خبرې ور باندې وکړو، هیله ده چې د دعوت او تاند درنې پاڼې یا خپرونې به په دې لار کې مرسته وکړي، چې ددرناوي وړ.

لاس ته راوړنه: پښتو سوچه کونه، - معیاري کونه او – پوهنیزه کونه همغه پښتو پوهنیزه کونه ده.

ایا دا کار شونی دئ؟

پښتو ژبه د نوروژبوپه څیر پوهنیزه کیدی شي، چې په پای کې یواځې دوه بیلګې د شمیرپوهنې اوفزیک ښخه راوړم.

له شمیرپوهنې یا نوره هم ښه له ځمککچپوهنې ښخه:

کره، قوس، قطر، وتر، قطعه، قطاع، سطحه، محیط

پښتو یې ( خو ورپورې خاندئ مه، دا همداسې دي، که زموږ.زړه غواړي اوکه نه):

ګردئ،لینده، نیمئ، ټوټه ونې، ټوټه، برخه، هواره، چاپیریال.

له فزیک ښخه:

یادونه: دا پښتو نومول یې اړیین دې اوکه نه؟

په اړیینوالي نه غږیږم. موخه دا ده، چې په پښتوکې ورته اندول لرواوکه نه.

لومړی: (برېښنا) ټرونی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کوټوکې چې برېښنا څراغ روښانه کوو، نو انګرېزي ورته سویچ Switch په الماني ورته Schalter وايي، وهو یا کیکاږو. که دا په پښتوکوو یا نوره هم ښه، په پښتوکښې یا پر پښتو باندې ورته انډول لټوو، نو لومړی باید وپوهیږو، چې دا د فزیک له مخې څخه څه دنده لري، د دې نوروژبو موخه به همدا وي اوکه څنګه؟

د فزیک له مخې څخه دا هغه اله ده، چې دوه سیمونه (( برېښنا) وړوني) سره تړي او یا د مړکیدو وخت کې یې سره بیرته بیلوي. پوښتنه دا ده، چې دا که موږ د سویچ په ځای ،،تړونی،، وبولو، نو موخه ور به نه وي؟

د پورته انګرېزي او الماني ژبو ویونو لپاره انډول همدا ،،تړوني،، دی.

دا چې داسې بلل یې ښه کار دی او که نه یا له داسې بلنوسره هم انده یوکه نه، په دې باندې خبرې نه کړو، خو دا همداسې دی، دا تړونی دی اونه بل څه.

ډاکترماخان میږی شینواری

# ،، ئ ،، په پښتو تپل شوې.

دالاندې لیکنه او یادونه مې ډېر کلونه د مخهکې او اوس مې پر پښتو باندې څو کتابونه لیکلي. که غواړې چې ښه ولیکې، نو ډېر ولیکه.

په خواشینی باید ووایم، چې زه په ګرامر، چې اسم، فعل،صفت یا ستاین نوم اوکه نور څه شیان دي نه پوهیږم. خو بیا هم ګومان مې دی، چې په ژبه پوهیږم او د ژبلارې سره سم پرې لیکنې او خبرې کوم، خو په خواشینی باید ووایم، چې په ژبه کې دې ناسمونونو وناسمو ویونو ته یواځې زما فکر شوی، ځکه د بل چا لیکنې په دې هکله نه ګورم.

زه هم دا له دې امله لیکم، چې خبروته یې راواچوو او ژبه مو له ناسمونو سره مخامخ نه کړو.

راځم و خپلې موخې ته او هغه دا ،،ئ ،، ده

دا (ئ) په پښتو تپل شوې،هیله ده، چې ددې د کاروني څخه ځانونه وژغورو.

ولې؟

دا ،، ئ ،، همداسې ویلکیرې، لکه ،، ی ،، نوبیا ولې دا ،، ئ ،،.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځني وايي، چې دا يوه د کړنوييونو اودا بل د نوموييونو لپاره ده، خود صفت له پاره هم بله په کې نه شته.

دا به ومنو، چې دا دې داسې وي . پوښتنه موداده، چې ايا په دې نوروييګانو کې داسې نه ده؟ ، هغه په نوموييونو، کړنوييونواوخويوييونو کې نه راځي؟

که راځي، نو د هغو لپاره بيا ولې نورې ييګانې نه ليکل کيږي؟

که داسې و مخ ته لاړ شو، نوګومان مې دی، چې موږبه بيا په پښتو کې شل يا څلرويشت ييګانې ولرو.

دا تازه په پښتوتپل شوې،،ئ ،، يوائې اويوائې د پښتو ناسمون دی.

وايي چې، تول نوي خواږه دي پرته له مرګ څخه، نو ،، ئ ،، نوې پر ژبه باندې راتپل شوې، تل يې کاروو.او چې ګورم، دايوائنی يې ده، چې تل يې دا ناسمون سم ليکو.

د توري يا نور هم ښه يې ، د غږ لرونکي توري له لارې څخه نوم او فعل نه ټاکل کيږي. دا ،،ی،، يو غږدی اود هر څه سره راځي اوتر اوسه راتله، خوولې دې بيا د ،، ئ ،، له لارې څخه، چې همهغه د،،ی ،، غږ په ځای يې بې له اړتيا راولو او له دې لارې څخه فعل وټاکو.

موږ په پښتو کې داسې يوه ،، ئ ،، نه لروده، چې له عربي مو پور کړه اوبله په عربي کې هم نه شته، چې د نورو ....له پاره يې راوړو، نو که دا ،، ئ ،، همهغو عربوته پرېږدو په ژبه کې مو نه دا چې کموالی نه راځي، ژبه موله ناسمون څخه ژغوري او که نه، نو د څه سره به مامخ شو؟

که د فعل يا کړنوی يې بدليږي، نو بايد د ټولو پرونومونو له پاره دا کار وشي. نو ددې لپاره به د ما وړانديز په لاندې توګه وي.

او که نه، نو له ،، ئ ،، څخه هم تير شی. ژبه هم ګډوډي نه مني.

## وړانديز:

نومځاينيوی....... کړنه .. پخوانی ييګانې...اوس

ته ............ډوډی.....خورې......خورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو........... ډوډۍ..... خوري......خوري+

هغه،هغوي.. ډوډۍ......خوري......خوري±

که ما، موږ ..ډوډۍ.....خوړی......خوړی=

دا بیا کیدی شي د کړ (کړنې) او پوښتنې اونوروحالتونو له پاره هم نورې ور باندې زیاتې کړي، کیدوني دي.

**هیله ده، چې ټول به خبرې پرې وکړو**

په شمیرپوهنه کې یوه لار( قانون) ده، چې که یوه لار د

۱ لپاره باورولري او هغه د ن لپاره هم باورولري، نوهغه بیا د د ن + ۱ لپاره باوري او همداسې دا بیا د ټولو پیداېښتي ګڼونوله پاره باورلري. دا داسې نیمه نیمخوره دی، خو راسره ویې منۍ.

دلته هم چې یوڅه د یوه پرونوم کړنې ،،یې،، بدلون لپاره باوري وي، نوهمهغسې لاربیا باید د نورو پرونومونو کړوني ،، بیګانو،، له پاره هم باورلري.

په ژبه کې بیا پوښتنغوندالي راځي او نورګرامري څه، نو بیا به د هغوسره څه کوو؟

او که داسې وي، چې د شپږ پرونومونو څخه د یوه پرونوم کړ لپاره بله ،،ئ ،، په خپله خوښه ټاکی، نو بیا به د دې نور پرونومونو پرته ددې نورو غږلرونکو تورو سره څه کوو؟

ایا د هغو څخه به هم د کوم یو لپاره بل ډول غږټوری پیدا کوو؟

که بې لارې یو، خوباید دا بی لارې پرېږدواو که داسې نه انګیرو، نوبیا دا باید ټولیزه شي، یعنې د ټولو غږ لرونکوسره باید د کړنې لپاره بل غږلرونکی وټاکو اود ټولو شپږ نومځاینیوو او همداسې د نومونولپاره، چې دا به بیا موږ له خپلې ژبې پښیمانه کړي.

همداسې: تنباکو کرو کې هم باید دا کرو له پاره کرؤ ولیکو اوداسې نور.

ژبه مو ملکیت نه دی اودا پیداېښتي حالت یې د هرڅه لپاره بسیا کوي اوکه نه نوبیا خو ورته ناسم څه نه ټاکو.



یا تاسو د دې کار دلیل ولیکۍ، چې ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځئ چې په ګډه دا د عربو ،،ئ ،، له پښتوبیرته لرې کړو، ډېرې بیګانې لرو.

په پای کې: زه له ټولولوستونکو څخه ډېره بخښنه غواړم او ستاسو هر ډول ګوتنیونو ته هرکلی وایم.

## د منلي استاد خبیب علي پر لیکنه باندې

دما په یوې لیکنې، چې ،، ئ په پښتو تېل شوې،، درانه او منلي استاد خبیب علي د رد لپاره له دلایلو څخه یو دا دلیل راوړی. نور به یې هم درسره ګډ کړم.

منلی استاد خبیب لیکي:

.،، که موږ د ډاکتر صیب ماخان شینواري خبره سمه وبولو او کړواله «ئ» په پښتو لیکدود تېل شوې وګڼو، نو دا څنګه کېدای شي چې وزیر محمد ګل خان مومند یا بل کوم لیکوال دې دومره لوی بدلون په پښتو لیکدود کې راوستی وي او په پښتو ټولنه کې دې هېچا ورسره مخالفت نه وي کړی؟،،

د توري له خوا چې په پای کښې راځي، د هغې له مخې کړوال یا نومیال نه شي ټاکلکېدی، د هغوي له څوا څخه یواځې ځرګندېدی شي، چې دا نارینه یا ښځینه، دېرګن... یا بل څه دي، بیا خو ور څخه ټاکل کیږي.

پیل یادونه: ماډېر دلایل راوړي او ډېر هڅېدلی یم، چې تېروتنه به را څخه ونه شي، خو دلایل مې که څوک نه مني، نو په پوهنیزه دلایلو دې یې رد کړي، نه چې هغه یا ده ویلي یا لیکلي، نو باید سم وي او یا چې د بل چا ورته نه یې پام شوی، نو د مادې هم ورته نه پام کیږي. ژبه یوه پوهنه ده او په پوهنه پوهنیز دلیل باید راوړل شي.

د موږ مخکښانو دا ژبه سمه کړې، ساتلې او په رسمي چوکاټ کې یې و منځ ته راوړې، دا یو ستر کار دی، چې پښتانه یې باید تل منندوي.

دا چې ما دا،، ئ،، تېلې بللې، نو دایې یو پوهنیز ځواب نه دی، چې هغو یا دوي دا کار کړی، نو همداسې دې وي. ناسمونونه هرڅوک کوي او بیا دژبې درسمي دپیل وخت کې



او دا به و ما ته هم ټول لوستونکي وبخښي. که دا و ما ته ناسمه نه برېښېدی، نو بیا مې ولې دا لیکنه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورته ،، هغه،، کې یوه روښانه ،،ه ،، اوبله پڅه ،،ه،، ده اوکه روښانه اوپڅه درته ښه نه برېښي،هرډول يې،چې بولی. دلته به نوڅه کړو؟

د ما اندېښني هم همدا دي، چې نو ولې د ما ورته پام شو اویا ولې زه داسې تیری کوم. دا یو پوهنيز تیری دی اوله دې امله باید پوهنيزه جزا وټاکل شي، خو د یوې پوره څېړنې وروسته.

دا نو څنګه وڅیړو؟

موږ خوداسې یوه دولتي اداره نه لرو، چې دا کار و سرته ورسوي، دا کیدی شي، چې د ژبپوه اوپه ژبه پوه کسانوله خوا څخه و سرته ورسيږي. دا خو و ما ته وړه خبره نه برېښي، ځکه دومره ټينګار ور باندې کوم او ګران لوستونکي دې همدې اند نه وي، چې ګوندې د یوه لیوني او سرسختي یا نانورمال کس سره مخامخ دي. زه تل په جنجالي خبروکې د ځان لپاره په حق قایل نه یم، خو په تاسو مې قانعکول هم راته اړیین برېښي.

بیا لیکي:

،،باید ووایو چې په پښتو ژبه کې همدا یوه زورکي واله «ئ» په دوو بڼو لیکل کېږي، چې موخه ترې په اصل کې د دوو اوازونو څرګندول دي. د پښتو ژبپوهنې استاد پوهاند زيار صيب يې دا دوه بڼې، یوه نوموواله (ئ) او بله کړواله (ئ) بولي،،.

،،استاد محمد معصوم هوتک هم یوځای پښتو یېګانې پنځه ګڼلې دي چې ګومان کوم منظور به يې ترې پنځه بڼې وي، نه پنځه یېګانې،،.

دا ګوره هم پوهنيز دلایل نه شي کېدی. دا ناسمون دی، چې له هره وخت څخه شوی وي. د ما درنښت دې ټولو ژبپوهانو ته وي او په تېره بیا له ما څخه و مشرانو ته.هغوي د موږ و ژبې ته بېساره ستر کارونه کړي، چې موږ هغه باید و مخ ته بوزواو په هغو يې اباد کړو

ښاغلی خبيب علي صيب لیکي:

،، که موږ د ډاکتر صيب ماخان شینواري خبره سمه وبولو او کړواله «ئ» په پښتو لیکدود تېل شوې وګڼو، نو دا څنګه کېدای شي چې وزیر محمد ګل خان مومند یا بل کوم



لیکوال دې دومره لوی بدلون په پښتو لیکدود کې راوستی وي او په پښتو ټولنه کې دې هېڅا ورسره مخالفت نه وي کړی؟،،

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خواشینیسره باید ووایم، چې زه اوس هم په دې خپل اند کې ځانله یم، خو دا دئ د ما یاغیتوب ونه ګڼل شي، دا دې د یوه زاړه زده کوونکې، پوتنوځواب وي، چې دما له تاسو څخه  هیله ده.

ښوونه نو څه شی دئ؟

په پیداښتي پوهنو کې د شووني لارې اود یوڅه یا د غوښتنو ښوونه روښانه ده، خودا په ژبه کې هم روښانه ده او که څنګه؟

هو!په ژبه کې موږ ژبلارښود لرو اود هغې له مخې هر څه راته روښانه راپيژندلشوي دي. د بیلګېپه توګه : موږ ګورو، چې که  یو نوم په ې سره پای شي، نو  هغه ښځینه نوم وي. په دې کې باید مخامخوالی نه وي، که چیرې داشې نوم مخ ته راغی، چې په ،،ې،، پای شوی او ښځینه نه وي، نو بیا دا لار ماتیږي اوباورله لاسه ورکوي.

د دې په څټ باورنه لري، یعنې هروی چې په ،،ئ،،سره پای شي، نو ښځینه نوم نه کیږي.

موږزموږ په ژبه کې د ،،کړئ اوکړئ(؟) په ډول نورڅه هم ډېر لرو، لکه وړئ،وړئ، خورې،خورې یعنې غلامې د غلامیکړئ ،،وړې،، کړې او دا ،،وړې شوې،، کړئ یې له ځان سره و کور ته وړې.

یا دا د انګوروخورې دانې دې غلامې راتولې کړي او  هغه کس ورته امروکړ، چې دا به خورې.

خورې، دا د انګورخورې دانې به خورې. یا ولې ولې ولې

دلته ګوره ستونځه په بیکانو کې نه ده، دا د ژبې تولیزه ستونځه ده او له دې ستونځوسره موږبلد یو اود ستونځوبې له پاره یې نورې پخپله و منځ ته راوړې لارې نه پیداکوو.

د مشرانو لیکنې: دا چې  زموږ مشرانوداسې لیکلي، دا پوهنیز د لیل نه شي کیدای. پوښتنه دا ده، چې دا نو بیا ولې د نورويیکانوله پاره باوري نه دي.په دې هکله ما په خپله لیکنه



کې یو لښتکی په توګه هم لیکلي، چې دې نورو بیکانوسره دې نو څه وشي. یوه لار( قانون) چې تولیزنه وي،هغه باورنه لري.

د شمیرپوهنې لار د ژبې لارې څخه هم نه شي بیلیدلی،هلته لارده، چې یوه لار د یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګڼ له پاره باوري وي او د يو بل ګڼ له پاره هم باوري، نو بيا هغه لار د ټولوګڼونوله پاره باوري ده.

دا ژبلار نه ده، خو په ژبه کې يوه نوې لارده، چې په سمون يې خبرې بايد اجازه ولري.

منلی خبيب غلي ليکي:

،،د دې غونډې په پايله کې چې کومه فونيميکه الفبې وټاکل شوه، په هغې کې هم پنځه يېګانې دي. البته په دې «ئ» بنه پکې کومه يې نشته.،،

زه د پنځه يا ښپږو يېګانوسره ستونځې نه لرم، خو دا بايد ژبلارې سره سمې، يا د ټولو له پاره او ياد ،، ئ ،، لپاره هم نه.

درونډ خبيب غلي ليکي:

،، بايد ووايو چې په پښتو ژبه کې همدا يوه زورکي واله «ې» په دوو بڼو ليکل کېږي، چې موخه ترې په اصل کې د دوو اوازونو څرګندول دي. د پښتو ژبپوهنې استاد پوهاند زيار صيب يې دا دوه بڼې، يوه نوموواله (ې) او بله کږواله (ۍ) بولي.،،

زه د سترو او غوره ليکوالانوپه ليکنوکې دا ګورم اوزوريږم، چې په هکله يې څه ليکم، خو په کلکه په دې اند يم، چې يا ،، ئ ،، نه شته او يا د نورويېګانو اوازونو يا غږونو له پاره هم بايد يېګانې پيدا شي.

که دا يوه لار وي، نوموالې اوکږوالې يې ګانې شته،نو د با يد دا د نورويېګانوله پاره هم وي.

يوه لار ( قانون) په هغه وخت کې باوري دی، چې ټوليز وي.

ښاغلی خبيب غلي ليکي:

،،که موږ دا «ئ» له پښتو ليکدود وباسو نو د سوېل لويديز وګړي به څه کوي؟،،



يېګاني څلور اوبڼې بدلې: دا د ژبپوهنې لار نه ده، چې بڼې دې بدلې وي اوبې دې همغه وي. دلته دې هم بيا د نورويېګان له پاره همغه يې خوبدله بڼه پيدا شي.

په پوهنه کې يوڅه د يو چا يالورلپاره نه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ربښتیا دا د عربو یې بللې، کله د ګوډې الف او کله یې د مسئول یې بولم. موږ هم مسئول یو د مسئول یې باید و لیکلی شو.

زه دا لیکنه نه اوږدږم، په دې لیکنه پسې مې بله لیکنه کړې، هیله ده، چې ګران لوستونکي او مینه-وال به یې ولولي.

ډاکتر ماخان میرړی شینواری

# بیا هم دا ،، ئ،، تپل شوې

د مخه یو څو غوره راوړنې

تر اوسه پورې مې چې د تاند په درنه خپرونه کې څه خپاره شو،هغه زموږ د ناسمونونو له امله وو، هیله ده، چې په دې لار کې به زما لیکنې داسې لږ څه دې ناسمونونو ته ستاسو پام را اړولې وې.

په یوه پوهنه کې چې یوڅوک څومره ورننوځي، پوهیږي، چې څومره نه پوهیږي. په دې پوهیږم، چې ژبه څومره ستونځمنه ده، خو چې سړی خپله په یو څه کار وکړې هلته د داسې یوبل څه سره مخامخ کیږي، چې په هغې هم باید کاروشي.

زه بیا بخښنه غواړم، چې په ډېرو موضوعاتو به ډېرو ژبپوهانوکارکړی وي، خودا چې زه نه پوهیږم، زه ملامت یم او دا چې زه هم بیا څه په لیکم، نو دا هم بیا سمکارځکه بولم، چې ګورو پر یوه موضوع باندې لسګونه که نه سلګونه کسان کار کوي اودا هم غنیوالی یا بډاینه ده.

## ناسم ویونه څنګه پیژنو؟

د لته بیا لږ تکرار دی، خو زه اړ وم، چې دا مې لبکلي وي او اوس یې راته لرېکول

و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۲۰۷

ستونځمن برېښي.

دا په پیداېښتي پوهنو کې لږساده ده، چې په ناسم څه وپوهیږو، په ژبه کې داسې لږڅه ستونځمن کار دی، خوسره له دې هم په ژبه کې د ژبلار په بنسټ لارې شته او داسې یې لنډ به ګوته کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی: داسې ویونه، چې د پیداښت په اوږدو کې یې د پیداښتې لارو سره سم لرو، نو د هغو له ډلې ځنې ویونه راباسل او په بل ډول یې نومول ناسم دي.

لکه موږ اوتاسې په ګڼونو کې د لرلې لار څخه په ځنګ کېږو، چې بېلګه یې دېرش سلمې ته دېرش سلنه وایواودا پخپله بې لارې ده یعنې د پیداښت سره مخامخوالی دئ.

دویم: د یوکره پېژند لرونکی وي د بل په ځای ایښوونه ناسمه راځي: که د یوه څه لپاره په پیداښتي توکه په مانا یا پوهېدنه نه پوهېږو، لکه د مایع له پاره، نود خپلې ناپوهی په بنسټ بیا د دې لپار یود بل څه له پار ټاکلی کره پېژند لرونکی نوم یا وی ټاکو، چې دا بیا هرومرو باید ناسم وي، لکه د مایع لپاره چې اندول پښتویې بهیدونکی دئ او اوبلن وایو.

دریم:

ګوره بیا لور، لور اولورهم لرو، نودا توپیرونه به بیا ځنګه بیلوو، دا خوژبه ده اوداکارباید وکړیشو، بې له دې چې پرته له ژبدود د ژبې په توروکې زیاتوالی راولو.

**اوس راځو دې ته چې:**

## بیا هم دا ،، ئ،، تپل شوې

زه پوهیږم، چې زما لیکنې زموږ د ټولودرنو لیکوالانوسره په مخامخوالي کې دي، خو زه د دې روښانولوله پاره اړیین ګڼم، چې دا خپل اند له تاسوسره ګډ کړم.

بیا هم که دا د داسې څه لیکونکي ما باوري کړي، خو دا هم یوه ښوونه ده اوزما زده کړه.

زه و تاسوته لوړه کوم، چې د ما لیکنې نه د چا د مخامخوالي له امله دي، نه یاغي یم اونه یې خوي لرم اونه د ځانښوونې له امله دي. زما لیکنې یواځې اویواځې د لا نورو روښانه ونو له امله دي.



زه به د خپلومشرانو په ځانګړې توګه د ژبپوهانومشرانو ډېردرناوی ځکه کوم او لرم، چې همدا دوي دي، چې دا پښتو یې را ژوندۍ کړې، ژوندۍ ساتلې او ژوندۍ به یې ساتي. دا د دوي برکت دئ اود هلوځلولاسته راوړنه ده، چې اوس دا ژبه د ورکیدو کندې ته نه شي لویدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دلته د دې لپاره یوه لنډه یادونه کوم اوبیرته تاسو درانه و همهغې خپلې پخوانۍ لیکنې ته رابولم، چې ویې ګورئ، هلته داسې نورد ویلوڅه نه دي پاتې شوي اوزما دلایل هم په سم اندیزدلیل ژبلارې نه دي رد شوي.

زه یوه بیلګه راوړم:

زه یوائې دې ته ګوته نیسم، چې په رښتیا دا د عربو د ګوډي الف ،، ئ ،،، چې موږ هم ورته د ،، مسئولیت،، په لیکلو کې اړ یو او زموږ د ناسم لیکنډول یا – دود مسئوله ده، مسئولیت د همغومسئولو په غاړه واچوو اونوره یې همغه یوائې ،،مسئولیت،، ته پرېږدو.

یوه یادونه دې وي اوهغه دا چې دا د ،، مسئولیت،، ئ د دریم ډېر ګړو کړنو له پاره تل همداسې سمه نا سمه لیکل کیږي، دا په دې مانا، چې د لیکوالانو پام یې ډېر و ځان ته را اړولی.

هغه دلایل، چې زما د لیکنې مخامخ – چې ئ په پښتو تپل شوې- لیکل شوي، زه ورته په لاندې توګه ګوته نیسم:

دلیل – چې هرومرو باید پوهنیز وي- راوړو، یا یې منو او یا یې په یوه پوهنیز دلیل ردوو.

زه د ما د پخوانۍ لیکنې د ردونې دلایل په داسې لنډه توګه په ترتیب راوړم او بیا یې یا د منلو او یا نه منلو پوهنیز دلایل په همهغه ترتیب له تاسو سره ګډوم.

د ما دلیکنې مخامخ لیکنې:

لومړی: دا چې زموږ مشرانو دا ئ داسې لیکلې، نو دا له دې امله سمه ده اوسمه بایدوي.

او یا دا چې:

،،که دا ئ ناسمه وي، نو ولې په دموره وخت کښې زموږ مشرانو دې ته وې فکر شوی نه دی،،.



دویم:

ییګانې څلور اوبښې بدلې یعنې په پنځه ډوله لیکل کیږي، دا یو غږ، چې همغه غږ دی، په دوه ډوله- چې ی او بله یې ئ ده- سره لیکو.

:دریم

(c) ketabton.com: The Digital Library

غونډاله لړو: د غلامۍ کړی ماتې کړئ.

دلته نو باید د ،، کړی،، نوم او ،،کړئ ،، منځ کې توپیر وشي، نو له دې امله دا یوه کړیاله او دا بله نومیاله یې دي.

د پورته درې راوړنو مخامخ دلیلونه:

لومړي ته:

مورډ خپلومشرانوپوهانو په پوهه نوې زده کړې کوو اوډ ژبسمون له پاره په دې زده کړو ودان نوي سمونونه ورزیاتوو. دا له پیداښنته پیداښتي خوي دی، دا په دې مانا چې که زموږ راتلونکي له موږخخه پوره په هر څه کې د مخه نه شي، نو دا به بیا زموږ ملامتیا وي.

هره پوهنه کې چې یوه لار تولیزه نه وي، ناسمه ده.

نیسو، چې د ،، ئ،، لیکل اړیین دي، نو پوښتنه به بیا دا وي، چې دا نو بیا د نورویيګانوله پاره ولې باید باوري نه وي. په دې هکله ما په خپله لیکنه کې یو لښتکی په توګه هم لیکلي، چې دې نوریی ګانوسره دې ئو څه وشي.

د شمیرپوهنې لار د ژبې لارې ځخه هم نه شي بیلیدلی،هلته لارده، چې یوه لار د یوه ګڼ له پاره باوري وي او د یوه بل پسې ګڼ له پاره باوري شي، نو هغه لار بیا د ټولوګڼونوله پاره باوري ده، دا په دې مانا، چې یوه څه ته یوه لار وټاکو، چې هغه کار موږ کړی وي او هغه بیا د بل اړوند څه له پاره باوري نه وي، ناسم دی.

دا شمیرپوهنې لار په شمیرپوهنه کې ښوول کیږي.

زه د سترو او غوره لیکولانوپه لیکنوکې دا ګورم او زوربړم، چې په هکله یې څه لیکم، خو په کلکه په دې اند یم، چې یا ،، ئ ،، نه شته او یا د نورویيګانو او اوازونوله پاره هم



باید ییګانې پیدا شي.

بیا: یوه لار ( قانون) په هغه وخت کې باوري دی، چې ټولیز یا ټولباوري وي.

دویم ته:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د ژبپوهنې لار نه ده، چې بنې دې بدلې وي او يې دې همغه وي. موخه د ،،ی،، وينه ده اود دې له پاره دا ،،ی،، بسيا کوي او که نه، نو دلته دې هم بيا د نوروييګان له پاره همغه يې خو بدله بڼه پيدا شي.

همداسې ده.،، چې ،، د غلامۍ کړۍ ماته کړی،،. ځکه چې:

يو: په پورته روښانونه کې خوستونځه په ،، ی، ئ ،، کې نه ده، دا د يېګانو دنده هم نه ده او زه په بل څه کې هم ستونځه نه ګورم، که په زور يې نه پيدا کوو. دلته په لومړۍ کړۍ کې ک بايد يوزورکې ولري يا لومړۍ کړۍ دوه سيلبې لري يعنې يوه سيلبې يې ک – او بله يې –ړۍ ده او دا دوهمه کړۍ يوه سيلبي ده.

همداسې ده. ،، چې (د غلامۍ کړۍ ماته کړۍ). ،، که نه نو دا ورته ستونځې د نورو يې ګانوسره هم پيښوي.

د بيلګې په توګه دې لاندې غونډالې ته ستاسوپام راګرځوم:

په کړۍ او ک-ړۍ کې چې غواړو توپير وکړو، نو بايد په دا يوه کې د ک پسې څه راشي او نه د وی په پای کې بلو، چې هغه د ناسمې ويېنځ – که ورسره مخامخ کيږو= راشي.

غلامې دا دلته ولې دا وړې خورې ورې وريژې( ز، ج) يا د ډوډۍ ټوټې هلته وړې او خورې ( غونډاله که ښکلې نه وي، نو بخښنه دې وي).

دلته هم لومړۍ وړې، خورې دوه سيبلبي دي يعنې ،، و - ، - ړې،، او ،،خو - ، رې،، اودا دوهمې يوسيلبي دي، دا په دې مانا، چې د کړۍ او کړۍ سره له هرې لورې يو ډول دي.

اويا

ولې ولې ولې؟



په پورته کې دا ،، ې ،، دربواره يا درې ځله راغلې، يوه پوښتنه ده بله يې نوم دئ او بله يې کړنه ده دا په دې مانا چې په شپږ.واره ردبدلېدنې سره يعنې له وي درېواړه هريوهر ځای نيوی شي.

د لته دې نوبيا يوه ،، ې،، وي اودربواره ليکنې.

که دلته اړيين نه وي، نوبيا دې په ،،کړی،، ولې ،،ئ،، راشي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله بیلګه به بې له يې راوړو:

،،تلل ( له یوه ځای څخه وبل ځای ته،، او ،،تلل ( یعنې د یو څه کچول یعنې د څومره والي جوتول)،، همداسې ،، تلنه،، او ،،تلنه،،.

ګوری زموږ په دې ډول ستونځې لا ډېرې دي.

غلامې هلته ستا تلنه ( له یوځاي څخه بل ځای ته) به هرومروستا د بار تلنه( چې څومره درووند دی) اړیينه کوي.

کوچۍ په کوچ کې کوچ له ځان سره یووړل.

کوچۍ کوچ په کوچ کې له ځان سره یووړل.

کوچ( کوچ: له یوځای بل ته تلنه او دابل يې هغه غوړ خوندور کوچ)

# ستونځوبی

اتم د جون، ۲۰۱۹ زک. تاند

یو پوهاند را څخه وپوښتل، چې د ستونځوحل ته څه وایې؟

ما ورته وویل، چې ستونځوبی.

دا نوولې؟اوس دې نړۍ په هراړخیزه پوهنو کې دومره وده کړې، که څوک، چې څېړنې کوي اوپه داسې پرمختتلې ژبه وپوهیږي، نو د هر څه لپاره په پښتو کې هم هغه اړوند ویونه پیداکولی شي.

. ۲۱۲ و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... .

لرو: ملګوبې، چې انګرېزي يې salt solution دی.

لنډ: زه به د خوي له مخې څخه لکه پورته د ،،اوروبې،، په ځای، چې له اورغورځونې منځ ته راځي یا پایله ده، اوربهیدنه، اوربهیدونکي... وبولم. په مننه

محلول ملحي saltzlösung

حل solution، lösung

مخامخکړنه (عکس العمل):

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا مي همداوس فکر ته راغئ، چې د يوچا د کړنې سره چې څوک غواړي مخامخوالی وښايي، نودا به هرومرو دما په اند مخامخکړنه وي.

که غواړئ، نو د همغه ،،عکس العمل،، سره پاتې کېږو.

جفت او طاق ته په پښتوڅه وايي؟

پوښتنه. ايا موږ پښتو کې د جفت له پاره په دې ورځنۍ ژبه کې انډول وی لرو او که نه؟

هو: هرهغه څه، چې دوه، دوه کيدی شي، هغې ته عربي جفت وايي، چې پښتو انډول يې ،،جوړه،، دی.

لومړی:

ايوه يا ييوه چې څوک کوي او يو غويا (غوايی) ولري، نو جوړه ورته پيدا کوي. دا د غويانو جوړه ده، چې بيا سره دا جوړه ځغلي. څوک چې بوټان اخلي، نو د دباندنی اغيزو پرته به جوړه بوټان اخلي. او که په ټاکنو کې سره برابر ځغلي، نو همغه د يوې او يا ايوې د غويانو په څير به دا يوه جوړه وي، چې دا جوړه بيا جوړه سره ځغلي. نه ليکو، چې غبرګ سره ځغلي، ځکه چې که جوړه نه وي هم غبرګ کيدی شي او يا غبرګ دي،، ځکه چې ګډ ووټونه يا رايې به نه لري، چې يو بل غوڅ کړي.

که يوه نجلۍ او هلک داسې لږپه خوي کې سره نږدې وي، نوکيدی شي چې ووايو: دوي به يوه ښه جوړه وي.

دويم:

د جوړه مخامخ څه بولو؟

عربي يې طاق دی، هغه چې جوړه نه وي يعني ناجوړه وي، نو ګوروچې پښتو بلل يې ،، ناجوړه،، دئ.



راځوشميرپوهنې ته

ګڼونه : هغه پيداښتي ګڼونه چې په دوه پوره وېشل کيږي، هغو ته جوړه ګڼونه وايو او هغه پيداښتي ګڼونه، چې په دوه پوره نه وېشل کيږي، هغوي ته ناجوړه ګڼونه وايو. ګوره زه ورسره دلته پوره نه ليکم، ځکه چې اړتيا ورته نه شته. پيداښتي ګڼونه چې په پيداښتي ګڼ وېشل کيږي او لاس ته راوړنه يې پيداښتي ګڼ وي، نو،، پوره،، ته يې هرومرو اړتيا نه پيښيږي.

جوړه ګڼونه: ۴ و۱۶، ۲۸ ...

ناجوړه ګڼونه: ۱۳،۱۵، ۲۷ ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ورځني ژوند کې ، چې ورسره مخامخ کيږو

څنګه يې بولی؟

له الماني څخه ژباړه يې

۱ – پلنې د ربړ پټۍ، چې له ژورې سکاره راپورته کوي:

۲ – په مغازو کې چې تل ګرځي اوشيان له يوه ځای څخه بل ځای ته وړي.

۱ – وړونپټۍ: يعنې يوځه له کښته پورته وړي.

۲ ـ بهيدنپټۍ: دا تل روانه پټۍ ده، له دې امله بهيږي يعنې بهيدنپټۍ( د دې خوزښت هم بې له دباندني اغيز بهېدنه ده).

موږ د ځنو وييونو لپاره، که ښه ويی ونه لرو، نو د ځو وييونو له لار څخه يې روښانه کولی شو

په پښتوکې د زياتو ويونو له پاره انډول نه شته يا موږ( زه) نه پرې پوهيږم لکه

سويه، معيار، يا............ د سطحې (د هوارې) جګوالی، و ټولو او نورو و ډېرو زياتو شيانو ته ،،کچه،، وايو، چې ډېره زورېدونکي کارونه يې ده. دا ټول پهکاب کښې روښانه شوي دي.

معني:

د عربي ،،معنی،، له پاره موږ پښتو نه لرو، نو که پښتو يې ،،مانا،، وليکو، دا به منو.

.

. ۲۱۴ و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... .

يادونه: ،، دا به منو،، دا پخوانۍ ليکنه ده او په هغه وخت کښې د ما ستنځې هم لومړنۍ ې. که مو په يوه ويي و نه پوهيږو، نو پوښتنو، چې د دې ويي پوېدنه څه ده، يا له دې يي څخه څه پوهيږو، نو ايا د د دې معني يا مانا پوهېدنه يامعنی به نو پوهېدنه نه وي؟

همداسي د قطب له پاره هم پښتو انډول نه شته.
داسې ويونه هم بايد چې څنګه وي خپلې ژبې ته راواخلو، لکه چې رانيولي مو دي، که ليکندوديې د ځنولپاره بدل شي، دا په ټولو ژبوکې ورځنی دی.

د بلې ژبې هر څه يا هر وی لپاره، انډول لرو، خودا بايد پوهنيز ولټول شي.

داسې خو ما فکرنه کاوه،چې شميرپوهنه دې داسې سمه په پښتوشي، خودا چې دا نومونه او ويونه ټول پيداښتي دي، نوزموږژبه هم دا ويونه لري اودا به يواځني وي، دا په دې پوهېدنه يا مانا، چې هر شميرپوهنيز يا هندسي څه پښتو انډول يا پښتو هم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوباید په دې اند نه و اوسو، چې ژبه دې سوچه کړو.که زما لیکنې وګورۍ، سمې په پښتودي، خودا موږله پیداپښته لرو، نوي مې منځ ته څه نه دي راوړي اوداسې باید ونه شي، ومو کتل، چې څوک په خپله خوښه یوڅه یا یو وی په پښتو کوي، په هغې کې ناسمونونه راځي.

ګرانو هیوادوالو!

موږ پوهیږو، چې پښتو په دولتي څلورديوالي کې یوه ډیره پخوانی نوې، نږدې شپیته کلنه ژبه ده، نو له دې امله یې علمي کول او د ځنو ویونو پر پښتو باندې کول یا ورته پښتو پیدا کول هم ستونځمن دي. له یوې خوا څخه موږ چې څه زده کړي یعنې زموږ ټوله زده کړه هغه په پښتو نه ده او له بلې ژبې مو را اخستې او له بلې خوا په دا بله ژبه مو چې څه زده کړي، هغې هم ډېر ویونو(لغات له عربي رانیولی)، چې موږ یې له دې امله د ډېل ستونځو سره مخامخ کړي یو. زموږ دا نږدې شپیته کاله مخکنیو په پښتو لیکونکو، څه له فارسي رانیولي، هغه په فارسي کې د عربي ویونه یې هم ورسره شاید ( یاممکن) کټمټ رااخستلي وي. بله پوښتنه دا هم ده، چې هغه عربي نومونه – چې موږ یې د پښتو نومونو لپاره کاروو- ایا دا سم دي او که څنګه؟

دا هم بله پوښتنه ده، چې باید پام ورته وشي.

ترانسپورتمیتل = وړون الې
یوه غوره یادونه: زه د دې دعوه نه کوم، چې د ما لیکنې دې سمې وي، خو تر هغې پورې، چې زه پوهیږم و ما ته سمې بریښي او دا به تر هغې پورې سمې وي، تر څو پورې یې چې چا و ما ته نا سمون پوهنیز نه وي ښوولی او دا یې پوهنیزه لار هم ده.

دا و پوهنې ته نا درناوی دی، چې څوک ووایې دا ناسم دی او لامل یې نه راوړي



# ولې اوبلن

## د نه په پښتو بللشوو نومونو او ویونو د پښتو ناسم انډول:

غواړم د ګرانولوستونکوسره هغه څه ګډ کړم، چې ژبې ته مو ناسم راننباسل شوي، دا په دې مانا چې ناسم مو ژبې ته نه دې راننوتي.

زموږ هیوادوال یا نوره هم ښه، لیکونکي په پښتو د مایع په انډول نه پوهیدل اودا چې مسلکي نه وو، نو پوهیدلی هم نه شو یا په دې هکله له ستونځوځانونه ژغورل، نودې ته یې یعنې مایع ته یې په پښتو کې د انډول له پاره اوبلن نوم وټاکه. په وټاکه باندې ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوراچوم یا لیکم، چې انډول یې ورته ونه شو کارولی له دې امله یې داسې ناسم اوبلن وباله.

## اوبلن نوښه شی دئ؟

اوبلن په ژبه کې د شیانو یا تنونود یوه ټولګي یو پیداښتي خوي یا وی دئ او په نوروژبوکې هم انډول باید ولري. دا چې اوبلن لا بهیدونکي نه دئ، زموږ ادیبان په دې نه پوهیدل او د نورومرستي ته یې هم غوږنه نیوه، نو له دې امله د عربي مایع انډول هم نه شو کیدلی. دا نوم ورته ټاکل شوی یا غوره شوی دئ اونه په پیداښتي توکه دا انډول دئ.

موږ د دباندني وی یا نوم له پاره پښتونوم نه ټاکو اوباید ویې نه ټاکو ، موږ یې انډول پیدا کوو، چې دا کار کیدونکی دئ.

پښتو یوه ډېره توانمنده ژبه ده او په هره ژبه کې چې په پیداښتي توګه څه وي، هغه هرومروپه پښتو کې هم شته.

دې ته د ټولولوستونکوپام رااړوم، چې د داسې پیداښتي ویونو له پاره لکه مایع هرو مرو پښتو انډول باید وي او موږ هغه باید په دا خپله لرلې ژبه کې ومیندلی شو، داسې نه لیکم، چې پیدا کړو، شته دئ باید د پوهنې په بنسټ ولټول شي.

و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۲۱۶

زموږ ژبپوهانو فکرکاوه، چې ګوندې موږ د مایع له پاره پښتو انډول نه لرو او باید یو ښه، لنډ او ښه غږیزنوم یا انډول ورته وټاکو، نو له دې امله یې مایع ته اوبلن نوم وټاکه.، چې په همدې غږېږو.

زه د پوهنې وزارت په نصاب او دې خبروکې وم، خو زما توان نه رسیده، ځکه چې زه د پښتوڅانګه کې نه وم.

موږ ډېرتنونه لرو، چې مایع دي، دا په دې مانا، چې دا د تنونو ګډ خوي مایع د تنونویو ټولګی جوړوي، نو له دې امله داسې مخ ته ځو او فزیک څخه ګټه پورته کوو یا اخلو:

موږ تنونه یا اجسام د خویونو له مخې یاد زرو سره ټینګ نښتوالي له امله ( چې د جوړښت له امله یې غوره کوي) یا د تودوخې په بنسټ په درې ټولګیو وېشو( فزیکي پیژند):

لومړی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلک بدنونه، د بدنونو هغه ټولګی، چې بې له باندنی اغیزي یې زرې سره کلکې نښتي وي او بې له باندني زوره ځاي په ځای وي.

لکه:تیږه، لرګی، یخ، واوره او اوبلنه واوره (دا هم لا اوبه نه دي) اونور

دویم:

تښتیونکي – یا غاز ډوله بدنونه: د بدنونو هغه ټولګی دی، چې زرې یې سره نه وي نښتې اوزرسره بیلیږي او یا دا چې بې له باندنی اغیزې تښتي( هرې لور ته ځغلي). دا نو د ژبې د قانون اود دې خوي سره سم تښتیدونکي یا تښتیدوني بلل کیږي ( نه ! ښه یې: تښتیدونکي دي) او سم اندیز هم ځکه دی، چې هرې لورې ته تښتي لکه غازونه. د اوبوبوخار اونور

دریم:

د بدنونو هغه ټولګی چې زرې یې داسې نښتې وي، چې کلکې نه وي اویوبل ټیلوهي یعنې مخ ته بیایي یا چې بې له دباندني زور یا اغیز بهیږي.

دا بهیدنه یې خوي دی اوله دې امله بهیدونکي یا بهیدوني بلل کیږي یا د بدنونو بهیدونکی ټولګی بلل کیږي.



نورهمداسې مخ ته ځو: اوبه، شدې، شرومبې، تیل او ورته شیان یعنې تراوسه مایعات څه خوي لري،

دا هر څه د همغه خوي له مخه ټولګیز کیږي. اوبلن غازنه شته، خو بهیدونکی غاز شته.

لنډ: که تاسو یو په عربي پوه اوداسې لرډ فزیک سره بلد کس څخه وپوښتی، چې مایع ته په پښتو څه وایي، هرومروبه درته ووایي، چې بهیدونکی.

دا داسې د بلې ژبې نوم یا وی ته د انډول میندلو پاره باید په هغه بلې ژبې اومسلک پوه افغان وي، نه توکلي کسان.

جبه اوبلنه ده، هغه څه چې اوبه یې زغملې وي، اوبلن دی، مګر یوڅه مایع اوبلن نه دی، پخپله اوبلن لا نه بهیږي، یعنې دا اوبلن لا اوبه نه دي.
دا ګاز یا غاز، چې تاسو ورته ګوته نیولې ده او ناسم یې،، اوبلن غاز،، بولی، د اوبو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره ګډ خوي يې يواځې دا بهيدل دي، نور بل کوم خوي ورسره ګډ نه لري او نه يې اوبه زغملي، چې اوبلن شي، دا بهيږي، چې له دې امله بهيدونکی غاز دی او نه اوبلنيږي.

بيا : اوبلن لا تراوسه کلک يعنې نرمه واوره ده، چې پسې ويلې کيږي اوله دې امله چې ټوټې يا زرې يې سره نښتې دي بيا اوبه کيږي، چې بهيږي، دا په دې پوهېدنه يا مانا، چې اوبلن اوبه نه وي، نو بهيدونکي يعنې مايع نه دي. اوبلن لا واوره ده خونرمه.

څوک چې د تلنې توان لري، تلونکي دي. څوک چې د خوړنې خوی يا توان لري خوړونکي دي، څه چې د الوتنو خوي لري الوتوني يا الټونکي دي او داسې نور لکه اوسيدونکی، لوستونکی او او... يعنې د بهيدلو توانوالو ته بهيدوني يا بهيدونکي بايد وويل شي او دي، او نه دا ناسم اوبلن.

## اوروبی، که اورغورځونه اواوربهيدنه؟

ما يوه ليکنه ولوستله، چې لاوا يې ،،اوروبی،، بللی وو، چې د ما اند يې د ما د مخه ليکنې په بنسټ په دې هکله څه ليکلو ته راوهڅاوه، چې له تاسوسره يې شريکوم.



موږ اورغورځوني لرو، چې هغه اور راغورځونه يا غورځوي او دا اورغورځونه يې بيا داسې حالت ته ورسيږي، چې بهيږي. د پورته روښانونې سره سم، دا هم دا د اورغورځونې لاوا، چې بهيږي، نودا اوربهيدنه ده يا ،، بهيدونکی اور،، دئ.

دلته ګورو، چې دا لاوا يا اور نه اوبلن کيږي، دا اور بهيږي، نو له دې امله بيا هم په دې ټينګار کوم، چې د عربي مايع له پاره اوبلن کارول پوره ناسم دئ او دا د پښتوسره تيری دئ او اروی هم نهشته.

يادونه: دا د دې ليکونکي ته دومره درناوی لرم، چې داسې لړڅه يې د پوښتنې لاندې نه شم راوستلی. زه ور څخه بخښنه غواړم.

که داسې نرم د موټرو خوزت وي نو ، نو کړی شو ووايو، چې دموټرو نرمه بهېدنه دا په نورو ژبو کې همداسې ده. خوزښت دوی هم لري او همداسې که تاسو په حج کې د ورايه يا له پاسه لاندې کسان چې له تورې تيرې څخه راګرځې وګورئ، نو دا هم داسې برېښي، لکه چې بهيږي، ګورئ، که دلته اوبلن ووايې، نو دا به بيا د ژبې سره پوره ناروا کار وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له ،،واحد،، څخه موږ څه پوهیږو؟

یادونه په لیکنه کښې دا په نوکانو ښې اس ور زیات یا سم لیکلي

موږ په دا دومره مهال کې واحد د فزیکي کچونو لویو یعنې متر، کیلوګرام او نورو ته وایو، چې دا ناسم دئ او تل ناسم وو، خو یا مو ورته فکر نه دئ شوی او یا مو د سمون په(پر) باوریوالي (باندې) ځانونه نشو پوهولی. زما( د ما) هم له هغه وختته (څخه) ورته پام شوی (دی)، چې پر لیکنواو ژباړو( باندې) مې پیل وکړ، چې له دې امله مې په خپلو لیکنو کښې دې لویو ته واحد نه دئ ویلی. دا پیداښتي ده، چې په نورو وتلو ژبو کې دا هر څه سم روښانه او بلل شوي (دي)، چې په پښتو انډول یې باید ولیکل شي، خو دا هم په(پر) خپله ژبه (باندې) د باور کمی او هم په(پر) ځانونو(بادې) دباور کمی دئ، چې د سمون زړورتیا مو تر اوسه (پورې) نه ده کړې. واحد یوه ته وایي او بس

له دې څخه د مخه یو څو یادونې:

لومړی: د ما وړاندیز: که څوک غواړي یو پو هنیز څه ولیکي، چې ټولنې ته یې وړاندې کړي، باید په اول کې دا د یوې وتلې دباندنی ژبې راونیسي (پېژندونه یې). په پوره خواشینی باید ووایم، چې موږ لا تراوسه پوهنیز څه په خپله ژبه کې نه لرو یا پوره نه لرو او دا مو له دې امله ناسمونون سره مخامخ کوي. که دا کومه لیکنه له دباندنی وتلې لکه انګرېزي ژبې څخه راوژباړو، نو د انګریزي یونیټ په ځای به واحد ونه لیکو، نو له دې

. ٢١٩ و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... .

امله – که غواړئ ښه څه ولیکئ، نو یوه وتلې ژبه مو باید ښه د پوره توان سره زده کړئ او پوهنیزې لیکنې ترې راو ژباړئ. موږ د ټولو پیداښتي ویونو لپاره په خپلو ژبو دپیداښت سره سم په پښتو انډول لرو

دویم: موږ که یو څه (و) خبرو ته راڅوو، نو پېژند یې باید راوړل شي، ښه روښانه، ټولپوهوړ او ټولپوهنیز.

زیاته شننه د(له) سرې څخه لار ورکوي، لنډ او بې له کومو زیاتونو باید هغه موخه ورکړل شي .

دریم: که د بل چا د لیکنو پر ناسمون باندې خبرې کوو، نو هغه لیکنه باید راوړو او بیا یې په خپل اند هغه سمون ورته وړاندې کړو.

داسې باید نه وي، چې د هغه څه مې ولوستل ښه نه وو، یا ترې سمه ګټه نه ( سمه ګټه ور څخه نه) اخستل کېده. دا باید و ښوول شي، چې د هغه لیکنه کې کوم ناسمونونه وو او دا څنګه سمبدلی شي. د دې له پاره باید ښه روښانه او پوهوړ دلایل راوړل شي.

څلورم: په لیکنه کې بې له اړیینو څه (څخه) باید سملاسي خپلې لیکنې باندې پیل وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس راځم خپلې موخې یعنې ،، واحد،، ته.

زه چې زموږ( د موږ) د لیکوالانو اندونه او د واحد پیژند د دوي په اند د دوي په لیکنو کې ګورم، ورته خواشینی شم، چې له دې امله دې لیکنې ته راوهڅول شوم، که څه هم دا زما ( د ما) په پخوانیو لیکنو او همدا ډول د شمېرپوهنې ویونو کتاب کې هم شته. .

موږ چې لا تراوسه ( پورې) واحد کارووِ، نو موخه ترې تل د یوه څه د کچولو لویې لکه متر، کیلوګرام او ساعت ته ،،واحد،،)؟( وایو، یعني که اوږدوال یا یو بل څه کچوو، نو هغې د کچونو الو یا کچون الو له لارې ( څخه)، چې هغه روښانه پیژند او نوم لري، دا په دې مانا چې که اوږدوالی کچوو، نو دا په متر کوو، چې دا د کچونې واحد بولو، چې دا پوره ناسم بلل دي. په پوره خواشینۍ باید ووایم، چې موږ اوس هم دا پخوانی ناسمونونه همغسې ناسم کاروو. د دې کار هغه ستر لامل دادی، چې موږ هغه د دباندنیو ژبو ( و) رانیولو څه ته هم فکر نه کوو، چې په هغو کې دا څنګه دی، خو موږ په همدې ،، واحد،، پاتې شوي یوچې زه غواړم دا لږ روښانه کړم.

زه غواړم، چې ستاسو په لیکنه کې دا ،، واحد،، لږ روښانه کړم او مسلکي پېژند یې له تاسو سره ګډ کړم، هیله ده، چې دا به راته وبخښې، کوم ځانیز څه په کې نه لرم او هیله مې زموږ ( د موږ) او ستاسو ( د تاسو) همغږیزوالي دی

و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۲۲۰

دا په پښتو کې ورځنی شوی وی ،،و احد،، موږ له عربي ناسم رااخستی دی. د ،، واحد،، ترې پوهېدنه بل څه دي وهغه ته چې موږ ترې پوهېږو. د واحد پښتو انډول ،، یو ،، دی چې پسې دوه، درې او نور راځي او بس.. دا چې موږ ورته واحد وایو موخه ترې ،، یو،، نه دی. یو یو دی او نور څه نه وايي او همداسې لکه دوه، درې او نور هم. یو که د یوه څه سره یوځای شي، نو بیا هغه شی یو هغه څه دی، لکه یوکتاب یا یو متر، - کیلو، - بجه او نه دوه یا درې او نور..

موږ په فزیک کې ویلي، چې د فزیکي لویو د کچولول له پاره زموږ په بللو،، واحدونه،، کاروو، چې ،، واحد،، یې ناسمه نومونه یا بلل دي.

دا نو څنګه سموو؟ موږ وتلو ژبو ته ځو او د هغو څخه دا سم رانیسو:

د کچونلویو د څومرهوالي لپاره، چې کاروو، دا په نورو

ژبو کې لکه انګرېزي کې unite دی او الماني کې Die Einheit

او همداسې یې عربي پوهېدنه یا مانا،، وحدة؟،، دی، چې موږ یې پوره ناسم ،،واحد،، بولو. له دې دریواړو ژبو څخه د دې پښتو انډول ،، یووالی،، دی، چې ما په خپلو لیکنو کښې یوون بللی، چې ګوندې دا به همدا یووالی وي او که څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ ته دا یووالی، چې ما ،،یوون،، بللی، لږ بلډول برېښي، نابلد دئ او ګومان مو راځي، چې ګوندې دا یووالی، خو یو بل څه دي. دا همداسې دئ او نه یې بل څوک پیداکوي، که نه هغه به همداسې لکه دا ،، واحد،، ناسم وي. دا ویډول دی، دا په ټولو ژبو کې همداسې دئ ،د پښتو انډول یې هم همدا دی، ما نه دی پیداکړی او نه دومره توان لرم. د دې روښانه ولو لپاره داسې مخ ته ځو:

.فزیکي لویې څه شی دئ؟

فزیکي لویې اوږدوالی، دروندوالی او مهال دي او د فزیکي لویو د څو والي او څومره والي د روښانولو له پاره یووالي متر، کیلوګرام، ساعت دئ، چې لوی او واړه یووالي بیا لري. که موږ او تاسو د هر څه اوږدوالی کچوو، نو په متر به دا کار کوو او دا متر له دې امله یو یووالیز یووالی دی، چې هر ډول اوږدوالی پرې کچیږي او بس.

د تبې یووالي : Grad Celsius, Kelvin und Fahrenheit

دا پورته د تبې یووالي یا یوونونه دي، چې یو بل اړول کیږي یا اړولکېدی شي.

ربښتیا درسره شریک کړم هغه بل یې زما له یاده ووتلو. په پوره بخښنه .

. ۲۲۱ و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... .

د هرې بلې لوي له پاره د کچولو یووالی شته لکه د موټر زور، چې په اسزور (یا د اس پر زور باندې) کچیږي او داسې نور

اوس به نو راشو، دې د ژبپوهنې یووالو ته، چې دلته به څنګه وي؟

اوس به د یو څو ژبنیزو څه یا توکو یا اتمونو پېژند ورکړو، چې ما تر اوسه ( پورې، چې دا پورې له ،، تر،، سره نه وي، نو غونډله پوره نه یا ناسمه ده، ځکه دا غونډلبرخه ،،پورې،، په د ې کښې نه شته دی) ددې توکو سم پېژند نه دئ لوستلی، موخه مې په پښتو کې. دا به هم داسې لږ سرسري وي، خو هغه څه چې راوړم، هڅېږم، چې هغه به روښانه او ټولپوهوړ لیکلي وي، زه یې له الماني ( څخه) رانیسم، په انډول پښتو کښې

کال هم یو یووالی کېدئ شي: دا له ځمکې لرې ستوري، چې ومیندل شي، نو د هغوي د لرېوالي کچولو یووالی کال دئ. وایي، چې دا ستورلار یا دستورو لا یا ټولګه له ځمکې څخه دوه سوه یا زیات رڼا- یا نوري کلونه لرې ده.

دا د ما د لیکنې ستاینه ې هم درسره ګډه وي:

2020 ,30 مې **لوګي** At 11:40 am

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي ډاکتر ماخان میرزی شینواری چار مو ښه
تا سو یوي ډیري موهمي موضوع ته پام شوی او په زړه پوري لیکنه مو هم ور باندي کړیده چه نورو ژب پوهان او ژباړونکي د ته هڅوي چي په دي برخه کي ولي یوه اړتیا لیدله کیږي ستاسو لیکنه د ستایني وړ ده.
روغ رمټ او نیک بخته اوسي

# ژبه معیاري کونه

معیاري ژبه نو څه؟

معیاري ژبه باید د کلیوالي ژبې سره توپیرولري، ژبه باید خپل ګرامر ولري اوویې کتابونه اود اړتیاولپاره په معیاري ژبه یا لوړه ژبه اویا اکادمیک ژبه د لوستلو اومرسته اخستلولپاره پوره پانګه ولري

تراوسه پورې چي په پښتو ژبه کې څه شوي دي، دا ځانله یا یو یوکس کړي اودا هرومرو ستر کار، خو ډېر کم دي.

لنډ: ورځنۍ ژبه یا کلیوالي ژبه، چې په هغه ژبه چاپیریال کې، د ټولوینژبې سره په ویلو
<u>.                    و  پښتو ته ناسم رانناسب شوي...            ۲۲۲          .</u>

او لیکلو کښې توپیر لري او لوړه یا معیاري ژبه هغه وي، چې د هغې ژبې ټول ویونکي پرې لیکنه اولوستنه کوي.

دانو په څه پوهېدنه؟

دا په دې پوهېدنه، چې د ختیز، سهیلي او لودیز افغانستان خلک په خپلو کلیوالي ژبو غږیږي، چې سره تو پیر لري، خو معیاري ژبه دا ده، چې ټول یو ډول لیکل پرې کوي.

لنډ: معیاري ژبه د هغې ژبې د خلکود پوهې لاس ته راوړنو اړتیاوې پوره کوي.

دریم ته: پوهنیزه ژبه هغه ده، چې د اړتیا ټولې پوهنې لکه د مخه مو چې ګوته ورته ونیوله، پوره کړي. دا داسې بریښي، چې دژبې سوچه کونه اود ژبې معیاري کونه په ختځ کې د ژبې پوهنیزه کیدنه ده.

پام:

د ژبې معیاري کیدنه یا کونه باید په دې موخه نه وي، چې یوخیالي – بې له کوم ژبني او سم اندیزدلیل- څه ژبې ته ورواچوو، چې ګوندې یوڅه خووشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه:

،، غني د ترمپ د خبرو په غبرګون کې وویل،، یا ،، ....غبرګون وښوده،،. نه پوهیږم، چې ،، په غبرګون کې وویل،، کې به د لیکونکي موخه څه وي، خوماته څه نه وایي. دا به نور کسان ووایي، چې دا یا هغه یا دغه موخه لري. دا چې موخه یې که هرڅه وي، خودا یوه سمه وینا نه ده، چې څوک ترې څه پوه شي.

داچې ژبې سره غبرګې دي اود یوې ژبې اړول په بله ژبه اوس ـ زموږ لپاره – اړتیا ده، باید دا خپلې ژبې انډول پر بله ژبه باندې هم په همغه انډول واړولی شو، چې دا مو نو د دې ،، غبرګون،، سره وران کړ.

که د غبرګون په ځای ،، ګړنګون،، هم ولیکو همدا یوډول به ترې پوه شو. نو اوس باید و اندو، چې موخه به څه یې وي.

وایو: غنې د ترمپ د خبرو په هکله یا مخامخ، او یا په پلوۍ څه وویل یا غنې د ترمپ د خبرو په هکله خپل اندځرګند کړ. داسي هم سم ویل دي، چې غنې ته ترمپ خبره ورغبرګه یا یې د ترمپ سره غبره غبرګه کړه، ه همهغه اند وی.

دا نوښنګه کیږي؟

و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۲۲۳

دا داسې کیږي، چې د ښونځې څخه نیولې تر پوهنتون پورې اوله دې څخه وراخوا د هغې ټولنې اړتیاوې پوره کړي، دا په دې پوهېدنه یا مانا، چې ته پوهنیزې څېړنې هم باید په خپله ژبه وکړی شې.

موږ.لا تراوسه دې ستر کار ته پوره هلې ځلې کول و مخ ته لرو، خودا کار د حکومت دۍ او په ځانله یا یو څو کسانو له خوا څخه و سرته نه شي رسیدلی

زه دا لیکنه دلته رالنډوم اود نورخبرو لپاره نوراړینې لیکنې هم شته، چې باید خبرې سره ور باندې وکړو، هیله ده چې د تاند درنه پاڼه یا خپرونه به په دې لار کې مرسته وکړي، چې ددرناوي وړ.

لاس ته راوړنه: پښتو سوچه کونه، ـ معیاري کونه او – پوهنیزه کونه همغه پښتو پوهنیزه کونه ده.

ایا دا کار شونی دۍ؟

پښتو ژبه د نوروژبوپه څیر پوهنیزه کیدی شي، چې پای کې یواځې دوه بیلګې د شمیرپوهنې اوفزیک څخه راوړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له شمیرپوهنې یا نوره هم ښه له ځمکچپوهنې څخه:

کره، قوس، قطر، وتر، قطعه، قطاع، سطحه، محیط

پښتو یې ( خو ورپورې خاندۍ مه، دا همداسې دي، که زموږزړه غواړي اوکه نه):

ګردی،لینده، نیمی، ټوټه ونې، ټوټه، برخه، هواره، چاپیریال.

له فزیک څخه:

یادونه: دا پښتو نومول یې اړیین دې اوکه نه؟

په اړیینوالي نه غږیږم. موخه دا ده، چې په پښتوکې ورته اندول لرواوکه نه.

لومړی: (بربښنا) تړونی

په کوټوکې چې بربښنا څراغ روښانه کوو، نو انګرېزي ورته سویچ Switch په الماني ورته Schalter وایي، وهو یا کیکاړو. که دا په پښتوکوو یا نوره هم ښه، په پښتوورته ...

.              و  پښتو ته ناسم راناسب شوي...              ۲۲۴        .

اندول لټوو، نو لومړی باید وپوهیږو، چې دا د فزیک له مخې څه دنده لري، د دې نوروژبو موخه به همدا وي اوکه څنګه؟

د فزیک له مخې دا هغه اله ده، چې دوه سیمونه (( بربښنا) وړوني) سره تړي او یا د مړکیدو وخت کې یې سره بیرته بیلوي. پوښتنه دا ده، چې دا که موږ د سویچ په ځای ،،تړونی،، وبولو، نو موخه ور به نه وي؟

د پورته انګرېزي او الماني ژبو ویونو له پاره اندول همدا ،،تړوني،، دی.

دا چې داسې بلل یې ښه کار دی او که نه یا په داسې بلنوسره هم انده یوکه نه، په دې باندې خبرې نه کړو، خو دا همداسې دی، دا تړونی دی اونه بل څه.
یادنه: دا به تکرار وي، خو زړه مې نه وربادې کیږي، چې و تاسوته ې یې وړاندې نه کړم.

# پرتله باندې کونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه د مخه اړيينه يادونه: زموږ ژبپوهان ،، پرتلنه،، ليکي، چې ناسمه ده، څه چې دا ،، پرتلل ،، نه دی، دا پرتله باندې کول ده، نو له همدې امله پرتله باندې کونه او نه پرتلنه. که غواړو، چې دا دې لنډيز وي، نو د داسې لنډيزونو دې ځانونه ساتو، چې ناسم دي.

يادونه: دا پرتله کونه مې په بل ځای کښې څېړل او دا پر تله باندې کونه ده.

تر دې مخکې ... وبخښئ دا ،، تر دې مخکې،، نه شته. تر ناسم دی او مخکې هم کليوالي ليکندود دی.

له دې د مخه ... په بخښنه دا هم پوره نه دي.

له دې څخه د مخه چې په دې موضوع پيل کوم، د اړتيا له مخې غواړم دا لاندې ستاسو مخ ته کيږدم:

**دلته داسې نر اړين څه نه شته**

....

. و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۲۲۵ .

# خويوييونه او که ستاينوم Adjektive.

يادونه: دا مېندنه مې تازه ده، چې په پښتو کښې ستاينومونه نه شته. دا په ځای کښې روښانه شوې، خو دا ليکنه همداسې پرېږدم. ستايل او ستايينه، غندل او غندنه شته.

يا دونه: زه په دې هکله ليکنه لرم، چې په هغې مې دا ستاينومونه د الماني انډول خوي نومونه بللي، چې وبه هڅيږم، هلته يې نور هم روښانه کړم.

موږ په پښتو کې د دې له پاره د نوروژبو په څېر د ستاينې يا خوي جګونه نه لرو. زموږزيات ليکوالان، چې زه ګورم، ډېر اوخورا ډېر د دې له پاره ليکي.

بيلګه ۱: چټک،ډېر چټک، خورا چټک.

بيلګه۲ : جګ، ډېرجګ، خورا جګ.

دا کړی شو نور هم وستايو، چې وليکو، لا نور هم چټک، ـــ ډېر ـ، ـ خورا ـــ اونور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا لار چې په ژبه کې نه لرو، کیدی شي، چې دا د یوه قرارداد له مخې د پوهانوله خوا ومنل شي او یا یوبل څه ورته پیدا کړي. داد قرارداد له لارې کیدی شي، خو هیله ده نورڅه سره پیدا نه کړو، چې بیا د قرارداد نوم پرې کیږدو.

دې ته دې په ګډه فکر وشي، چې ستاینئوم او خوینوم همغه څرګندوي او که څنګه؟

دا چې زه دا خوي نوم وبولم، ناسم نه دئ او که دا چګښدنه په ډېر او خورا سره هم وکړم، ناسم نه دئ، د دې اجازه دې وي.

## اوس راځم خپلو اري خبرو ته یعنې پرتله باندې کونې ته:

زموږزیات یا نږدې ټول لیکونکي اولیکوالان ژبپوهان د شیانو یود بل سره پرتله کونه

ـ



او په همدې ډول یې د پرتله کونې ستاینه یا خوي روښانونه په ،، تر،، کوي لومړی: رموږلیکونکي په دې اند دي، چې پرتله کونه د ،، تر،، سره کیږي.یعنې

سپین تر شین(هغې هغه،هغوي،تا،تاسو،ما، موږ) (ډېر- ،خورا - ) ښکلی دئ.
دویم: په پیداښتي ډول یې، چې زموږ هیوادوال په بیلابیلوځایونوکې کاروي:
هغه د ،، له ... څخه ،، سره پرتله کیږي.
پوښتنه : له دوي، تاسو...او ... څخه کوم ښکلی دئ؟
سپین له شین (هغې هغه،هغوي،تا،تاسو،ما، موږ) څخه ښکلی (ډېر- ،خورا - ) دئ.
دریم: سپین (را، ور، در) څخه ښکلی ( ډېر - ، خورا - ) دئ.
په پورته لیکنه کې دا د ،، ور څخه،، په ځای ځنې لیکوالان کله کله ،، تر یا نوره ،، لیکي یعنې:
که پوښتنه وشي، چې له سپین اوشین څخه کوم ښکلی دئ اوسپین ور څخه ښکلی وي، نووایو: سپین تر شین ښکلی دئ. دلته ،، تر څخه،، نه وایو.
تر د هغه مهال، ځای اویوه څه د پای په نخښه کونې سره یعنې ،،تر...پورې،، سره توپیر لري.
ګورو چې دا پورته ،،تر یا ترې،، د ،،ورڅخه،، په ځای راغلی.
موخه: پرتله ونه د هغه ،، تر،، سره چې موخه ورڅخه د ....پای وي، نه کیږي، دا په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مانا چې په لاندې کې ،، تر،،
سپين تر(ما،هغه، تاسو او...) ښکلی ( ډېر -،خورا -) ښکلی دئ، ناسم دئ.
يادونه: يعنې دا ،،تر،، هغه اړيکوی نه دی، دا له يوڅه يا چا يا شي څخه ښکلی دئ، چې زيات کسان يې ليکي:: ترې ښکلی..... چې دا ترې هغه د ،، ورڅخه ،، په موخه يا مانا دئ او نه د ،، تر،،، دا په دې مانا چې داترې د ،، تر،، سره څه ګډ نه لري.
نسبت ( دا عربي وی دئ، چې دا موږ يې هم کاروو، په شمېرپوهنه کې يې هم کاروو، په پښتو : و... ته،، سره سر خوري):

**موږ په پښتوګې نسبت ته څه وايو؟** ( څه ووايو سم نه دئ، ځکه دا موږنه وايو، دا څه ورته ويلکيږي، دئ. له دې امله: څه وايو،دئ).
دلته هم شيان سره پرتله باندې کيږي
دا چې نسبت پښتو نه دئ، نوکارونه يې کيدی شي له عربي څخه بل ډول وي، خوموږ يې هغه پښتو ډول سره کولی شو، ځکه په عربي خونه پوهيږو.
په ګڼونو کې لويوالی، کوچنيوالی اوبرابروالی سره پرتله کيږي.

. و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۲۲۷ .

زه به يې د شمېرپوهنې بېلګو څخه پيل وکړم:

بېلګه:
۲ نسبت ۴ (ته) کوچني (دئ)په کسانو يا شيانوکې، لويوالی، ښکلا، پلنوالی، ..

کسان يا شيان:
الف (نسبت) و ب (ته) ښکلی ( جګ،پلن،...) دئ.
تناسب: ګڼونو کې:
د دوه ګڼونو پرتله کونه که دا سې وي، لکه د نورودوه ګڼونو،نو وايو:
۲ نسبت ۴ متناسب ۳ نسبت ۶ ته
يا يې انډول ۲ پر څلور برابردي له ۳ پر۶ سره
نسبت به نو په پښتوڅه وي؟
په ګڼونوکې پرتله باندې کونه:
۲ و ۵ ته کوچني دي

کسانو يا شيانو کې
سپين وشين ته ښکلی(جګ،....) دئ
د ننګرهار انګور د کابل و انګورو ته ځواږه (تروه، ....) دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوګورو، چې د عربي ،،نسبت،، د پښتو ،، و..ته،، سره انډول دئ.

## تناسب به نوپه پښتو کښې څه وي؟

یا پر پښتو باندې څه وي؟

۲ و۴ته داسې دي لکه ۳ و۶ته
یعنې ۲ پر څلورو باندې برابردي د ۳ پر ۶ باندې.
سپین وشین ته داسې جګ( ښکلی،....) دئ لکه برګ وخړته.
په پورته کې نوتناسب د برابر په مانا دئ

یا داسې هم وایو چې:
سپین وشین ته په جګوالي کې داسې ځان نیسي یا داسې دی، لکه برګ وخړ ته.
ګوروچې دلته تناسب ته د پښتو انډول،،ځان نیونه،، یا داسې دی، کیدی شي.

. ۲۲۸ و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... .

که شمیرپوهنې ته پام وکړو، نومتناسب دبرابرپر مانا باندې راځي.

الف وبه ته دومره جګ دئ، لکه پ و ت ته

یا الف و ب ته (دومره) برابر جګ دئ لکه پ و ت ته.

تناسب داسې هم لیکو.

$$a/b = c/d$$

پخوا موداسې هم لیکه: a:b::c:d

په انګرېزي کې یې اوس هم داسې لیکي.

لاس ته راوړنه: ګورو، چې پرتله کونه د ،،تر ،، سره نه کیږي.

بیا: سپین وشین ته ښکلی دي یا

سپین له شین څخه ښکلی دئ.

ناسم: سپین تر شین ښکلی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو سمي پرتله کوني له پاره ليکو، چې : سپين له شين ښخه ښکلی دی.

نو د ،،تر،، سره پرتله ونه نه شي کيدی،دا د ،،له ... ښخه،، سره کيږي.

# ادجکتيو يا خوي وی Das**Adjektiv**

[nomen (lateinisch) [*adiectivum*, *ad-iectivum* nach altgriechisch *epí-theton* ( ،، ورزيات

شوی،،) دا بيا تکار دی، خو بل ډل به وي.
په ژبپوهنه کې هغه ويډول دی، کوم چې د يوه څرګند شي يا يوه ذهني شي، يوې کيدنې يا کړنې يا حالت او داسې نور جوړښت روښانه يا تشريح کوي.

ادجکتيو،،خويوی،، يا ،،ملوي،، هم بلل کيږي، په ښوونځي کې ،،ښنګه،، وی( يو شی ښنګه دی؟) هم بلل کيږي.



يادونه: زموږ اديبان داخوي ستاينوم بولې چې د عربي د صفت اندول دی. په دې هکله دې ژبپوهان خپله پوهنه منځ ته راواچوي، چې کوم او ولې ښه يا سم دی.

خوی ويونه کيدی شي وکارولشي:

,(attributiv (auf ein Substantiv bezogen, z. B. der *schöne* Tag

اتريبوتيو( يوه شي اړوند يا يوه شي ته يې نسبت وکړی، د بيلګې په توګه. ښکلې ورځ )

prädikativ (als Teil eines Prädikats mit Kopula; z. B: der Tag ist *schön*) oder

پرېديکاتيو ( د يوه پرېديکات برخه د کوپولا سره: د بيلګې په توګه: ورځ ښکلې ده) يا

ادوربالadverbial ( هغه ښکلي سندرې وايی)

د ګرامرتول د خبروڅه پوره غزېدلې وي،خو د اوس له پاره زه په دې لړڅه بسيا کوم. که ژوند وو، نو بيا به يې سم وغزوم، خو دا کار د ژبې مينه وال ښه کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د الماني ژبې زيات خويونه کيدی شي جګ شي. دا تلنه کومپاراڅيون Komparation يا درجه بندي بلل بلل کيږي.

موږ به يې دا اوس همدا د ډېر اوخورا سره درجه جګه کړو.

Positiv: *schön*ښکلی

ډېر ښکلی .

Komparativ: *schöner*

Superlativ: *am schönsten*خورا ښکلی

داسې خويونه هم شته، چې د هغوي د جګونې سره سټوی بدليږي:

او موږ يې بيا په ډېر اوخورا سره جګوو:



ښه،ډېر ښه ،خورا ښه;gut, besser, am besten

زيات، ډېر زيات، لا زيات ، .viel, mehr, am meisten

دې ته ټول مينه رابولم،چې اندونه سره ګډ کړي.

اوکه د نوروژبوڅخه يې هم ګټه واخستله، نولا نوربه هم ښه شي.

ځنې خويونه شته،چې په هغې دا جګيدنه نه شي راتللی:

ټيک همغه يا مطلق خويونه لکه بلاربه ( ډېره بخښنه دې وي، چې دا بې ادبي ونه ګڼئ، که حامله وليکم هم همدا ده، خوعربي ده)،مړ اونور.

د رنګونو جګيدنه بيا شته لکه شين، تک شين، شين چک.

سپين، تکسپين، سپينچک اوهمداسې نور. د دې بلاربې سره يوه ټوکه رایاده شوه، په ډېرهبخښنه بهدا دلته هم وليکم. زماد ښوونځيو ملګري درويزه اڅکزي د الماني پښتو دګشنري ليکلي، هغه د الماني يو وی شاپزې ته د پښتو مانا غول ليکل وو، چې دايې اندول دی. يوه بل افغان ورته زنګ وواهه، چې درويزه صيب دا د شاپزې مانا خو دې ډېره بې ادبه کړې. ده ورته ووېل چې څه مې ليکلي وی، دې کس ورته ښبېرته په ځواب کې ووېل چې: بولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ويناډولونه / ډاکتر ماخان مېرِی شينواری

سم اند څلورمه برخه

**ساده – يوځای شوې Einfach – zusammengesetzt**

يناوې کېدی شي په ساده ويناو او يوځای ايښول شوو ويناو باندې ووېشل شي. وېشنلامل يې دا دی، چې ايا وينا له يو بل توپيرورړ،، ځانله کولوړ،، برخويناوو څخه يوځای ايښول شوې او که نه.

. و پېښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۲۳۱ .

بېلګه: ،، کابل يوښار دی،،( ساده وينا)، ،، کابل له اوه ميليونو څخه د ډېرو اوسېدونکو يو ښار دی،،

سم انديز يوه يوځای ايښولشوې وينا د برخويناو ،، کابل يو ښار دی،، او ،، کابل له اوه ميليونو څخه ډېر اوسېدونکي لري،،)

*Terminologie* يا مسلکي ويېنې ردبدل کيږي: د ،، ساده وينا،، په ځای سرِی ،، د يوځای نه ايښول شوو ويناو،، ، ،، اتومي ويناوو،، ، توکيزو ويناو،، هم غږيږي يا ،، توکيزه غونډله،، (Wittgenstein)..

له يوځای ايښول شوو وينا په ځای دا لاندې هم وايو: ،، د ويناو ترِنه،، يا ،، موليکولي ويناوې،، . په شمېرپوهنه او همداسې فورمال سم اند کې اتومي ويناوې دي، چې له نورو ويناو څخه يوځای نه دې ايښول شوې. دا ويناترِوني سم انديزې نخښې ( <u>ترِننخښې</u>) لکه ∧ ( او) ، ∨(يا) او ¬ (نه) نه لري. مخامخکلمه يې يوځای ايښولشوې وينا يا <u>ويناترِ</u>نه ده.

د بېلګې په توګه چې وينا لرو ،، کوڅه لمده ده او ورينګي وريږي،، په دوه ويناو وېشو يا بېلوو، د ،، او ،، سره يوې وينا ته سره ترِلي دي، داسې يوه بېلېدنه په يوګونو ويناو کې ،، کوڅه لمده ده .. ، چې د ،،او ،، ورينګي وريږي،، نوره کېدونې نه ده. نو له دې سره داسې ويناوې اتومي ويناوې بلل کيږي. د يوې وينا سم انديزې شننې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د اتومي ويناو لپاره بېلګې( ارزښتونسم اند)**

ترمونه {\displaystyle t=s}t=s\ د په خوښه t , s لپاره

(R(t1, …., tn د n-ځايز, اړيکو او په خوښه ترمونو t1 ترtn پورې. په يوه ساده ويناکې يوه يوه شي يا الې ته يو يواځني ورکول – يا ترې اخستل کيږي. که دا وبلل شي، چې يوه ساده وينا نوره جوړښتيزه نه ده، نو به داسې وپوهيږو، چې د وينا دنننى حوړښت نور نه شي ټيک ويل کېدی يا روښانه کېدی.

د اتومي ويناوتفسير يا روښانه ونه د هغه د ريښتيا ارزښتوالي له لارې تنظيميږي.{\displaystyle s\}

د ساده ويناو لپاره سيمبول د کنونشن يا ټوليزې پرېکړې پوښتنې دي.

. و پېښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۲۳۲ .

د دې لپاره ورځني د بېلګې په توګه دسترو لاتين تورو کاروِل، A, B, C, دي په ورکړل شوي حالت کې د ترې لاندې ليکلي توري يا پېژندنخښې دي.

يوه ګډوله يا يوځاى اينولشوې وينا د ډېرو ساده ويناو له ټرنو څخه جوړه ده.

**د يوې ويناټرنه کېدی شي غزېدونکې ( غزېدونکې ويناټرنه) يا کلکېدونکې يا کښېکاګونکې ( کښېکاګونې وينا ټرنه ) سرته ورسيږي.**

غزېدونکې ويناټرنې سره يوځاى شوې ويناوې دي، چې د هغوي ريښتياارزښت د هغې له برخويناو څخه ټاکلې دي. د ټولوينا ريښتيا ارزښت له دې امله د برخوويناو ريښتياارزښت فنکشن يا څېرونه ده. ( ريښتياارزښتوالي فنکشناليتي).

سم انديزې همغه يا ثابتې، چې هغه ريشتياوالي فنکشني اغيز ښندي، ټرننخښې Junktoren بلل کيږي.

کلاسيک ويناسم اند يو نړتنخښيز سم اند(Lorenzen), دى، د ويناو يو،، د پراخېدنوالي اصولو سم اند،،(Quine). دا پر پراخېدنوالي اصولو باندې ودانه ده.

يو ځانګړى حالت د نه والي حالت **Negation**انځوروي. دا د ډېرو ترمينولوژيکو بنسټونو له امله. په نه والي کې ويناوې نه سره ټرلکيږي او دا له دې امله ويناټرنې نه دي. دوي همداسې له ترمينولوژيک سادونې له امله يوځاييزې ( چې يو ځاى لري) ويناټرنې بلل کيږي. دوى د وتون ارزښت ريښتيا سره ارزښت ناريښتيا ورکوي او په څټ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترمينولوژيکي سم دلته ويېنه يوځاييزه رښتياڅېرونه يا رښتيافنکشن برېښي. د دوه ويناو د ګډوله کونو لپاره شپاړس يونکتورونه يا ترننخښي شته دی. د ټولو کېدونکو ګډوله کونو لپاره له رښتياارزښتونو يو د دې ترنو لپاره تيپيکي لاسته راوړنرښتياارزښت ورکوي. د بېلګې په توګه له ترننخښو سره د ترلې وينا *a UND b* (a او b ) ټيک هلته رښتياده، چې هم a او هم b رښتيا وي، په هر بل حالت کې ترنه نارښتيا ده.

اينتنزيونالي **Intensionale** ( ځان ورسره برابرول يا –عيارول) ويناترنې رښتيافنکشنلي ويناترنې نه دي. له دې سره د ټولوينا رښتياارزښت د برخويناو د رښتيا ارزښت په واک کې نه دي.

بېلګه: ،، سپين د سم اند يو کتاب لولي، ځکه هغه سم اند ډېر په زړه پورې مومي يا بولي،،.

## analytisch – synthetisch شننيزې – جوړښتي ويناوې

. ٢٣٣ و پښتو ته ناسم راناسب شوي... .

ويناوې په ورځني ژود کې په شننيزو ويناو او جوړښتيزو – يا مصنوعي ويناو باندې وېشل شوي. د ،،وينا،، په ځای په همغه موخه له ،، غونډلې،، همداسې ،، پرېکړې،، هم غږېږو.

## Analytische Aussagen شننيزې ويناوې

شننيزې ويناوې په راتنګه موخه دي ،، ويناوې، چې په اړينه توګه ، دا په دې پرېپوهېدنه چې په ټولو ممکنه نړيو کې، رښتيا ذي ځانله د هغو د سم انديزو بنسټيزو بنو له مخې او د هغوي رښتياوالی بې د هغو پر تجروبوي ازماېښنو باندې کره کېدونکې دي،،. دوي له دې امله سم انديزه توتولوګې( تل رښتيا ويناوې) ده.

بېلګه: لمر ځليږي، يا لمر نه ځليږي.

په پسې موخه ،، داسې ويناوې دي، چې د هغوي رښتياوالی د هغوي له مصنوعي جوړښت او د هغو پرېپوهېدنوالي د هغوي د ژبنيزو توکو په واک کې ده. هغوي په سيمانتيکي اړيکو لکه همغه پرېپوهنيزبرابروالی [...] او پرېپوهنيزپايونه [...]،،. له دې سره دا يو څيرکلپايونه( ګردی پايونه) <u>Zirkelschluss</u> په ګوته کوي.

بېلګه: خور –ورور خپلوان دي.

Tautologie

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه تاوتولوګي په سم اند کې یوه تولیزه باوري وینا ده، دا په دې پرېپوهېدنه چې یوه وینا، کومه چې د سم اندیزو لاملونو په بنسټ تل رښتیا ده. د توتولوجي لپاره بېلګې دي، لکه ،، که ورینږي وریږي، نو ورینګي وریږي،، یا ،، دا هوا بدلیږي یا داسې پاتیږي، لکه څنګه چې ده.،،

## جوړښتي یا مصنوعي ویناوې Synthetische Aussagen

په پراخه موخه د اریستوتالس له لورې تولې ویناوې( پرېکړې)، داپه دې پرېپوهېدنه چې یوه ،، د سینتېزې له کلمې څخه،،.

په راتنګه، واکمنه موخه (کانت (فسلوسوف))،، په رښتونې حالت باندې ویناوې، چې رښتیاوالی یې نه ځانله د سینتاکتیکي یا سیمانتیکي جوړښت بلکه پرته له ژبې او له دې امله تجربوي ازماېښتي دازمایېنې فاکتورونو او تجربو په واک کې دی.

د توپیروني یا توپیرېدنې کریتیک

و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۲۳۴ .

د شننیزې او مصنوعي ( جوړې شوې) وینا په منځ کې د توپیروني یا توپیرېدنې سموالی د Quine ( امریکایي فیلو سوف) لخوا د څېړنې لاندې ونیول شول. هغه د پرېپوهېدنې ناټاکلوالي تیزې پلوی وو او دا بنسټ یې د پوښتنې لاندې راووست، چې د کلمې پرېپوهېدنې تیز یو له بل رابندېدلی شي، دا په دې پرېپوهېدنه، چې منځ کې یې پولې ایندول کېدی شي.

بېلګه: ،،ټول Rappen (د تورو اسونو یو ډول دی) تور دي،، مخامخ یې ،، ټولې کاغۍ تورې دي،،. دا چې تور یوه د پرېکړې نخښه ده، چې راپن له تورو اسونو بېل کړي، دا یوه شننیزه وینا ده. ایا د ،، کاغیو،، بې له تور د کلمې پرېپوهېدنه موخې ته رسېدونکې ده – نو سپین هم ( د بېلګې په توګه Albino vogel) د تورو همهغو پېژندنخښو سره دې کلمو ته ګټل کیږي – یا ایا کاغۍ هم د تور له لارې پېژند لري یاپېژندل شوې دي، کوین هم دا یواځني نه شو ټاکلی. په ځته کې کاغۍ هم د یوه د کلمې په توګه د یوه پیداېښتي ډول لپاره کارول کیږي، خو ایا د دې ډول ټولې یوګونې تور وبرېښي، له دې امله دا یوه تجربوي پوښتنه ده.

### وینا په ویناسم اند کې

په ویناسم اند کې داسې ویناوې یواځې یاتیک د هغې فورمال او نه د هغې منځپانګیز رښتیاوالي ارزښت غوره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بېلګې په توګه: سړی باید له شننيز شيحالت څخه پوهه ولري يا په شي حالت وپوهيږي، چې د وينا په رښتياوالي ارزښت ،، برلين د جرمني پلازمېنه ده، او روم د ايټاليا پلازمېنه ده،، پرېکړه وکړی شو، دا د وينا لپاره غوښتونې نه ده، چې ،، مادرېد د سپانيا پلازمېنه ده، يا مادرېد د سپانيه پلازمېنه نه ده،،، څکه چې د سم انديزې ،،يا،، او ،، نه ،، د کاروني کره کوني وروسته ( نورميروني Normierung) دلته د خبرو يوه رښتيا، له دې خپلواکه وينا ده، چې ايا مادرېد په رښتيا دسپانيا پلازمېنه ده يا نه. يوه په دې موخه فورمال رښتيا وينا به ټوليزباوري ياهم توتولوژي وبلل شي.

**وينا په پرېديکات سم اند Prädikatenlogik کې**

په پرېديکات( د يو څه د څرنګوالي ارزښتونه) کې يوه وينا يوه وينابڼه ده بې له خپلواکو اووښتونو.( په دې کې ټولې اوښتونې د کوانتورونو يا نخښو سره تړلې.)

په پرېديکاتسم اند کې د يوې وينا رښتيا ارزښت په هغې په خوندي سيمبول له Interpretation روښانونې مخې ورکول کيږي.

. ۲۳۵ و پېښتو ته ناسم رانناسب شوي... .

د بېلګې په توګه يوه وينا x=x+x په لاندې توګه ميندلکيږي: د هر x لپاره دې ترم x او x+xوشمېرل شي. که يو x شتون ولري يا شته وي، چې دواړه ترمونه همغه ارزښت ولري ( د بېلګې په توګه د 0 = x لپاره)، نو وينا رښتيا ده، په بل ډول نارښتيا ده. نو له دې سره رښتيا ارزښت د بنسټېرې په واک کې دی. چې د اوښتونې يا وريابلې د په ځای کونې ډېرې څخه وي.

**يوه پايونلار** د فورمال سم اند په يوه شمېرنه کې بڼه بدلونلار يا – قانون په ګوته کوي، داپه دې پرېيوهېدنه چې يوه جوړښت يا مصنوعي لار، چې د هغې له مخې کېدی شي يا اجازه ده، د نورمال ژبې د يوه شته ويېنو نوو ويېنو ته لاړ شو. دا لاربښونيزه تلنلار يو پايونلاس ته راوړنه انځوروي.

د Ernst Tugendhat (فيلوسوف) له خوا ټولې شننيزې غونډلې د ausgeschlossenen Widerspruch (پرته يا ناشونې له مخامخوالي) په غونډله ودانې دي. دوی د ناسموالي صريبونهFalsifikatoren نه لري.

د مخامخوالي يا ردونې غونډله يا د ناشونې ردونې يا – مخامخوالي غونډله وايي، چې دوه يو د بل په خپله خته کې د همغه څه ـ خونديونې ردونې ويناوې په همغه وخت کې نه شي پيښېدلی. د فلسفي – او پوهنتاريخ د وخت په تېرېدو سره او له بېلا بېلو تيوريکي نظريو اړوند او له بېلابېلو ډولونو د اونتولوګيزې ontologisches پېژندتيوري او د سم اند اصول پوهېدل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اونتولوجي د فلسفې يوه لار  يا ديسځيلين دی چې د شته والي (يل؟؟) او رښتياوالي بنسټجوړښت سره بوخت دی، د بېلګې په توګه: کلمه لکه شتون، يل، به او ريالېټي.

د کريتيک **Kritik** لاندې يا څخه سړی د يوه شي(الي) يا يوې کړنې باندې د کچون-الو په مټه يا لاس پرېکړه کيږي. لکه فيلوسوفه Anne-Barb Hertkornروښانه کړې، چې کريتيک دې له دې سره ،، د فکر او هوښيارتيا بنسټيز فنکشن دی او تر هغې پورې چې دا په خپل فکر و کارول شي او شتونپېژندنخښه چې پر باوريوالي باندې دعوه کونې پرېکړه وشي.،، دا د پرې پرې کونې باندې د انساني  کړنتوان غوره هنر دی.

## د پښتو استادانو پر ليکنو باندې يو ځغلند ليد

**،،د پښتو ستاينومونو و درج،، ته**

•

.                   ۲۳۶                    و  پښتو ته ناسم رانناسب شوي...                    .

د دې سرليک لاندې درانه استاد عبدالحق سلامزوی ليکنه ته، چې زه يې داسې لږ څېړم

ډېرو ګرانو د پښتو پوهانو د پښتو استادانو او درنو ليکوالانو!

يادونه: دا ليکنه ما له ۲۰۲۰ .۷.۷ زک څخه د مخه ليکلې وه او تر هغې وخته پورې پر کازوس يا اړيکتينګوونو باندې نه پوهېدلم، نو ما په کښې بنسټيز ناسمونونه لرودل، چې او س مې ځان پر هغو باندې پوه کړی.

له هر څه څخه لومړی، په دې اوس پوه شوم، چې پښتو ستاينومونه يا ستاينوييونه نه لري، خو ستايل او ستايينی لري، همداسې يې مخامخ اندول غندل او غندني، چې دا په اړونده ليکنه کښې روښنه شوي دی. له ستايلو او غندلو سره يو څه د خوي له مخې ستايل يا غندل کيږي، نو د دې ليکنې بيا کتل او سمول به داسې لږ راته ستونمځن وبرېښ، خو وبه ګورو:

زه خپل  د خپلو ناسمونونو سمونونه په نوکانو کښې وليکم.

ډېر زوربېږم، چې داسې ليکنې کوم.

باورپه  لوي ځښتن وکړی، چې زما هيڅ يوه ليکنه د چا سره د دښمنۍ له امله نه ده او بيا زه تاسو ته لوړه کوم، چې د ځان پالنې له امله هم نه ده او بيا مې دې لوړه وي، چې کلکسترګی انسان هم راته ځان نه برېښي او شعوري کلکسترګی نه يم، خو زه چې داسې ليکنې او په ځانګړې توګه د پوهنتون د درنواستادانو ليکنې ګورم، ډېر زوربېږم. زه په يواځنې توګه، لکه چې په ټوله پښتنې نړۍ کې ناروغه يم، چې ستاسو پوهنيزه لار سره زه په مخامخوالي کې پروت يم.بيا مې دې په لوي ځښتن لوړه وي، چې دا څه ليکم زه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوربړم او که ویې نه لیکم، نو هم زوربړم. په هر صورت ما ته ځان روغ برېښي او تاسو هم په (پر) دې اند ( باندې) یاست، چې زه به روحي ناروغ نه یم، نو مرسته راسره وکړئ او په (پر) هرڅومره توند غبر(باندې) چې وي او په هره سزا دما د کړنو له امله (و) ما ته، چې کومه سزا ټاکئ، لوړه درته کوم، چې زه به ورسره مخامخوالی ونه کړم، خو مرسته وکړئ.

زه په (پر) دې د ښاغلي عبدلحق سلامزوي په لیکنه(باندې) خپله لیکنه کوم، چې داسې لیکنه ځانله د سلامزي صیب اند نه دی

هر څوک چې ټولنې ته یو څه وړاندې کوي، په تېره بیا د پوهنتون استادان، هغو غواړي یو څه (و) نورو ته وښایي، نو د دې لپاره دی هم باید یو څه زده کړي. دا راکړه او ورکړه ده.

څوک چې په پوهنیزه څانګو کې کار کوي، نو هغوي به (و) دې ته هم چمتو وي، چې د نورو ګوتنونې یا سمونونه ځانیزې ونه ګڼي.

.



د ما ډېره بدمرغي په دې کې ده، چې زه یواځې یم او له دې امله نو باید په ناحق و اوسم، خو د دې ناروغی س(د) تاسو ( و ) مرستي ته اړتیا لرم، چې (د) ما ناروغي راته په ګوته کړئ، په دې کې به لوي څښتن (و ) تاسو ټولو ته اجرونه درکړي.

(د) ما ډېرې لیکنې د تاند په درنه پاڼه او همداسې د دعوت په درنه پاڼه کې – په دې هکله هم – خورې شوي.

یوه هیله مې دا ده، چې لکه څنګه چې زه ستاسو لیکنې را اخلم او خبرې پرې کوم، دلایل راوړم او ستاسو د لیکنو خوندیونه په ګوته کوم، نو هیله ده، چې ز(د) ما لیکنې هم په دلایلو راته بېرته راوګرځوئ.

زه ډېر خوښ یم، د ښاغلي سلامزوي صیب لیکنه کې یې انګرېزي او فارسي هم راوړې، نو ښې خبرې پرې کیدی شي.

اجازه دې ویو چې زه دا لیکنې ټوټه کړم، د خوندیونې د سمو ساتلو سره او بیا خبرې پرې وکړم.

او یوه اخره اجازه دې دا هم وي، چې زه دا مور ستاینونومونه بللي په خوي وی وبولم او دی. Adjektiv چې په (پر) پښتو (باندې) خویوی بلل کیږي، هم ما لیکنه کړې.

ما په پرتله باندې کونه باندې یوه لیکنه کړې ، چې کتاب کې شته، دا به بیاپه یاد راوړم، چې د ،، تر،، سره په هیڅ ژبنۍ لار پرتله کونه ناشونې ده او وبه ګورو، چې دلته دا ،، تر،، د څه په ځای راوړل شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لومړی الف:** ،،مګر د استاد دوکتور اجمل ښکلي په وینا: 《البته ښه، ډېر ښه؛ خورا یا زښت ښه په اصل کې صریحه نه بلکې پټه پرتله ده یا ضمناً پرتله ده خو اصل کار یې د یوه شي مبالغي توصیف دی. خو (تر) او (تر ټولو ښه) باندې جوړېدونکي عبارتونه څرګنده پرتله لري.》 ،،

**و لومړي الف ته:** ستایننومونه نه شته، دا خویوییونه دي، چې نه سره پرتله کیږي، خویویونه جګیږي، چې موږ په پښتو کې ورته د نورو ژبو غوندې لار نه لرو، نو دا به په ډېر یا خورا یا زښت او یا یو بل څه کوو. نو چې پرتله باندې کونه نه کیږي، له دې امله بیا،، تر،، او ،،ترټولو،، ته هم اړتیا نه شته چې سره پرتله یې کړو او د ،، تر،، او ،، ترټولو،، په هکله مې د تاند په درنه خپرونه کې په دې هکله هم لیکنې خورې شوې، خو دومره وایم، ،، ترټولو،، کومه ترې پوهېدنه نه لري یا داسې څه نه شته، چې د څه شي ترټولو او د ژبلار له لارې هم د پرتلې باندې کونې لپاره هم نه دا ،، تر ،، او نه ،، ترټولو،، کارول کیږي.

<u>په پیل کې په دې باندې باید ټینګار وکړم، چې: که د لیکونکي موخه د خویونو یا ستایننومونوپرتله ( نه شته) کول وي، خو دا لیکنه له یوه سره ناسمه ده، ( ځکه چې</u>

<u>.                 ۲۳۸                و  پښتو ته ناسم رانناسب شوي...                 .</u>

<u>ستایننومونه نه شته) چې ستاییننومونه نه سره پرتله کیږي، ستایننومونه جګیږي، په هره ژبه کې د اړونده لارې سره.</u>

**<u>لومړی.</u>**

ښاغلی سلاموزوی صیب لیکي:

،،بله خبره په خپله د ستاینومونو ترمنځ پرتلنه ده، چې د انګرېزي یوڅپیزو ستاینومونو ترمنځ د 《er》 او 《est》 او د فارسي د 《تر》 او 《ترین》 په مټ کېږي. په دې ژبو کې که د پرتلنې خبره نه وي، دا روستاړي او یا یې د دوه څپیزو او یا درې یا څلور څپیزو لپاره د 《more》 او 《most》 کړولونه ورسره د مجردو کلمو په ډول نه کارول کیږي، بلکې د جملې د ننه مانا زېږوي او پرتلنه کوي،،،

**<u>و لومړي ته:</u>**

یو :

**<u>یو الف:</u>** باور وکړی، چې زه خو د پورته غونډالې په موخه ښه ونه پوهېدم، خو په هر صورت دې پرتلې باندې کونې ته به راشو.

**<u>یو ب: ستایننومونه(خویوییونه) نه پرتله کیږي. ستایننومونه(خویوییونه) جګیږي.</u>**

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو پ : خویوینه نه سره پرتله کیږي دا په دې مانا چې ډېر یا لږ ې ښکلا سره نه پرتله بانېدې کیږي، ځکه د دې لپاره د کچولو یووالی( ناسم یې واحد) نه شته.. د دوه یا ډېرکسان سره د خویونو له مخې یا د خویونو په بنسټ پرتله کېدی شي، چې کوم یو یې ښکلی(ډېر-، خورا- ) ، دروند(ډېر-، خورا- )، منلی(ډېر-، خورا- ) دی.یا دوه کسان سره دروې او غواړې پوه شي کوم یو پلن دی، دا په دې پوهېدنه چې کسان سره پرتله باندې کیږي، هغوي د ګډو خویونو له مخې سره پرتله باندې کېدی شي.

که وو ایو، چې جګ له جګ سره پرتله باندې کړه، نو دا موخوره ویېنه نه ده، دا هیڅ نه وایي، خو که وو ایو، چې د دې انسان جګوالی د دې ونې سره پرتله باندې کړه یا ښه یې دا دوه شیان د جګوالي له مخې سره پرتله کړی، دا کېدی شي، ځکه چې ونه هم چګوالی لري او انسان هم. (ما پر تله باندې لیکلی او لیکنه مې هم ور باندې کړې، وره هک پک مه شي)

<u>**دوه:**</u> ،، ترمنځ،، ناسم دی، ځکه چې ،، منځ،، نوم او ،،تر،، مورفېم دی، چې و منځ ته پوهېدنه وړي (اړیکویونه دي،، ناسم دی). دا ،،په منځ کې،، دی. په دې هم یوه لیکنه لرم.

<u>**دویم.**</u> منلی استاد سلامزوي صیب لیکي:

،، لکه:



.Studying book is a good entertainment-۱

.Studying book is better entertainment than playing ladoo-۲

.Studying book is the best entertainment-۳

په پښتو کې همدا پرتلنه د 《 تر》 او 《ترټولو》 یا 《ترګردو》 او 《تر واړو》 په مټ کیږي. {د انګرېزي 《than》 هم د پښتو د 《تر》 معادل دی.} (۱) دلته همدا پاسنی بېلګه رااخلو:

۱- مطالعه ښه بوختیا ده.

۲- مطالعه تر لډو (یو ډول لوبه) ښه بوختیا ده.

۳- مطالعه تر ټولو ښه بوختیا ده. یا؛ تر ټولو ښه بوختیا مطالعه ده.

یا دانګرېزی دا بېلګه:

.Ahmad is a senior teacher -۱

.Ahmad is senior to Ali -۲

.Ahmad is the senior most teacher in the Kabul -۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- احمد لوی (ارشد) استاد دی.

۲- احمد تر علي (په درجه کې) لوی دی.

۲- احمد په کابل کې تر ټولو لوی استاد دی.،،

**و دويم ته :**

يوه يادونه: د to پښتو انډول ،، ته،، يا که هغه عربي هم ورسره غواړې، نو،، الف نسبت و ب ته،، يې انډول دئ او نه بل څه او فارسي انډول يې هم ،، به،، دي. يعنې الف ... به ... ب...

بېلګه يې: په کابل کې چې څوک پوښتې پغمان لرې دئ، که لوګر؟ نو نيسو چې ځواب دې يې : پغمان به لوګر نزديک است

او پښتو يې: پغمان و لوګر ته نږدې دئ.

الف ۱ : د than له پښتو انډول څخه دئ او نه تر او په همدې د درې د ،، از،، انډول په پښتو کې هم ،، څخه،،(اړيکوی) دئ او نه ،، تر ،، ( پوهېدنوړونکی مورفېم دی). دا به په همدې غونډالو کې روښانه شي.

...

و پښتو ته ناسم راننا سب شوي... ۲۴۰

الف: په پورته کې خو له غربي ۱ تر ۳ پورې کې يواځې يوه پرتله باندې کونه ده، هغه هم پوره ناسمه او دا نور خو يواځې د يوه څهخوي ښوول شوي، چې زه به يې بيا وژباړم او

ب : ،، تر،، سره پرتله کونه نه شته او ،، دا ،، ترټولو،، خو هېڅ ترې پوهېدنه نه لري، يعنې که ،، تر،، پرتله کونه هم وي، نو د څه شي تر ټولو؟ په دې هکله مې هم ليکنه شته، چې ګران لوستونکي يې د تاند درنه خپرونه کې کتلی شي.

پ – د لومړيو عربي ګڼونو له ۱ څخه تر ۳ پورې انګرېزي په پښتو سمه ژباړه.

۱ ۱ – کتاب لوستل ښه (ډېر – و ځورا – او که تاسو ورته بل څه وايئ، زه يې مخامخوالی نه لرم، خو نه په،، تر،، او ،، ترټولو،، سره ) بوښتيا ده.

ګورئ دلته څه شی سره پرتله باندې کيږي نه. يا به دا بوښتيا ښه، ډېره ښه،او يا خوراښه وي. دلته د څه شيانو پرتله باندې کونه نه شته.

۱ ۲ – کتاب لوستل له لډو لوبې څخه ډېره ښه (ښه -، خورا – ) بوختيا ده.

دلته دوه څه د بوختيا له مخې سره پرتله باندې کيږي او له دې امله دا د خويويونو پرتله باندې کونه نه ده.

۱ ۳ – د کتاب لوستل خورا ښه بوختياده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورته کې پرتله کونه د ،،ځخه،، له لار ځخه کیږي.

ت – د انګرېزي بله بېلګه کې یې د انګرېزي په پښتو ژباړه:

له عربي ګڼونو ۱ تر ۳ پورې

الف ۱ – احمد یو مشر (ډېر – ، خورا – ) ښوونکی دی.

االف ۲ – احمد و علي ته مشر ( ډېر – ، خورا – ) دی.

الف ۳ – احمد په کابل کې خورامشر (مشر، ډېر – ) ښوونکی دی.

په پورته کې یواځې الف۲ – پرتله باندې کونه ده او بس.

ګورو چې په الف ۱ – کې پرتله کونه باندې د ځخه سره کیږي او په دویم کې پرتله کونه د ،، و ... ته،، له لارې کیږي او نه د،، تر،،.

دریم: ښاغلی سلامزوی صیب لیکي.

،،نو دلته موږ اړ نه یو چې بابېزه ځانونه ستړي کړو او ولیکو چې:

۱- احمد لوی استاد دی.

احمد تر علي ډېر لوی دی.



۲- احمد په کابل کې خورا لوی استاد دی.

د فارسي بېلګو ته هم تم کیږو:

۱- احمد بزرګ است.

۲- احمد از (نسبت به) علي بزرګتر است.

۳- احمد بزرګترین خانه است.

چې په پښتو.کې یې داسې وایو:

۱- احمد مشر دی.

۲- احمد تر کریم مشر دی.

۳- احمد د کور تر ټولو مشر دی.،،

**و دریم ته:**

په پیل کې ځه لیکي، چې په موخه یې زه هم ښه پوه نه شوم، خو کلیوالي خبرې دي او ترې تېرېږم او له ،، نو دلته موږ اړ نه یو چې بابېزه ځانونه ستړي کړو او ولیکو چې: ،، ځخه یې تر ځېرني لاندې نیسم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورته کې یې ،، از،، په تر ژباړلی او د ،، بزرګترین په ځای یې ،، تر ټولو،، لیکلی. دې ته مې پورته ګوته نیولې، چې دواړه ناسم دي، خو داسې یوه یا څو د فارسي یا دری غونډالي راوړو او وبه ګور، چې ،،از،، د ،، څخه،، انډول دی او دا د انګرېزي to انډول په فارسي کې ،، به ،، دی او پښتو انډل یې ،، ته ،، دی.

احمد در صنف خود از محمود ګرفته تا بهرام از هر کدام شان بزرګ است.

پښتو یې که پورته دري مې ناسمه لیکلې وي، نو بخښنه غواړم او تاسو یې راته سمه کړی.

احمد په ټولګې کې له محمود څخه نیولي تر بهرام پورې له دوي هر یوه څخه مشر یا لوي دی.

که په پرته کې د دري،، از ،، ځای ،، تر ،، ولیکو نو دا به څنګه وبرېښي او بیا به نو د ،، تا ،، په ځای څه ولیکو یعنې که ولیکو، چې:

احمد په خپل ټولګي کې تر محمود څخه نیولي تر بهرام پورې تر هر یوه څخه ....

دا به ښه ونه سم نه وي، چې د ،، تا،، ورڅخه پوهېدنه هم د د ،، از ،، په څېر ولیکو.

..



څنګه په پښتو ژباړو؟ از کابل تا هرات. دلته د ،، از،، انډول څه شی دی او د ،،تا ،، آندول څه شی دی؟

د لیکنې په پای کې یو څو اړیین پېژندونه

پرتله باندې کونه نو څه ته وایي؟

د دوه یا زیاتو شیانو د غوښتونو لوي یو د بل سره پرتله بندې کونه: دوه کسان سره ودرېږي او غواړي پوه شي، چې کوم یو له بل څخه ( ( ډېر، خورا ، خو سوچ بوچ نه ،، تر،، او همدا ډول،، نه ترټولو) لوي پلن، نېک، خوارېکښ او یا ښکلی دی) یا دوه یا څو کتابونه او یا یو بل څه سره پرتله باندې کیږي داسې هم کېدی شي، چې د یوه لرګي دروندالی د وسپنې یا د یوه انسان یا یو بل څه سره پرتله باندې کړې. دروندوالی خوي دی، چې دوه شیان یې لري، نو د دې خوي له مخې دوه شیان سره پرتله کېدی شي.

خوییونه سره جګیږي، چې په الماني ورته , positiv; komparativ; superlativ وايي. پر Adjektiv بادې یوه پوره لیکنه لرم.

ادجکتیو: لاتین وی دی، چې پښتو مانا یې،، ورزیاتونه،، ده او په ژبپوهنه کې هغه ویډول دی، کوم چې د یوه روښانه شي، یوه ذهني شي، یوه مخ ته تګ یا همداسې پرمختګ یا یې نور هم د مخ ته تلو یا یوه حالت جوړښت ښيي.

دا ادجکتیو خوي وی، ملوی او همداسې په ښوونځي کې څنګه وی هم بلل کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دا په خپلو لیکنو کې خوي وی بولم

بل پېژند: خویوی وی، چې شتون یا شته یا شی، یوه پېښه یا یو حالت د یوې ټاکلې نخښې، د یوه ټاکلي خوي سره په نخښه شوی، خویوی( د بېلګې په توګه، رنګه، ښکلی او نور)

زه نور د دې لیکنې سرهستړی شوم. هیله ده، چې ډېر مې نه وی زورولي.

په پای کې یوه اړیینه یادونه: دا یادونه د لیکنې خوندیونې سره سر او کار نه لري او که لري یې؟ نه پوهیږم، خو ښه ده، چې پرې پوه شو:

په دې لیکنه کې هم ګورو، چې دا ګڼل ټول په ګڼونو شوي، دا په دې مانا، چې یو ډول بربښې، نو بیا چې څوک څه ور باندې لیکي یا څه ور څخه زده کوي او رااخلي، نو سرړی په دې کې له ستونځو سره مخامخ کیږي. ښه لار یې داده، چې ګڼل د بیلابېلو لارو وشي. د بېلګې او وړاندیز په توګه کیدی شي لومړی دا ګڼل په ګڼونو وشي، د بل ځل او ځای له پاره دا ګڼل په تورو ولیکو او د بیا له پاره په الف، ب او بیا خو نو نورې لارې هم شته لکه الف ۱ ، الف ۲ ، الف ۳ او نوره مو چې څنګه خوښه وي.

.

. ۲۴۳ و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... .

۲۰ . ۵ . ۲۰۱۹ ډاکتر ماخان میړی شینو

# غبرګون

که مورد یوې بلې ژبې وی له پاره، چې موږ فکر کوو، په پښتو کې اندول وی ورته نه لرو او یو کره ټاکلی او د پیژند سره ښه روښانه وی یې په ځای کاروو، دا کله هم سم نه راځي. زموږ ډېر ادیبان به ووایي، چې له دې څخه خودا یا هغه موخه ده ، بیا هم ناسم دی. که په ځای یې همداسې یوبل وی هم راوړلی شی، نو هغه غوښتونې موخه به ترې( ورڅخه) واخستلی شو.

غواړم، چې د دې لیکنې په دې برخه کې یو وی (لغت ) وڅیړم، چې د پښتو خپرونو کې د نورو ویونوپه ځای ناسم او زیات کارول کیږي۰ زه په پښتو کې نوښت ښه بولم، خو دا نوم په دې حالت کې باید هغه ترې جوته کیدونې یا ترې د جوته کیدو موخه جوته کړي۰

غبرګ په هندسه کې:

په هندسه کې دوه کرښې، چې څنګ په څنګ داسې وځغلي، چې سره غوڅې نه کړي او که غواړی، چې ناپای کې سره غوڅوي دا کرښې ( خطونه) غبرګې بلل کیږي۰ موږ دا په نورو ژبو پارالل، یا موازي بللي۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

غبرګوني:

که دوه کوچنیان له یوې مور څخه په همغه ( یو په بل پسې) وخت کی پیدا شي غبرګونی وي، چې په پاړسي کی ورته دوګانه وایي ۰ دا کیدی شي په پښتو کې دوه ګوني ، درې ګوني او داسی نور وبولو۰

که چیرې څوک یو بل چا ته څه ووایي، نو دا وینا لوریزه وي( طرف لري) یو څه یا یو چا ته مخامخ وي، که بل څوک وغواړي، چی د دې خبرې په هکله څه وایې دا خبره به یا همغه لوریزه وي، چی وایو سپین د زیړ د خبرې په غبرګون کی وویل:

زیړ به یا د سپین خبرې سره غبرګ څه ویلي وي یانی همغه لوریزه به وي او یا به یی د دۀ خبره ورغبرګه کړي وي، چې غبرګه به وي، خو مخامخ لوریزه ( په ضد یا که غواړۍ برعکس)۰



که چیری په کوم کور کی پلار څه ووایې او د دۀ ځوي په دی اند نه وي او په مخامخ ( ضد) یی څه ووایی نو دا مشر بیا دی کشر ته وایی، چی خبره مه راغبرګه وه۰

که ووایو، چی د سپین د خبرې سره زیړ خبره غبره کړه، یانی دا غبرګه همغه لوریزه ده۰

زه تراوسه پورې په دې نه پوهیږم، غبرګون به هندارونه یا انعکاس وي او که د چا، څه یا د چا د خبرې په هکله به وي او که څنګه؟

که موخه ترې انعکاس وي، نو انعکاس اړیین نه دی، چی غبرګ دې وي.

که د ،،غبرګون،، په ځای په ډېره بخښنه ،،ګړنګون،، هم ووایو همدا به ترې و پوهیږو، چې څه له غبرګون څخه پوهیږو.

موږ لرو چې سپین د برګ د خبرو په هکله وویل:....،نوبیا غبرګون ته څه اړتیا ده.

زما په اند ژبې سره غبرګې پیدا دي او هغه څه چې په نورو ژبو کې څنګه کارولکیږي، په پښتوکې هم همداسې ده، نوراځی، چې د ،،غبرګون،، په ځای په ،، هکله،، بسیا وکړو او یا اړوند حالت سره سم، چې په لاندې کې به یې لږ وغزوم بل وی وکاروو.

د لا نورې روښانه ونې له پاره لاندې پوښتنه ځوابوو:

ایا د غبرګون داسې کارونه، چې زموږ ژورنالستان یې کاروي اړینه ده او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښه لاس ته راوړني له پاره موږدا د غبرګون کارونه په څو غونډالوکې روښانه کوو.

تکرار به ولري، خو د ښه پوهیدلوله پاره ښه دی، چې وښایودا د لیکوالانو یو ذوق او د ژبې ناسمون دی او که د ژبې اړتیا.

لومړی بیلګه:

ترمپ وویل، چې افغانستان کې د سولې له پاره باید لارې چارې وکتل شي.

د ژورنالستان لیکنه به وي:

غني د ترمپ د خبرو په غبرګونکې وویل، چې په افغانستان کې سوله اړینه ده.

.

. و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۲۴۵ .

یا غني د ترمپ د خبرو په غبرګونکې وویل، چې په افغانستان کې د سولې کیلي د پاکستان سره ده.

سم یې:

غني د ترمپ د خبروپه هکله وویل،چې ........................

دویمه بیلګه:

ترمپ وویل، چې د افغانستان جګره کې د پاکستان ښکیلتیا باید له پامه ونه غورزول شي.

غني د ترمپ د خبرو په غبرګون کې وویل، چې د جګړې بنستیز مسؤلیت د پاکستان په غاړه دی.

سم یې:

یو: غني د ترمپ د خبروپه هکله وویل، چې ..............................

دوه: غني د ترمپ د خبرو په ملاتړ وویل، چې ..............................

درې: غني د ترمپ د خبروپه مخامخ یا مقابل وویل، چې..................

بیلګه: ،،وسلوالو طالبانو په دې اړه تر اوسه غبرګون نه دی ښوولی.،،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غبرګون په ځای که داسې ولیکو: ،، دا چې په دې برید کې ولسي وګړو ته زیان رسیدلی او که نه چارواکو په دې اړه ( په دې هکله، په دې باره (درې ده؟) لا تر اوسه څه نه دي ویلي.،،

دا پورته ویونه لرو، چې هغه بنسټیزه موخه روښانه کوي، نو دې غبرګون یا ګړنګون اویا بل څه باندې ولې خپله ژبه تخریب کړو. بیا: په هرصورت دا د غبرګون وي کارونه په داسې غونډالو کې یا په دې موخه ناسم او سم ناسم دئ.

ډاکتر ماخان میرې شینواری

## ایا موږ پیداپښتې پوهنې پر پښتوباندې کولی شو؟



تکرار به وي، خو له نوو څه سره

موږ لا تراوسه پورې چې په پیداپښتي پوهنوکې پوهنیز څه لولو،هغه عربي دي. پوښتنه دا ده، چې ایا موږدا پوهنې په پښتو لیکلی شو، دا په دې مانا، چې ایا موږ د دې پوهنو پوهنیزو و ویونو ته هم پښتو انډول لرو او دا پیدا کولی شو. دا نومونه پیدا کوو نه، خو پوښتنه دا ده، چې ددې لپاره نومونه په پښتو شته اوکه څنګه؟

دا پوښتنه به په هوځواب کړو، ځکه چې هره ژبه د پوهنیزه کیدوتوان لري، خولومړی باید ځان په هغه پوهنه پوه کړو او بیا په هغه وي، چې د باندنی ژبه کې شته اوپښتو انډول یې پیدا کوو.

په همدې ځای کې دې اجازه وي، ووایم، چې ما په شمیرپوهنه کې نږدې څلوېښت کتابونه په پښتو کړي، دا په دې مانا چې هغه مسلکي نومونه مې په انډول پښتو کړي، بې له ستونځو او همداسې مې په فزیک کې درې کتابونه ژباړلي، چې یوله هغود ښوونځي د کتابونوسرلیکونه دي، هغه فزیکي ویونه مې نه د ډکشنري په بڼه، خو په پښتومې د الماني ویونو ته انډول پیدا کړی یا میندلی

دا په پښتو یا د پښتو نومونوسره مو پوهنه هم ساده کیږي، چې دلته د یوڅو بیلګو سره ستاسو لنډ پام را اړوم. دا په ورزیاته کړم، چې ما هیڅ وخت نوم له ځانه نه دئ پیداکړی او انډول مې لټولی او پیدا کړی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې هکله اوږدې خبرې نه کوم، لنډ يوڅوبيلګې له تاسوسره ګډوم.

## مشبوع به نوڅه وبولو؟

مشبوع داسې پيژند لري:

-- هغه محلول چې نور همغه څه په ځان کې نه شي حل کولی، مشبوع بلل کيږي.

موږ وايو: يو څوک چې ډېرخوراک وکړي هم ورته وايي، چې مشبوع شوی اوميږي، چې ډېر واښه وخوري. نو وايو چې ميږه ټنډه شوې .

يو څوک چې نوره مړی نه شي خوړلی، خوموړوي او همداسې نور ژوي مړيږي.

و پښتو ته ناسم راننا‌سب شوي... ۲۴۷

کوچنيانو ته هم چې موږډېر خواړه ورکړي، راګرځوي يې.

ځنې خواړه دي، چې سړی يا څوک ښه په مړيږي، نو وايو، چې دا خواړه مړوونکي دي. ګومان مې دی، چې د کلي خلک وايي مړوخه دي، نه پوهيږم سم به وي او که څنګه، ځکه چې مړوخه ګومان مې دی هغې ښځې ته هم وايي، چې ميږه لري.

په همدې توګه مو محلول يا حل ،،اوبی،، بللی، نومشبوع ته به څه ووايو؟

لکه چې ژوي مړيږي، خو همداسې يو اوبی هم مړيږي.

موږ نو پورته پيژند اوس په پښتو دا سې ليکو:

هغه اوبی چې نورڅه ځان کې نه شي اوبی کولی ( دا ګوره اوبه کولی نه بولو) موړ وي.

مشبوع = موړ

بيا وايم، چې دا بل ډول نه شي بلل کيدی، دا په دې مانا، چې نومونه به نه جوړوو، هغه خپل نومونه به رابرسيره کوو يا له کټلاندې څخه راباسو.

## له شميرپوهنې څخه يوه بيلګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما خو نږدې ټوله د پوهنتون شمیرپوهنه په پښتو لیکلې، خو بیا به هم یوه بیلګه له تاسو سره ګډه کړم:

دایره، چې د دایرې د منحني یوه لږه برخه قوس بولو او وتر او قطر لرو او داسې نور.

په پښتو یې:

ګردۍ ( موږیې په هسکه مینه کې ګردۍ بولو)، هغه وړه د ګردۍ د کږې برخې ته ،، لینده،، وایو.

دایره = ګردۍ

قوس = لینده



وتر : هغه کرښه ده، چې له ګردۍ یوه ټوټه بیلوي، نو دا له دې امله ټوټه وونی ( ټوټوونی) بولو( بولویې نه،دا ټوټوونی دي).

وتر = ټوټوونی

ټوټه یا چې قطعه ورته وایو: د ګردۍ هغه هواره ده، چې د لیندې او ټوټووني منځ کې پرته ده.

قطعه = (ګردۍ) ټوټه

نیمۍ: هغه کرښه چې ګردۍ نیمۍ نو دا به نیمۍ نه وي؟

قطر = نیمۍ ( اړیین نه ده چې کرښه ورسره یاده کړو، پوهیږو چې دا کرښه ده).

ګردۍ برخه یا قطاع ( دا د قطاع نوم هم ډارونکی دۍ): دا د ګردۍ برخه ده، چې د دوه وړانګو او ګردۍ لیندې منځ کې پرته ده.

قطاع = (ګردۍ) برخه

وړانګه =شعاع

## له فزیک څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیم یا څه، چې برېښنا وړي، نو هغه هرومرو ،، (برېښنا) وړونې دي او له دې امله یې برېښنا وړوني یا لنډ وړوني بولو

دا د ښوونځي د فزیک نږدې ستره برخه مې پښتو ته را اړولې. په دې هکله مې لیکنې په کتابتون. کوم کې کتلی شی.

دا د ګرانو لوستونکو له پاره یو څه وړاندې کیږي، چې کټل او اندونه سره یو کول نه، سره نږدې کول یې زما هیله ده او نه بل څه.

نومونه یا ویونه باید پیدا نه شي. هر څه چې په پیداښتي توګه په بله ژبه کې شته، په پښتوکې هم شته.

. ۲۴۹ و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... .

دوه پوښتنې دي:

لومړی: یو څه ته په پښتو نوم ایښول ( دا به د خبرو وي)

دویم: د یوه څه په مانا ځان پوهول ( دا باید وي)

نو که د دې ویونو مانا ولیکویعنې مخکتاب، نړیوال جال، ملفون، شمیرونی، دا به اړیین وي. دا چې څنګه یې وبولو، دا باید په پام کې نیولشوي وي، چې تخریب په کې نه وي.

بیلګې:

۱ - موږ په کورونو اوکوټوکې یوجوړښت لرو، چې برېښنا پرې روښانه کوو اومړه کوو. دا جوړښت د یوه واړه اړمګوټي یا یوې تختې او یا د یوه څرخ په څیر وي. دې ته انګرېزي سویچ، الماني شالتر وایي. ددې دنده داده، چې برېښنا وړوني یا سیمونه سره یوځای کوي اوبیلوي. د یوځای کیدوسره برېښنا په برېښنا وړونو یا سیمونوکې بهیږي اوڅراغ روښانه کیږي اود بیلیدوسره برېښناګروپ مړکیږي. دا نو (برېښنا) تړونی بولو اودا نوم همداسې دی.

۲ – پورته موبرېښنا وړوني نوم ولیدل، دا هکپک کیدونکی نوم نه دی، دا برېښنا له یوه ځایه بل ځای ته وړي، نووړوني دي.

ګورو،چې زموږ ژبه د پوهنیزه کیدو توان لري او هره رینه په پښتو کیدی شي او هغه داسې، چې هرڅوک پرې ښه وپوهیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما اخرني وړانديزدادی، چې نومونه به له ځانه نه جوړوو اویو کره پيژندل شوی وی به د بل کره پيژند لرنکي وي په ځای نه ځای په ځای کوو.

## په نورو ژبو کې شته اوپښتو انډول يې

ډاکتر ماخان ميرزی شينواری

په دې برخه کې ځنې ورځني ويونه، چې په نوروژبو کې شته او موږ يې لا تراوسه انډول نه دی پيدا کړي.

. و پښتو ته ناسم راننا سب شوي... ۲۵۰ .

زه خو په دې اند نه يم، چې زه څه ليکم، هغه دې هرومرو سم وي، ځکه چې زه د همدومره ليکني د فکرتوان لرم. زما په اند زه هڅيدلی يم، چې څه ليکم، په هغې يو بل سره پوهيږو. ژبې سوچه کيدی نه شي، خوزه هم هغه ويونه کاروم، چې تراوسه پورې د پښتو د خوب تر کټ لاندې پراته وي، خوهغه ماته سم برېښي، ځکه داسې نه دي، لکه بهيدونکي، چې په پوره ناسمه توکه اوبلن وبولم اويا ستاندارد ته کچه ووايم.

زما د ليکنو په هکله ستاسود کړنو او مخامخکړنو ( دا بيا د دې وی يعني ،،مخامخکړنو،، د لومړي ځل له پاره کارونه ده، خو موخه ترې پو هيدل کيږي) هيله هم لرم.

زه ستاسومخامخکړنو ته درناوی لرم اوخپلې کړنې به ورسره هرومروسموم.

لند:پيداښتي نومونو ته بايد په پښتوکې انډول ولرو اودا لرو، د لږو ځانګړنو سره:

زه نومونه نه جوړوم. زه کوم د بلې ژبې وی، چې کاروم، هغې ته په پښتو کې انډول لټوم او دا تل د زياتو پيداښتي ويونو له پاره لرو. زه نومونه نه پيدا کوم، زه هغه لرلي نومونه ګرانولوستونکو ته مخ ته ږدم.

ځنې ليکوالان وايي،چې دې د ...ژبې وی ... ته څه ووايو؟

دا بايد وڅيرو، چې هغه وی يې پيدا کړو، لکه، چې زموږ د ليک لوست په ژبه کې د موږمشرانود مايع له پاره خپل انډول نوم نه وو کارولی، نودا يې ورته غوښتل پيدا کړي، خو انډول يې پيدانه کړی شو او ناسم انډول يې ورته وټاکه.

دا ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ځکه چې دوی دې ته فکر نه وو کړی اويا يې فکرنه شوکولی، چې مايع څه شی دی.

دوي دې ته پام نه دی کړی، چې مايع يو خوي دی او دا خوي د تنونو يا شيانو يوټولګی جوړوي يعنې ټول هغه څه ته مايع وايي، چې بهيږي، دا دی، بې له دې چې نور و مخ ته ولاړ شو، د مايع انډول پښتو مو وکاراوه يعني بيهدونکي.

پوهنيز نومونه: په پوهنه کې نومونه – په ځانګړې توګه شميرپوهنه او ځمکګچپوهنه کې – يواځني دي يا يوبواځني دي، دا په دې مانا چې هر نوم يوه او ټيک يوه څيره په ګوته کوي او هره څيره يو او ټيک يو نوم لري. نومونه څوک په خوښه – چې څه يې زړه غواړي ـ نه شي ټالکل.



بيلګه: مستطيل ته به نو په پښتوڅه ووايو؟
په مستطيل نه پوهيدم، نودابه په بله ژبه کې ګورم. انګرېزي اوالماني کې ورته rectangle and Rechteck وايي، نو له دې امله په پښتو کې – که دا سم وژباړو او دا چې څيرې دي، نو له دې امله ښځينه نومونه دي – ،،ولاړګوډی،، او يا کټمټ ،،ولاړکونجی،،( ولاړ کونجی ورته ځکه نه وايو، موږ په پښتو کښې ګوډ ا کونج لرو او دباندنی يې ګود دی) بلل کيږي، چې هرڅه ترې پوهيدل کيږي اوبل نوم ورته نه ټاکل کيږي يا نه شي ټاکل کيدی. دا چې سخت، نابلد او يا بل څه ډول دی، دا کوم بنديز نه دی، دا همداسې دی اوبس.

ايا هغه څه چې په نوروژبوکې شته زموږ په ژبه کې هم انډول لري؟

هو.

نو ولې موږ ځنو شيانو يا ويونو ته په پښتو کې نومونه نه لرو؟

دا ځکه چې موږ په نوروژبو نه پوهيږو او يا مو پام ورته نشته يا يې له پامه غورځوو.

هغه نومونه اوخويونه، چې په پښتوکې تراوسه ورته د چا نه وي پام شوی، نو زموږ پښتانه پيداښتي ده، چې هغو ته نومونه پيداکړي، خو ستونځه په دې کې ده، چې دوي ورته نوم پيداکوي اودا سمه نه ده، ځکه چې په کې تيروځي.

د هر څه له پاره، چې په بله ژبه کې نوم يا وی (په پيداښتي ډول) وي، نوپه پښتوکې هم ورته انډول شته، خودا چې موږ په نورو ژبونه پوهيږواويا زيات وخت دا نومونه له هغه چاپښولکيږي، چې په کومه دباندنی ژبه نه پوهيږي، چې له هغې څخه يې راواخلي اوکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړی، راوژباړي او یا لرټر لره له هغه چا وپوښتي اوخبرې ته یې غوږکیږدي، چې په یوه دباندنی ژبه پوهیږي.

زه یې دلته یوه بله بیلګه راوړم. یوه ورځ یوه ملګري را څخه و پوښتل، چې انعکاس ته به نوڅه ووایو او په همدې خبرو کې بیا د انګازې څخه خبرې شوې چې ګوندې دا به بل څه وي او انګیزه بل څه او همداسې له همغه وخته ازانګه هم منځ ته راغلې.

له دې امله زما دا لاندې لیکنه.

Reflexion انعکاس یا(بیرته) راګرځیدنه

و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۲۵۲ .

انګیزه (ازانګه ، انګازه): زما په اند به دا ،، د ازانګې به موخه ترې همغه د عربي ژبې انعکاس وي، چې په خلکو کې یې انعکاس ښه وي، یعني دلته به انګیزه د انعکاس لپاره کارول شوې وي. دا ځکه وایم، چې داسې یو څه مې زموږد خورا درانه لیکوال

ژورنالست، څیړونکي ښاغلي رفیع څخه اوریدلي( خداي(ج) دې وکړې چې دا مې ناسمي نه وي کړي او کومه ناسم پوهیدنه زما لخوا دلته نه وي رامنځ ته شوي، زه مخ له مخه د ښاغلي یوه څیړونکي رفیع صاحب څخه ډېره بخښنه غواړم ، په هر صورت زموږ د خبرو اترو موخه دا ،، ازانګه،، ده.

راځې، چې له هر څه د مخه ( د هرڅه له مخه مې لیکلی وو، خو د دې لیکنې سره مې له هر څه د مخه کړ) په انعکاس ځانونه وپوهو، د زیږپوهنې او فزیکي لار(قانون) له مخې.

که موږله کوټې په رڼا ورځ راووځو، نود لمر وړانګې چې په رانه بربښنده شیانو ولویږي، هغه بیرته راګرځي اوسترګې موبربښنوي. موږ هلته په کلي کې نه وایو، د لمرانعکاس یا رفلکشن مو سترګې راوبربښنولې، موږ وایو، چې د لمر رڼا بیرته راوګرزیده او زموږ سترګې یې وبربښنولې. دا په دې مانا، چې دا رڼا په یو شي ، چې بیا روڼ بربښني لویږي اوبیا بیرته راګرځي. دا بیا په دې مانا چې موږ نو د انعکاس او یا رفلکشن له پاره بیرته راګرځیدنه لرو، همداسې که غوندوسکه په دیوال وولو،هغه هم راګرځي، یا غږپه کوم ځای کې وکړو، چې هغه بیرته راګرځي. موږ اوس دا تر څیړنې ( دا ،، تر،، مې دلته ناسم ولیکه . سم یې د څیړنې اونه تر څیړنې) لاندې نیسو.

نو انعکاس د بیرته راګرځیدنې یا راګرځیدنې لپاره -چې انګریزي یا نوره هم ښه لاتین یې reflexion دی – کارول شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترهغې پورې، چې زما فکر رسيږي د عربي وی يا لغات ،،انعکاس،، په پښتو کې د درې څه يا د درې ډولونو لپاره کارول شوی:

که يو څه په هنداره کې بيرته راګرځول کيږي يا راګرځول کيږي ( دلته بيرته راګرځول او راګرځولو لپاره زما موخه همغه راګرځول يا راګرځيدل دي، موږ ورسره بيرته وايو، خو زه يې اړين نه بولم. دا به راګرځول وبولو) داهم ا نعکاس بولو يا دی.

که په غره کې غږ وکړو او هغه بيرته واورو يعنې راوګرځي، دا هم انعکاس دی، همداسې که يو څه په ولس کې وشي، که ښه وي يا بد دا په خلکو کې خوريږي او له خلکو بيرته اوروو يا اورېيل کيږي، چې دا هم انعکاس بلل شوی.



لنډ: انعکاس په هنداره کې، انعکاس په غره کې د يوه څه د غږ انعکاس په ولس کې د يوه څه يا يوې شوې وينا انعکاس.

دا درې نومونې په ټولو ژبو کې په بيلو بيلو نومونو ياديږي. هغه څه چې هنداره کې بيرته راګرځي په الماني کې ورته ،،شپيګلونګDie Spiegelung ،، وايي او دې نورو دوه وو ته اېښو يا اېکو(اکو) Echoوايي، چې لاتين دی موږ په پښتو کې هم د اسې نومونې لرو.

د اخرو دوه وو لپاره انګازه يا انګيزه(؟) کاروو، چې له دې امله پخپله هغه دعربي انعکاس دی او ازانګې يا بل څه نومونې ته اړتيا نه شته او په غره کې د غږ خوريدا هم انګازه يا انګيزه ده، يعنې خورشوی، چې موږ ورته انګې ويله او غږ به مو وکړ، چې انګې انګې يو غږ بل هم وکړه.

که په هنداره کې يو څه يا يوه څيره (بيرته) راګرځي، نو هغه څه بايد ونومو، د عربي انعکاس په ځای. دا په هنداره کې يوه څيره چې (بيرته) راګرځي، وايو چې دا څيره هنداره کيږي. دا چې دا څيره هنداره کيږي، نو دا خو له هنداروني( هنداره کوني) بل څه نه دي، يعنې دا په هنداره يا اينه کې انعکاس هندارونه يا اينونه بولو( هغه ستاسو خوښه هنداره نوم مو ښه راځي يا پښتو دی او که اينه). يعنې دې انعکاس ته هندارونه يا اينونه وايو. دا د پښتو ګرامر په بنسټ سم دی

نو ګرانو لوستونکو!

ګورو چې د ازانګه په پښتو کې کومه ترې بله پوهيدنه نه لري، يعنې ازانګه هم دا موږ دلته بللې ا نګازه يا انګيزه( ؟ ) ده، چې په خلکو کې خوريږي، خو که غواړی، دا ازانګه وبولی هم خوښه مو، کيدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

،،اېکو يا اېښو يا انګازه يا انګيزه منځ ته راځي، که د غږڅپې داسې په زواک يا قوي وځنډېږي، چې سړی دا غږ بيل بيل د اوريدلاس ته راوړني يا -نتيجې که غواړي د اوريدپايلې په توګه واخستلی يا احساس کړی شي. سره راټول يا سره يوځای شوې concentrate رفلکشنونه يا دا بيرته راګرځيدني(چې عربي کې ورته انعکاس وايي( شايد، زه په عربي نه پوهيږم)) د اکو، اېښو يا انګازې يا انګيزې په څير اوريدل کيږي. د اکو يا اېښو وی يا لغات د يوناني Ηχώ' څخه راغلی يا رانيول شوی دی.،،

که دا په هلمند کې شوې غونډې غږ خلکو ته ورسيږي، نو په خلګو کې خوريدا يې همداسې په پرلپسې ډول منځ ته راځي، چې دا هم همغه د غره په څير خپله انګيزه په

. ۲۵۴ و پښتو ته ناسم راننانسب شوي... .

خلکو کې خوروي. له دې امله دا هم انګيزه يا انګازه ده او که ازانګه يې بولی، هم خوښه مو، خو دما پهاند ښهيې انګېزه معياري ي.

لنډ بيا:

لومړی: په هنداره کې د يوه څه د څېرې بيرته راګرځيدنه هندارونه بولو او

دويم: په غره کې د غږ بيرته راګرځيدنه انګيزه،انګازه يا ازانګه بولو اوبيا همداسې

دريم: د يوه سياسې کس وينا، چې اغيز يې د خلکو له خوا بيرته راګرځي،هغه هم انګازه، انګيزه يا انګازه ده،خوماته يې انګيزه ښه برېښي.

**ډاکترماخان ميرړی شينواری**

# ستونځوبی

يو د پوهنتون پوهان را څخه وپوښتل، چې د ستونځوحل ته څه وايې؟

ما ورته وويل، چې ستونځوبی.

دا نوولې؟

اوس دې نړۍ په هراړخيزه پوهنو کې دومره وده کړې، که څوک، چې څيرني کوي اوپه داسې پرمختتلي ژبه وپوهيږي، نو د هر څه له پاره په پښتو کې هم هغه اړوند ويونه پيداکولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرو: ملګوبي، چې انګرېزي يې salt solution دی.

لنډ: زه به د خوي له مخې لکه پورته د ،،اوروبي،، په ځای، چې له اورغورځوني منځ ته راځي يا پايله ده، اوربهيدنه، اوربهيدونکي... وبولم. په مننه

محلول ملحي saltzlösung

حل solution، lösung

مخامخکړنه (عکس العمل):



دا مې همدااوس فکر ته راغی، چې د يوچا د کړنې سره چې څوک غواړې مخامخوالی وښايي، نودا به هرومروزما په اند مخامخکړنه وي.

که غواړی، نو د همغه ،،عکس العمل،، سره پاتې کيږو.

جفت او طاق ته په پښتوڅه وايي؟

پوښتنه. ايا موږ پښتو کې د جفت له پاره په دې ورځنۍ ژبه کې اندول وی لرو او که نه؟

هو: هرهغه څه، چې دوه، دوه کيدی شي، هغې ته عربي جفت وايي، چې پښتو اندول يې جوړه دی.

لومړی:

ايوه يا ييوه چې څوک کوي او يو غويا (غوايی) ولري، نو جوړه ورته پيدا کوي. دا د غويانو جوړه ده، چې بيا سره دا جوړه ځغلي. څوک چې بوټان اخلي، نو د دباندنی اغيزو پرته به جوړه بوټان اخلي. او که په ټاکنو کې سره برابر ځغلي، نو همغه د ييوې او يا ايوې د غويانو په څير به دا يوه جوړه وي، چې دا جوړه بيا جوړه سره ځغلي. نه ليکو، چې غبرګ سره ځغلي، ځکه چې که جوړه نه وي هم غبرګ کيدی شي او يا غبرګ دي،، ځکه چې ګډ ووټونه يا رايې به نه لري، چې يو بل غوڅ کړي.

که يوه نجلی او هلک داسې لږپه خوي کې سره نږدې وي، نوکيدی شي چې ووايو: دوي به يوه ښه جوړه وي.

دويم:

د جوړه مخامخ څه بولو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

عربي يې طاق دئ، هغه چې جوړه نه وي يعنې ناجوړه وي، نو ګوروچې پښتو بلل يې ،، ناجوړه،، دئ.

راځوشميرپوهنې ته

ګڼونه : هغه پيداښتي ګڼونه چې په دوه پوره وېشل کيږي، هغو ته جوړه ګڼونه وايو اوهغه پيداښتي ګڼونه، چې په دوه پوره نه وېشل کيږي، هغوي ته ناجوړه ګڼونه وايو. ګوره زه ورسره دلته پوره نه ليکم، ځکه چې اړتيا ورته نه شته. پيداښتي ګڼونه چې په پيداښتي ګڼ



وېشل کيږي او لاس ته راوړنه يې پيداښتي ګڼ وي، نو،، پوره،، ته يې هرومرو اړتيا نه پيښيږي.

جوړه ګڼونه: ۴ ،۱۶، ۲۸ ...

ناجوړه ګڼونه: ۱۳،۱۵، ۲۷ ....

## د يوه پوهنيز څه د ليکلو لپاره

له هرڅه څخه لومړۍ مشوره: که هرڅوک يا ښه يې هر پښتون غواړي څه زده کړي اوڅه ورزده کړي، که دا هره پوهنه يا پښتو ژبه هم وي، بايد له يوې وتلې دباندنۍ ژبې څخه د همدې موخو لپاره ګټه واخلي، يعنې يوه له وتلو ژبوڅخه بايد ښه زده کړي.

په پوهنه اوپوهنيزوڅه ليکلو کې دما وتوژبه ي د مرستې ژبه الماني ده او داسې لږ انګريزي، دا هم د الماني پر مټه باندې، دا پر دې پوهېدنه باندې چې د ليکلو لپاره مې وتونژبه ( ترې ژباړې ژبه) الماني ده اوموخه-ژبه(پرې ژباړې ژبه) پښتوده. دا هم بايدووايم، چې د الماني ګرامرد پښتو له ګرامرسره لږ سرلګوي او په ډېرڅه کې سره ورته-والی لري يا ښه يې د الاني ژبې څخه ښه پورته کولی شو يا پورته کېدی شي. دا مې د مخه ليکلو وو، دا دوه بېلې د يوې ژبې ريښې څخه نه دي، پښتو اېرګاتيو ژبه ده او الماني اېرګاتيو ژبه نه ده.

ژبه مو له جنجاله ډکه ده، ځکه چې نوې د پوهنې سره بلديږي، نو هراړخيزې ستونځې د بيلا بيلو مسلکي کسانو په منځ کې را منځ ته کوي. زموږ ژبې يواځې په ادبياتو کې دا سې دليدلو وده کړې، هغه هم د يوڅه په ليکلو کې، خو د ژبې له ليکندود، ليکنډول او ژبلار سره هلته هم ستونځې شته. په نورو بيلابيلو مسلکونوکې لا همداسې ده چې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه د مخه یادونه: یو څه چې له بلې ژبې څخه و پښتو ته را اوړي یا د پښتود سمون له پاره یې بیلګې راوړو، دا په دې پوهېدنه نه ده، چې دا د بلې ژبې انډول دې زموږ د ژبې یانې پښتو لپاره باورونه لري.

دا به نوره هم ښه داسې وو ایو، چې له نوروژبو څخه په ګټه اخستنه کښې پښتو غنې کوو( هراړخیزه) اود نوروژبو د ویونو(لغاتو) له پاره دپښتو انډول و ځان ته جوتوو.

. و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۲ ۵۷ .

ګوره داسې نه وایم، چې وی ورته پیداکوو، چې دا کارناسم هم دی، یعنې وی نه پیداکوو، د دوي انډول پیدا کوو.

دا چې د موږژبه له ودې څخه لرې پاتې شوې، نود ژبپوهنیزو ستونځو د هوارولو یا ستونځوبیو لپاره بیا له نورو پر مختللوژبوڅخه مرسته رانیولی شو یا اړین یو چې له نورو ژبو څخه مرسته راونیسو.

ایا د پ لپاره له نوروژبو څخه ګټه اخستل کیدی شي؟

هرومرو. ګورو، چې په هره ژبه کې د بلې ژبې انډول په پښتو کښې باید وي یا شته، چې په یوه ژبه کې زیات وي، خوبیا د هغوزیاتو څو له پاره په بله ژبه کې یوپ شتون ولري، لکه د الماني aus;ab ; von،... لپاره په پښتو کې یو پ شتون لرې اوهغه ،،له... څخه،،( یواځې څخه) دی، خو دا کومه ستونځه نه ده.

یادونه: باوروکړی، چې دا ټول کارما د ،، تر ،، په خپلوپولوکې د رابندولو له امله وکه، چې یواځې او یواځې ډ مهال،ځای او ...پاي په ګوته کولولپاره راځي اونوریې هر ځای کې راوړل ناسم دي اود ژبې د ټولولاروسره مخامخ، خو دا چې اوس وپوهېدو، چې تر پوهېدنوړونکی مورفېم دی او هلته راځي، چې ادیکوی پورې پسې راځي، نو له دې امله دا لاندې لیکنه، نو هغه خپل ارزښت د لاسه ورکوي، خو ومان مې دی، چې لویتل یې تاوان نه لري.

ډاکتر ماخان میړی شینواری

# د تل لپاره، تل، ترتله او تل ترتله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ځوکاله د مخه د تاند درني خپروني کې د یوه ډېردرانه او راته ګران استاد یوه لیکنه ولوستله، چې له تاسو سره یې د شریکولو لپاره له هغې دا لاندې را اخلم او  په دوه برخو یې وېشم:

یادونه: پخوا مې په دې یوه اوږده لیکنه کړې وه،خواوس مې دا نوې ولیکله، چې د لیکنې ډول یې هم بدل غوندې دی.

لومړی: د تل له پاره:

.　　　　　　　　و  پښتو ته ناسم رانناسب شوي...　　　　　۲۵۸　　.

،، ( د تل لپاره) په ګرامري لحاظ قیدي عبارت دی. دغه قید د پښتو په پخوانو کتابونو کې نه مومو، په غالب ګومان په شلمه پیړۍ کې پښتو ته راغلی دی او  د انګلیسي ژبې د FOR EVER ترجمه ښکاري.،،

---- ،،که څوک د متوفي په اړه  ولیکي چې : هغه له موږ د تل لپاره لاړ ؛ دلته یې نه ( تل ) او نه هغه د کلاسیکو اثارو عبارتونه معادل دي. ځیني خلک ( د تل په مخه ) عبارت استعمالوي چې شاید ( د تل لپاره) تر ګردو نږدې معادل وي. موږ ویلای شو چې : هغه له موږ د تل په مخه لاړ.،،

دویم: تل، ترتله اوتل ترتله:

،،( تل ) ډېره لنډه، یوه سیلابي کلمه ده خو د ابدیت لویه معنا پکې نغښتې ده. په همدې وجه ډېر ځله لیکونکي د هغې ترمعنوي اثر لاندې راشي او یو څه نور توري ورسره زیات کړي چې په صورت کې یې هم د محتوا قوت پیدا شي. پخوانو چې ( تر تله ) جمع کړی او  ( تر تلو) یې بللی دی، یا یې د ( تر تله ) په ځای ( تل تر تله ) راوړی دی، وجه یې همدا د ټینګار غوښتنه ده.،،

ګرانو لوستونکو!

زه په دې لیکنې نور څه نه لیکم، خو دې د ،، تل له پاره، تر، ترتله ،، له پاره غواړم یوائې یوڅو غونډالي له تاسوسره شریکي کړم او په تل ترتله لږ تم شم :

له دې د مخه، چې په دې موخه  څه لیکو اړیین بولم، چې د سم اند(منطق) څخه روښانه ونه وکړم.

یو:  منطق

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځئ، چې له هرڅه د مخه لومړی د سم اند یا منطق په بنسټ ،،وینا،، تعریف کړو:

پیژند ( دا پیژند د شمیر پوهنې سم اند څخه دی): وینا د ویونو یا کلمو موخه وره څنګ په څنګ  ایښوونه ده، چې یو ،،ریښتیا ارزښت،،  رښتیا یا نا رښتیا ولري.

که وو ایو، چې:

نن د کابل دښار  د هوا حالات.

دا وینا نه ده، ځکه موخه وره نه ده، ځکه چې ،،رښتیا ارزښت،، رښتیا یا نارښتیا نه لري.

که وو ایو، چې:

نن کابل کې ورینګي (ورښت.) وریږي.

دا وینا ده، ځکه موخه وره ده او یو رښتیا ارزښت لري، یعنې یا به ورینګي وریږي( باران نه وریږي، باران میبارد)، چې رښتیا ارزښت یې رښتیا دی او یا به ورینګي نه وریږي، چې رښتیا ارزښت یې نارښتیا دی.

پورته جمله ویلای شو:

نن په کابل کې ورینګي وریږي.

په کابل کې نن ورینګي وریږي.

ورینګي وریږي نن په کابل کې.

د سم اند له مخې دا ویناوې دي . ویونه موخه ور سره ځاي په ځای شوي، خو دا چې ژبه یې څه ډول لیکنه غواړي، دا بیا بله خبره ده.

جمله یا بهتره وینا  لرو: ،،  استبدادي نظام د تل لپاره نسکور شو،،. دا ویناده، ځکه چې ،،رښتیا ارزښت،، رښتیا یا نا رښتیا لري.

دا چې دا ،، استبدادي حکومت،، به بیا راځي او که نه ، د دې سره یې موږ سر او کار نه لرو. دا د یوه کس اند دی او څرګند یې کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه: له پخوانیو کتابونو څخه ګټه اخستنه اړینه ده، خو دې ته باید ګوته ونیسو، چې موږ له پخوا څخه ډېر څه نه لرو، موږ همدا اوس خپلې ژبې ته وده ورکوو او دا – د لوي ځښتن په برکت- په وده کې پوره چټکه ده. زموږ هر شاعر او هر ادیب د هغه وخت له اد یبه او شاعره ښه پوهیږي او دا باید همداسې وي، ځکه چې دا یوه طبیعي پروسه ده.

اوس راځوخپلې اري لیکنې ته:

لومړي ته:

دوه برخې دي.

۱ – د دباندنی ژبې اغیز:

دا سمه خبره ده، کیدی شي دا وي، ځکه موږاړیوچې هر څه یا ټولې پوهنې – ژبه هم – د د باندنیو ژبو په مرسته مخ ته بوځو، نو اغیزبه یې هرومرو وي، خو ایا دا اغیزیې د ژبلارو او د موخه ورتیا سره سم دی؟

دې ته باید تل پوره پام وي.

اوس راځو د ،، تل له پاره،، ته

دې ته باید پام وکړو، چې دا د FOR EVER اندول دی اوکه نه؟ یعنې موخه وردی، که نه؟

یا زموږژبلار به دا وي، که نه؟

پوښتنه: ټاکسي دې (د) څه وخت ( له پاره) راغوښتی؟

له هرڅه دمخه باید دې پوښتنې ته پام وکړو یا پام راوګرځوو، چې زموږپښتو همداسې ده او که نه؟

که پوښتنه سمه وي، نولاندې ځوابونه یې هم هرومروسم دي.

-- د سبا له پاره مې په یوولسوبجو ټاکسي راغوښتی دی.



-- د ... له پاره مې په یوولسو بجو ټاکسي راغوښتی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

-- ... ته مې....

-- ... په یوولسو بجو مې تاکسي راغوښتې دئ.

د سبا پر ځای باندې چې درې ټکي ځای پر ځای باندې شوې، هر مهال ( د ژبدود اوسم اند سره سم) لیکل کیدی شي.

داسې هم ویلی شي، چې:

-- د تل( د درې ورځو، د یوې اونۍ، د راتلونکوځوورځو، د هرې ورځې) له پاره مې په یوولسو بجو تاکسي راغوښتې دئ.

دا غونډالي ،،رښتیا ارزښت،، رښتیا یا نارښتیا لرودی شي، خو موږ یې دلته د رښتیا ارزښت سره سر اوکار نه لرو

دویم ته: ، تل، ترتله، تل تر تله

پوښتنه ۱: ته څومره (وخت) دلته پاتیږې؟

زه څلور ورځې(یو کال، تل)دلته پاتی کیږم.

پوښتنه ۲: ته د څه وخته پورې دلته یې؟

زه دلته د څلور ورځو( یوکال، تل) پورې دلته یم.

دلته هم ګوره همغه د ،،تل له پاره،، په څیر څه شته، چې رښتیا ارزښت لري. دا به یا رښتیا وي یا نارښتیا

پوښتنه۳ : ته له څه وخت تر څه وخت دلته یې؟

زه د ۵- م تر ۱۰ – م د حمل دلته یم.

بنسټیزه پوښتنه ۴ :



ایا تل ترتله د ترتله لپاره ټینګار دی؟

بیا لنډ:

څومره وخت ؟ تل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څه وخت له پاره؟ د تل له پاره.

تر څه وخته؟ تر تله.

موږ به دې تل تر تله ته لږ تم شو.

ایا هر څه چې شته وي، هغه پیل اوپای لري؟

و به وایو،چې هو.

هر څه چې پیدا کیږي،هغه پیل اوپای لري.

یو څو بیلګې:

په مړستون کې د مړي په خښځای داسې لیکي: ۶. ۵ .۱۹۷۸ – ۳ . ۸ . ۲۰۱۸

په توروېږ لیکو: شپږم د پنځې ۱۹۷۸ تر ۳ د اتمې ۲۰۱۸

دا په دې مانا چې: له .... تر ....

اوس نوپوښتنه دا ده، چې شته وي، خوپیدا نه وي؟

ایا داسې څه شته؟ هو اوهغه زموږ رب دئ.

رب تر تله برقرار دئ اوپیل یې هم له تله برقرار دئ، نو

دلته به هغه د رحمان بابا د شعر د یوه نیمبیتي راوړو،چې دا درانه استاد هم په خپله لیکنه کې راوړې:

،،تل تر تله برقواردئ رب زما،،



دا د رب له پاره داسې لیکو: تل تر تله(پورې)

دا په دې مانا چې له تل څخه تر تله پورې. یعنې دا لومړی ،، تل،، د ،، ترتله،، له پاره ټینګار نه دئ.

ډاکتر ماخان میرزی شینواری

## له پښتو سره دنوروژبو زده-کوونکوستونځې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانو لوستونکو!

که ما دا ليکنه يو ساعت د مخه و سرته رسولې وی، بل ډول به وی، خوداسې بيا د خوب ته تګ وروسته يا بيا خوب ته د تګ وخت کې ورته هکپک هم شوم او د ليکنې بڼې يا

خونديونې هم بڼه بدله کړه. زه دې کار ته لږ هکپک هم شوم، چې پښتوربښتيا په څنو برخو کې د نوروژبو سره پوره توپيرلري او غزېدلې ده، چې له دې امله د نوروژبو ويونکو لپاره يې زده-کړه لږستونځمنه ده.

د ما و دې خوب ته په تګ کې فکر شو، چې زموږد پښتو غونډالو د کړنو د ډول سره څنګه نومځاينيوي بدليږي؟

دا اوس لږروښانه کوو:

دلته به له سره داسې يوڅه هم راوړو، چې زموږد نورو ژبو ياپه ځانګړې توګه درې ژبې افغانان ولې اوڅنګه له پښتو سره ستونځې لري اودا څنګه روښانه کولی شو، چې دا ستونځې اوبی کړو؟

زما دې ته پخوا فکرنه وو، ما غوښتل، چې په نومځاينيوو څه وليکم، نو دې ته مې راپام شو.

په نورو ژبو يا لږترلږه په درې اوالماني کې د کړوني له پاره په رول کې د راتلونکي-، تلوني- لنډ – او اوږد تير وخت له پاره بدلوننه راځي، خوپه پښتوکې دابل ډول دی، چې دلته لږرڼا په اچوو.



درې بيلګې به راوړو، بيا به خبرې پرې وکړ.

لومړی بيلګه: تلل

زه ځم.

زه به لاړ شم

زه لاړم.

زه تللم

زه تللی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې بیلګه کړنه  وخت-اړوند بدلیږي او کړونی نه بدلیږي.

د دا ډول کړنو ډولونه او کوموالی باید وڅیړل شي اوروښانه شي، چې کوم او څنګه بدلیږي (ګردانیږي).

پوښتنه: په تلنه اوتک کې به څه توپیروي؟

دویمه بیلګه: لیدل، کتل، که دا سره په ګډه بڼه بدل کړو.

زه ګورم.......... زه وینم

زه به وګورم.... زه به ووینم

ما کتل ........... ما لیدل

ما وکتل........ما ولیدل

ما کتلي وو.... ما لیدلي وو

دا ښی او کین د دویمې لیکې وروسته سره بدلیدلی هم شي.

.



په پورته کړنو ،، لیدل،، او هم ،،کتل،، کې ګورو، چې دا  د نورو کړنو غوندې بلدې ګرامرې لارې نه لري، چې له لیدل ښخه ګورم او کتل راځي. موږ باید نورداسې بیلارې کړنو ویونه هم پیدا کړو او هغه ځانګړي وڅیړو.

پوښتنه: داسې ویونه په نوروژبوکې هم شته، خو هلته یې موخه سره بیلیدلی شي. پوښتنه دا ده، چې ایا ،، لیدل،، او ،،کتل،،  همغه څه یا کتمټ دي اوکه څه توپیر سره لري؟

د دې روښانه-ونه راته لږ اړیینه بریښي او بیا دا لیټول یا پلټل سره څومره نږدېدي؟

دریمه بیلګه:  غونډالي د کړنې، کړوني او (پرې) په کړوني سره.

 بخښنه دې وي، چې د وهلوبیلګه راوړم، دا وهل موپه ذهن کې داسې کلک ناست دی، دا وهل او ...، خو اوس مې لیکلي اوبیایې سمون راته لږ ستونځمن بریښي.

دریم الف- د لومړي کس له پاره:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ - زه تا وهم Ich schlage dich

۲ - زه به تا ووهم،خو Ich werde dich schlagen ,

۳ - ما ته ووهلې Ich habe dich geschlagen

۴ – ما ته وهلې Ich schlagte dich

۴ – ما ته وهلی وې Ich hatte dich geschlagen

د پورته او لاندې دري تاسوولیکي، د وړاندیزونو سره

دريم ب – ددویم کس له پاره
ته ما وهې.

ته به ما ووهې.

تا زه وهلم.

تا زه ووهلم.



تا زه وهلی وم.

دلته نو کومه ژبلارده، چې لومړي کې یواځې کړنه بدلیږي او نومځاینیوی نه بدلیږي اوپه دې نوروکې بیا وخت-اړوند نومځاینیوي او کړنه دواړه بدلیږي؟ خبره څه کې یا چیرته ده؟

دا د نومځاینیووبدلیدنې له پاره هم کړنه ونډه لري یا د کړنې په غاړه دی.

موږ دا بدلون د دې ډول کړنو په بنسټ کوو:

لومړی: کړنې، چې هغه یوڅه ته اړنه وي، دا په دې مانا، چې دا کړنې پرې کیږي، که ووایو، چې خپلواکې وي.

دویم: هغه کړنې دي، چې هغه یوبل څه ته یا د یوبل څه له امله دي.

لومړي ته: د دې کړنوبیلګې دي. تلل، بیدېدل، پاڅیدل. دلته یواځې کړونی دی اود هغه کړنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم ته: د دې کړنو بیلګې دي: لیدل،وهل، اورېدل. دلته کړنی دي  او د کړنو سره مل یو بل څه ونډه لري، که یاد یې شوی وي یا نه، په دې مانا، چې یوڅه به ګورې، یوڅه به اورې، یوڅه به وهې، که یو په -کړونی وي اوکه نه.

د هرې بلې ژبې کسان، چې پښتوزده-کوي،ستونځي یې په څه کې دي؟

دا خبره مو پورته ځواب کړه، چې په پښتو کې ګړن-اړوند نومځاینیوي هم بدلیږي.

په پورته کې ګورو، چې د پښتو د نومځای نیوي کارونې سره پوره توپیر لري.

داسې لږ څه ګډې وډې به راشي:

ګورو چې د الماني نومځاینیوو کې بدلون نه دئ راغلی یا نه رځي، خو په پښتو کې

ګورو، چې په راتلونکي او تلن وخت کې د کړوني اوپرېکړونې رول د لنډ - - اواوږد تیر وخت سره توپیر لري اوپه نوروژبو یا لږتر لږه الماني اودري کې داسې نه ده.

دا هم باید په ګوته شي، چې د کومو کړنوله پاره.



د هرڅه د مخه باید په یاد ولرو، چې هرد بلې ژبې زده-کوونکی(ردکوونی) خپله لومړۍ ژبه په دویمه ژبه ژباړي. هغه غونډالې، چې دوی په دویمه ژبه وایي، د هغې له پاره دا غونډاله په خپله ژبه لږترلږه په فکر کې وایي اوبیا یې په دویمه ژبه اړوي. دا کار تر هغه وخته کیږي، چې دویمه ژبه هم ښه زده شي اوپه ژبلار یې هم ښه وپوهیږي یا د غونډالو جوړولو په لار.

تل په فکرپسې فکر راځي: کړل کیدل دي او که کیدل؟؟؟ یوه کړنه ده، چې کړونی یې نا څرګند دئ او په یو چا څه کیږي. ایا دا په-کړونی دئ اوکه څنګه؟ ووهلم؟ دلته زه وهلکیږم  دلته وهل کیدل اووهل، دا هم بیا بله لار ده، چې یوه څه کیږي او یو څه کیدل کیږي، دې ته هم باید په کړنو کې پام وشي........

زه لیدل کیږم. ته لیدل کیږي. زه لیدل شوی یم. دلته بیا ټاکلی کړونی نه شته.

یادونه: دا ما ته نه دهروښانه چې زه دلته په کړونی دئ اوکنه.

نوایا دې ته اړیو،چې په  پښتوکې د لیدلو او کړلوتوپیر  هموکړو،که څنګه؟

ایا دا کړنه او کیدنه په نوروژبو او پښتو کې څنګه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په الماني او همداسې په فارسي کې دوي باید داسې ووايي. دوي فکرکوي، چې ګونډې په ټولوغونډالډولونو کې د کړوني له پاره د درې ،، ما،، له پاره زه راځي، خو داسې،

۳ ــم یو : زه تاته وهم

۴ ــ م یو : زه تاته وهلی یم

دا ځکه چې دوي دا څه له خپلې ژبې پښتوته را اړوي.

د پښتو پوهانودنده: دوي باید دا روښانه کړی شي او لارې چارې يې سمې روښانه کړی شي. دې تغیرته باید دوي له پیله پام وکړي او دا د پښتو زده کوونکو ته له ښوونځي روښانه کړي.

ګران لوستونکي به راته دا بخښنه کوي، چې زه ددې لیکلو څه یادونه کوم. دا به یا د مخه روښانه او لیکل شویوي او که نه، نو ما لږ ترلږه دا لارورته پرنیسته.



دا هره موضوع د یوه پوهنیز کار لیکنه ده، چې پوره روښانتیا ته اړتیا لري او دا هم ښه روښانه شي، چې دا د بلې ژبې کسان دا څنګه اسانه او ښه زده-کولی شي.

یادونه: دا بدلونونه باید دښوونځي نصاب کې راشي او د نورو ژبورده-کوونکوله پاره باید له پیله دا بدلونونه په ګوته شي، چې هغو همغه له پیلهورته پام اوبلد شي، خو:

دا باید له پیله ټول وخیړل شي او ژبلارې ته د ژبلارې له یوې لارې برابرشي، چې د خپلې پوهې برسیره، نورهم ښه پرې وپوهول شي

# نورم:

ټولیز منل شوی نه لیکلې لار یا قانون دی، چې باید د هغې پسې سمه تلنه وشي یا سړی ځان د هغې پسې چمتو کړي..

،، نورمونه کره کړئ یا نورمونه کیږدئ،،.

دا یا هغه چې ټولیز ورځنی یا پیژندل شوی وي.

،، د هغې لویه د نورم څخه قوي تغیر ده.،،

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوه پای راوړنه

هر څوک په خپله لیکنه کې یوه موخه لري، خو هغه موخه باید سپیڅلې وي او د پوهنیزې موخې په چوپړکې وي. زه هم خپله موخه لرم، چې کله کله بیا بیا په راګرځم،

ځکه چې بله لارنه لرم، خوزه درته دا لوړه کوم، چې پرته له پښتوسمون او ځان روغساتنې څخه بله موخه نه لرم.

که زما په هکله یا ځما د لیکنې په هکله څوک هر څه ولیکي، نه پرې زړه بدی کیږم، پوهنه او په پوهنه لیکنه کې ستونځې شته او هرڅوک په کې په ناسمون کوته لک کیدی شي، خو د هر چا د لیکنو ردونې پر د لایلو باندې باید ودانوي.

. و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۲۶۹ .

د پښتوسمون له پاره د تاند د منلېخپرونې څخه څوخپرونې خپرې شوې، چې زما په اند داسې په پوره دلایلویي رد

یوبل سره باید خبرې اترې شونې شي، زه یو څه لیکم اویوبل څوک څه پرې لیکي، سمه خبره ده، خو دا به بیا د تاند خپرونه ونه مني، چې دا د هغې لارې سرته ورسوو.د دېکارله پاره باید یو ه اړیکه د ن ج څخه د برېښناپتې له لارې ولرودی شو اوخپل اندونه سره مدلل شریک کړواوپه هغه سره چې وموملو یوانده شو.دا کیدیشي، په ګډه بیا خواره شي. ځنې به ووايي،چې دا کار خود پوهنیزه مؤسسو دی، چې زه یې هم په اند یم، خو موږ.هلته هم ستونځې لرو اودا به یومخامخ د څه جوړول نه وي،بلکه د هغې ملاتړ به وي. د هر څه لومړی دې راته ګران لوستونکي ډېره بخښنه وکړي، چې داسې څه لیکم، خوباوروکړی، چې د ځانپالنې اوځانښوونې له امله یې نه لیکم اویواځې موخه مې د سمو او تولیزباوري لیکنو له امله ده. بیا هم په بخښنه. اوس راځم خپلې لیکنې ته.

د بیلګې په توګه به زه هغه څه ولیکم، چې موږپخپله ورسره مخامخ یو

هرڅوک یا نوره هم ښه هر لیکوال او په ځانګړې توګه هغه لیکوالان چې پوهنیز څه لیکي، له هغو څخه په ډېر درنښت هیله ده، چې:

لومړی: د لیکنې موخه ځانپالنه اوځانښوونه نه وي، دا په دې مانا چې لیکنه اوپه ځانګړې توګه پوهنیزه لیکنه یواځې د لیکنې په موخه او پوهنې له امله وي، یعنې د ټولیزه ګټو له پاره او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم: هرکله چې یو لیکوال د یوه بل چا په لیکنه څه لیکي، نود هغه لیکنه باید منځریښتینې بیرته ورکړي.

دریم : لیکونکی پرته له ژباړي-په داسې حالت کې، چې ژباړه منځریښتینې بیرته ورکړشوې وي – د هرې بلې خپلې لیکنې له پاره د سمون او ریښتینوالي جوګه دی.

څلورم: هرڅوک د هرڅه د لیکلو لپاره خپلواک دی، که د بل چا د لیکنې سره د کوتوهنې یا تخریب په موخه نه وي.

...



پنځم: که هرچا په یوه ټاکلي موضوع کتاب لیکلی یا ژباړلی وي، دا په دې مانا نه دی، چې بل څوک دې بیا داسې کتاب نه ژباړي یا په دې موضوع څه نه لیکي، خود بل چا لیکنه بې له اجازې او یا نوم نهلیکلو رااخستل پوهنیزه غلا ده.

شپږم: هر پوهنیز څه چې لیکو، هغه باید پوهنیز ښوول شوې وي، په کره دلایلو اودلایل بایدپوهنیزد منلوړ وي.

اوم: ټولې پوهنې د زده-کړې ستړې منځپانګې لري او دا د وخت د تېرېدوسره یې منځ پانګه نورې هم غزیږي. داسې څوک نه شته چې پر یوه پوهنه باندې دې پوره واک ولري یا و لرودی شي. ما په شمېرپوهنه کښې څلوېښت کتابونه لیکلي او ژباړلي، خو دا د شمېرپوهنې یوه ماتبرخه ( لکه له یوه یووالي څخه اتمه برخه) هم نه جوړوي.

## د ،، ژبپوهانو ګواښنه،، پرموضوع باندې داسې لنډڅه لیکنه

لیکنه د ډېر منلي او ستر ژبپوه پوهاند ډاکتر صیب زیار لیکنه ده، چې زما په لیکنو یې کړې. زه ترې ډېره مننه کوم، چې د ما لیکنې یا ځنې لیکنې یې لوستلي. زه یې په لیکنه څه نه وایم او همداسې، چې ده، و تاسو ته یې وړاندې کوم.

پروفیسور ډاکتر مجاور احمد زیار

## ژبپوهانو ګواښنې| پوهاند دوکتور م.ا، زیار

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکسفورډ ۲۲می ۱۹

د نوي ژبني ساينس او نوې پښتوژبپوهنې په مورچل کې:

ستر حمزه شينواری وايي:

. و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۲۷۱ .

څو يې راټول پريو مرکز نه کړمه

هرې تپې ته له جرګوسره ځم

خو زه بيا ټاډاکتر ماخان مېږي شينواري( ته وايم چې ترڅو يې زه دژبې) ربړې-ابښتنې پوښتنې او د هواري لارې چارې) پر (يوه- يوازېنې ژبپوهنيز) مرکز راټولې نه کړم، له اسلام کلا تر اسلام اباده، او له بولانه تر واخانه ټولو پرګنو او ليکلو ستوالو او رسنوالو، ليکوالو او ټاغوندې پښتومينو پوهانو ته له جرګوسره ځم–لکه وار له مخه چې تللی هم

يم .که هغه مرکز (زه) اوسم ،يا تر ما کوم بل پک ورک، له لا لوړ ژبپوهنيز لاسونداو نيم پېړيز تدريس او له رېکاردي بنستيزو تيوريکو او پر کتيکو اثارو سره!

په تاند ووبپاڼه کې ستاد تېرو ليکنو او اوسنۍ (۵ی ګانې)، (سلمه او سلنه)، کچه...) ليکنو او بيا د علمي-فرهنګي نومَونپوهنو (ترمينالو جيو).ربړې... او ښاغلي عزت اله نورزي د (تر) (۲۰نوېمبر۱۸)سربل په تړاو ليکلې ليدتوګې دې دغو (ګيلو مانو) ته را وڅکولم:

(۱)هغه هم په دې چې له خپښی خپلوۍ او دوستۍ سره سره-دچا خبره تر ډېوې لاندې تياره ده-د ړو مبي او روستي پښتانه استازي په توګه زما پنځو سکلنې ژبپوهنيزې او ژبښوونيزې او بيا دنوې پښتو ژبپوهنې بنسټيزنښيرونه اوزرګونه ليکنې، څېړنې،کره کتنې،غبرګونونه او لارښودونه دې له پامه نه راځي، لکه: پښويه (ګرامر)، وييپوهنه او وييرغاونه (لېکزيکولوګي او وورت بيلدونګ)، د (يوې- کره ليکنۍ) پښتوليکلارښود،د سربلونو انګرېزي- پښتوسيندګي، په تېره تر ټولو غټ ياڼي د پوره سيند (قاموس) پر کچ د علمي-فر هنګي نو يزونو (نيولو جېزمونو) پينځژبيز هغه، همداراز اېټېمولوجيک سيندګی او يوشمېر نور سيندګي؛ ګړنې-څرګندنې (ايديوماتيکس)،سبکپوهنه، مانا پو هنه سېمانتيکس ، پښتو بدلمېچ يا ميزان الشعر د غرېپوهنې په رڼاکې، پښتواو پښتا نه د ژبپو هنې په رڼا کې...او له الماني اوانګرېزي ژبوګڼې څانګپو هيزې (تخصصي، مسلکي) ژباړې په رسنيزاو کتابي کچ او د (افغا نستان ژبپو هنې اطلس) پروژې دننه د ګڼو افغا ني ژبو څه له

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاسه سل گړ دودي ځېړنې؛ چې دا دی، زه یې د پاتې تخنیکي او چاپي چارو د بشپړتیا
لپاره داکادمۍ د ژبپوهنې د سلاکار په توگه له جگپوړي پلاوي سره د فرا نسې د یونسکو
دو تر او د سوبس برن پوهنتون د آریا نپوهنې ژمنې ځا نگې درانگونې په موخه له کابله
تر اکسفورډه را رسېدلی یم



(۲) تاته به هم پته لگېدلې وې چې لوېدیز اروپایي زدکړیز سېستم، په تېره د بشري پوهنو
په تړاو د (ختیز- اروپایي ( د پخواني شوروي او اوسني رو سي)او بیا امریکا یي هغه
پرخلاف ډېر ارت وبیرت دی، د بېلگې په توگه ما شپږ کاله دسوبس په برن پوهنتون کې
په اوبلېگاتوري توگه : ټولیز ژبنی سا ینس بیا سراسري-هندواروپایي، گرما نېستیک او
ورپسې هندو آریاني سېنکرونیکي او دایکرو نیکي (تشریحي (سپنیزې) او تار یخي)
څانگې خرا نگې پر څېرمه هغې (توکمپوهنې)، سرببېره، له ایم فېل) ماستری او B–
ډاکتری سره سرته رسولې _او په فاکولتاتیفي توگه: ادبي تیوري، فلسفي ژبپوهنه
اواتنولنگو ېستیکي، سوسیولنگو ېستیکي... شپېنې کورسونه لا پرځای پرېږده!

په دې ډول یې له همتا شمبرپوه ډاکتره ځکه را پیلوم چې گیله له خپلواو دو ستانو کېږي،
نه له پردو،او ان له پېښوري شینواري هم نه، چې د نورو تر څنگ پر نړیوال کچ منل
شوې سلکلنه غږیزه پښتوابېڅې اوداطلس د ۲۸۴ گړدودو او د اکاد مۍ د تشریحي

قا موسونو لپاره پرکاراچول شوې، په خپله سپسته را ننگوي، او ستاغوندې د یوې ټا کلې
پوهنې څانگوال هم نه دی چې هسې ببځایه ور سره سرخوږکړم؛ له تاسره خومې بې له
هغې هم دشمبرپوهنې نښیر د ژبنۍ کره کتنې راهیسې گوتې ماتې شوې. چې د سراسري
پښتو فرهنگي ټولنې گران مشر زرین انځور راته تر چاپ مخکې له کولنه اکسفورډ ته
راستولی وو،او ماهم د کابل پوهنتون له اړوندې ترمینالوجۍ سره سم د( هندسې) لپاره
د(شمبرپوهنې) پرځای،د (Lehre von den Formen) یا (geometry) سهي انډول
(مېچپوهنه) دروړاندیز کړې وو او شمبرپوهنه د (علم الحساب (Lehre von der
Zahlen) لپاره چې یوه میاشت هومره وخت یې را لوټ کړ او ان د چاپ پرکال (۲۰۱۰)
مې پرې درسره د دانش په کابل دوتر کې هسې یوه یادونه هومره وکړه!

(۳) له یوې- کره لیکنۍ پښتو نیولې، تر لیکدود، وییونو او او وییرغاونې (نیو لوجېزم)
پورې د گردو ربړو (مسألو) هواری زماغوندې د نوي ژبني سا ینس او نوې پښتو
ژبپوهنې په یوازېني ځا نگپوه (متخصص) اړه لري، نه په بل څانگپوه او یا اما تور؛مانا
یې دا چې د ټولنپوهنو،لکه تاریخپوهنې،لرغونپوهنې، متنپو هنې،یادودیزې ادبپوهنې (اد

(c) ketabton.com: The Digital Library

بي فنونو) په توپير په هسې مشق او رياضت، بې اکاډميکي- سېستماتيکې زدکړې
راخپلېداى نه شي،کټ مټ، لکه ستا ريا ضي( مېچپوهنه+شمېرپوهنه)، سره له دې چې



(ژب-شمېرپوهنه) هم له ښايسته ډېر را هيسې پر نورو ژبپوهنيزو څانگو راسرباري شوې
ده او په مانا پوهنه کې ځنې کاراخېستى دى!

(۴) بيا هم په ټينگار سره خپلې څرگندنې راغبرگوم چې له مورنى پښتو سره ستا اونورو
ليکوالو او پو هانو مينه اولېوالتيا د ستاينې او درناوي وړ دي، خوله دې علمي دود
ودستور) سره چې ربړې او اښتنې پوښتنې يې سم له لاسه له ماسره د يوازېنې څانگپوه په
توگه شريکې کړې، کټ مټ هماغسې چې ډېر ښاغلي او اغلې طبي-روغتيايي دا زما له
همزولي نومهالي طبي ډاکتر حبيب الرحمان سباو ون سره شريکوي. د لايزر او کمپيوټري
طب په څېر،نوې (پسرغښتي ژبپوهنه د (—›ساينس ژور نال، نوېمبر٢٠٠٣) په لاسوند
نوره له ټولنپوهنو رابېله شوې او په جوتپوهنو ( مثبتو ياساينتيفيکو پو هنو) يې اړه پيدا
کړې،او په دې توگه د دود يزو گرامرپوهانو غو ندې په ژبنيو ربړو مسألو کې، خپلسري
او اماتوري لاسو هنې نور ځاى نه لريّ!

(۵) داچې ته يې منې يا نه منې، د نورو پښتنو ليکو الو غوندې کومې پښتو ليکدودي،
گرامري يا ترمينالوجيکي ربړې او اښتنې پوښتنې چې په تېره د کابل (نصاب) پروژې
راهيسې تاد تاند او يا نو رو ووبپانو له لارې خپرې کړې او لا يې خپروې ، ما دا نيمه
پېړۍ پرې د ښوونې (تدريس) تر څنگ په سوونو ليکنې څېړنې خپرې کړې او بيا پر
کتابي کچ د پېنويې او بيا ليکلارې په پر ليسې څو غځېدلو چاپونو کې را نغښتې دي،د
سربلونو-وستر بلونو او غبرگبلو نو څوسوه چارتونه او جدولونه خو مې تر پېښور،برلين،

اکسفورډ او لندن پو هنتونونو پو رې لاس پرلاس وېشلي او ور شنلي دي. که ته دغه
کتابونه له کابل و پېښوره را غوښتاى يا راوړاى نه شې، لږ تر لږه يې خو دهمدغې تاند
ووبپا نې په خونديځ (آرشيف) کې تر يوه ځغلنده سترگليده تېرولاى شې، او هله يې د
پېژندنې او کار ونې په تړاو خپلو او نورو مينه والو تېروتنو ته ور ځيرکېدلاى شې!

رښتيا هم که لا همدلته دې پرخپل خپل وخت ترسترگو تېرکړې واى، دغه سر خوږى مې
نه پرځان لوراوه او نه پرتا چې ښايي ډېرو مينه والو ته سل په سل کې نوې خبرې نه وي!
] (۶) همداراز په هماغه آرشيف کې ]۶ ياوې-درې واوه او درې هاوې[ليکنه هم موندلاى
شې او په ترخ کې يې د—›(ى گانو) ډولونه چې په دغه لړ کې ښاغلي خبيب علي د
دوديزې کړوالې (ئ) دفاع کړې او مايې درو ايتي يا سکولاستيکي: دک و دليل پرځاى
(پېنوييز مانيز) سپيناوى کړى دى:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوې خپلواکې(واوېلي)، لکه: (اوږده -ې او لنډه-ي)؛ يوه نيمواکه ی/y/ له ګڼو ديفتانګي ځېلونو سره، لکه: (نو مواله ۍ) او (کړواله ئ)، او ياهم په جلا(-ی) بڼه په خوی، دوی، ځای، خدای کې چې دغلته پېښوريان يو نارين ګوډی الف (ء) هم پر سر وراچوي_ کړواله (-ئ) له نوموالې (-ۍ) سره تو پيرول ځکه اړين دي، چې تر منځ يې پښوييز او مانيز ټکر پيښېږي، هغه هم د نوموالې(-ۍ) پروړاندې د په نابشپړوسمهالو ډېرګړو کړونو بېلګو کې کړوالې،لکه: لړۍ (سلسله) او لړئ (شور ميدهيد!)، اوکرۍ (د جولا تنستې اوزار) او کرئ (ميکاريد!)، کنۍ (ګوشۀ ګُرد زمين) او کنئ (مى ګَنيد!)،شړۍ (شال) او شړئ (مى رانيد!)، منۍ (پرهيزګاره) او منئ (مى پذيريد!)، پېرۍ (جن) او پېرئ (ميخريد!)؛

همداراز همجوليزې بېلګې يې خو لا پرېمانه دي،لکه رسۍ (رسن) او رسئ، لړۍ (غاړه) او غړئ (مى تابيد) (ميرسيد!)،(خورۍ (همشېره-پرستاره) او خورئ (ميخوريد يا بخوريد!)، وړۍ ( پشم) او وړئ (ميبريد)...چې که بشپړ غږپو هيز او پښوييز يا مانيز ټکر هم ونه لري، جوليز دا خو هم په اوسني پېرياني ليک او ليکدود کې پوره ستونزې او ګډو ډۍ رامخته کوي او له لوستو نکي لارلو دن ور کوي،استاد خادم بيا دواړې (ئ) ليکلې، هغه هم په دې پلمه چې پښتانه (لکۍ نه لري)؛ پر سترګو هم دومره ډېرې لکۍ ښې نه لګي، هرګوره نيمواکه او زوروواله (ی) يوازې د ځپې او ويي پايته له نورو ځېلو نو توپيرېدای شي، لکه (يا،يو- بيا-بياتي)، او زور واله،لکه سړی، لرګی،ځای، پای)، نه په سراو منځ کې، د ښاغلي خبيب له خوا کندهاري (يوګړې نرينه ئ)، په راغلئ-ولاړئ، دئ دئ (= دی دی) د اړوندې ګړدودي ډلې د يوه٠ځانتنی خپلواکونج او خجپوهنې زيږنه ده او د نورو درو واړو ډلو پر وړاندې، کره او معياري بلل کېدای نه شي ( پښتو ليکلاربښود). وينګ له مخې ۶ دی، اولاکه اردو ډوله پېښورۍ ناکره (نرينه تأنيثيه) يا پرته هغه (ے) پرې ورسرباري کړو، نو ۸ ته رسي!

(.زه پر ګرامر نه پوهېږم،ګومان کوم چې په ژبه پوهېږم او...) خبره به درسره ومنم چې ته په خپلو هاندوهڅو او ازمايښتو تر ډېرو ليکوالو او مينه والو،پر پښتو پښو يې(ګرامر) ښه پوهېږې او که زما يا الما ني داځانته مخښلګه کړې، زموږ تر دوديزو استادانو به يې لا ښه وليکي، خو نومهالی دا، ستا تر شمېرپوهنې هم ډېر پېچلی او ورځ تر بلې پرلپسې پېچلی کېږي:

.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د دې منښته (اعتراف)کوم چې له دومره څانګپوهيزو زدکړو او نيم پېړييزو ښو ونو او پرلپسې غځونو، کرونو او چاپَونو سره بياهم خپله پښتو پښويه نيمګړې بولم او هغه هم له دې لامله چې پرلپسې نوې نوې ژبپوهنيزې او بيا پښوييزې را منځته کېدونکې تيورۍ او ليدتوګې مخې ته راځي. يوه پرلپسې پراخېدونکې دا سېمانتيکي او ادراکي تيوري ده، په دې ډول چې ژبني غړيز سېمبولونه له ګردو رغانيزو او ګرامري دويو او دويونو (قواعدو او قوانينو سره)- د پوره وبله پوهاوي (افهام و تفهيم) وړتيا نه لري، په نورو ټکو، دګړېد ونکي يا ليکونکي موخه او پيغام کټ مټ او سل په سل کې اورېدونکی يالو ستونکی ترلاسه کولای نه شي، او پر دې سربېره چې خبره يا متن په دومره کچه وي چې اړونده سکالو يا منځپانګه پکې در سته راڅای شوې وي او همداراز اورېدونکی هم پرخپل وار پرذهني وړتيا سربېره د ويونکي اړوند ټولنيز او طبيعي چاپېريال هم له پامه ونه غورځوي او ورسره ورسره يې نغوتې اشارې او پژني خوځښتونه (باډي لنګوېج) هم؛ هرګوره، ليکنه او لوستنه هم بايدله هره پلوه کره او معياري اوسي!

له دې کبله زه هم دېته اړوځم چې خپله پښويه او ورسره تړلې مانا پوهنه نېټه تانده کړم او په دې توګه يې. تر روستی سلګۍ پرپېيلی چاپ نوی کړم . له نوي ځوان پښتني پښته او بيا سيده او ناسيده شاګردانو څخه مې داتمه نه کېږي، تر شل دېرشو کلونو پورې د پښتو ژبپوهنې پاتوړې (مير اث) مې پرمخ يوسې او پرلپسې يې وغځوي او تاند نېټه (update) کاندې!

زاړه شاګردان مې د بورسونو په تمه تمه همداسې پښه پرځای او کورناستی ته سترګې پرلار پاتې دي او همدا زما لوستکتابونهشاګردانو ته ور دېکتې کوي؛ يونيم چې دېخوا را کډوال شوی، د راتګ پورونو او ترشاپرېښو کورنيو له غمه پژني(بدني) کارونه کسبونه کوي.

(۸) (سلمه) يو پوړشمېر (عدد رتبی) دی او (فيصدی) لپاره يې پرکار اچول هسې بېځايه دي، ولې توپير نه شي، پوړشمېر پارسي او نورې نژدې خپلوانې ژبې هم لري، خو

(فيصدي) کاروي، نه صدم يا صدمين؛ همداسې د اروپايي خپلوانو له (پرسېنت) او (پروسېنت) درواخله!



(۹) (کچه) تا پخپله سويه،سطح، اومعيار) ماناکړې او (اندازه) مانا دې پر (معيار) بدله کړې او هسې دې په ناسيده ډول (کچول- په کچه کول=پيمايش کردن، اندازه کردن) ور زيات کړي دي؛ د (معيار، ستاندرد) په مانا نه په بره او نه په لره کې ځوک کاروي او نه په کوم سيند سيندګي راغلې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچې تا (کچه)د يوه هندسي ترم (اصطلاح) په توګه پر ببلابېلو ډولونو شنلي ده، د ژبې له ورځنۍ دودي کاروني سره اړخ نه لګوي، داسې چې د بېلابېلو پوهنو او پو هنځانګو له مخې يو درجن نورې ماناوې هم درلوداى شي: موږ دښوونځي له ټولګيوالو به سره په ټوکې کولي: (سوډيم کلورايډ) دې خوړلي يا (H2O) دې څښلي دي؛ مورفولوجي لړ تر لږه د درو پوهنو(ژبپوهنې- ځمکپېژندنې او درملپوهنې) ترمنځ شريکه نومونه ده، خو ما ناوې يې سره يوراز نه دي؟

د رغښتي ژبپوهنې (structural languistics) نوموتلي امريکايي ژبپوهاند ( ليو ناردبلومفيلد1887-1949) پر ژبنۍ او ګرامري جوله (فورم و ساختار ) دومره زور اچولی وو چې د ژبې آره دنده (مانا او مفهوم) يا (افهام و تفهيم) ببخي چليپا کړي ول، د بېلګې په توګه يې په (the Meaning of meaning) کتاب کې کښلي ول: د (مالګې) رښتينه مانا (سوډيم کلورايډ) ده او دغه کيميايي توکي او ترښتي چار يې بايدړومبی وپېژندل شي ، نودابه غوره وي، پر وييونو (لفظو نو)او پښوييز چار يې بسنه وکړو!

ترډې چې تر مړينې يې لس کاله روسته ځوان نووام چومسکي چې اوس تر نويو رسېدلی، پر ضد راپورته شو په خپل بېساري نښير (ژبپوهنه ، ماهيت، منشأ او کارونګ) يې د پسرغښتي (Post-structural)انقلاب بنسټ کېښووه!

ما په (کره پښتو ليکلاربښود) کې له دوو ليکدودو او دوه ماناوو سره کره زباد کړی: د ( مقدار،اندازه) په مانا (کچه)، لکه (هند ته په ډېره کچه مېوه لېږدي يا صادرېږي او د (سطح-سويه) له مانا سره، لکه (پر هېوادني- سيمييز- او جهاني يانړيوال کچ) او په دې لړکې(د کابل پر کچ ياسطح-سويه) هم سم سهي راځي (معياريا ستاندرد او يا نورم)ماناوې ترې ډېرې لوړې او هراړخيزې دي!

(۱۰) تا د اروابناد دوست پر اخځ چې په تاريخي ژبپوهنه کې له ماستري بر يليک سره له نيم درجن شوروي(نوماندو ډاکترانو) يا (کانديد نووکانو) څخه ميدان وړی او له تاسره مې ړومبی پلا۴-۳لسيزې پخوا همهاغه کره مخامخ ليدلي ول) ستاينوميزې پوړی (بنه- ډېر



ښه- خوراښه) په يوه غونډله او لا په اړ وندمتني يا وينابيز چاپېريال کې دننه سم راځي، خو را بهرنه، د بېلګې په تو ګه، که پارسي غونډله (شهر کابل يک پرنفوس ترين شهراست)، نه شي کولای (کابل ښار يو خورا ګڼ مېشتی ښار دی) راوژ باړې، يانې دغلته( خورا) د ستاينو ميز ټينګار توک (اېنتنزيفا ير) په توګه د ماناپوهنې له مخې د(-ترين) رو ستاړي اندول کېدای نه شي،بلکې پر ځای يې ( کابل ترټولو ګنمېشتی ښار دی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهي او کره راځي، يايې هم ((يوازېنی)) ستاينوم ځای ورډکولای شي- ما پخپله (تر-ترين) له پارسي راپور کړي او دود کړې دي، ځکه ٪۲۵پردیٔ پانگه راپورولای شو!

(۱۱) ښاغلي عزت اله نورزی پر دې سربېره چې له (تر) سربل سره يې پاسنی (ترټولو) سوپرلاتيف انډول هېرکړی ،نورې تېروتنې يې هم کړې دي، ده ته هم په کاروه، زما اخځونو ته يې مخه کړې وای. سربلونه او وستربلونه يا په يوه نامه (غبرگبلونه Ambi-positions)کټ مټ، لکه (ستاينومونه،شمېرنومونه او نو مځري) د ځيزنوم (اسم) په ټاکندويانو کې راځي چې بېلابېل پېرونه (حالتونه) ور بښي، لکه الماني يا انگرېزي داتيف، اکوزاتيف، لوکاتيف، ووکاتيف... او رو سي او نورې سلاوي ژبو بيا لرغو ني اته واړه هندواروپايي پدېژونه ساتلي دي او پښتو له دوه درو پرته نور د سر بلونو په مرسته راڅرگندوي (←زما هماغه اخځونه)؛ په (تر-ټولو) کې (ټول)، په (تر-سره) کې (سر)، په (تر-پايه...) کې (-پای) هم ناخپلواک نه، بلکې خپلواک مورفيمونه، وييونه او بيا (ځيزنومونه) او يا يې ځايناستي دي!

د پښتو غبرگبلو يوه ځانگړتيا يا ځانگړنه (نه خوی؟) داده چې د سربل او وستربل ترمنځ يوه ټاکلې همغږي ټيکاو لري، يانې (د- سره)، نه بلکې (له-سره) يا (په- با ندې) نه،بلکې (پر-باندې) سم راځي او داسې نور!

(۱۲) د علمي-فرهنگي نويزونو (نيولوجېزمونو) ياپارسي (دانشواه ها) په تړاو ستا وړانديز موږ د (يوې- کره ليکنیٔ پښتو)غورځنگ له هماغو لومړيو څخه راپيل کړی چې پرلپسې غځېدونکی پښځژبيز سيند يې دوه ځله چاپ شوی او د ځوان کمپيوټري پښت نوې رغاونو تر کرونې روسته نوي چاپ ته چمتو کېد ونکې دي. کرونې يې په دې اړينې دي چې ډېری ښاغلي او اغلې زما لاربښودونه په واک کې نه لري،که.هغه پر رسنيز او يا کتابي کچ رامنځته کوي: لومړیٔ بېلگې يې زياتره کمپيو ټري-انټر نېټي هغه دي او بيا بېلابېلې، لکه د اونيزو ورځو نو مونه، زموږ تر کرونې روسته: (پيلنیٔ-يونیٔ-دونیٔ



درنیٔ-څلنیٔ- پنځنیٔ او اونیٔ) رادود شوې_ پر کتابي کچ خو د اغلې ډاکترې سيما ابراهيم خېلې، طبي، د دوو بياباني ورونو ډاکتر نجيب بياباني اناتومي او د مجيب ورور يې اقتصا دي هغه او داسې نورې نومونې خو را سره په کمپيو ټرکې خوندي دي چې د يوځا يي چاپ لپاره مو ساتلې دي. – او که ستا اجازه وه، شمېرپوهنه به پکې هم راو نغاړو او د يوه لوی سمندر په بڼه به يې د علومواکادمیٔ له خوا چاپ ته وسپارو؟

(۱۳) ستا له دې څرگندونې (پښتو لکه بله هره ژبه له ځانه پوره ده ) هم دامانا اخلم چې پښتو د بلې هرې ژبې په څېر يو ناپايه پټتوان (بالقوه ظرفيت) يا (پو تنسيال) لري، يانې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر راز نویو جاجونو (مفاهیمو) لپاره یې د تیارو ولسي مخبېلګو له مخې بالقوه یا پټه زېرمه د نیولو جېزم له لارې راسپړلای او هر راز نوي اندولونه (وییونه رامنځته کولای شو. لکه څنګه مو چې له اماني پېر د (پښتومرکې او بیا پښتو ټولنې راهیسي) دا نوي کاله لړوډپرې رارغولې دي: د مېرتون پر بېلګه
(روغتون،درملتون،زېرنتون،مرستون،پوهنتون...)، د (اجلځی، رغځی ...) پر بنسټ (ښوونځی، پوهنځی، پالنځیر تمځی...) او له لمریزوځلو ښتونو کلونو را هیسې د ادبیاتو پښتو څانګې په چوکاټ یا ادانه کې د نوي ژبپوهنې د ماسټرانو (الهام، یاري، شاکر) له خوا له نویو وییرغاونیزو آرونو (اصولو) سره سم رامنځته شوي (ژبپوهنه، غږپوهنه، وتوځی، زېږځی، ژبیز، غاښیز، شونډیز، تالوییز، ستو نیز، چنغړکیز... غږو نه) او په لا ښه ترا مېتودیک او سېستماتیک ډول د پنځمې لسیزې له پیلامې سره زمونږ د غورځنګ او رابهر ستا غوندې د نورو مینه والو او څانګپوهانو له خوا یې خبره زرګونو تو ته رسېدلې او مخ پر بره درومي!

(۱۵) پاسنی خبرې بیا رانچوړم چې اوسني ژبني ساینس دا رازباده کړې چې هره ژبه ناپایه پټتوان (پوتنشیال) لري او زمونږ پښتو له امیر کروړه تر امیرحمزه ښایي،متې (ایله) ۹۹٪۹۹ پر کاراځولې وي، نوکه ما او د(یوې-کره لیکنی پښتو) غورځنګ نورو پلیونو، او ان داوسني ځوان کمپیوټري پښت نوښتګرو په ګډون، د همدغه ژبني ساینس په مټ په دې نیمه پېړی کې تر ۰۰٪۹۹ ورزیاته کړې اوسي ،خولی به اسمان ته واچوو؛ له لاس برلستونې تربرې پارسی سره علمي-فرهنګي سیالي بې له هغې ناشونې ده، خو څه چې شونې او اړینه ده، هغه د یوې- یوازېنۍ کره لیکنی پښتو) سمبالونه او د پټتوان رابرسپړونه او دودونه ده!

و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۲۷۹

مانا یې داچې اوسني ژبني ساینس دا رازباده کړې چې هره ژبه ناپایه پټتوان (پوتنشیال) لري او زمونږ پښتو ښایي،له امیرکروړه تر امیرحمزه متې (ایله) ۹۹٪۹۹ پر کاراچولې وي، نوکه ما او د(یوې-کره لیکنی پښتو) غورځنګ نورو پلیونو، او ان داوسني ځوان کمپیوټري پښت نوښتګرو په ګډون، د همدغه ژبني ساینس په مټ په دې نیمه پېړی کې تر ۰۰٪۹۹ ورزیاته کړې اوسي ،خولی به اسمان ته واچوو

(۱۶) پر ۲۰۰۵ ز کال د مخابراتو وزارت د کمپیټر ساینس د پازوال د ښاغلي منصور انصاري په تخنیکي لارښوونه ما او استاد آصف صمیم د مایکرو سافټ کمپنی له سپارښتنې سره له شپږ لکو ۲۶زرو نومَونو څخه متې درې زره نومونې ورغولې، اکر داچې د کمپنی له خوا له اړوند لس ژبیز ګروپ (انګرېزي، روسي، عربي...او پارسي) هغو ګردو بشپړې کړې وې. هغه هم، پخپله وزارت دود نه کړې او پښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوانانو هم په ایراني کمپیوټري کورسونو کې د (کړکۍ، دوتنې... او سولګر) پرځای (پنجره، پرونده...او رایانر) زده کړل- ایران له نژدې یوې پېړۍ را هیسې علمي-فر هنګي او تخنیکي (دانشواژه ها) لپاره ټولیز سرکاري (فر هنګیستان) او بیا هرڅا نګېوه د خپلې ځانګې هغه د ژبپوهانو په همغږۍ سره رغوي او د هوکړې او دودېد نې لپاره ورته سرکاري پشتوانه ټیکاو لري!

(۱۴) لکه پاس چې ورته نغوته وشوه،زموږ غورځنګ له ۱۳۵۲ل. راهیسې د کابل پوهنتون د بېلابېلو پوهنځیو اواړو ندو بشري پوهنو،هنرونو او ساینسي- انجینري نومونپوهنې راپیل کړې وې چې لس-دولس کاله روسته ورته دوکتور نجیب اله د دري- پارسي هغې په را نغښتنه رسمي بڼه ورکړه او لاسباړه (حق الزحمه) یې هم ور هوکې کړې وه چې له بده مرغه دهغه سترانسان له راپرځېدنې سره، مو هرڅه توري غدۍ تالا ترغۍ کړل!

(۱۶) د ژبپوهانو او ژبه ټولنپوهانو ګواښنې(warnings) لا څه کوې چې وایي:

[پرلپسې په بشري نړۍ کې د نویو نویو مفاهیمو یو توپان رابهاند دی او هماغه معیا ري لیکنۍ ژبې ترې بچېدای شي چې پر وړاندې یې خپله درېګونې پانګه هم پرکار وا چوي ، اوکه اړونده لغوي پانګه یې یومخیزه راپور کاندې، پایښت (بقأ) یې له پوښتنې سره مخامخېږي!]



په دې مانا چې د نړۍ هرې سیالې او دودیالې علمي-فرهنګي ژبې وییپانګه څلور برخې رانغاړي ۲۵٪ګړویزونه (دایلکټېزمونه)، ٪۲۵ زړویزونه (ارکاییزمونه) ۲۵ ٪ نویز ونه (نیولوجېزمونه) او۲۵ ٪ پورویزونه (فارنېزمونه)!.

دا هسې ولولې او احساسات دي چې له دغې غبرګې لنګوېستیکې تشې سره سره،له پارسي ژبې سره د یوبرابر ملي-رسمي سیالۍ او کاروني رښتې (حق) داوې دنګلې کوو!

ځکه پښتو لا یوې-یوازېنۍ کره لیکنۍ ژبې) ته لوړتیا نه ده موندلې:

نه پښوییزې- رغاونیزې رنګارنګۍ (ور سېد- ورسېدو- ورسېدلو-ورسېدئ-سېدلئ- أورسېدو...) یورنګۍ ته لوړ تیا موندلې او نه یې پارسي هومره پټه وییپانګه رابرسېره شوې او رادود کړ شوې چې تر ټولو مخکې ورسره پخپله پښتانه نابلدې دي، نو د ستر خوشال خبره لا هغسې پرځای پاتې ده:

چایې پلو له مخ وانه خېست

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو لاهسې بکره پرته ده

په ټوله پښتني- افغاني او بیا علمي- فرهنګي مینه او مننه

ستاسې د ګردو پوهیالو او فرهنګیالوسپینږیری خواخوږی زیار. پای

ډاکتر ماخان میږی شینواری

# ,,۲۵ ,, بشپړاند

یادونه:کېدی شي د ما لیکنې ناسمې وي، خو دادې هم راته ښوولشي ا پوهنیز لاملونهدې یې راوړل شي.

پېپوهنه کښې داسې نهشته، چې دا داسې دی او بس.

په پښتو کې ځنې داسې غورځنګي نومونه ډېرو کسانو ځان ته خوښ کړي، لکه، هڅاند، ځلاند، بهاند چې دا اوس بشپړاند ته هم وغزېده او ډېر ناوخته به نه شي، چې ګرځاند،



تلاند، خوړاند او نوروته وغزیږي، څکه څموږ هیوادوال داسې نوي و منځ ته راغلي ویونه ډېر زر خپلوي، چې دا هر څنګه هم وي، سم یا ناسم. ببلګې یې ډېرې لرو.

په یوه لیکنه کې لولم: ،،د امریکا د اساسي قانون ۲۵ بشپړاند مرستیال ولسمشر ته واک ور کوي....،،.

موږ اوس ۲۵ بشپړاند او دا –اند داسې لږ د شمیرپوهنې – او ژبلار په بنسټ څېړو، چې موخه به ترې څه وي، سم یا ناسم به وي، که څنګه؟

دا به موږ په دوه برخو کې روښانه کړو:

لومړی: ۲۵ بشپړاند:

یوه بله لیکنه کې لولم: ... ۲۵بشپړاند.... دلته هم ګورو، چې ۲۵ یو ګڼ دی او دا د بشپړاند سره ۱۵ په دې پرېپوهېدنه دی، چې ګوندې دا بشپړاند – چې هر څه وي - ۲۵ دي، خو ګومان مې دی، چې دلته موخه ترې ۲۵ نه، بله ده او هغه دا چې د ۲۵ سره تړلی یو بل څه شته، چې ځانله نه لیکل کیږي. دلته د لیکونکي موخه د کوم قانون یا بل څه پنځلسمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماده ده، چې پخپله بشپړه کيږي او يا يې بشپړونکی دي، چې دا داسې ليکو: ۲۵ ـ م بشپړاند، چې دا يې موخور څوموالی غواړي ليکوال په ګوته کړي، خو ليکونکي هم دا نه ده روښانه کړې، چې دا بشپړاندونکي ده او که بشپړاندېدونکي. دواړه توپير لري.

بيا لنډ: ۲۵-م بشپړاند( په تورو: پنځسلم - )

دويم: بشپړاند:

په پورته کې ځما په اند دا ليکونکی د بشپړاند سره د يوې قانوني يا دبل څه کومې مادې بشپړوونکې او يا بشپړېدونکې ماده غواړي په ګوته کړي، چې ځما په اند به يې ښه داوی، چې ليکلي وی، د ۱۵-مې مادې بشپړونکې يا بشپړېدونکې او نه بشپړاند.

ولې؟

ځکه چې:

که دا ـاند زموږ ليکوالانو کتلی وي او دا کار خو هرومرو شوی، نو ډېر زر به دا



ليکاندان خپل ښار ته تلونکي ملګري تلاند او له هغې ځايه د ميوو راوړاندان کړي يا کړي وي، چې بيا يې بېرته سماندانو ( موخه ترې سم اند، چې ګوندې اند سم وي، نه ده) ته پوره هڅې هم ستونځمنې وي (د دې غونډالې به راته ډېره بخښنه کړی، ښه نه برېښي).

زه په خپلو ليکنو کې دا تل يادوم، چې ژبه د چا د خوښې سره بايد بدله نه شي او ژبلارې تل بايد په پام کې ونيول شي، نو که دابشپړاند بياد هغه د موخې له مخې بشپړونکی يا بشپړېدونکی وليکي، چې کوم يې موخه ده.

ګوري پښتو ته زموږ ليکوالانو د سلم په ځای سلن راننباسلی، چې ټول اوس په همدې ناسمون کې راګيردي او اند يې نه پرې رسيږي يا يې سر پرې نه خلاصيږي او دا د شمېرپوهنې له لارې سره هم پوره مخامخوالی دی.

د بشپړاند نورې ستونځې او لار ورېکېدل:

نيسو چې دا دې د کوم قانون ماده وي.

موږ بشپړونکې او بشپړېدونکې لرو، چې يو له بل پوره توپير لري.

له بشپړاند څخه نو موخه اوس کومه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایا دا ۲۵ ــمه ماده پخپله بشپړېږي، چې بیا د بشپړاند په ځای بشپړېدونکې راځي او که دا د کومې مادې ۲۵-م بشپړو بېلګې په توګه اوښکې بهوي، لکه هغه غاز یاتښتېدونکی، چې اوښکې بهوي. اوښکې بهونکی غاز یا اوښکې بهونکی تښتېدونکی( دا یې خوی دی، تښتي).

همداسې هڅاند، چې هڅېدونکی دی او که هڅونکی او یا بشپړاند یو څه بشپړوي او یا بشپړاند چې بشپړېږي.

داسې لیکنې یواځې زما دي او پام مې ورته رااوړي، چې له امله یې یا د تېرو د ویشتلو یم او یا غور پرې وکړی. لیکنې مې وګوری.

چې هرڅنګه وي، ستاسو پرېکړې ته به خوښ شم.

دې توپیر ته دې دلته پام وي. نو هیله مې ده چې د ژبلارې سره سم هغه خپله موخه ور څه



ولیکو او د ژبې پیداښتي لار ته بدلون ور نه کړو.

ګورو، چې دابشپړاند خپله موخه نه شي روښانولی او ناسم پوهاوی ورڅخه منځ ته راځي، نو داسې پرېکړه کېدی شي، چې دا په دوه پوهېدنو دی او له دې امله ناسم یا غولونکی دی.

د کورنې نومونو ایښولو لپاره دا -اند ډېر ښه غورځنګې بربښي لکه بهاند، هڅاند یا همدا بشپړاند او نور، خو دا نو بیا د دې کس خوښه ده، چې څه دی؟

یوه غوره یادونه: په دې لیکنه کښې مې هم لږ تېروتنه کړې، چې هغه مې په همد ې کتاب کښې ،، د پښتو نومویونه،، د سرلیک لاندې خوره کړې، چې پردې باندې پوهېدلو لپاره مې تېروتنې هرو مرو دي. ما ګوره دا خپلې لیکنې پر پرلپسې توګه باندې سمې کړي، چې وربانديې پوه شوی یم. د ژدکړې لار ګوره تل پل پر پل باندې ده.

ډاکتر ماخان میږی شینواری

**ګرانو ژبپوهانو! مرسته وکړی:**

زه و ټولو ژبپوهانو ته سوا ل او زاري کوم، چې ویې لولی، په دې کښې فکر وکړی او له ما سره یې د سمون مرسته وکړۍ او یا یې را سره ومنی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېږم، چې د داسې ليکنو سره تاسو د ما  له ليکنو څخه پرته د بل چا له ليکنو سره نه ياستئ مخامخ شوي.

موږ د موږ په ژبه کښې ډېرې ژبلاريزې ستونځې لرو، چې ناسمونونه يې هم پر همدې بنسټ باندې دي. د موږ ژبپوهان پردې نه پوهېدل يا تراوسه پورې نه پوهېدل، چې پښتو يوه اېرګاتيو ژبه ده او له دې امله يې هم نه شو کولی پر ژبلار باندې يې وپوهېږي. دا د ژبې ګرامر ما د دې اېرګاتيو ژبې پر بنسټ باندې څېړلی او ډېر پر زړه پورې  دی.

موږ دلته هغه زيات ناسمونونه د ،، تر ،، له خوا څخه لرو، دا هم له دې امله دی، چې موږ د پښتو ژبې پر کاسوس، کاز يا اړيکټينګونو باندې نه پوهېږو، نو د دې ناسمونونو سره به هرو مرو مخامخ کيږو. په ژبلار کښې د ژبو د ټولو وييونو ډولونو يا ټولو ويکو لپاره د کارولو، ځانګړې لارې شته، چې د هغې له مخې سره يې د دندو پر بنسټ باندې ژبلاريز



ليکلی شو.

د معياري ژبې  پېژند:

يوه معياري ژبه کومه ده؟

يوه معياري ژبه يوه معياري شوې يوګونې ژبه ده، په دې پوهېدنه، هغه ژبه چې لږ تر لږه د نورو ډولونو په څنګ کښې  يوه ټاکلې د يوګونې ژبې په څېر معياري شوې بڼه ولري.

د ژبې معيار نو څه دی؟

د ژبې د ټولو شته کليوالي ګردودونو څخه را غوره شوی ليکدود او ګړدود دی، چې د ښوونځي، پوهنتونونو او کتابونو ليکل او پر جګه سويه( چې د موږ ژبپوهان اکادميک ژبه ورته وايي) خبرې ورباندې کيږي، د وييونو هرډوليز کتابونه يا دکشنريګانې ولري يا ورباندې ليکلکيږي.

معياري ژبه داسې ده او داسې بايد شي يا وي، چې د هرګړدود کسان ورباندې وپوهېږي.

کليوالي ژبې:

د کلو د ويلوو ژبې، نو د هر کلي په ګړدود خبرې دي، چې پښتو درې ستر ګړدودونه لري لکه کندارې،  د لويې پکتيا او ننګرهاري ګردونونه دي. نو خبره اوس په کليوالي او معياري ژبو کښې ده او نه د معيار او ژبې کښې. دا په هرځای کښې خپلې ګټې لري او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوند. که تاسو یو تیاتر یا نورې ټوکې ټکالي راواخلئ، نو دا و ماته پر هغه کليوالي ژبه باندې خوند راکوي، خو د نورو کسانو او د خپلو کسانو سره چې کښېنم، هلته راته هم کليوالي خبرې خوند راکوي، خو داسې په رسمي او داسې نیمه رسمي ځایونو او که د بلې ژبې د ګړدود خاوندانو سره کښېنم، نو هلته هم باید پر معیاري ژبې باندې خبرې کوم.

پښتو، چې د پښتنو ژبه ده، باید معیاري شي او دا دنده د پښتو د استادانو دنده ده. باید دا ژبه

ژبلاریزه شي او ژبلاریزه کړي. باید د هر ویې پر پوهېدنه باندې وپوهېږي او همغسې ژبلاریز سم یې وکاروي، چې د ژبې نور لیکوالان او لږ تر لږه هغه د لوړو زدکړو د لیک-لوست افغانان د هغې له کارونې څخه ګټه پورته کړي، چې هغه ورته د ژبپوهانو له لورې څخه ښول شوې ژبه بېرته سمه ورکړې شي. د ژبې هر د لوړو زدکړو لیکونکی،



چې دا ناسمونونه کوي، له دې څخه باید و پوهېږو، چې نوموړی پر ژبلاره باندې سم نه پوهېږي، چې باید د ژبپوهانو له خوا څخه ورته سمه و ښوول شي.

موږ په لاندې ډول و مخ ته ځو:

--- ژبلاریزوالی او سم-اندیزوالی یا منطق

داسې پیل کوو: دلته د هغو ویونو ناسمون په ګوته کوو، چې ژبلاریز ناسم وي او فکر ورته هم نه وي شوی او نه شو یا نه شي کېدی.

ګرانو ژبپوانو او ژبمینه-والو!

دا څه چې زه اوس لیکم، دا په کازوس، کاز(کېز) یا اړیکتینګوونو کښې پوره روښانه شوي. خو دا بیا هم ناسم کارول کیږي، چې غوښتل مې مخه یې ونیول شي.

تر ټولو لوی زیان یا سر. کال تر ټولو ډېر انګور شوي دي.

د ژبې تر ټولو کوچنی. د تاریخ تر ټولو تود اوړی.

و پورته ته پام: دا ،، تر ،، خو چې څنګه کارول کیږي، وروسته به و ښوول شي، دا له ،، تر ټولو،، سره څه نه شته، و د ې ته دې ګران لوستونکي لږ پام وکړي، چې دا تر ټولو لوي یا – ډېربه نو څه شی وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ډېره یا تر ډېره بریده: دا ،، تر ډېره برېده،، څه نه شته، ،،له ډېرو بریدونو څخه،، به څه وي، ځکه چې برید یوګڼ دی، نو دلته بیا ډېر- چې ډېر ګڼ دی- څه نه دي ورک کړي او نه، همداسې نه ،، تر،، او نه ،، تر ډېره،،.

لرو: ،،له وعدو تر عمله!،، دا انډول ده له ،، له ما تر تا،، سره

دا څه نه وایي، ځکه چې دا ،، له،، او ،،تر،، مورفېمونه دي، چې خپلواکه پوهېدنه نه

لري، خو پوهېدنه و نوموییونو ،، وعدو آو عمل،، ته وړي او هغه غوره وییونه چې پسېځاینیو یا اړیکوییونه ،،څخه،، او ،،پورې،، دي او په یوه غونډله کښې غونډالغړي جوړوي پرېښوول شوي، چې دا ژبلاریز هغه غوښتوني څه نه وایي او نه څه ژبلاریز



روښانه څه کولی شي. نو سم یې لرو: ،، له وعدو څخه تر عمل پورې،،.

پوهېدل او سم لیکل سره توپېر لري!!! ،،تر ۵۰ ډېر تېپیان شوي دي،،.

ژبلاریز ناسم دی. تر ۵۰ پورې تېپیان کېدی شي، خو ،،تر ۵۰ ډېر،، ژبلاریز ناسم دی.

،،... سره تر لیدو وروسته ویلي،،، ژبلاریز ناسم دی.

سم یې: ،، له لېدو څخه وروسته یا له لیدو پسې( ،،پسې،، هم اړیکوی یا پسېځاینیوی دی،، یا ،، تر لیدلو پورې،،).

- تر پښو لاندې کوي. یو څه د یو څه لاندې کیږي او نه تر لاندې کیږي.

- د نړۍ تر نیمایي زیات وګړي. سم یې: له نیمایي څخه ډېر وګړي

له مخکې تګ هم راوګرځوله. له و مخ ته تګ څخه راوګرځول

او د نړۍ په کچه د کرېکټ

و موږ ته پیداښت دا ژبه ډېره روښانه راکړې یا انسانانو دا ژبه په پیداښتي توګه روښانه و منځ ته راوړې او همداسې روښانه باید ببرته ورکړ شي. دا په ژبه کښې دا ناسمونونه داسې توکلي یا شعوري او غورنګي و منځ ته راځي یا راغلي دي.

--- ،،تر دې مخکې،،: دلته،، تر،، پوهېدنوړونکی مورفېم دی او خپلواکه پوهېدنه نه لري، دې مهال وی دی او مخکې هم څه نه شته، ځکه چې مخ نوموی دی او کښې اړیکوی دی، چې یواځې د یو څه ،،په مخ کښې،، شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

--- تر راستنېدو وروسته: ناسم دی. سم يې: له راستنېدو څخه د مخه يا له راستنېدو پسې. (ځکه پسې هم اړيکوی دی او نه وروسته).

--- تر ځمکې لاندې: داسې څه نه شته، خو د ځمکې لاندې څه شته. ،، د ځمکې لاندې ،،

دا د خاوندوالي اړيکتېنګوونی دی.

--- تر ۲۰ ډېر... ځواب ترلاسه کړی: داسې څه نه شته، خو ،،له شلو څخه،، ډېر شته او



دا داتيو اړيکتېنګوونی دی.

--- وړاندې:

لولو: يو چا څو کاله وړاندې اعلان وکړ چې،...په پورته غونډله کښې دا ،،وړاندې،، موخه-ور نه دی او ولې؟

روښانونه:

وړاندې: يو څه له يوه بل څه څخه په څه ځاييز واټن کښې ځای لرل. دا د وخت سره هرو مرو بايد سر او کار ونه لري.

د مخه: دا د وخت له مخې څخه يو څوک په يو وخت کښې له يو بل چا يا څه څخه د مخه يا د تېر وخت په يوه واټن کښې شتون لرل.

يوه بېلګه: سپين هلته له ما څخه لږ وړاندې ولاړ دی، هغه له ما څخه دلته د مخه راغلی او د سين په مخ کښې ناست دی.

دلته يا د مخه ليکونکی ناسم دی او يا زه، نو دا د سم ښوونه به د چا دنده وي؟

مخکې: څه پېښتو وی نه شته، خو دا ،،مخ کښې،، يې ګډ ليکل شوی.دلته خو مخ نوم دی او دا کښې پسې ځاينيوی يا اړيکوی دی، چې په ګرامري ليکنه کښې د ،، مخ،، و مخ ته مورفېم ،، په ،، راځي، چې پوهېدنوړونکی دی او داسې يې ليکو: په مخ کښې. زه چې راغلم، ګورم، چې هغه مې په مخ کښې ولاړ دی.

هغه د ما نه مخکې راغلی. سم يې: هغه له ماڅخه د مخه راغی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه لړ د مخه راغلم، ګورم، چې هغه هلته له ما څخه یو څو متره وړاندې د دړې په مخ کښې ولاړ دی.

دلته مو ولېدل، چې دموړ ټولي ستونځې په اړیکټینګوونو کښې دې، دا ما ښه روښانه

کړي دی، که په ژبه کښې لاسوند هم نه لرم، خو داسې ده او کینه به سره د زړونو څخه و باسو. غوره مو د ژبې سمول او سم یا په معیار برابر لیکل باید موخه وي او نه سیالي.

. و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۲۸۸ .

--- څنګه پوهېږو، چې یو څه نوم یاخویویی دی؟

،،له دې مخکې نن پنجشنبه له فرانسې نه د بنګله دېش پلازمېنې ډاکې ته له رسېدو سره سم،،

له دې څخه د مخه نن پنجشنبه له فرانسې څخه د بنګله-دېش پلازمېنې و ډاکې ته ......

ډېرو ګرانو او منلو ژبپوهانو!

که پر یو څه باندې غواړی، څه ولیکی او یا یو څه را ته سم کړی، هیله ده، لیکنه مو روښانه او پر پوهنیزه دلایلو باندې ولاړه وي. دا چې داسې هم کېدی شي، دا یوه پوهنیزه وینا نه ده.

پښتو یوه ځانګړې یا ډېره ځانګړې ژبلار لري

--- پښتو د کړنوییونو ښه بدلېدنه نه لري.

د پښتوکړنوییونه د پسې تړلو یا پوهېدنغزوونو سره غزیږي. زه منه خورم، موږ څو او نور

--- ببنتو د نومویيونو ښه بدلېدنه نه لري.

او پر ځای باندې یې د خاوندوالي او د اړیکوییونو په ځای کښې د نومویيونو پوهېدنه له مورفېمونو، د، له، پر، په، تر، و سره ورورړل کیږي .......................

--- پښتو د خویوییونو هغسې جګېدنه لکه الماني یې چې لری، نه لري او خوییونه یې په ډېر، زښتډېر او خورا ډېر سره جګېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

--- ناسم ورننوتلي څه -لکه نوري ژبې هم؟- نه مني، ژبلار يي ډېر روښانه، خو ستونځمنه ده، چې د ژبې څخه پرته و سم-اند يا منطق ته هم پوره اړتيا لري، لکه سږ:ال تر ټولو دېر انګور شوي دي. دا غونډاله هېڅ نه وايي، چې دلته بايد له ژبلار څخه پرته لږ

منطقي فکر هم وشي، چې ،،تر ټولو،، څه نه شته ژبلاريز او نه څه پو هېدنه لري چې د

تېرې جنورۍ پر ٢٠مه سپيني مانۍ ته د ټرمپ له راګرځېدو راهيسې له نومورې سره د

. و پښتو ته ناسم راتناسب شوي... ٢٨٩ .

ليدو لپاره واشنګټن ته ځي.

،،له مکرون سره تر کتنې وروسته،، ژبلاريز ناسمه ده سمه يې: ،، له مکرون سره ،،له کتنې څخه،، وروسته يا له مکرون سره ،،تر کتنې پورې،،.

،، نومورې مخکې ويلي و،، ژبلاريز ناسم ی او

سم يې: ،، نومورې د مخه ويلې وو يا له دې څخه د مخه ويلي وو،،.

د بي بې سي د يوې ليکنې د يوې برخې و سمون ته يو ورانديز:

دا د نوکانو په منځ کښې د ما ليکنه ده، چې دا مې ژبلاريز سمه کړې ده.

تمه (هيله) وه چې سږ کال به (د) مونيخ امنيتي کنفرانس تر ډېره ( تر ډېره( يواځې څه نه وايي) ګومانه پورې يا پر ډېر ګومان باندې) پر دوو شيانو ( باندې) څرخي: لومړی دا چې (و) روسيې ته له تسليمېدو( څخه) پرته (په)اوکراين کې جګړه څنګه (و) پای ته رسېدای شي او دويم دا چې اروپا څنګه د خپلو دفاعي لګښتونو (و) زياتولو ته اړتيا لري.

خو د دغه کنفرانس تر ټولو ( تر ټولو څه نه شته، نو ډېر-، خورا دېر) جګپوړی امريکايی ګډوال( ګډونوال)، مرستيال ولسمشر جيډي وېنس، له دوی (څخه) پر يوه موضوع (باندې) هم تم نه شو.

هغه برعکس د بريتانيا په ( پر) ګډون( باندې) د واشنګټن پر متحدانو (باندې) راوګرځېد او (پر) تونده ژبه ( باندې) يې ( په) دغو هېوادونو کې د ناسمو او غلطو مالوماتو د خپراوي ( خپرولو) او د بيان ازادۍ محدودېدو په (پر) تړاو (باندې) ( له ) څرګندونو سره ټول استازي حيران کړل.

دا ٢٠ دقيقې چې هغه پکې ( په دې کښې) وينا وکړه ډېرې عجيبې وې او ( په) تالار کې د حاضرو استازو لخوا ( له خوا څخه) په ( پر) ډېره چوپتيا (باندې) بدرګه شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه: ۱ – پوهېدل او سم لیکل سره توپیر لري.

۲- په پورته کښې ،، د ، له، په، پر، تر،، مورفېمونه دي، چې پوهېدنوړونکي ( دلته د ونوموییونو ته بله پوهېدنه وړي) دی او ،، څخه، سره، کره، پسې، کې یا کښې، باندې،



ته،) پسېځاینیو یا اړیکوییونه دي. دا اړیکنیوونی د اړونده مورفېمونو سره، چې له نوموییونو څخه د مخه راځي او د هغوي پوهېدنه له کړوني څخه و نه کړوني اړیکتیګووني ته وړي.

د موړ ټول ناسمونه یا هغه ډېر یې د لاندې داتیو حالت یا په اړیکټینګوونې کښې دی.

لند یې بیا راوړو:

--- له ما-، له چا- یا له څه  څخه(سره،کره،پسې).

--- تر کور-، تر چا-، یا تر څه پورې

--- پر مېز-، پر چا- یا پر څه باندې

--- په کور - ، په چا- یا په څه کښې

--- و هغه -، و چا-، و څه ته  دلته دا درې غونډالبرخې لیکلشوي دي او د ،، - ،، د ،، ته ،، د تکرار لپاره ده.

دا پورته په پښتو کښې اړیکټینګووني دي او تل د یوې غونډلې په مځ کښې او یواځې په همدې لیکنډول راځي، بل ډول لیکل یا یو څه په دې کښې له لیکنو څخه غورځول یې ژبلاریز ناسم دي.

له چا، ترچا، په چا ، پرچا، و چا، دا نه کړوني دي او دا له، تر،پر، په، و مورفېمونه دي، چې و نوموییونو ته پوهېدنه وړي، ځکه چې دا ،، چا،، د تېر مهال لپاره کړونی او د اوس مهال لپاره بریکړونی دی. او دا نور څخه، سره، کره، پسې، پورې، باندې، ته اړیکوییونه، چې له خپل اړونده  پوهېدنبدلشوي نوموییونو سره راځي.

داسې لیکني لکه ،،مخکې تر دې،، یا همداسې تر دې مخکې( دا مخکې ګډوله وی نه دی دا دوه وییونه دي، مخ  او کې یا کښې، نو ژبلاریزې نه دي او ژبلاریز یې، ،،له دې څخه د مخه،،  ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورفېمونه د، له ، په، پر، تر او و يواځې او يواځې له نوموييونو څخه، ځکه د مخه راځي، چې و هغو ته پوهېدنه ورړي او دا کړوني له اړيکتينګوني څخه و نه کړونې

و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۲۹۱ .

اړيکتينګوني ته راولي. دا پرېپوزېشنونه نه دي، پرېپوزېشنونه خپلواکه پوهېدنه لري.

په دې کښې کله، کله نه غوښتوني ناسمونونه راځي.

له چا - ، له څه څخه(سره، کره، پسې)

په چا -،په څه کښې

پر چا-، پر څه باندې( پورې ( دا پورې د پولې پر پوهېدنه باندې نه ده))

اړيکوييونه ولې؟

دا اړيکوييونه د غونډالي له يوې برخې څخه د غونډالي له بلې برخې سره اړيکي نيسي

اړيکتينګوني؟ ولې؟

دا ځکه اړيکتينګونه دي، چې د پوهېدنوړوني اويکې د ټيکوي د پسېځاينيوو سره.

په پوهنه کښې سړی و يوه فکرکونې ته اړ کيږي.

يو ژبنی توکی غوره دی، څومره او ولې؟

دا څه د دې څه جوړښتبرخه ده.

د الماني او انګرېزي پر څېر باندې

په څېر همدا د څېر پوهېدنغزونه ده

د ژبې د سم ليکلو مسؤليت به نو د چا په غاړه وي؟

مرسته دې وکړي، بې له قيد او شرط څخه.

،،تر دې مخکې ،،

دا پورته کليوالي وينا نه ده، پوهېدل-کېدی شي، خو وينا هم نه ده. د دې کليوالي وينا داسې ده: ،،د دې نه مخکې يا د دې نه مخ کښې،،. دا ،، تر دې پورې،، ژبلاريزه ليکل-کېدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شی. د دې موخې سمه لیکنه: ،، له دې څخه د مخه،،.

بیا هم د ژبپوهانو مرسته غوښتونې ده.

باید و هڅېږو، چې ژبه مو ورو، ورو معیاری او پر ژبلار باندې سمه ولیکو!

ولې د موږ ژبپوهان له دې ناسمنونو سره مخامخ کېږي؟

ځکه چې موږ لا تر اوسه پورې د پښتو پر ژبلار باندې او په ځانګړې توګه پر حالتونو یا اړېکتینګوونو یا کازcase، کاسوس Kasus باندې نه پوهېږو او تر څو پورې مو، چې دا

کار و سر ته نه ي رسولی،ترهغې پورې به د خپلې ژبې د سمو لیکنو ونه شو پوهېدلی. د دې لنډه سمه لیکنه یې داسې ده:

تر کتنې وروسته سپینه مانۍ کې

میدان وردګو کې

تر دې څو کاله مخکې لا د

مشوره: د یوه د باندني ویي لپاره، چې څرګنده او روښانه پښتو ویي نه لرو، نو باید همهغه ویي و لیکو. په ژبه کښې ښکلی او نا ښکلی نه شته، خو سم او ناسم په ژبه کښې لرو. ګرامر او ژبلاریزو لیکلو ته مو باید پام وي او د دې لپاه باید پښتو سمه ژبلاریزه ولیکو.

د ژبې مسؤلې مؤسسې مو باید د ژبې معیاري یا سم لیکلو کې له مسؤلیت سره خپلې هلې ځلې وکړي او دا هیله به د ځان له امله هم وکړم، چې کله، کله د داسې څنګیز کسان هم له پام څخه مه غورځوی.

یوه ستره هیله: د موږ ژبه باید معیاري شي او دا د یوه کس کار نه دی............

**پښتو او ژبلاریزې ناوبې ستونځې یې**

پښتو پنځه زره کلنه ځوانه ژبه ده. ولې ځوانه؟

پښتو په افغنستان کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې تر ۱۹۳۰ ز ک پورې د افغانستان رسمي ژبه یواځې فارسي وه. په هغه وخت کې د پښتنو یوه ټولنیزخوزښت بنسټ په جوړېدو(۱۹۳۱ زک ) ، په (۱۹۳۲) د کابل پوهنتون او په(۱۹۳۷ ز ک ) کې د پښتوټولنه جوړه شوله، په ۱۹۳۶ ز ک کې د سردار محمدهاشم خان د حکومت په دوره کې پښتو دولتي رسمي ژبې ته پورته شوه، سره له دې، چې په هغه وخت کې پخپله پښتنو هم دومره پام ورته نه دی کړی. په ۱۹۶۴ ز ک د لویې جرګې لخوا پښتو سراسري ژبه ومنل شوه او ملي ژبه هم شوه.

له دې څخه داسې برېښي، چې پښتو ژبې د کار وخت- په داسې لړه سویه- له ۱۹۳۶ ز ک څخه باید پیل شوی وي او قانوني ، د قانون له مخه یې دا په ۱۹۶۴ ز ک بیا ومنل شو، چې په دې وخت کې ورته پښتانه مشران هم داسې لږ را بیدار وو.

سرلښکر یې:

دا خپله دنده بولم ووایم، چې سر لښکر یې همهغه له اول څخه خدای(ج) بخښلی اروابناد وزیر محد ګل خان بابا وو، چې د هغه وخت د واکوالو سره یې د یوه ورور په څېر اړیکې لرودې، په ژبه او هیواد مین انسان وو او د دې توان یې لاره، چې د اروابناد رېښتین صیب له خبرو یې دا پنځه د پښتو ستوري هر یو اروابناد خبیبي، اوربناد بینوا، اروابناد ربنتین، اروابناد خادم او اروابناد رشاد روزلي او د وینا له مخې یې سیاسي ستر ملاتړ وو، خو سره له دې هم دې ژبې لاتراوسه هغه خپل قانوني ځای په دولت کې نه دی نیولی.

## د پښتو ژبې وده

له پورته څرګندونې څخه همدا لامل څرګندیږي، چې پښتو ژبه مو په هره پوهنیزه ریښه کې هم پوره ستونځې لرې د ژبې تر ژبلار یا ګرامر پورې. د پوهنیزو پوهنتون او د ښوونځي د کتابونو پښتو خوندیونه نه لرو، هغه مسلکي ویيونه یې ټول لا تر اوسه پورې عربي دي، چې پښتانه یې د پوهېدنې سره د پوهېدلو ستونځې هم لري، خو دوی هم په هغه وخت او لاتراوسه څه نه کوي یا څه نه شي کولی، پرته له ما څخه، چې د شمېرپوهنې څلوېښت کتابونه مې په پښتو ژباړلي او لیکلي د داسې څه فزیک سره، د پښتو د دوه ګرامرونو سره او همداسې څه نورو کتابونو سره، دا چې دا کار څنګه شونی وو، دا به په بل ځای کې ولیکم ( باور وکړئ او لوړه کوم، چې دا مې د ځان ستایلو له امله نه لیکم، خو د نورو یې و دې کار ته راهڅونه مې موخه ده).

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هم باید په کلکه ووایم، چې په داسې حالاتو او دې لږ وخت کې، که څه هم دولتي پوره پاملرنه دومره نه ده ورته شوې، دې ژبې او د هغه وخت دمور ستورو د نورو هغه وخت ځوانانو په مرسته دې ژبې ته پوره کار کړی.

دلته مې – له دې لیکنې سره- هغه بنسټیزه موخه په پښتو ژبه او ورسره لرلو ستونځوبیو کې ده.

## د پښتو په ژبلار کې هغه بنسټیزه ستونځې:

مور تر اوسه پورې نه پوهېدلو، چې پښتو یوه اېرګاتیو ژبه ده او ما هم تر هغې وخته پورې خپلې لیکنې -چې نه وم پوهېدلی- نه وې لوریزې کړې.

زه به د مور ستونځې په اړیکټینګوونو( پېر، کاسوس یا د الملني فال(حالت) ) کې وڅېړم او په نورو برخو کې هم د دې ستونځو لاملونه ورته دي.

دا چې ژبه مو یوه زړه ځوانه ژبه ده، نو ګرامر یې هم باید د ژبې ځوانی ته ورته یا ورسره ځوان وي، دا په دې پوهېدنه چې ژبلار مو له پخوا څخه راته نه دی پاتې - که وي، نو پوره ناپوره به وي- او همدا اوس مو باید چمتو کړی وي. دا چې خپل ګرامر مو لا تراوسه نه لروده او لږ تر لږه په معیاري توګه، نو باید دا ستونځې مو د نورو ژبو په مرسته اوبی کړې وی، چې هغه زیاته ونده په کې فارسي یا عربي ژبې باید لرودې وی، ځکه چې مور د هغه وخت ژبپوهان ټولو د هر مسلک هر څه مو باید له فارسي رانیولي وی او هغه مو څه نومونه همداسې مسلکي ، چې لرو یا لرودل هغه لا د مخه له فارسي- چې د مور یواځنی رسمي ژبه وه – رانیولي وي، نو د مور د هغه وخت پوهانو ته اړین نه برېښېده یا نه پرې پوهېدل، چې د فارسي د بنه بلدتیا له امله پښتو انډول ورته ولټوي او ومومي. پښتو چې د زده کړې ژبه نه وه، خو نه دا چې نابلده بلکه پردی برېښېده. مور د نورو ژبو په مرسته د پښتو ګرامر هم د پښتو د جوړښت سره سم د پښتو ژبلار ترتیبوو، خو د پښتو د نوې منځ یا میدان ته راوتلو له امله مو د پښتو ژبې سره هم باید ستونځې شته وي، چې هغه بیا د ګرامر په لیکلو کې راڅرګندیږي. په دا وروسته وختونو کې هم، که پرته له عربي مو له نورو ژبو څخه د مرستې اخستلو له امله او د ګرامر د توپیروالي له امله، ګرامري ستونځې منځ ته راځي، چې زه به یې په دې لیکنه کې هغه څرنګوالي ته ګوته ونیسم او همداسې له بلې لورې مور د پښتو ژبلار یا ګرامر د نورو پښتو ژبپوهانو له



ژبلار څخه رانیسو او هغو دا کار ځکه سم نه شي کولی، چې دوي پښتو زده کړې، بې له دې، چې سم یې و ژبلار ته ورننوځي. د دې څرنګوالي ته به هم ګوته ونیسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په پښتو کې له حالتونو یا اړیکتینګوونو سره لرلې **ستونځې**

پیل یادونه ( ځان ستایینه نه ده، خو اړیین راته برېښي، چې هرڅنګه وي لږ تر لږه ستاسو پام دې دما لیکنو ته راواړم): ما له ښوونځې څخه را په دیخوا له پښتو ژبې سره زوره

مینه لروده او اڼ چې په څلورم ټولګي کې - دامې په یاد دې، چې - د بېګانو سره بلد وم او نږدې دا اخر شپاړس کاله مې په ژوره توګه د ژبې سره کړونی کار پیل کړی او دا هره

ورځ ډېر ساعتونه، چې لاس ته راوړنه یې د دوه ژبلار کتابونو لیکل وو، په ژبه کې سمونونه ( هغه وییونو ته کتنه شوې، چې موږ یې ناسم کاروو، دا له سلنې څخه نیولې، چې په پښتو ژبه کې ځای نه لري، تر اوبلن پورې، چې د ،، بهیدونکي،، په ځای یې ډېر ناسم کاروي او دا چې د سویي او معیار لپاره کچه کارولکیږي، دا مې باید باور وي، چې د موږ لیکنوکي څوک یا ژبپوهان نه پرې پوهیږي او دا سې نور هم). د دوه ژبلار کتابونو سره مې ژب اړوند اته کتابونه لیکلي په ketabton.com کې یې ګران لوستونکي لوستلی شي او دا مې هیله هم ده، چې که دما لیکنې سمې نه وي، نو ......

**اوس هغه ما ژبلاریزې لرلې ستونځې:**

بېلګه به همدا له حالتونو څخه راوړو:

موږ لیکو: د هغه نه، د هغه څخه، له هغه څخه او

د هغه سره، له هغه سره.

ما په ،، له ...څخه او د... سره،، باندې یوه ستره لیکنه وکړه، چې دا مې په همدې دوه ډوله ناسم ولیکل، چې ګوندې دا یو دې ،، له،، سره وي او دا بل دې له ،، د ،، سره وي.

دا تر هغې پورې راته سمه برېښېده، چې پوه شوم دا ، د ،، د یو مورفیم په توګه د یوه نوموي (نوم، نومځاینیوی) سره راځې، چې د هغه واکوالی ښایي، له دې پوهېدنه داسې ده، چې ،، د ،، د خاوندوالي مورفیم دی، لکه د هغه کتاب یا همداسې د سپین کتاب، نو دا

و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۲۹۶

را ته له هغې څخه وروسته سم برېښېده او پسې بیا په دې اند شوم، لکه د موږ ټول ژبپوهان تراوسه پورې، چې دا له... څخه دی، دا په دې پوهېدنه، چې دا یو سنتړپوزېشن دی، په دې پوهېدنه چې نوموی یې په منځ کې راځي او د موږ ټول ژبپوهان یې ،،سربل او اوستربل بولې،، ، چې زه په رښتیا نه پرې پوهېږم او نه مې چېرته ولوستل، چې ولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا باید ووایم، چې د موږ ټول پوهان او همداسې ژبپوهان هم ډېروخت د یوه څه پوره پېژند نه ورکوي او هغه کاروي، چې دا مو هم یوه بنسټیزه ستونځه ده.

اوس هم داسې انګېرل کیږي، چې هغه د انګرېزې from او الماني von لپاره موږ د پښتو انډول ،، له،، بولو یا داسې شاید کله، کله ،،څخه یا نه ډېر کم او که وي، نو له دباندنیو ژبپوهان څخه به ،، له...څخه،، او له ما څخه هم زیات ،، له... څخه،، لیکل - یا بلل شوی وي، چې ،،دما،، وروسته، چې دا د ما میندنه ده، لږ ګوته ورته ونیول شي او

لیکنې پرې یو څو لرم، چې د کټلو وړاندیز یې کوم، چې دا په ژبه کې راته د ما یوه ستره لاس ته راوړنه هم برېښي.له دې سره مې باور دی، چې موږ د پښتو ژبې د دې اړخ ستونځوبیو لار میندلې وي، چې ګران لوستونکي دې هیله ده په غور ولولي.

موږ په پښتو ژبه کې لرو: موږ نومځاینیوي لرو: زه، ما، ته ، تا، هغه، هغه او ... نور او دا په همدې څېره یا په همدې ډول په حالتونو کې د کړونو او پرېکړونو او همداسې نه کړونو لپاره، دا په رد بدله بڼه کارول کیږي،

لکه: ته ما وهې، تا زه ووهلم.

په نورو حالتونو کې باید یو څه بل ډول وي ( پسې روښانه کیږي، خو دا پوره ژور دما په - همدې هکله - لیکنو کې پوره روښانه شوي). دلته دی، چې د from او von انډول ،،څخه،، دی، نه ،،له،، او همداسې نه ،،له ... څخه،،.

په دې کله وپوهېدم یا مې کله ورته پام شو؟

کله مې چې دې ته پام شو(وپوهېدم؟؟؟ دا دې لا د تاسو تر مرستو پورې وي)¸ چې پښتو دوه حالتونه رېکتوس او اوبلیکوس لري او همداسې کلیتیکي ( تر دې وخته پورې مې هم اینکلیتیکي لیکل) نومځاینیوي، نو وپوهېدم، چې دا ،، له، تر، په، پر،، او نور خپلواکه پرېپوهېدنه نه لري او د نوموېونو سره یوځای راځي د اړوند اړیکټینګوونولپاره، چې هغه



اړیکټینګووني یې، چې دا یې د نوموېونو سره راځي، اوبلیکوس اړیکټینګووني دي، چې بې له دې هم ناسم دي او دا ځانله ما، زه، تا ... او نور یوازې هم په هغو اړیکټینګوونو کې کومه پوهېدنه نه لري. دې ته به هم وروسته ګوته ونیول شي.

یادونه: ما هم تر هغه وخته پورې ستونځې لرودې، چې وپوهېدم، پښتو یوه ابرګاتیو ژبه ده او تاسو ګران لوستونکي هم له همدې امله دې ته ژور پام وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولې باید دما خبره سمه وي؟

د ټولو لیکنو په سر کې:

دا پوښتنه هم ځکه لیکم، چې د ما دا لیکنې به د موږ په ژبلار کې د لومړي ځل لپاره وي، نو وبه اندم، چې ناسمونونه یا لږ تر لږ د ځنو ادیبانو څه شننیز ګومانونه به ورته پیدا وي، چې دا باید د خبرو له لارې اوبی(حل) شي.

یو څه چې د هغه لیکنو په هکله پر پوهنه باندې ودانې لیکنې وي، نو تر هغې پورې سمې دي، تر څو پورې یې چې ناسمون پوهنیز نه وي ښوول او روښانه شوی.

د دباندنیو ژبو او د دباندنیو پښتو ژبپوهانو ډېرې ګټې او دا د موږ غوندې لرلې ستونځې.

موږ چې په هره ریښه کې یو څه زده کوو، نو بې له یوې وتلې دباندنی ژبې پوهېدنې څخه دا کار ناشونی دی، که دا ژبه هم وي. له بلې ژبې څخه موږ پوهنیز نومونه هم زده کوو.

چې داسې وي، نو د موږ د ژبې په ریښییزو لیکنو کې ولې تول ریښه اړوند شیان وییونه او نومونه مو د بېلګې په توګه پښتو نه دي؟

د مخه مو دې ته ګوته ونیوه، چې ژبه مو ځوانه ده او د موږ مسؤلو کسانو ته دا د عربي نومونه داسې بلد پرېښېدل، چې په پښتو یې زیات نه پوهېدل او یا ورته اړیین نه برېښېدل او یا یې په کې بېخي فکر نه کاوه، دا چې ولې ډېر نور لاملونه هم لري. دوی ورسره اړیین د خپل پښتو وي په څېر بلد وو. دا حالت تراوسه پورې ځکه داسې دی، چې هغه ډېر د لیک لوست خاوندان مو لا تراوسه په همهغه ډول روزل شوي او دا خپله ژبه ورته پخپله



یا دومره پوره نه برېښي او اندې، چې دا یې د ژبې وي، خو دې ته فکر نه کوي، چې د

خپلې ژبې وییونه یې له منځه ځي. ژبه غزونه سمه ده، خو نه د خپلې ژبې وییونو پرېښودنه.

ژبلاریزې ستونځې هم په همدې توګه. موږ د نورو ژبو په ژبلار یا نورو ژبو نه پوهېدلو، او د همهغه له فارسي یاعربي ژبې له ژبلار مو ګټه اخستې، چې هغه بیا د موږ د ژبې له ژبلار سره ډېر توپیر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بخښنه. لیکنه را څخه غزیږي. اوس بېرته وموخې ته.

موږ له دباندنیو پښتوپوهانو څخه - دا اوس دما ورته پام شوي- پښتو ژبلاریز څه هم زده کوو. دا چې دوی یا نور ژبپوهان یې په نورو ژبو پوهیږي او په هغو کې لولي، نو د پښتو سره غبرګ ( هغه غبرګ یا غبرګون، چې د موږ ژبپوهان یې د څه موخې لپاره لیکي، ناسم دی) ګرامري توکي له هغو ژبو رانیسي. ما هم له همغو ژبو دا وماته تر اوسه پورې نا څرګند ژبتوکي لکه چې ژبه مو دوه حالتونه، رېکتوس او وبلیکوس لري، زده کړل او

همداسې کلیتیکي نومخانیوي، چې په مته یې لیکنې اوس تاسو سره په دې لیکنه کې شریکوم.

هغوي هم د پښتو سره دا ستونځې لري، چې له von څخه ،،له،، پوهیږي، چې نایم دی. لنډ دا موږ ورسره نابلدو کارولو سره دوي هم باید نابلد وي. دوي ژبه باید له موږ څخه زده کړي، خو دوي د خپلو ژبو کره ژبلار لري، خو پښتو بیا دوي داسې کله بېرته ورکولی شي، لکه پښتانه ژبپوهان.

## کوم سم، ناسم او ولې؟

زه بېکاره یم( بېکاره نه یم، خو څه کار نه لرم)، له دې امله مې چې له اند سره ناسم څه وګورم، نو څه پرې لیکنې ته یې ځان اړ بولم.

لاندې پوښتنه کې سم او ناسم څنګه مومو؟

۱ – سپین د طالبانو له بند تر ازادیدو وروسته

و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۲۹۹ .

۲ - سپین د طالبانو له بند څخه د ازادېدو وروسته.

۳ - سپین د طالبانو د بند له ازادېدو څخه وروسته.

و ۱ – ته: ناسم دی، ځکه چې: دلته له مورفیم ،،تر،، څخه څه نه پوهېدل کیږي او ،، تر ،، پرته له نوم یا نومځای نیوي، څه نه وایي یا څه ور څخه نه شي پوهېدل کېدی. په دې هکله مې ډېرې زیاتې لیکنې کړي.

۲ - سبین د طالبانو له بند څخه، د ازادېدو وروسته.

و ۲ – ته: پرېکړه پسې: که ،،رووف د طالبانو له بند څخه وروسته،، وی، خو سمه به وی. دلته نو بیا په

(c) ketabton.com: The Digital Library

،، ...د ازادېدو وروسته،، ، دلته هم دا ،، د ،، د خاوندوالي مورفيم دی او په دې ویېنبرخه کې سم نه دی، دا ځنګه باید وي؟

له  ازادېدو څخه وروسته، دا بیا بېرته دا لیکنه ناسموي.

له دې امله ۲ – ناسم. نو

**۳ ـ سپین د طالبانو د بند له ازادېدو څخه وروسته.**

و ۳ – ته : ولې باید سم وي:

ځکه چې دا بند د تالبانو دی او نور نو د بند ،،له ازادېدو څخه وروسته،، سم دی.

بله بېلګه:  د سپینغر د کور له لېدلو څخه وروسته

راځی، چې و دې ته نور هم په ګډه پام وکړو.

# په ژبه کې د سم او ناسم بڼوونه

د م ک ملګرو څخه مې دا لاندې پوښتنه کړې وه:

روزه مو نېکمرغه.



کوم سم دی او ولې؟

۱ – یما، یتا، د هغه

۲ – زما، ستا، د هغه

۳ – د ما، د تا، د هغه

دلته یې ځواب

له ټولو راته ګرانو د م ک ملګرو ( دلته مې پام شو، چې دا غوندله ناسمه ده، ځکه چې له ټولو یا تر ټولو څه نه شته او له دې سره اړیکوی هم اړیین دی، چې هغه هم نه شته، نو وبه لیکو) په ټوله کښېیا یواځې راته ډېرو ګرانو د م ک ملګرو لوی ښښتن مو راته

(c) ketabton.com: The Digital Library

روغ لره. د دې به بخښنه کړی، چې د تاسو یو اند او د ما بل اند دی.زه به دا خپل اند داسې روښانه کړم:

موږ د یوڅه د روښانه کولو یا د سم ښولو لپاره دا دوه غوره دښوونې څه لرو.

ژبه پيداښتي ده، نو ښوونه به يې په پيداښتوالي کې څېړو، نو

-- پيداښتوالی

-- تولیزوالی( که یو څه پيداښتي نه وي). ځنې ښونې چې کيږي، د هغه غوښتوني د تولیزوالي په بنسټ کيږي.

-- بل ډول ځوابونه یا ښوونې هم شته، چې هغه دلته بیا سیده او ناسیده ښوونې دي، چې ډېر نه پرې غږېږو.

-- په پېداښت کې تل پيداښتي لارې شته، چې له هغو څخه هر څه روښانه کيږي. دا چې ژبه پيداښت دی، نو هرو مرو باید د هر څه لپاره یوه لار ولري.

-- موږ خو دا درې ډوله کليوالي ويينې لرو. دا خو درېواړه د پيداښتې ژبلارې له امله سمې نه وي او که غواړۍ معیاري نه وي.

-- د ټول د م ک ملګرو ځوابونه ورځني وو او ځنې وايي، چې د پښتو ټولنې له پرېکړې



سره سم دي.

-- دا چې زيات کسان دې دويم ته سم وايي، نو هرو مرو دې دا سم هم نه وي، که ناسمون يې ښودلکېدی شي.

-- دا چې کومه ټولنه پرېکړه کوي، دا به ووایم، چې دا هم لار نه ده. که ژبه پيداښت وي، نو باید د سمون لپاره يې پيداښتي لارې شته وي.

-- غواړم دا وښایم، چې دریم سم او ژبلاریز دی. ولې؟

-- موږ پوهېږو، چې ،، د،، د خاوندوالي یا اړوندوالي مورفیم دی، نو له دې امله دريم ژبيلاریز سم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

-- ټولیزوالی: د دې  دلیل راوړل نور اړیین نه دي، خو په زیاتو پوهنو کې دا هم له غوره دلایلو څخه راوړل کیږ، چې له پیداښت سره همغږی دی. نو که داسې وي، دا د ،، د ،، خاوندوالي مورفیم له امله دا ټولیز هم دی او په ټولو کې دا ګډ هم دی.

-- یوه ښوونه یا یو  دلیل تر هغې پورې سم دی، تر څو یې چې ناسموالی یا په بل ډول مخامخوالی نه وي ښوول شوی. دا پوهنیزې لارې چارې دي. له دې همداسې پوهیږو.

رابه شو اوس سیده او ناسیده ښوونو ته:

-- سیده ښوونه: ۳ ـم سم دی. دا به ښایو. ومو ښوول، چې ۳ ـم ځواب دپیداښت سره سم دی او  همداسې ټولیز دی

-- ناسیده ښوونه. که موږ وښایو چې ۳ - م ناسم دی، نو باید ۱ – م یا ۲ ـم سم وي.

دا د پورته دواړو پیداښتي او ټولیزوالي ښوونو سره مخامخوالی دی، نو دا ناسم دی او ۲ – سم.

دلته مې تاسو لږ د شمېرپوهنې ښونو سره هم سترې کړی.

هیله ده، چې مرسته وکړی، چې یوې لاس ته راوړنې ته راشو.

## ویناډولونه:

و  پښتو ته ناسم رانناسب شوي...                    ۳۰۲

دا لیکنه چې د ما د سم اند کتاب څخه مې رانیولې، دلته هم را ته بېځای نه برېښي و تاسو ته وړاندې کوم.

Einfach – zusammengesetzt  ساده – یوځای شوې ویناوې

ویناوې کېدی شي په ساده ویناو او یوځای ایښول شوو ویناو باندې ووېشل شي. وېشنلامل یې دا دی، چې ایا وینا له یو بل توپیروړ،، ځانله کولوړ،، برخویناوو څخه یوځای ایښول شوې او که نه.

بېلګه: ،، کابل یوښار دی،،( ساده وینا)، ،، کابل له اوه میلیونو څخه د ډېرو اوسېدونکو یو ښار دی،،. سم اندیز یوه یوځای ایښولشوې وینا د برخویناو ،، کابل یو ښار دی،، او ،، کابل له اوه میلیونو څخه ډېر اوسېدونکي لري،،)

(c) ketabton.com: The Digital Library

*Terminologie* یا مسلکي ویېنې ردبدل کیږي: د ،، ساده وینا،، پر ځای باندې سړی ،، د یوځای نه ایښول شوو ویناو،، ، ،، اتومي ویناوو،، ، توکیزو ویناو،، هم غږیږي یا ،، توکیزه غونډله،، (Wittgenstein)..

د شمېرپوهنې له سم اند څخه:د یوځای ایښول شوو وینا پر ځای باندې دا لاندې هم وایو: ،، د ویناو ترنه،، یا ،، مولیکولي ویناوې،، . په شمېرپوهنه او همداسې فورمال سم اند کې اتومي ویناوې دي، چې له نورو ویناو څخه یوځای نه دې ایښول شوې. دا ویناترونې سم

اندیزې نخښې ( ترننخښې) لکه ∧ ( او) ، ∨(یا) او ¬ (نه) نه لري. مخامخکلمه یې یوځای ایښولشوې وینا یا ویناترنه ده.

د بېلګې په توګه چې وینا لرو ،، کوڅه لنده ده او ورینګي وریږي،، په دوه ویناو وېشو یا بېلوو، د ،، او ،، سره یوې وینا ته سره ترلې دي، داسې یوه بېلېدنه په یوګونو ویناو کې ،، کوڅه لمده ده .. ، چې د ،،او ،، ورینګي وریږي،، نوره کېدونې نه ده. نو له دې سره داسې ویناوې اتومي ویناوې بلل کیږي. د یوې وینا سم اندیزې شننې سره

د اتومي ویناو لپاره بېلګې( ارزښتونسم اند)

ترمونه {\displaystyle t=s}t=s\} د په خوښه t , s لپاره

. و پېنتو ته ناسم رانناسب شوي... ۳۰۳

-

(R(t1, …., tn د n-ځایز, اړیکو او په خوښه ترمونو t1 ترtn پورې.
په یوه ساده ویناکې یوه یوه شي یا الې ته یو یواځنې ورکول – یا ترې اخستل کیږي. که دا وبلل شي، چې یوه ساده وینا نوره جوړښتیزه نه ده، نو به داسې وپوهیږو، چې د وینا دننني جوړښت نور نه شي ټیک ویل کېدی یا روښانه کېدی.
د اتومي ویناوتفسیر یا روښانه ونه د هغه د ریښتیا ارزښتوالي له لارې.___

تنظیمیږي.{\displaystyle s\}

د ساده ویناو لپاره سیمبول د کنونشن یا تولیزې پرېکړې پوښتنې دي.

د دې لپاره ورځني د بېلګې په توګه دسترو لاتین تورو کارول، A, B, C, دي په ورکړل شوي حالت کې د ترې لاندې لیکلي توري یا پېژندنخښې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ګډوله یا یوځای اینولشوې وینا د ډېرو ساده ویناو له تړنو څخه جوړه ده.

د یوې ویناتړنه کېدی شي غزېدونکې ( غزېدونکې ویناتړنه) یا کلکېدونکې یا کښېکاګونکې ( کښېکاګونې وینا تړنه ) سرته ورسیږي.

غزېدونکې ویناتړنې سره یوځای شوې ویناوې دي، چې د هغوي ریښتیاارزښت د هغې له برخویناو څخه ټاکلې دي. د ټولوینا ریښتیا ارزښت له دې امله د برخوویناو ریښتیاارزښت فنکشن یا څېرونه ده. ( ریښتیاارزښتوالي فنکشنالیتي).

سم اندیزې همغه یا ثابتې، چې هغه ریشتیاوالي فنکشني اغیز ښندي، تړننخښې Junktoren بلل کیږي.

کلاسیک ویناسم اند یو تړننخښیز سم اند(Lorenzen), دی، د ویناو یو،، د پراخېدنوالي اصولو سم اند،،(Quine). دا پر پراخېدنوالي اصولو باندې ودانه ده.

یو ځانګړی حالت د نه والي حالت Negationانځوروي. دا د ډېرو ترمینولوژیکو بنسټونو له امله. په نه والي کې ویناوې نه سره تړلکیږي او دا له دې امله ویناتړنې نه دي. دوي همداسې له ترمینولوژیک سادونې له امله یوځاییزې ( چې یو ځای لري) ویناتړنې بلل

.            و  پښتو ته ناسم رانناسب شوي...            ۳۰۴            .

کیږي. دوی د وتون ارزښت ریښتیا سره ارزښت ناریښتیا ورکوي او په څټ.

ترمینولوژیکي سم دلته ویینه یوځاییزه رښتیاڅېرونه یا رښتیافنکشن برېښي. د دوه ویناو د ګډوله کونو لپاره شپاړس یونکتورونه یا تړننخښې شته دی. د ټولو کېدونکو ګډوله کونو لپاره له رښتیاارزښتونو یو د دې تړنو لپاره تیپیکي لاسته راوړنرښتیاارزښت ورکوي. د بېلګې په توګه له تړننخښو سره د تړلې وینا a)  *a UND b*  او b ) تیک هلته رښتیاده، چې هم a او هم  b رښتیا وي، په هر بل حالت کې تړنه نارښتیا ده.

اېنتنزیونالي Intensionale ( ځان ورسره برابرول یا – اعیارول) ویناتړنې رښتیافنکشنلي  ویناتړنې نه دي. له دې سره د ټولوینا رښتیاارزښت د برخویناو د رښتیا ارزښت په واک کې نه دي.

بېلګه: ،، سپین د سم اند یو کتاب لولي، ځکه هغه سم اند ډېر په زړه پورې مومي یا بولي،،.

analytisch – synthetisch شننیزې – جوړښتي ویناوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويناوې په ورځني ژوند کې په شننيزو ويناو او جوړښتيزو – يا مصنوعي ويناو باندې وېشل شوي. د ،،وينا،، په ځای په همغه موخه له ،، غونډلې،، همداسې ،، پرېکړې،، هم غږيږو.

Analytische Aussagen شننيزې ويناوې

شننيزې ويناوې په راتنګه موخه دي ،، ويناوې، چې په اړيېنه توګه ، دا په دې پرېپوهېدنه چې په ټولو ممکنه نړيو کې، رښتيا ذي ځانله د هغو د سم انديزو بنسټيزو بڼو له مخې او د هغوي رښتياوالی بې د هغو پر تجروبوي ازماېښو باندې کره کېدونکې دي،،. دوي له دې امله سم انديزه توتولوګې( تل رښتيا ويناوې) ده.

بېلګه: لمر ځليږي، يا لمر نه ځليږي.

په پسې موخه ،، داسې ويناوې دي، چې د هغوي رښتياوالی د هغوي له مصنوعي جوړښت او د هغو پرېپوهېدنوالي د هغوي د ژبنيزو توکو په واک کې ده. هغوي په سيمانتيکي اړيکو لکه همغه پرېپوهنيزبرابروالی [...] او پرېپوهنيزپايونه [...]،، له دې



سره دا يو څيرکلپايونه( ګردی پايونه) Zirkelschluss په ګوته کوي.

بېلګه: خور –ورور خپلوان دي.

Tautologie: يوه تاوتولوګي په سم اند کې يوه ټوليزه باوري وينا ده، دا په دې پرېپوهېدنه چې يوه وينا، کومه چې د سم انديزو لاملونو په بنسټ تل رښتيا ده. د توتولوجي لپاره بېلګې دي، لکه ،،

که ورينږي وريږي، نو ورينګي وريږي،، يا ،، دا هوا بدليږي يا داسې پاتيږي، لکه څنګه چې ده.،،

Synthetische Aussagen جوړښتي يا مصنوعي ويناوې

په پراخه موخه د اريستوتالس له لورې ټولې ويناوې( پرېکړې)، داپه دې پرېپوهېدنه چې يوه ،، د سينتېزې له کلمې څخه،،.

په راتنګه، واکمنه موخه (کانت (فسلوسوف))،، په رښتوني حالت باندې ويناوې، چې رښتياوالی يې نه ځانله د سينتاکتيکي يا سيمانتيکي جوړښت بلکه پرته له ژبې او له دې امله تجربوي ازماېښتي دازماېښې فاکتورونو او تجربو په واک کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د توپېروني يا توپيرېدني کريتيک

د شننيزې او مصنوعي ( جوړې شوې) وينا په منځ کې د توپېروني يا توپيرېدني سموالی د Quine ( امريکايي فيلو سوف) لخوا د څېړني لاندې ونيول شول. هغه د پرېپوهېدني ناټاکلوالي تيزې پلوی وو او دا بنسټ يې د پوښتني لاندې راووست، چې د کلمې پرېپوهېدنې تيز يو له بل رابندېدلی شي، دا په دې پرېپوهېدنه، چې منځ کې يې پولې ايښدول کېدی شي.

بېلګه: ،،ټول Rappen (د تورو اسونو يو ډول دی) تور دي،، مخامخ يې ،، ټولې کاغۍ توري دي،،. دا چې تور يوه د پرېکړې نخښه ده، چې راپن له نورو اسونو بېل کړي، دا يوه شننيزه وينا ده. ايا د ،، کاغيو،، بې له تور د کلمې پرېپوهېدنه موخې ته رسېدونکې ده

– نو سپين هم ( د بېلګې په توګه Albino vogel) د نورو هممغو پېژندنخښو سره دې و کلمو ته ګڼل کيږي – يا ايا کاغۍ هم د تور له لارې پېژند لري ياپېژندل شوې دي، کوين

.               و  پښتو ته ناسم راناسب شوې...                       ۳۰۶           .

هم دا يوائځني نه شو ټاکلی. په ختېه کې کاغۍ هم د يوه د کلمې په توګه د يوه پيداښتي ډول لپاره کارول کيږي، خو ايا د دې ډول ټولې يوګوني تور وبرېښي، چې له دې امله دا يوه تجربوي پوښتنه ده.

وينا په ويناسم اند کې

په ويناسم اند کې داسې ويناوې يواځې ياتيک د هغې فورمال او نه د هغې منځپانګيز رښتياوالي ارزښت غوره دي.

د بېلګې په توګه: سړی بايد له شننيز شيحالت څخه پوهه ولري يا په شي حالت وپوهيږي، چې د وينا په رښتياوالي ارزښت ،، برلين د جرمني پلازمېنه ده، او روم د ايټاليا پلازمېنه ده،، پرېکړه وکړی شو، دا د وينا لپاره غوښتوني نه ده، چې ،، مادرېد د سپانيا پلازمېنه ده، يا مادرېد د سپانيه پلازمېنه نه ده،،، ځکه چې د سم انديزې ،،يا،، او ،، نه ،، د کاروني کره کوني وروسته ( نورميروني Normierung) دلته د خبرو يوه رښتيا، له دې خپلواکه وينا ده، چې ايا مادرېد په رښتيا دسپانيا پلازمېنه ده يا نه. يوه په دې موخه فورمال رښتيا وينا به ټوليزباوري ياهم توتولوژي وبلل شي.

وينا په پرېديکات سم اند Prädikatenlogik کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پرېدیکات( د یو څه د څرنګوالي ارزښتونه) کې یوه وینا یوه وینابڼه ده بې له خپلواکو اووښتونو.( په دې کې ټولې اوښتونې د کوانتورونو یا نخښو سره تړلې.)

په پرېدیکاتسم اند کې د یوې وینا رښتیا ارزښت په هغې د خوندي سیمبول Interpretation د روښانونې له مخې څخه ورکول کیږي.

د بېلګې په توګه یوه وینا x=x+x په لاندې توګه میندلکیږي: د هرx لپاره دې ترم x او x+xوشمېرل شي. که یو x شتون ولري یا شته وي، چې دواړه ترمونه همغه ارزښت ولري ( د بېلګې په توګه د x = 0 لپاره)، نو وینا رښتیا ده، په بل ډول نارښتیا ده. نو له دې سره رښتیا ارزښت د بنسټېږی په واک کې دی. چې د اوښتونې یا واریابلې له په ځای کونې ډېری( سټset ) څخه وي.

یوه پایونلار د فورمال سم اند په یوه شمېرنه کې بڼه بدلونلار یا – قانون په ګوته کوي، داپه دې پرېیوهېدنه چې یوه جوړښت یا مصنوعي لار، چې د هغې له مخې کېدی شي یا

. و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۳۰۷ .

اجازه ده، د نورمال ژبې د یوه شته ویېنو نوو ویېنو ته لاړ شو. دا لارښونیزه تللار یو پایونلاس ته راوړنه انځوروي.

د Ernst Tugendhat (فیلوسوف) له خوا څخه ټولې شننیزې غونډلې د ausgeschlossenen Widerspruch (پرته یا ناشونې مخامخوالي) په غونډله ودانې دي. دوی د ناسموالي ضریبونهFalsifikatoren نه لري.

د مخامخوالي یا ردونې غونډله یا د ناشونې ردونې یا – مخامخوالي غونډله وایي، چې دوه یو د بل په خپله ختېه کې د همغه څه ـ خوندیونې ردونې ویناوې په همغه وخت کې نه شي پېښېدلی. د فلسفي – او پوهنتاریخ د وخت په تېرېدو سره او له بېلا بېلو تیوریکي نظریو اړوند او له بېلابېلو ډولونو د اونتولوګیزې ontologisches پېژندتیوري او د سم اند اصول پوهېدل کیږي.

اونتولوجي د فلسفي یوه لار یا دیسځیلین دی چې د شته والي (یل؟؟) او رښتیاوالي بنسټجوړښت سره بوخت دی، د بېلګې په توګه: کلمه لکه شتون، یل، به او ریالیټي.

د کریتیک Kritik لاندې یا له کریتیک څخه سړی د یوه شي(الي) یا پر یوې کړنې باندې د کچون-الو په مټه یا لاس پرېکړه کیږي. لکه فیلوسوفي Anne-Barb Hertkornروښانه کړې، چې کریتیک دې له دې سره ،، د فکر او هوښیارتیا بنسټیز فنکشن دی او تر هغې پورې چې دا په خپل فکر و کارول شي او شتونپېژندنخښه چې پر باوریوالي باندې یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعوه کوني پرېکړه وشي.،، دا د پرې پرېکړې کونې باندې د انساني کړنتوان غوره هنر دی.

ډاکترماخان میرزی شینواری

# نیولوجیزم Neologismus

منلي انجنیر صیب ستانه میرزهیر په م ک کې وړاندیز کړی وو، چې د علوموا‌کادمي له خوا دې یوه ډله جوړه شي، چې دا نیولوجیزم زما په اند د څېړنې، پراخونې اوورسره بلدونې اوبلدېدنې و کارمخ ته یوسي. زه داسې لږ پوهیدم، چې ګوندې دا خو نوو وینو سره

. و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۳۰۸ .

سر اوکار باید ولري، خوبیا مې هم وغوښتل، چې ځان داسې لږ څه پرې وپوهوم، نو د الماني ن ج له لارې مې دا لیکنه برابره کړه، چې له تاسوسره یې هم په مینه ګډوم.

دا لیکنه به دوه برخې ولري، چې لومړۍ به یې د نیولوجیزم سره ځان بوخت کړي او دویمه به یې نیولجیزم ته د پښتو اړتیا په هکله وي او په دې اړوند به دژبپوهانو کار څه وي او که نورې اړتیا به مو اړیینې وي.

که زما د لیکنو سره څوک داسې لږ بلد وي، نو دې ته به یې هم پام شوی وي، چې زما په لیکنوکې پردې ویونه کم لیدل کیږي، پرته له هغه پوره اړیینویونو، چې پښتو انډول ورته نه پیداکیږي، چې هغه به هم زیات پیداښتي ویونه نه وي او هغه به هم د هغې اړونده ژبې د ودې له مخې منځ ته راغي وي.

یوه داسې ځوان پښتون راته لیکلي وو، چې ګوندې زما لیکنې یې لوستلي، خو ډېر ساده دي.

لومړۍ برخه

نیولوجیزم:

یو نیولوجیزم Neologismus په یوې ژبتولنې کې په تولیزه کارونه کې د مخه ترې تیرشوی یعنې د پرېښودو ژبني ویونو بیا نوې کارونه ده، وايي

- یو نوی راپیدا کړی وی (نوی وی) په همدې توکه یو همداسې وینه ( افاده) یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

- یوه نوې مانا، چې د هغې سره همدا اوس لرلی وی، په همدې توګه پخپله وينه ( افاده) باندې سمباليږي (نوې مانا) يا دا نوې مانا ورته ورکولکيږي، يا هم دا وی په همدې توګه وينه پخپله، چې نوې مانا غوره کوي.

که دا ديوې ژبېولنې په دننه کې پراخونه وميندي يا دژبېولنې په دننه کې وزغلي، او د ژبويونو کتاب ( ډکشنري) يې را واخلي او د دې ژبې ژبپانګه کې ځای ونيسي. د نيولوجيزم له پاره کرکتريستيک يا خويغوره-والی يا خويټاکونکی دی، چې ويونکی دا په يوه وختواټن کې د نوي په توګه خپلوي. کوم ويونه (لا) نيولوجيزم دي، په دې پورې اړه لري، چې له کوم وختټکي څخه سرې د يوې ژبې ويونپانګه (ويونو پانګه) په پام کې نيسي

.          و پښتو ته ناسم راناسب شوي...          ۳۰۹          .

يا څيري. د دې په څنګ کې په ټوليز-ژبنيز ستاندارد ويونکتابونو( د ويونو کتابونو يا ډکشنري) رانيولشوي نيولوجيزمونو له پاره په ډېرو ژبوکې ځانګړي ويونکتابونه، چې

دوي ځانله يا ټيک د همدې ويونپانګه( که ويونوپانګه؟) څيري شتون لري. د نيولوچيزم وينې ( افادې) ته د زړې يوناني ويونه neu „ *neos* νέος ‟،،نوی ، او *logos* λόγος

„Wort‟ ،، وی،، بنسټ ته پراته دي، چې په پښتو يې نويوی (نووی يا نوی وی) بللی شو.

د دې کليمې و جنجالپرابلم ته

دا د نيولوجيزم وی يا کليمه په ژبپوهنه کې نه بيخې ساده يوونوالی يا يواندوالی نه لري.

Hadumod Bußmann ( هادومود بوسمن) داسې پيژند ورکوي:

نوې په کاراچولشوې يا نوې منځ ته راغلي ژبنيزې وينې،،. داسې ويونه په ويجوړونې، ويپورونې يا د پوهېدنوړنوالي له لارې منځ ته راځي. ځانله د نيولنګويستيک Neurolinguistik يا نيوژبپوهنه ( نوې ژبپوهنه) کې د دې وی له پاره د دې وی يا کليمې د نوي پيداښت منل منځ ته راځي يا د دې وی منل منل کيږي.

هلموت ګلوک Helmut Glück له يوې لور نيولوجيزم له نوپيداښت سره برابر وټاکه يا کيښود او په چوخونی ،،وينوپيداښت،، سره په حواله نيولوجيزم، دا ورکړلشوې بيلګې مګر ټيک د ويجوړونې، پورونې يا ماناوړنې حالتونه دي. د ژبپوهنې ورځنيوالي يا رواج کې که هرڅومره ناوخته نو د ۱۹-مې پيړی پای څخه ،، ويپيداکونه/ پيلپيداکونې،، له يوې لورې او ،، ويجوړونې،، بلې لور ته تو پيروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلونه

د ژوندۍ ژبې خبرېکوونکي هره ورځ نوي ویونه جوړوي یا پیداکوي، چې د هغوی سره دوي سملاسي یا توکلي بلنتشیاوي یا نومونتشیاوې ډکوي یا بندوي. زیات له دې ویونو ټیک یوځل په کارلویږي. زیات وخت د دې ویونو موخه په دې کې ده، چې د هغه سره یو نومونحالت پوره کړي.

.....



## د نیولوجیزم ډولونه

د نیولوجیزم لاندې ډولونه کیدی شي سره توپیر شي.

نیوویونه(نوی ویونه)

وییني او ماناوي نوې دي. د نوي ځوان وخت بیلګه یې د لنډخبرلیږل له پاره وتونوی *simsen* له SMS څخه دی.

# نوي پو هېدنه

یو زوړ وی ټیک یوه نوې مانا ( پسي یا بله مانا هم) اخلي. په دې توګه ګوندې له یوه زاړه وی د بیلګې په توګه موږک *Maus* په یوه ،، تخنیکي الې، د شمیروني ورشو،، کې هم ځای په ځای شي.

نوي کمبینیشنونه یا نوي ګډوله لګینه:

دلته هغه کارونویونه سره یوځای کیږي ( Internetcafé انترنتکافی ,لپتاپ بکس Laptop-Tasche, انالوګ ساعت Analoguhr).

نیولوجیزم او ژبنورم

که نوی ویي کارونې ته ریشي، نو خبرېکوونکی زیات وخت د نورم د نه باورتیا سره مخامخ کیږي.

وېینه، مانا اوکیدی شي د ډېرماناوالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

- وييندول يې لومړی په ورځنۍ کارونه کې ساتل کیږي. په ځانګړي توګه پورويونو کې دا زيات پيښيږي، خو نه تل، يوه د اعياروني(چمتوکوني) پروسه پيښيږي، چې د هغې سره د ترې پور شوې ژبې ويندول د فينومينسيستم سره سر وخوري. د دې له پاره بيلګه ډونلوډ*Download* دی.

په ژبه کې پردي ويونه ځای نيسي، ځکه چې په الماني همداسې پښتو ژبه کې ورته انډول نه پيداکيږي.

. و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۳۱۱ .

Kunstwort مصنوعي وی يا هنري وی( هنروی)

د هنروي سره هغه وی په نخښه کوو، چې د يوې ژبې د ويجوړوني پيداښتي الاتو سره جوړ نه وي او د يوې بلې ژبې څخه هم نه وي پور شوی. دا يوه نوې ريښه جوړوي اوزيات جګسومبوليک يا زيات نمونه-بيز ( نمونييز؟) دی. نوي جوړ شوي هنرويونه زيات وخت د نيولويجزمونو په حيث باوري وو.

د شعرونو ترتيب او بيتونوکې سړی زياتوخت د هنرويونوسره مخامخ کيږي.

جوړښتنومونه

د هنرويونو له پاره زيات جوړښتنومونه: د ويونپيلو ( د ويونو د پيل) يوځای راکښنه، يوځای ايښوونه، او د ګرافيمونو Graphemen د ګډوله کونې لنډونه.

يوځايراکښنه:

په دې د هنرويونوکې دوه يا زيات ويونه و يوه وي ته راکښلکيږي (،، سره ويليکول،،)، چيرته چې سره يوبل باندې اوښتونې برخه لرې کيږي. د دې له پاره بلابيلې په نخښه-ونې شته، د بيلګې په توګه، يوځای راکښنوی، سره ويليکولوی، ګډوله-وی....

بيلګې:

- Teuro له *teuer*(ګران) او *Euro*(يورو)

- Demokratur له *Demokratie* او *Diktatur*

- Grusical له ډاروونکي *Grusel* او *Musical* موزيک څخه

- Informatik له *Information* او *Automatik* (يا *Mathematik)* څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اینفورماتیک په نامه پوهنځی شته اولوستل یې وایي چې له شمیرپوهنې ستونځمن دي. مور د کمپیوترساینس په نامه پوهنځی لرو، نه پوهیږم، چې هلته به څومره د اینفورماتیک سره سراوکارلري، خوګومان مې دی، چې دومره ډیربه نه وي.

- Mechatronik له Mechanik او *Elektronik* څخه.



دا یوه نوې د موټرو مسلکي زده کړه هم ده، ځکه د نویو موټرو ماشینونه ټول په همداسې الو سمبال دي، چې میښاترونیکان ورسره سر اوکارلري.

- Glokalisierung له *Globalisierung* او *Lokalisierung* څخه.

Zusammensetzung von Wortanfängen

د ویونو پیلې سره یوځای ایښوونه

دا هنرویونه د سیلبولنډوییونوسره خپلوان دي: بیلګې:

- Modem له Modulator او Demodulator څخه

- Moped له Motor او Pedal څخه. دا د ډیډبي اوبایسکل څخه جوړ په پښوو هن-الاتو ځې یا بیول کیږي.

- Chipitts له Chicago او Pittsburgh څخه

- Haribo له Hans Riegel Bonn( هانس ریګل نوم دی، چې له بون وویا دی(؟) ) څخه. دا یوه خوږه دخوږوجوړه میوه ده، چې کوچنیان یې په مینه خوري.

- Milka له Milch شودو او کاکو Kakao څخه جوړ څه دي. خواږه خو هرومرودي.

Abkürzungen لنډونې

لنډونې هم کیدی شي هنرویونه وبلل شي
بیلګه:

“Nato„ د *North Atlantic Treaty Organisation* لپاره لنډونه.

دا لومړیبرخه زموږله پاره دلته همدومره بسیا کوي او اوس راځو دې

و دویمې برخې ته:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو د پوهنيزې ودې له امله او که غواړۍ، د نه ودې له امله دپښتو ژبې ستونځې هم زياتې دي. موږ اوتاسود دې ليکنې سره داسې لږ سر نيولوجيزم ته ورښکاره کړ او ومو ليدل، چې دا نيولوجيزم د يوې ژبې ويونکو د ودې سره هم سيده تړاو لري

هنرويونه او نيولوجيزمونه: ټول هنرويونه نيولوجيزمونه نه دي. يوه وييکتابيزه ( د ډکشنري) نخښه يو اوږد وخت د نيولوجيزم په څير ګڼل کيږي. د زياتې پراخيدنې او د کارونې دوام سره د ټولژبنيز وييانګې د ورسره ورځنې يا اري ژبې برخه ګرځي.

دا چې په پښتو کې به نيولوجيزمونه کوم وي، زه ترې نه يم خبر اونه پرې پوهيږم، د دې دې ماته بخښنه وي، خو هغه ويونه چې موږ بدل کړي يا د نورو ويونو په ځای، چې

ګوندې موږ يې پښتو کوو چې تاسوته به هيله ده زما د ليکنو معلومې وي- هغه - په پوره خواشينۍ بايد ووايم - چې له هره اړخه ناسمې دي لکه:

مايع ته اوبلن ويل اود سلمې په ځای سلنه کارول، د ستاندارد، سطحې سويي په ځای کچه کارول او داسې نور.

دلته به مې هم وړانديزدادۍ، چې د نوروژبو په مرسته به هرې پوهنې ته وده ورکوو اوهلته په نورو ژبوکې زياتوخت د پيداښتې ويونو له پاره موږ په پښتو انډول پيداکولی شو اوکه نه ېو بيا د همغې ژبې همغه وي ليکو اوکه په عربي انډول باندې يې پوهيدو، نوهغه هم له نوروښه دۍ.

يادونه:

ځان پالنه دې نه وي، خو دا به ووايم، چې په نږدې څلوېښتو کتابونوکې، چې راټولونې اوژباړې دي، ما شميرپوهنه په پښتو ليکلې، دا په دې مان، چې په پښتويعنې ټول مسلکي نومونه په پښتودي اودا ما جوړکړي نه دي، دا نيولوجيزمونه نه دي، دا موږ په ژبه کې لرلي ويونه دي، چې ما به لومړي ځل ترې کار اخستی وي يا به مې لومړي څل په کاراچولي وي او له دې امله دزياتو ګوتنيونو سره مخامخ هم يم، خوباورلرم، چې دا به هغه خپل ځای نيسي. ماته غوره دا برېښي، چې زما په اند ناسمون په کې نه شته اوکه وو، نوهغه به د راټلونکوځوانانو دنده وي، چې سم يې کړي.

زموږلومړۍ دنده: کتابونه له نوروژبو په پښتو ژباړل، دا په دې مانا، چې مسلکي ويونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته هم د پښتو انډول پيداکول لکه د مشبوع له پاره موړ يا ماړه ليکل او د داسې کتابونو ډېرول.

بيا زما تل ځوانانو ته مشوره:

که غواړو وپوهيږو اوپوهه مو نوروته ورکړی شو، بايد په يوه پرمختللې د باندنۍ ژبه ښه وپوهيږو.

يو څه چې پيداښتي پښتو يې نه لري، هغه بيا نه لرې، و هغو ته بايد د پښتو نومونې هڅه ونه کړو، لکه معيار، سويه ( دلته کېدی شي د پوهنې يا د غوښتوني څه ښه-والی پېمانه کښې ونيول شي) يا سطحه(هواره) د اوبو د سطحې جګېدنه، نو څه وي؟ دا چګېدنه د بحر د اوبو له سطحې سره پرتله کيږي.

خو يو په خپلې ژبې کښې لرلې د نور ژبو وييونه بايد بيا په پښتو وليکو، که نه! دا بيا ورکيږي او دلته بيا دا د خندا نه وي او د دې پرځای باندې دي، هغه ناسم راننوتي وييونه سم شي، چې له خندا څخه ووځي. لکه هما کچه يا د سلمې سلنه کول. د دې لپاره دې د ما د ،، پښتو را ننباسل شوي يوونه،، کتاب وکتل شي

# اوکسومورون Oxymoron

نه پوهيږم څه به مې کتل خو د دې پورته وی ،،اکسيمورون،، سره مخامخ شوم او هسې مې په داروښانه-ونه پيل وکړ. په دې ترڅ کې ګورم، چې د نورو په ادب کې د کارونو ويونو سره داسې مخامخ شوم، چې پرته له هغې له پرېپوهيدنو اکسيمورون نه شو روښانه - يا شنل کيدی. دلته مې دا ټول سره ګډوډ راوړل، چې هسې زما په اند دا موږ ورسره په ادب کې نابلد يو څه سره يواځې او يواځې داسې مخامخ شو او وګورو، چې د ا ژبه څومره ستره اړتيا څيړنې ته لري. تاسو، پيداښتي ده، چې هر وی، چې هر يو يې يوه کره موضوع ده، پخپله هم په ن ج کې کتلی شئ او نور يې ښه روښانه کولی شئ. زما ليکنې زه له الماني رانيسم، نو وييڼه او ليکنډول به يې هم الماني وي، خو وبه هڅيږم، چې انګرېزي يې هم راوړم.



دې ليکنې ډېر سترې کړم. هيله ده، چې تاسو به سترې نه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوکسومورون یو ستایل اله ده چې هر ډول لیکنخوندیونو کې میندل کیږي، نو له دې امله په لوریک(۱) نه دی رابند، بلکې په ایپیکي(۲) او رومانتیکي کارونو کې هم پیدا کیږي. دا اکسیومورون له دوه کلمو جوړ دی، چې ځانونه یو بل سره مخامخ کوي یا تر دې چې دا یو بل ردوي. دا پخپله په دننه کې ردوونکی اکسومورون غوښتونی دی او د یوه شي په ټکي شوي حالت کې انځور دی، چې یوه بیلګه یې کینه-مینه( په کرښه ټړنه یې په دې مانا چې یو وی دی) دی.

د بیتونو سره شعرLyrik

شعر چې یو څه روښانه کوي Epik.

بیا:

په اکسیومورون کې دوه ویونه یا کلیمې د منځپانګې له مخې سره مخامخ دي یا یو بل ردوي سماندیزه مخامخ ټوټه یې پلیوناز موس (۱) دی، چې په هغې کې دوه ویونه همغه یا برابر څه روښانه کوي. دا وی ااکسومورون یوناني دي او له دې لاندې منځ ته راځي

.(“ὀξύμωρος, aus *oxys* „scharf*sinnig*“ und *moros* „dumm

پښتو مانا یې اکسیو تیزلیدی او مورون بې عقل یا تېزلیدی، ښه یې تیز انده احمق یا زیرک احمق

په ګوته کونه له دې امله پخپله یو اکسومورون دی، ځکه چې مانا یې د منځپانګې له مخې پخپله یو بل سره مخامخ دي یا یو بل ردوي (

## (تیزفکریز حماقت):۱)Pleonasmus)

دا یو یوناني وی دی، چې پښتو پوهېدنه یې،، له اړتیازیات،، دی

یو پلیونازموس یو رېتوریکي (د خبرو د هنر) څرګندیدنه ده، چې د یوې جملې په دننه کې هغه د ډیرواره وینا یوه ویګروپ یا هم د یو یوګونې کلیمې له لارې په نخښه شوی وي. تل هغه وخت چې یوه ژبني الات ،کارول کیږي چې هغه د دې تراوسه ویل شوي څخه پرته



نور معلوماتي مواد نه ورکوي. دا وی د ټولو له پاره مناسب دي، چې د یو چا په یوه وینا کې پلیاناموس ته پام را وګرزوي. په پښتو کې یې دا بیلګه راوړی شو،: لکه ،،سره لمبه،،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پلیانازموس له پاره بېلګې: ګردې غونډوسکې یا ګرد غونډاري، یخ شوی یخ ارامه پټه خوله، رنګه رنګونه(( یې انګریزي دی Stilmittel ( stylistic devices

ستایل اله stilmittel

ستایل الې دبېلګې په توګه متافر، بیضوي یاهګۍ( او ډېر نور) دي. دا ټاکلي ډولونه دي چې په تکستونو (خوندیونو یا منځپانګو)کښې لکه شعرونو، لنډو نکلونو او پخوانیو کیسو او دا سې نورو کې منځ ته راځي. دا یو ویین اله یا افاده اله ده، چې یو څه ټاکلی وایي یا افاده کوي.

متافر ته = په وړونې موخه ترې پوهیدنې څخه تر ځیرې پورې خبرې، د بیلګې په توګه سپی په هرکاره کې لیونی کیږي، دا د په کینه کېدلو یا قهرېدلو لپاره کارول کیږي.

یا هم ستایل اله ،، سیمبول،، یا سیمبولي،،، چې یو شی موخه-ځېرې په ځیر انځوروي، لکه اوښکې د خپګان له پاره،زړه د مینې له پاره او کوتره د روغې له پاره.

یا زیاته خبره ( هغه خبره، چې له رښتیاکیدلو لرې وي) لکه،، د اوښکو ډنډ،، د انسنانو بهیدنه،،

هر ستایل اله ځانګړې مانا لري، چې د یوه څه له پاره ولاړه ده یا د یوه څه له پاره ځای نیسي، کیدی شي، چې د یوه ستایلډول له پاره هم وکارول شي.

Metapher

(μεταφορά metaphorá متافر ( زړه یوانانې وړنه یې نږدې مانا ده او ( د ځانګړو شتیلمواد یا – الو په ځیر کارول کیږي) ژبنی ویېنه ده، چې د هغې سره وی( یو ویډله ده د هغه د خپل اړونده پوهېدن- یا مانااړوندوالی په یوه بل کې وړل کیږي یا وردننه کیږي ، بې له دې چې بې له یوه سیده پرتله ونې اړیکه د په نخښه شوي او په نخښه کیدونکي منځ کې روښانه شي.

دنده:

. و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۳۱۷ .

دا بنسټ ویېنه یې د یوه څه له لارې ځاي په ځای کیږي، چې روښانه، لیدوړ او ژبیز بډای باید وي. د بیلګې په توګه ونه تاج ( د ونې تاج) د ونې د څوکو له پاره، یا دښتکښتی د اوښ له پاره. کله کله متافر ژبنیزې تشیاوې هم ډکوي، چې د ستونځمنو لیکنو روښانه لیکنو را نغاړلو له پاره وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

متافر د ورته والي اصولو او د يوه ټاکلي او له دې سره جوړو شوو د ورته والي، منځپانګيز او نه د ګاوندی ځرګندېدنو يا برېښېدنو منځ کې اړيکو څخه کار اخلي، له موږ سره چې د دوي په منځ کې .ماناوړنه په لاس کې اخلي يا رانيسي.

همداسې کيدی شي د يوې لنډې (ځيره-ډوله) پرتله کوني لپاره ترې کار واخستل شي . بېلګه: ملالۍ يوه ځمری ده، په دې مانا چې ملالۍ دومره توانمنه ده لکه ځمری. د لته د دې ځيروونکي حيوان نوم ملالۍ ته يووړل شو يا ورکړ شو...

ومتافر ته = په وړونې موخه ترې پوهيدنې څخه تر ځيرې پورې خبرې، د بيلګې په توګه سپی په هرکاره کې ليونی کيږي، دا د په کينه کېدلو يا قهرېدلو له پاره کارول کيږي.

يا هم ستايل اله ،، سيمبول،، يا سيمبولي،،، چې يو شی موخه-ځبرې په ځير انځوروي، لکه اوښکې د خپګان له پاره،زړه د مينې له پاره او کوتره د روغې له پاره.

يا زياته خبره ( هغه خبره، چې له رښتياکيدلو لرې وي) لکه،، د اوښکو ډنډ،، د انسانانو بهيدنه،،

هر ستايل اله ځانګړې مانا لري، چې د يوه څه له پاره ولاړه ده يا د يوه څه له پاره ځای نيسي، کيدی شي، چې د يوه ستايلډول له پاره هم وکارول شي.

Oxymoron; paradoxon, Contradictio, Antithese

اوکسيومورون، پارادوکسون، کونترادکځيو، په اديکتو کې، انتيتيزې له شتيلموادو سره بيلونه زيات وخت لړه شونې ده. په ټوله کې په الماني درس کې زيات وخت کې سره بدليږي. له دې مله غواړو دا پولې بيا سره روښانه کړو.

لومړی: اوکسيومورون له مخاميزو يا متضادو يووالو يا واحدونو څخه جوړيږي، چې د دوي برخوال سره مخامخوالي يا تضاد کې راځي. له دې سره يوه وينا توانمنده( که



توانمنه؟) کيدی شي..دا يووالي کيدی شي يوګوني يا ځانله ويونه وي يا د يوه ګډوله وی په دننه کې وي.

دويم: پارادوکسون: يو ( برېښيدونکی - ) مخامخوالی يا تضاد دي. دا بيا څنګيزه ده، چې ايا يوګونې جوړښتبز څه سره مخامخ دي يا متضاد ردوي. غوره يې دا ده، چې پارادوکسون منځپانګير کار نه ورکوي يا لومړی په دا دويم ليد موخه ور کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم contradictio in adiecto :

کونتردکڅیو په ادیکتو کې د اکسیمورون یو ځانګړی حالت دي. په دې کې یوه ستایل اله له یوه ادجکتیو یا ځویویی او یوه سوبستانتیو یا شي څخه جوړه ده. دواړه ویونه یو د بل مخامخ دي او په پای کې یو بل ردوي.

انتیتیزې Antithese

هر اکسیمورون کیدی شي د انتیتیزې په څېر وپیژندل شي. خو انتیتېزې هڅېږي هم چې د منځپانګېز مخامخوالي او تولې غونډالې له مخې هم

اکسیمورون ځان د دوه ویونو په مخامخوالي رابندوي

د اکسیومورون له پاره بیلګې

پیداښتي ده، چې یو ستیلمواد د بیلګو له لارې ښخ روښانه کیدی شي، نو له دې امله غواړو، یو څو بیلګو له اکسیومورون او کونترادکڅیو ادکتیو څخه په کیله کړو.

اکسومورا له ژبې او تولې ورځی

لږ ډېر دی

دې ډکیا زه غریب کړم

بیړه له تلوار سره

غمګین خوښ



Adjektive

لاتین مانا یې: ورزیات شوی) خوي ویونه: دوي روښانه کوي، چې یو شی یا یو څه یا کسان... څنګه جوړ دي. دا د څنګه وي په نامه هم یادیږي، ځکه چې دوي پوښتي چې یو شی څنګه جوړ دی.

په ادیکتو کې کونترادیکڅیو د اکسیومورون یو ځانګړی حالت

Contradictio in adiecto als Sonderform des

Oxymorons

(c) ketabton.com: The Digital Library

زګیرویز درد

ګرده څلوری( مربع)

تور شیدې

ګونګه چغه

تیاره وه، سپوږمۍ ځلیده

په شنوواورو وربېدوني ډهلیز( دهلیز، چې شنې واورې پرې شوې وي)

کله چې موټر لګه) برېښنا تیز)

ورو په ګوډ (کونج دننه وي) راتاو شو

دننه ولاړ کسان ناست وو

پټه خوله(غلی) په خبرو کې ژور
یادونه: په نوکانو کې لیکنې زما یعنې د ژباړې دي

دا شعر کیدی شي د ۱۸۵۰ ز ک وي او په ډېر اختمال د ساکسو له وګړ غږ. له دې سره ډېر اکسیومورا جوړیدی شي، د کومو سره چې بیتونه یانیمبیتې هکپکوونکې اغیز ښندي.

. ۳۲۰ و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... .

## سیستم څه شی دئ؟

اجازه دې وي،چې دا یو وی یعنې سیستم، چې ټولپوهیدونی دئ، خو بیا هم له تاسو سره کډ روښانه کړم. دې ته له دې امله راوهڅیدم، چې وګورو، دوي یا دا پرمختللې نړۍ هر یو وی- چې فکرکیږي، دا خوروښانه دئ- څومره څېړي او روښانوي.

**سیستم** ( زوړ یونانې وی σύστημα sýstēma د ډېرو یوګونو برخو څخه یوځای اینوولشوی ټول) په ټولیزه توګه رابندوړ پیداښتې یا هنري ،، جوړښت،، په نخښه کوي یا په ګوته کوي، چې له بیلابیلو برخو څخه جوړ دئ، کوم چې د ټاکلو منظمو اړیکو په بنسټ یو له بل سره د ګډ ټول په څیر راوړلکیدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې وی یا کلیمې یووالیز پیژند نه شته، ځکه چې د هر مسلک له مخې څخه یې پیژند ورکول توپیر لري. په دې پسې نو دا مخ ته تللې غونډاله د یوه خوراغتې کډ پروېشوني یا - ونوالي په موخه یو ذهنیت دی. د یوګونو پارامترونو لاندې روښانه ونه کیدونکې ده.

- فضایی یا / او د یوه سیستم وختیزې پولې کیدی شي د هغه تنیزوالي یا د ټاکلو توانونو له لارې فزیکي روښانه کړای شي یا تشریح کړای شي( ریښتوني/مادي/ ټاکلي سیستمونه) – یا سوچه اندیز یا فکري جوړشوي، موخه-چوپړیز ( د موخې په چوپړ کې) پیداښت یا طبیعت وي( ادیال یا خیالي/ نه مادي/ نظري سیستمونه).

پیداښتي – یا طبیعي سیستمونه:

ټول پیداښتي سیستمونه په ریښتوني پیښشوي یا منځ ته راغلي (ریل یا واقعي) سیستمونه دي، چې د موخه-ورې له انساپیداکوني anthropogenenاغیزې پرته منځ ته راغلي او ځان پخپله ساتونکی یا خپلځانساتونکي دي.( بیلګه: Quantensystem, Atom, Molekül, Lebendes System

(Zelle, Organsystem, Psyche, Ökosystem, Planetensystem ,

جوړ(مصنوعي) یا هنري سیستمونه:

مصنوعي یا هنري سیستمونه هغه دي، چې د انسانانو له خوا په کې فکر شوی او جوړ

. و پښتو ته ناسم راناسب شوي... ۳۲۱ .

شوي وي. دا کیدی شي مادي یا نامادي پیداښت وي، خو زیات وخت دواړه سره یوځای

کوي. د دې په منځ کې سړی (ریښتوني) تخنیکي سیستمونه ( بیلګې: کارالات، ماشینونه، شمیرونی( کمپیوتر)) سوسیال یا ټولنیز سیستمونه ( سوسیال ګروپونه، کورنۍ، نژاد، ټولنې، عقیدوي ټولنې) او سوسیالتخنیکي سیستمونه ( بیلګې: معلوماتي سیستمونه، انترنت یا نړیوال جال).

یو ګډوله له پیدښتي او هنري یا مصنوعي ریښتوني سیستمونو بیوتخنیکي سیستمونه ( بیلګې: مالساتنه او مالروزنه، پاکی جوړښتونه( کانالیزایشن)، مصنوعي زړونه) او سوسیال ایکولوژي سیستومونه انځوروي (بیلګې: کلتوري کرنیزي ځمکې، ساتنچاپیریالونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

-- مادي سیستمونه هر یو یې د خپل ډول له مخې د هغه د چاپیریال په ښکاره - ، بند – او رابند سیستمونو وېشل شوي. سیستمتیوري د ښستېتوپیر لرونکو سیستمونو جوړښتډول او خوزښت یې د څېړنې لاندې نیسي.

نامادي یا ناشییز سیستمونه ځانله او ځانله مصنوعي جوړشوي، فکري سیستمونه دي، چې بې له انسانه ،، ټیله شوي،، له لارې کوم دینامیک نه راپیداکوي او شتون یې د مادي سیستمونو په واک کې دی(بېلګې: د کلمو سیستمونه، کواوردیناتسیستم، د اکسیومونو سیستم، مودلې او تیوري).\

د یوه سیستم جوړښتتوټې( توکي، برخې) داسې ټاکلکیږي، چې یو له بل بیلابېلې یا رابندې، بېلابېلې دندې یا پوښتنې په سیستم کې پوره کړي. په ختّه کې هر په خوښه ریښتونی( ستورو، ونو، غړو، جوړښتبرخو) یا فکر پرې شووالات ( غږونه، نخښې، زېږندې، سیمبولونه) د یوه سیستم برخه کیدی شي.

یو سیستم کړی شي برخسیستمونه ولري او هم پخپله د یوه پراخ سیستم(<u>Supersystem</u>) برخسیستم وي.

## د شننیزې دکشنري(ویکتاب یا ویلیکلی) لیکل

ما دا څه موده د مخه خبر ولوسته، چې د پښتو یوې شنیزه ډکشنري د لیکلو له پاره

.          و  پښتو ته ناسم رانناسب شوي...          ۳۲۲          .

چمتووالی نیول کیږي، نو ومې پتیله، چې د دې ډکشتري د لیکلو په اړه زما وړاندیز د ګرانو لوستونکواو لیکونکوسره اود ډکشنري د لیکلومسئولو سره کډ کړم.

ګورو، چې زموږ نړۍ اود نړۍ ژبو ډېر پرمخ تګ کړی او موږ له دې امله د هر څه د ښه، پوهنیزه لیکلو له پاره د نړۍ ژبوته پوره اړتیا لرو، نو دا اړتیا هم باید د نوروژبود ودې په مرسته پوره کړو.

د ټولو له مخه ( دامې ناسم لیکلی، سم یې: له ټولو ( څخه ) د مخه دئ) مې وړاندیزونه په لاندې توګه په لنډو ټکو ستاسو مخ ته ږدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی: هر هغه کسان چې د ډکشنري ليکلوکې مرسته کوي او يا دا دنده ورسپارل کيږي، لږ تر لږه بايد د پښتو او دري د ښه پوهيدلوپه څنګ کې - چې دا خو قانوني امردئ - په انګريزي پوره واک ولري.

دويم : د هرې ريښې پوه کسان بايد ورته ګومارل شويوي.

دا له دې امله، چې څنې ويونه په بيلابيلو پهنو کې راځي، چې اړونده ترې پوهيدنه ور څخه لاس ته راوړو.

دريم: د انګريزي ژبې د يوې بنسټيزه شننيزه ډکشنری ټاکل:

زموږ ډېرو پښتنو پوهانو بيلابيلې، د بيلابيلو ژبو او په بيلابيلو ريښو کې ډکشنرئ ليکلي، د هغو څخه ګڼه پورته کول اړيين دي، خود ډکشنرئ ليکل بايد پوره وي او هغه داسې کيدی شي، چې د انګريزي ژبې يوه بنسټيزه شننيزه ډکشنری وټاکل شي او هغه د هر مسلک له پوهانو څخه په پښتو انډول وژباړل شي، چې يوائې يې بيا د پښتو الف بې په ترتيب سم کړي.

څلورم: د ښوونځي د نصاب اود پوهنتون د هر مسلک پوهان بايد داسې ونډه په کې ولري، چې د خپلې ريښې د هغه درسي کتابونو په درس کې د خوندي ويونو شننيزه ډکشنري يې بايد ترتيب او ليکلي وي.

.　　　و　پښتو ته ناسم رانناسب شوي...　　　　　　　　　　　　　　٣٢٣　　　　.

دا په دې مانا – لکه څنګه په نوره نړئ کې – د افغانستان کتابونو کې هم د کتاب په پای کې دا لوستلې پوهنيزې کليمې يا ويونه د مخښوونې سره - چې دا وی په کوم مخ کې دی-ليکل شوي وي.

پنځم: يوه ډله(کميته) بايد ټاکلشوې وي،چې دا ټولې شننې ورته راځي،هغوي يې،ګوري ترتيبوي اوبيا په ډکشنري کې هغه خپل ځای ورته د پښتو الف، ب په ترتيب ټاکي.

شپږم: هر هغه پوهنيز وی، چې په څو ريښو کې راغلی وي، بايد ورسره وليکل شي، چې دا په ...کې داسې مانا لري او...کې داسې.

# کچه

(c) ketabton.com: The Digital Library

--- ټوليزې ستونځې: د موږ ستونځې په هره ريښه کښې شته دی. که د موږ ژبپوهانو داسې فزيکي پوهې لرودی او يا له دباندې لور څخه د ژبنی ستونځو سره د نرو ريښو له لار څخ مرسته کېدی شوی، نو دا ستنځې بيا هم نه شوې کېدی..........

---موږ په ژبه کښې وييونه کاروو او د هغې ځای، چې چېرته ليکل کيږي لکه مختړي، ورستړي، پسې تړي او داسې نور -تړي، دا هېڅ نه وايي تر هغې پورې، چې و پوهېږو او پېژند يې ورکړو، نو بيا به و پوهېږو، چې موږ د څه سره مخ يو او و به پوهېږو، چې موږ له څه څخه تېيرېدلی شو او نه.

---ما چې څه ليکلي، د هر څه پېژند مې ژبلاريز سم ورکړی، د هغه څه پوهېدنه يا هغه څه چې پوهېدنه يې ور څخه پوهېدل کېدی شي. دا د دې کچې لپاره هم غوره دی، چې ژبپوهان او ژورناستان يې ډېر کاروي بې له دې څخه چې په پوهېدنه يې وپوهېږي.

پېژند: کچول په دې پوهېدنه، چې يوه ټاکلې لويه( اوږدوالي، وزن او نور) ټاکي، دا په دې پوهېدنه چې له کچولو سره يې هغه څومره والی کچوي، چې نوم يې کچونه ده، خو که وايو، چې پر کچه باندې څومره دی، نو موخه ور څخه هغه څومره والی دی، چې د کچولو له لارې څخه ټاکل شوی دی.

دا کچه ډېره بې مسؤليته او د څو کلونو را په دې خوا ورځنۍ شوې.

او په ډېره بخښنه، چې دې ،،کچې،، مو ژبه ډېره زورولې.

ګرانو ژبپوهانو!



کچول: دا يو کړنويی دی، چې تنونه، اوږدوالي او.... ورباندی کچول کيږي، چې څومره-والی يې روښانه شي او بيا يې څومره والی روښانه کيږي، چې وايو دا په کچه دومره دی. نو کچه د يو څه څومره-والی روښانه کول دي او بس.

د يوه پوهنيز پېژند لپاره بايد همدومره يا دې پېژند بسيا کړې وی، خو دا چې دا کچه د هرڅه لپاره راځي، نو سړی اړکيږي:

کچه يې څومره ده؟ کچه يې درې متره ده. ليدوړ شيان پر کچه باندې کيږي يا ښهيې ليدوړ شيان کچول کيږي، لکه فزيکي لويي او بس.

که زړه مو نه وو، نو د کچې لپاره د لاندې و څه کتلو ته اړتيا نه شته.

کچه – لکه نور وييونه هم- يو روښانه پېژند لري ( لکه دا پورته) او يواځې همهغسې کارول کيږي او بس، نو که څوک يې بل ډول کاروي، دا کس نو بيا په دواړو نه پوهېږي او يا يې بايد اونده پېژند روښانه ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو د سم لیکنو مسؤلیت د تاسو ګرانو ژبپوهانو په غاړه دی. که ما څه ناسم لیکلي، نو هم مسؤلیت یې د تاسو په غاړه دی، چې راته سم یې کړې او که چېرې مو سم لیکلي وي، نو هیله ده هه و ما ته په ګوته کړی. زه هر ډول ګوتنیونې ته په درنه سترګه ګورم.

ما تاسو د داسې ډېرو لیکنو سره مخامخ کړی یاستئ او سترې کړي، خو هیله ده، چې ځان ورڅخه، و ما ته د ښوونو له لارې څخه خپلواک کړی او نه دا چې دا یو لیونی دی او یا یې ریښه نه ده، نو بې ارزښته دې وي. په پوهنه کښې د یو بل چا و سم اند ته سم ویل د ځان جګ ښوول دي.

په پوهنه کښې -داسې هم کېدی او داسې هم- نه شته.

په پوهنه کښې یا داسې دی یا کېدی شي او یا داسې او بس.

--- دا لیکنه تر هغه وخته پورې سمه ده، تر څو یې چې چا ناسمون نه وي ښوولی.

دې لیکنې ته مې پام شو چې ومې لوستل:

په ننګرهار کې د کابل په کچه روغتون جوړ شو.

موږ په ژبه کې چې څه په خپله خوښه لیکو، بې له دې چې په هغه وپوهیږو، ناسم راځي. د بیلګې په توګه دا کچه د موږ په ژبه کې د داسې څه لپاره زموږ د لیکلوست خاوندانو له خوا څخه کارول کیږي، چې هغه یې د پوهیدنې اوبنستیزې پوهېدنې سره هیڅ اړوندوالی یا سر و کار نه لري

کچه څه ته وایي اوموږ دا څنګه، ولې او د څه لپاره څنګه ناسمه کاروو؟

په لاندې کې یوڅو بیلګې راوړو او وبه ګورو، چې دا کچه څنګه او د څه لپاره کارول



شوي دي.

لولو:

یو پیل یادنه: دې ته هم فکر وي، چې دا څه موږ اوس ګوته ورته ونیوله یا نیسو، بې له ژبپوهنې هم پوهېدلکېدی شی، داسې چې سم امدیز پام ورته وشي، چې دا څه څنګه داسې دي.

الف : ،، په جلالاباد کې د کابل په کچه روغتون جوړشو،،.

دلته به څه شی د کچولو وي؟

که موخه ور څخه معیار یا ستاندارد یا سویه وی، و دا باید همداسې ولیکل شي، چې په پښتو ژبه کښې یې انډول نه شته او همدا ورته باید وویل شي.

ب : ،، سږ کال د ټول هواد په کچه د مالي ستونزو له امله ۲۲۰ کارخونې تړل شوې دي،،.

پ : ،، ننګرهار کې د درې ولایتونوپه کچه د ړندو تر منځ د کرکټ پنځوس اوریزه سیالي پیل شوه،،.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ت : ،، ولسمشر غني د سيمې په کچه د ترکمنستان...،،

ټ : ـــــ کله کله لولو، چې: ،،...په ډېره کچه...،،...

ث: :.... ،، د سيمې په کچه مرکز جوړ کړي،،.

ج : ـــــ افغان نوولس کلنو د اسيا په کچه د کرکټ تاريخي اتلولي وګټله،،.

چ : د هېواد په کچه،....،،

ح : ،،افغان حکومت په ځايي کچه سولې ته د طالبانو هڅول غواړي،،.

خ : چې کله ژبه رسمي او ملي کچې ته له ولسي کچې نه لوړيږي.

ګرانولوستونکو! تاسوپه دې باوروکړي، چې دا پورته ټولې غونډلې ناسمې دي او هيڅ ترې نه پوهيدل کيږي.

داسې به نه وايو، چې دلته به له کچې موخه دا يا هغه وي.

د ليکونکي موخه خو به څه وي، خو موخه چې پر هرډول باندې وي، ناسم ده.

که ورته زير شو، نو ځنې ځايونوکې ،،کچه،، زموږ په ادبياتوکې د ستاندرد( معيار)، سطحې(هوارې)، سويې، ليول لپاره کارول کيږي او له ځنو خوهيڅ نه پوهيدل کيږي.

. و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۳۲۶ .

موږبه الف : ته پام وکړو ،، په جلالاباد کې د کابل په کچه روعتون جوړشو،،.

که ووايو، چې ( په ډېره بخښنه): ،، په جلالاباد کې د کابل په ،،درچه،، روعتون جوړشو،،.

يا يو بل څه

نوپه دواړو او په بل څه کې به هم موږ په همغه موخه وپوهيږو، لکه پورته مو چې ګوته ورته ونيوله يعني ستاندارد يا معيار.

دا هر څه به روښانوو اوبيا به دې ناسمون ته ګوته نيسو:

لومړی دا څه څيړو، د څه له پاره چې ،، کچه،، کارول کيږي.

د ،،کچې،، پيژند د ټولو، چې له پاره يې کاروو په پای کې راوړم.

څه پيژندونه راوړو:

لومړی: ستاندارد يا معيار:

يو ستاندارد **Standard** يو پرتليز ډوله يوونيز يا يوونيز شوی يا ښهيې يووالېز ، لا نور هم پيژندل شوی او زيات کارول شوی( يا لږ تر لږه هڅيدنی وړ) رقم او ډول دی، چې يو څه جوړ کړي يا يو څه منځ ته راوړي، کوم چې د نورو رقمونو او ډولونو په مخامخ٠مقابل) بريالی شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډ: دجوړښتونو په پرتله کې دجورښت بریالي ډوله جوړښت ،،ستاندارد یا معیار،، دی

بیا: دا که کورونه وي یا ماشین الات، د جوړونې له پاره یې ډېر مسلکي کسان وړاندیزونه کوي اودا وړاندیزونه بیا سره پرتله کیږي، هریو ډول چې د غوښتونکو کسانو خوښ شو،هغه بیا ستاندارد یا معیار دي، چې دا د جوړېدو څه به بیا په همغه ستاندار یا معیار جوړیږي او نه په هغه کچه.

دویم: نیوو Niveau :

١ – ټاکلې هواره یا کرښه ده، چې د ځمکې د سرهوارې سره غبرګه ځغلي.

پوهیږو، چې دلته سړی سمسمکیوالی سره پرتله کوي او دا هر اړخیز. دلته د نیوو په ځای هواره یا سطحه یا level راوړل شوې.

٢ – Niveau : یوه ټاکلې پوړۍ ده، کومه چې له مخه ورکړشوې سکالا باندې شتون لرې او له هغې سره سړی یو څوک یا شي ارزوي. که څوک د زده کړې یا پوهې له مخې یوبل سره پرتله کوي، نو دلته سړی وایي، چې دا په یوه یا برابره سویه دي. روغتون یا بل څه چې سره پرتله کیږي هم سویه ویلی شو یا وایو.



،، هغه رښتیا سویه لري،، د روزنې درجه

—— که ووایو، چې د المان درسي سویه لوړه ده، دا پېهدې پوهېدنه چې د درس د زدهکړې تان یې ډېر دی، د دې لپاره داسې ټاکلی د کچونې او کچولو څه نه شته، نو له دې امله به سویه ناسمه په پښتو په کچه بېرته نه ورکوو.

١ – ته د ځان له پاره جګ ستاندارد یا معیار ټاکې، چې ته اوس سملاسې درس ویلو ته د تلو هیله لرې.

دریم: نورم Norm :

نورم: ټولیز منل شوې نه لیکلې لار یا قانون دی، چې باید د هغې پسې سم لاړ شی یا سړی ځان د هغې پسې چمتو کړي.

،، نورمونه کره کړی یا نورمونه کیږدی،،.

دا یا هغه چې ټولیز ورځنی(مروج) یا پیژندل شوی وي.

،، د هغې لویه د نورم څخه قوي تغیر ده.،،

زیات وخت چې ډېر مخ ته لرو.

د انسانانو د ګډ ژوند له پاره ټولیز پیژندل شوې، منلې باوري لار"ethische Normen" یا اخلاقي نورمونه دي.

دا په تخنیک کې تخنیکي نورمونه شته اوداسې نور.

څلورم: سطحه ( هواره) Ebene:

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو څه د يو بل څه سره په برابر جګوالي. دا د ارزښت له پاره کارول کيږي. دا هم د ليول له پاره کارول کيږي.

اوس راځو کچوني يا کچې يا کچولو ته:

کچول نو څه ته وايي؟

اوس د کچې پيژند ورکوو اودا پورته پيژندونه هم په پام کې نيسو، چې څنګه اوولې يې لپاره کچه کاروو.

پيژند: کچول دې ته وايي، چې د کچونې فزيکي لويه (اوږدوالی، دروندوالی،مهال) د يوه کره ټاکلي کچيوون يا کچ يووالي ( متر، کيلوګران، ساعت) سره پرتله شي.

د بيلګې په توګه يوتوکر په کچه کوو. يوه بورۍ غنم په کچه کوو.

له يوځای څخه وبل ځای ته د تګ وخت څومره-والی په کچه کوو

. و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۳۲۸ .

**اوبس همدومره او نه وراخوا.**

بيا

د يوې لويې د پيدا کولولپاره دالويه بايد په اړونده کچووني يا کچ الي سره په کچه شي. د بيلګي په توګه د يوه واټن څرګندول يا معلومول په متر يا ... کچولو سره روښانه کيږي. که دوه اوږدوالي سره پرتله کوو، نو وايو، دا يو د دې بل څخه په کچه ستردی. دلته نو په کچه ستردی.

يعني کچه، کچونه اويا...د يوې لويې د څومره ولي د روښانولو لپاره اويا د دوه همهغو لو يو له بل سره پرتله کونولپاره هم بايد دا لويې په کچه شي.

د هغو څه له پاره، چې څومره والی نه څرګندوي اود يوبل څه او موخې له پاره کارول کيږي د کچې کارونه ناسمه ده.

که داسې لږنور څه په ورزيات کړو، نوزيان خو نه لري.

نوڅه په کچه کوو؟ موږ چې څه په کچه کوو، هغه فزيکي لويې دي.

( فزيکي) لويې څه شی دی؟

موږ په ورځنې ژوند کې تل يا زيات وخت د دروندوالي، اوږدوالي اومهال سره سر اوکارلرو.

دا لويې دي.

دا چې دا لويې څومره لويې دي، د کچيونونو سره يې کچوو يا پرتله کوو.

کړنه: د يوې لويې کچه-ونه، چې له دې لارې يې څومره والی ځان ته روښانه کوو.

يوون يا يووالی : دا بايد د يوه څه سره پرتله شي، چې دې پرتله ونو څه ته يونونه ( يووالي) وايو. ناسم عربي يې واحدونه، چې واحد يوه ته وايي( عربي کې ورته وحدهٔ ( ه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په سر يې ټکي وي،نه شم ليکلی) وايې ، چې انګرېزي او الماني يې unit
Einheit , دي، چې د يوې الې له لارې کيدی شي اودا الې کچوون الې يا د کچونې الې
بولو يعني هغه الې چې کچول پرې کيږي اودا يوونونو ته، چې د کچولو له پاره يې کاروو.
کچون يوونونه يا کچون يووالي ( کچه -وون-يووالي ) وايو.

په پيل کې مې چې کومې غونډالې راوړې، بيايې راوړم او داسې لنده شننه يې:

الف : ،، په جلالاباد کې د کابل په کچه روغتون جوړشو،،.

دا ،، کچه،، په پورته کې د معيار يا سويې لپاره کارول شوې.

ب: ،،سړ کال د ټول هواد په کچه د مالي ستونزوله امله ۲۲۰ کارخونې تړل شوې دي،،



،، شږ کال د ټول هيواد په کچه،، څه پوهيدنه نه لري يا څه نه شته.

پ : ،، ننګرهار کې د درې ولايتونوپه کچه د ړندو تر منځ د کرکټ پنځوس اوريزه سيالي
پيل شوه،،.

،،ننګرهار د درې ولايتونوپه کچه،، څه شی نه شته

ت : ،، ولسمشر غني د سيمې په کچه د ترکمنستان...،،

،، د سيمې په کچه،، څه شی نه شته

ټ : ـــ- کله کله لولو، چې: ،،...په ډېره کچه...،،...

،، ... په ډېره کچه..،، څه شی نه شته. د سيمې په سويه به څه وي

ث: :.... ،، د سيمې په کچه مرکز جوړ کړي،،.

،، د سيمې په کچه،، څه شی نه شته.

ج : ـــ- افغان نوولس کلنو د اسيا په کچه د کرکټ تاريخي اتلولي وګټله،،.

،، د اسيا په کچه،، مې ګومانده، چې د اسيا د سويې له امله کارول شوی وي،خوبيا هم
ناسم دی.

ح : ،،افغان حکومت په ځايي کچه سولې ته د طالبانو هڅول غواړي،،.

،، په ځايي کچه،، څه شی نه شته.

په پای کې زما هيله اود ليکنې بخښنه يې راته وکړئ:

۱ – چې څه ليکو ،بايد پرې پوه وو.

۲ – په څه باندې يا د څه په هکله چې څه ليکو، بايد پرې پوه وو.

۳ – د بلې ژبې نوم يا بل کوم ،، ويي،، لپاره پښتو چې پيدا کوو – پرته له اندول ويي - ،
ترې تيرشو. ومو ليدل، چې دا مود ناسمونو سره مخامخ کوي.

او که بيا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ – څه لیکو نو په دواړو ژبو باید وپوهیږو اووګورو، چې دا یې نږدې انډول کیدی شي، اوکه نه؟

۵ – که غواړو، چې د پردي ،، ویي ،، لپاره پښتو ولیکو، نو موږدا د همدې پیداښته زده کړې او راسره ژبې څخه باید راونیسو، نو باید وګورو، چې دا ولې انډول دی اود څه لپاره کارول کیږي؟

۶ – بیا مې هم هیله ده ، چې هغه د باندني وییونه، چې پرې نه پوهیږو، همهغسې یې

. و پښتو ته ناسم رانناسب شوي... ۳۳۰ .

ولیکو، پښتوورته پیدا نه کړو، ځکه چې هر کار د هر چا نه وي اونه یې وبولو، که دا ډېر یا لږ پوه وي.

د نا سمون لپاره ستاسو مرستې، کوتنیونو او وړاندیزونو په هیله.

خبرې له خبرورا وځي اوپه خبروسمیږي. هیله ده، چې خبرې په وکړو.

پای یادونه: موږ چې یوه لویه په کچه کوو، نو د هغې لویې شومره والی روښانه کوو یا څرګندوو.

پای یادونه: دا کچه، چې له کله څخه داسې ډېره ناسمه ورځنۍ کیږي، په یاد لرم، چې له نږدې ۲۰۰۰ ز ک څخه را پر دې خوا باندې رامنځ ته شوې، نو به هم بیا وایو، چې دا خو اوس داسې ده، نو همداسې دېوي.د موږ و ژبې ته چې پوهنیز څه شوي، نو هغه به له دې اخرنیو اتیا کلونو څخه را پردې خوا باندې وي، ځکه چې ژبه مو په همدې کلونو کښې و ښوونیز ډګر ته را دانګلي دي.

# څه ور زیاتونه

دا هم څه تکرار دی، خو زه نه شم کولی، چې و تاسو ته دا وړاندې نه کړم، ځکه چې و ما ته ګټور برېښي.

یو څو پېژندونه

د مورفېم داسې یو پېژند تر اوسه پورې په پښتو کښې نه دې ور کړ شوی او سمه پوهېدنه یې په پام کښې نه ده نیول شوې:

مورفېم: مورفېم د یوې ژبې خورا کوچنی پوهېدنوړونکی یووالی دی، یو ژبنیز جوړښتتیګه، چې هغه، بې له دې څخه چې خپله پوهېدنه له لاس څخه ورکړي، نور نه شي ټوټه کېدی، لکه د بېلګې په توګه[ کور]، [سور]، ( هوښیارتیا)[-تیا]، یا لکه خپلواک وییونه کور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورفېمونه د مورفولوژۍ، چې د ژبې برخه ده او د ژبې جوړښت څېړي، بنسټونه دي.

نخښې او بېلګې



کوچنی پوهېدنوړنکی یووالی: یو مور فېم یوه پوهنېدنه وړي یا ژبلاریزه ده.

وییونه داسې له مورفېمونو څخه جوړ دي، لکه خښتی، چې یو پر بل باندې اېښول کیږي.

سیلبې: سیلبې دې له مورفېمونو سره نه بدلیږي، سېلبې د غږونو یا وییونو یوه ډېرۍ (سټ) ده، چې هرو مرو دې کومه پوهېدنه و نه لري، په داسې حال کښې، چې مورفېمونه تل یوه پوهېدنه یا یوه ژبلاریزه دنده لري.

د مورفېم ډولونه:

ازاد مورفېمونه (لکسېکي مورفېمون): کېدی شي یواځې وي او یو خپلواک وی جوړوي.

بېلګه: ( کور)، (لور)، (سر).

تړلي مورفېمونه( ژبلاریز مورفېمونه): ځانله ځای نه شي نیولی او باید په نورو مورفېمونو پسې وتړل شي. دا پوهېدنه یا ژبلاریزه دنده بدلوي.

پرېفېکس: دا په پښتو کښې نه شته

سفېکس، پسې تړلي یا پوهېدنغزووني: دا هم د مورفېمونو ډله ده، چې دا د یوه بنسټ وي پوهېدنه غزوي، نو له دې امله پوهېدنغزووني لکه: زړه-ور یا زړه-ورتی دوه پوهېدنغزوني هم پرلپسې راتللی شي

مورفېم یو ژبنیز کوچنی ژبنی یووالی دی، چې یو پېژندوړ پوهېدنه لري یا ژبلاریزه دنده.

لکه به اړیکتینګوونوکو کښې: د ، له، په، پر،و، تر.

د پښتو دوه اړیکنیوونکي یا اړیکتینګووني یا کازوس څنګه روښانه کوې؟

دوه اړیکتینګوونکي یا رېکتوس یا خوزند او اوبلیکوس یا نه خوزند بللکیږی یا نومیږي. کړونی او نه کړوني.

د دوی اړې دنده په دې کښې پرته ده، چې د عوندالې په دننه کښې اړیکي روښانه کړي. دا داسې کیږي، چې ته نومویېونه د اړیکوي ( دمخه مې اړیکنیوونکی یا څنګه-والي یا حالت د هغه هر یوه اړیکنیوونکی یا څنګه-والي لیکلی وو، خو اوس -ومو ولیدل-، چې دا اړیکنیووني څنګه-والي اړیکوییونه دي) سره سم کړې.

---د موږ د لیکوالانو ستونځې تولې یا هغه ډېرې یې: موږ په پوهېږو، چې پست پوزېشنونه نه لوېږي یا مدغم کیږي، ځکه دوی په کازوس کښې هغه غوره دنده لري، چې پرته له دې څخه کازوس خپله پوهنه له لاس څخه رکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

--- لیکي: ،، ... د دې ولایت په ختیځه برخه کې تر میلاد مخکې دورې نوي لرغوني اثار



موندل شوي دي.،، .

دلته هغه د خبرو یې ،، تر میلاد مخکې دورې،، ده. دا نه پښتو ده او نه ځه وایي او سم اندیزه ژبلاریزه نه ده. دلته ،، تر،، بوهېدنوړونکی مورفیم دی، چې و ،،میلاد(نوم) ته د نه کړوني پوهېدنه وړي او په داتیو یا د اړیکوییونو اړیکټینګوني کښې راځي. له ،،تر،، سره تل یو اړیکوی وي او هغه اړیکووی یوالځې ،،پورې،، دی راځي او بس. د دې پوهېدنه نو له ،،پورې،، سره نه سمیږي ،،مخکې،، ژبلاریز ځه نه وایي – په خبرو کښې یې له مخې ځخه پوهیږو- او موخه یا ژبلاریز یې ،، د مخه،،، چې د خاوندوالي اړیکټینګوونی دی، ده. په دې به ډېر ځان نه ستړی کوو، خو سمه غوندله یې داسې ده:

له میلاد ځخه د مخه دورې . او که غواړئ داسې هم سمه ده:

----- تر میلاد د مخه دورې پورې اړوند...

# لږ نوره ورزیاتونه:

په هره پوهنه کښې د هر پوهنیز ځه روښانه پېژندونه ډېر اړیین دي، چې له مخې یې هغه ځه پوره روښانه کېدی او پوهېدل کېدی شي.

بېلګه:

پوستپوزیشن یا پسځاینیوي دنده لري، چې د شیانو او کسانو په منځ کښې ځایېږې او وختیزي اړیکي په نخښه کړي یا دا اړیکي نیول روښانه کړي دا و مو له دې امله اړیکوییونه بولو یا دي. دوی خپله بڼه نه بدلوي او په ټوله کښې د نومویيونو پسې لیکل کیږي یا پسځاینیوی یا اړیکوییونه دي.

که موږ پوهېدلي وو، نو دا به ونه وایو، چې دا نه لیکل کیږي یا له لیکلو ځخه لویږي، ځکه چې دوي اړیکوییونه دي.

موږ د ژبپوهانو په لیکنه کښې داسې پېژندونه خورا کم ګورو یا نه ګورو، چې د همدا ډول وییونو پېژند او ژبلاریزه دنده یې سمه یا پوره ورکړ شوې وي.

بیا وایم، چې ژبه هم له ځان ځخه غورځنګي نومونه نه شي زغملی. سم پېژندونه او دندې یې باید روښانه وي.

بیا ناسمونونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لولم:،، له تر ټولو ستري ننګونې سره مخ دي،،

يو څوک له يو څه سره مخ کيږي. دا اړيکوی دی.

،،تر ټولو ستري ننګونې،، نه پوهيږم، څه به وي. دلته دا ننګونه هم د ګواښ لپاره يو غورځنګي انډول دی، چې سم يې داسې ليکو:

،، په ټوله کښې د ستر ګواښ،،، نو سم يې ليکو:

،،په ټوله کښې د ستر ګواښ سره مخ دی،،.

ځنې تخنيکي نمونه نه غورځنګي خو موه-ور به وليکو:

بيلګه: ټرل، ټرونی، برېښناټرونی ټرون وي و داسې نور.....

برېښنا ټروني يا برېښنا ټرن -اله.

دا ولې اړيين دي؟

ګرځنی، لنډ ګرځنی اونور

ټوټه: په بيلابيلو پوهنو کې او همداسې ځمککچپوهنه کې

ټوټه-ووني:

نيمی، چې ګردۍ نيمه وي يا د دايرې قطر

اوځنې نور

ژبه خو همداده، چې لرو يې. دې روځنی ژبه باندې، چې يو له بل سره خبرې پرې کوو، اړکيږو، چې همدا د ژبې ويونه په پوهنوکې هم وکاروو، موږ د هغوشيانولپاره نورنومونه يا ويونه نه پيداکوو، نو له دې امله هرو مرو به يو نوم په مختلفو پوهنوکې په ورته موخه کاروو، لکه:

په الماني ژبه کې بدن جوړښت يا اناتومي کې زېښې Sehne د غړي يا عضلې اوهډوکي منځ کې ټروني، ښلووني اوکه غواړۍ بيلووني ته وايي اوپه هندسه کې هغه کرښه ده، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګردی څخه يوه ټوټه بيلوي، چې موړ تر اوسه پورې ،،وتر،، بللی، چې په پېژند يې پوهېږو، خو اوس يې له پېژند څخه پوهېږو چې پښتو انډول يې ټوټه-ونې دی يا بلل کيږي، ځکه چې له ګردی څخه يوه ټوټه بېلوي.

همداسې بله بيلګه: موړ: په ورځنی ژبه کې، چې څوک نوره مړی نه شي خوړلی، نو موړ يې موړ بولو او همداسې ګومان مې دی کيميا کې موړ ( تراوسه مشبوع) هغه اوبی بلل کيږي، چې نور څه په ځان کې نه شي اوبی کولی دا په دې پوهېدنه چې مړيږي. نوله دې امله وايو،چې دا اوبی موړ شو (تراوسه: دا محلول مشبوع شو).

ځنو(که ځينو؟) ويونو ته بايد هکپک نه شو، چې لرو يې اوکاروو يې نه، چې له دې امله راته هکپک کوونکي، په د پوهېدنه،چې نابلده دي . محلول چې موړ يې زيات وخت حل بولو، په پښتوکې اوبی دی.

دا زموږخوښه نه ده او نه غوښتنه، دا پيداېښتي همداسې دی.

ډېره هڅه بايد وشي، چې يو کره پيژندل شوی نوم يا وی د يوه بل کره پيژندل شوي وي پر ځای باندې – چې ناسم دی – و نه کاروو.

بيلګه: د شيانو يو ټولګي د يوه ګډ خوي سره، چې هغه خوي بهيدل دي اوله دې امله به بهيدونکي بلل کيږي، په پوره ناسم ډول اوبلن وبولو.

همداسې سلمه په شنه زور سلنه نه کړو.

پښتو او هره پوهنه:

کسان چې بايد يوه وتلې ژبه يې زده ی او د هغې له مخې دا وييونه هم شني. دلته دا کس بايد په دواړو ژبوپوره واک لري.

ته په ژبه کښې يا هره پوهنه کښې هغه وخت يو څه زده کوې، چې کله ور سره مخامخ شي، د بېلګې په توګه: دا تکيه اړ يا لويز نومځاينيوي را، در، ور، چې په څه ډوله کارول کيږي:

لومړی: د کړنوييونو د مخه لوريز لکه: زه رااخلم، زه راځم، زه درځم، زه ورځم...



ديم: له اړيکوييونو څخه د مخه، چې دلته يې هغه دنده بنه روښانه کيږي: (را، در، ور) ( څخه، سره، باندې، پورې....).

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دا د ځانیزو نومځاینیوو سره ګډ وښایو یا پر تله باندې کړو، نو وبه لرو:

له هغه څخه ( سره، کره، پسې)

په هغه کښې= ور کښې

تر هغه پورې= ور پورې

پر هغه باندې = ور باندې

پر هغه پورې( چې یو ور پورې نښتي وي)= وهغه پورې

و هغه ته=ور ته

بیا: د دې ټولو ځانیز نومځاینیو کارونو ته موږ د تکیه اړ نومځای نیو سره لرو:

(را، در، ور)( څخه، سره، کره، پسې، باندې، پورې او ... ) لرو.

ګوره دا څومره پېچلې ده، خو دا چې ژبه مود، پوهوږ ده او پیداېښت همداسې راکړلشوې ده.

،،ور مخکې،، څه شی نه شته: دا هم دا وروسته له ژبپوهانو یا له ژورنالستانو څخه و منځ ته راغلې لیکنې دي. د دې موخه ،،له دې څخه د مخه،، ده

Partikel یا ټوټه-ګی: دا هم نه ښه بدلیري او دا چې دا د غونډلې غړی نه دی، نو سړی ورڅخه تېرېدلی شي، لکه: مګر، سوچ-بوچ، بېخي، خو، نو،،،،،،،،،

هغه څه غونډلغړي دي، له هغې څخه تېرېدنه نه شته.

ته په ژبه کښې هغه وخت یو څه زده کوې، چې کله ور سره مخامخ شې، د بېلګې په توګه: دا تکیه اړ یا لویز نومځاینیوي را، در، ور، چې په دې ډوله کارول کیږي:

لومړی: د کړنوییونو د مخه لوریز لکه: زه رااخلم، زه راځم، زه درځم، زه ورځم...



دویم: په اړیکټنیګوونو کښې له اړیکوییونو څخه د مخه، چې دلته یې هغه دنده ښه روښانه کیږي: (را، در، ور)( څخه، سره، باندې، پورې....)، چې اندول یې له ځانیز نومځای نیوو سره په اړیکټینګوونو کښې دی: له هغ څخه(سره، کره، پسې)، په هغه کښې او نور....

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکي:

غورځنګي ليکل:،، افغانانو ته د ناقانونه کار ترسراوي له امله محکمه کېږي،،

دا ،، تر سراوي،، د ژبې تخريب دی او لنډ به وګورو، چې دا به هم ورځنی شوی وي.

سم ليکل يې: افغانان د ناقانونه کار کولو له امله محکمه کېږي.يا

افغانان د نا قانونه کار د سره کولو له امله....

روايت  د پوښتنې لاندې راولي.

دلته د کاز راول:........... اړين راته برېښی

اړيکوييونه ولې؟

دا اړيکوييونه د غونډالي له يوې برخې څخه  د غونډالي له بلې برخې سره اړيکي نيسي

اړيکټينګوني؟ ولې؟

دا ځکه اړيکټينګوونه دي، چې د پوهېدنوړوني اړيکي  ټينګوي د اړيکوييونو يا پسېځاينيوو په مرسته د غونډلو له نورو برخو سره.

بېلګه: موږ تر تا پورې په لسو دقيقو کې راورسېدو:

په پورته کښې،،موږ،، نوموېی دی، ،،تر،، پوهدنوړونکی مورفيم، چې د ،، تا،، دنده له کړوني څخو نه کړوني   و،،تر تا،، ته ، چې نه کړونی دی وړي او د ،،پورې،، آړيکوي، چې بيا ،، و تر تا پورې،، اړيتينګووني  پر  مرسته باندې  ،،په لسو دقېقو کې،، ، چې دا هم اړيتيګوونی دی د ،را ورسېدو،، سره ټينګوي.



د ما ګرانو د م ک ملګرو! هغه کسان چې پوهنيزې ليکنې ليکي. يوه هيله او  هيله ده، چې د مشورې په څېر يې و منی.

يو پوهنيز څه چې ليکو، نو هغه بايد په پوهنيزه ښوونو روښانه وي، دا په دې پوهېدنه، چې بايد ښوولشوې يا له ځان څخه روښان وي.

 که ولرو: له ما لاړ، نو د موږ ډېر ژبپوهان فکر کوي، دا خو له ما څخه دی او له ،، څخه ،،  څخه تېرېدلی خو يا دا له ليکلو څخه لوېدلی شي. دا کار ځکه نه شي کېدی، چې دا ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه،، اړيکووی دی او هغه د هغه ليکلي ترې پوهېدلي څه پوهنه بېرته نه شي ورکولی.
له ما (ځخه، سره ، کره، پسې) لاړ. دا يې بل ناسمون، کوم غورزېږي او همداسې بيا ليکي، چې دا کېدی شي وليکو: له ما لاړ، له ما نه لاړ او يا ما ځخه لاړ او دا ټول ناسم نه شو ګڼلی ،ځکه چې دا ګړدودونه دي ناسم به ورته نه وايم، خو دا معياري ژبلاريز نه دي.

--- که و چا ته يو څه سم نه برېښي، نو د هغې ناسموالی بايد بيا پوهنيز روښانه کړي او دا ونه ليکي، چې دا ناسم دی او بس. هغه ليکونکی حق لري، چې په خپل ناسمون وپوهولی شي، که دا هر څه وي، و ژبې ته يې زيان، د نړۍ د ژبو سره پرتلييز ناسمون، د ژبې بډايېنې ته يې زيان رسېدل او.. او...

--- هره کوتنيونه بايد روښانه او روښانه وښول شي.

--- هره ليکنه تر هغې وخت پورې سمه ده، چې ناسمون يې پوهنيز نه وي ښوول شوی. دا ليکنه دې و چا ته مخامخ نه وي.

لنډ: هر څوک چې هر څه ليکي، هغه بايد پوهنيز وي او همداسې يې ګوتنيونه او دا بايد پوهنيز روښانه شوي وي.

ارماني حالت (Optative)

دا هم نسبي خبره ده، په ټولو فعلونو کې نه تطبيقېږي، ځينې فعلونه په ټولو حالتونو کې په همغه لنډه بڼه راځي.

دا قاعده د فعلونو رېښو او مهالونو ته په پام بدلېږي. پۀ ناتېرمهال کې ډېر فعلونه بې الف ليکل کېږي او پۀ تېرمهال کې پۀ الف ليکل کېږي.



په دواړو بڼو ليکل کېږي او دواړه بڼې يې سمې دي.

ــــ داسې هم ليکل کيږي، راځي دا له ليکنې ځخه لرې کړو. پښتو هم يوه پوهنه او پيداښتي پوهنه او ژبلاريزه سمه بېرته ورکولکېدی شي، چې موږ هم بايد خپلې ليکنې همداسې لوريزې کړو.

ليکي: پۀ پښتو کې د «وتونېېر» يا منشايي حالت لپاره د «لۀ» سربل سره ځلور « ځخه، نه، ځنې، ه» وستربلونه ټول د يوۀ حالت لپاره کارېږي.
له کور ځخه/ځنې/ نه/ ه راغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکو: دا کاز یا کاسوس دی، چې ما هم حالت لیکی وو، خو دا کازوس په پښتو اندول یا یې پوهېدنه او یا بلل له دې امله اړیکتېنګوونی دی، چې له دې سره یې هغه د نهپوهېدلو ستونځې له منځه څخه لرې کېږي. که و لیکو چې: زه له هغه سره ځم. نو دې له هغه سره د زه او ځم په منځ کښې اړیکه ټینګه کړه.

ګوری چې وخت کم دی، بخښنه دې وي، چې ستړي کوم مو.

بیا: د اړیکوییونو روښانه-ونه د پوښتننومځاینیو څوک، چا، څه سره. موږ به دلته د څه چې د شیانو لپاره پوښتننومځاینیوی دی، دلته د لنډونې له امله کار واخلو.

د کړنوویيونو سره چې پرېکړونی لري، لومړی کړونی، پسې وربانديې کړنه یا پرېکړونی او بیا کړنه راځي.

۱ - خوزنده اړیکتېنګووني یا کازوس:

۱۱ – د هغه کړنوي سره، چې یواځې کړونی لري: زه ځم، ته ځې

۲ ۱– د هغه کړنویی سره، چې وربانديې کړنی (پرېکړونی؟) هم ولري.

لکه:زه تا وهم، ما ته ووهلې.

په پورته کښې ما کړونی دی.

۲ - نه خوزنده اړیکتېنګووني:



۱ ۲– د خاوندوالي اړیکتېنګووني:

۲ ۲- داړیکوییونو اړیکتېنګوونی: لکه له ما(تا، هغه، هغې) څخه(سره، کره، پسې). او همداسې نور.

دلته په نه کړونو کښې ګورو چې کړنویی نه شته، نو ما، تا، هغه د کړونو دنده نه شي اخستلی.

دلته نو څه شوي دي:

دلته د خاوندوالي مورفېم ،،د،، د ما، تا ... پوهېدنه بدله کړې او دا نه کړوني شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا اړیکتینګوني به اوس د پوښتنوییونو سره راوړو: په پښتو کښې موږ دوه اړیکتینګوني لرو:

۱ – خوزنده اړیکتینګوني

۱۱ – څوک ځي، څوک لاړ

۱۲ – چا څوک وواهه

۲ – نه خوزنده اړیکتینګوني

۲۱ – د خاوندوالي اړیکتنیګوونی:د چا کور

۲۲ – د اړیکوییونو- یا داتیو اړیکتینګوني: له چا سره(څخه، کره، پسې) همداسې پر چا باندې او نور.

په پورته ۱ او ۲ کښې ګورو، چې چا کړونی دی او دلته په ۲ کښې چا کړنوییونه نه شته، نو باید د ،، چا،، پوهېدنه هم له دې امله بدله شي، چې دا د پوهېدنې بدلون یا دنده یې د مورفېمونو د، له، په، پر، تر،و، پر غاړه باندې ده.

بیا دا د پسېځاینیو اړیکتینګونی:
بیا:



۱ - له یو څه یا چا څخه(سره،کره، پسې) لاړم.

۲ – په یو څه یا چا کښې پروت دی.

۳ – پر یو څه یا چا باندې پروت دی.

۳ – پر یو څه یا چا پورې نښتي.

۴ – تر یو څه یا چا پورې رسیږي.

۵ – و یو څه یا چا ته ورکول کیږي

په پورته غونډلوکښې دا سره اړیکتینګوني دي او بل ډول راوړل یې ناسم دي، دا په دې پوهېدنه چې د هر پوهېدنوړونکي فونېم سره یې اړونده اړیکوی یا اړیکوییونه راځي او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينې هم د هر اړيکووي يا اړيکوييونو سره همهغه اړوند پوهېدنوړونکی مورفېم راځي، دا چې هر چېرته هم وي.
--- د غونډلو پوره ليکل: په ژبه کښې کوم وی يا وييونه له ليکلو څخه نه شي لرې کېدلی يا له ليکلو څخه نه لوېږي يا که غوای حذف کيږي.

--- د مورږ ژبپوهانو په هېڅ يوه ليکنه کښې د کارول شوو وييونو يا وييونتوتو ژبنيزه دنده نه ده ليکلې.

---مورږ وايو مختړي، وروستړي او ... يا پرېپوزېشن، پوستپوزېشن، برېفېکس، سفېکس او نور خو د دوی ژبلاريزه دنده يې نه ده ليکلې يا نه ور باندې پوهېدل او دا هم په ليکلو کښې نه شته، کوم مورږ پهپښتو ژبهکښې نه لرو، چې دا نو مورږ د پوره ستونځو سره مخامخ کوي.

د ما په ليکلو کښې دا ټول د پېژند او ژبلاريزې دندې سره ليکل شوي ا چې کوم لرو او نه لرو هم ژبلاريز روښانه دي.

--- پر يو څه باندې نه پوهېدل پروا نه لري، خو يو څه د نه پوهېدلو له امله ناسم ليکل و ژبې يا هرې پوهنې ته زيانمن کار دی.

ناسم څه چې ورځني شوې وي، دا سمول يې هم يوه دنده ده، چې بايد دا ورځني څه سم او



دا نا سمه ده يا پوهنيزه نه ده، چې اوس ورسره بلديو.

دا نا سمون په ژبه کښې هم زيانمن دی، نو بياو بيا يې راوړل هم راته اړيين برېښي.

يو ناسمون ساده دی، خو هغه بېرته سمول بيا ډېر ستونځمن کار دی.

په ژبه کښې مو دې پايراوړنه کښې هم ناسمونو ته پام رااړوم. ډېر زورېدونکي دي:

٠-،،کچه،، ډېره ناسمه او بې رحمه کارل کيږي. د دې په پېژند بايد پوه وو، چې دا کچه يواځې د فزيکي لويو اوږدوالي، درونوالي، وخت او.... لپاره کارول کيږي او بس.

١ – ،،اوبلن،، د بهېدونکو لپاره ناسم دی. اوبل د $2H_2O$ هغه حالت دی، چې د سخت او بهېدونکي حالت په منځ کښې حالت دی.

٢- سلنه هم خورا ناسمه ده. هر څه چې بې لارې شي هغه ناسم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- تر ټولو ډېر څه نه شته. دا ،په ټوله کښې،، دی.

۴-،، تر ډېره برېده،، موخه-ور څه نه شته: برېد يو ګڼ دی او ډېر د ډېر ګڼ لپاره راځي او دا غونډله هم نه ده، ځکه چې،، پورې،، ورسره نه شته. دا ،،تر ډېرو برېدونو پورې،، بايد وي يا ،، تر يوه برېده پورې،،.

۵— په پښتو ژبه کښې له څه بيا له اړيکوييونو( پوستپوزېشن) څخه تېرېدل نه شته اودا غونډله هم نا سمه کوي.

۶ – د اړيکټينګوونو ستونځې، چې هلته مو غونډلې بې موخې کارول کيږي:

--- د پوهنې ټولپوهنيز اغيز، چې نه وي، پرمخ باندې تګ نه شته.

لرو: ،، تر دې وړاندې،،. دا هم په همدې ډول د ژبې څه نه وايي، نو د دې ښاغلي يا ښاغلو موخه به څه وي او څه به ولې نسم وي؟ دا پورته يوه غونډالبرخه ده، چې په ژبلار کښې پوره نا سمه ده، خو په خبرو کښې پوهوړ ځکه ده، چې د يوه انسان په فکر کښې دا څه شيان راګرځي، چې ګوندې دا ،، تر دې وړاندې،، به ،، د يو څه څخه د مخه وي،،، چې موخه بايد همدا وي. د ،، تر،، پسې،چې نوموړی راځي، نو په هغه پسې بايد



اړيکوی ،، پورې،، راشي، نو دا وړاندې څه شی دی؟

د ليکونکي مخه: له دې څخه د مخه. دلته د مخه وختواټن دی او دا وړاندې ځايواټن دی.

دا هم و ژبې ته په لنډ وخت کښې غورځنګي ور ننوتی دی

ډېر دروند استاد سلامونه! زه ګوره د تاسو غوندې و ځوانانو پوهانو ته ډېر درناوی لرم او نه غواړم، چې زړه بدې يې کړم، نو له دې امله له دې لار څخه دا ليکنه درلېږم.

پوښتنه به داسې وکړو، چې:

ژړېدای سم دی، که ژړېدی يا دواړه؟

په پوهنه کښې يو سم يا ښه يې، معياري وي او بس. په درې ډوله سمېدل يا سمېدنه يې نه شته. په پوهنه کښې سم او ناسم يا معياري او نا معياري شته او بس.

راځی، چې د دوی کړلوييونه يا کړنوييونه (افعال) وګورو، چې څه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ. کړنويی يا کړلويې لرو: ژړېدل، چې کړنه يې ژړېدنه ده او د يو چا هيله به وي، چې ژړېدی يا نه ژړېدی. نو ژړېدای نه شته يامعياري نه ده، ځکه چې د دې غوښتنې يا ژړېدای کړلوی نه شته. ما تل و دې ته ګوته نيولې وي، چې له يو څه څخه پوهېدل او سم ليکل توپير لري.

موږ. چې هر څه ليکو، نو د هغې د ليکلو و ولې؟ ته مو بايد پام وي، چې هغه روښانه ورکړشوی وي او يا روښانه ور څخه څه پوهېدلکېدی شي.

ژبپوهنه يوه پداېښتي پوهنه ده

که د ما له ليکنو څخه، په هر لامل، چې وي، بخښنه دې راته وکړي. په پوهنه کښې بايد يو له بل سره مرسته و او د چا ليکنه چې د سمن وي بايد مرسته ورسره وکړو، چې د يوې سمې ليکنې په لور مو کوم پل پورته کړی وي، دا د پوهنې سره مرسته او د ژبې سره.

---د ما ځنې لوستونکي ليکي، چې ليکنې مې په مروجه(موخه ترې دا له نورو ژبو څخه رانيولې وييونه دي) ژبه و ليکم، خويوي دې و دې ته پاموکړي، چې دوي په دې ورځنۍ



يا د پردۍ ژبې په ور څخه پوهنه کښې څومره ناسمونونه کاروي. دوی هِه حه ناسم، چې پر پښتو باندې ناسم ليکي، هغه خو دوي او د دوي ملګري ليکي، هغه دې سم وي.

په ژبه کښې ناسم راننوتي وييونه شته، چې هغه د نه پوهېدنې له امله دي، چې دا ليکونکي يې غواړي، دا پر پښتو باندې ليکلي وي، خو داسې نه ده. که د ما په ژبه کښې چا ناسم څه ليده، خو د هغې مسؤليت د ما پر غاړه باندې دی.

دا چې پر ،،صفت،، ويي باندې نه پوهيږي، ستاييننوم ورته ليکي او پر دې باندې نه پوهيږي. چې په پښتو کښې ستاييننوم نه شته او هغه خويوييونه دي.

ورځنۍ شوی بايد په دې پوهېدنه نه وي، چې ګوندې دا دې همداسې ناسم يا لرلی پاتې شي.

**لنډه پايليکنه.**

**دا داسې لږ د خبرو څه څېړو، چې غوره-والی يې خورا ستر دی.**

د پښتو ژبې معياري ليکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ډېره بریده: پر دې باندې مې د مخه لیکلي وو، چې دا ډېر برید نه شته، خو ډېر برېدونه شته، پوهنیز لامل مې نه وو راوړی، چې دا کار به اوس وکړم. په هغه وخت کښې یې لکه په دې لامل نه پوهېدلم او که؟

موږ دوه ژبپوهنیز وییونه لرو: نوموییونه او خوېوییونه، چې سره نږدې دي، توپیر یې باید وشي او له هغې توپیر څخه و پېژندل شي، چې هغه توپیېر یې داسې دی: که په ډېر، خوراډېر او زښتډېر سره جګېده، خو خویویی دی او که نه جګېده، نو بیا نوموی دی. برید(پوله) نوم دی نو ډېر برید نه شته، خو ډېر برېدونه شته. دلته دا ډېر خویویی دی او تر ډېرو،خورا ډېر،...بریدو پورې یې دا د خوي ډېر جګوالی دی او بریدونه یې ډېرګې دی، چې هغه برید یې یوګې وو.

موږ چې څه هم لیکو، نو هغه زپوهنیزه دنده یې باید وپېژنو. تر اوسه پورې د پښو کتبونو کښې ما آن چې د پوهنیزو وییونو پوهنیزې دندې نه دي لېدالي، چې روښانه شوي وي. موږ دا پسې تړلي مخ تړلی او.... لرو، خو دا مو نه دې ویلي، چې د دوي هغه ژبلاریزه



دندهڅه شی دی؟ که داسې نه وي، نو بیا څه ور څخه پوهېدنه نه لري یا ورڅخه یا له ې څخه بیا څه و پوهېږو؟

نو دا تر ډېره برېده پورې څه نه شته.

هداسې ،، تر ټولو ډېر،، هم څه نه شته

نن د ۲۰۲۶ ز ک د جنوري ۱۷-م

د لا نورو روښانونو لپاره مې و دې لاندې ته پام شو: زه په فارسي، الماني او پښتو کازوس، کېز - یا نه پوهېږم، چې د موږ ژبپوهان څه ورته وایي، پېر که حالت، خو زه به یې هغه د دندې له مخې څخه - چې د پښتو انډول اړیکتېنګوونی وبولم، یو له بل سره پر تله باندې کړو:

کاسوس یا اړیکتېینګوونی په فارسي ژبلار باندې نه پوهېږم. زه به وهڅېږم، چې فارسي، الماني او پښو سره پر تله باندې کړم، خو په فارسي ژبلار باندې نه پوهېږم، پردې باندې به هم ځان د المان او پښتو ژبلار پر مرسته باندې و پوهوم:

کاسوس له پیل څخه پیلوو.

لومړی: خوزند

لومړی ۱ :

فارسي: <u>من</u> مېروم (؟)

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماني: Ich gehe نومیناتیو، چې پښتو یې نه لري.

پښتو : **زه** ځم. ۱۱ – خوزند اړیکتینګوونی، چې کړن- یا کړنوی یی یواځې کړونی لري.

لومړی ۲:

فارسي: **من** تو را میزنم. من تو را زدم. پر ګرامري نوم باندې یې نه پوهېږم

الماني: **Ich habe** dich geschlagen. **Ich** schlage dich اکوزاتیو

د پښتو د ځانګړنو له امله مو پام وي، چې اکوزاتیو پښتو نه لري.

پښتو: **زه تا** وهم. ۱۲ – خوزند اړیکتینګوونی، چې کړنوی یې د کړوني سره پرېکړونی هم لري.



پښتو: **ما ته** ووهلې. د ،، زه،، پر ځای باندې د تېر وخت لپاره ،، ما،، راځي.

دویم ۱

فارسي: خانه **من**. د خاوندوالي اړیکتینګوونی به ور ځخه و پوهېږو.

الماني: Mein Haus جېنیتیو یا د خاودوالي ړیکتینګوونی

پښتو: **د ما** کور. د خاوندوالي اړیکتینګوونی. ۲۱ نه خوزنده اړیکتینګوونی.

دا لاندې نه پوهېږم، پر فارسي باندې څه دي، خو الماني یې داتیو دي

فارسي: برای من

الماني: Für mich جېنیتیو

پښتو: د ما لپاره

فارسي: به من، از من، تا من، در من، بر من

په فارسي کښې دا به،از، تا، در، پرېپوزېشنونه یا دمخه اړیکوییونه دي

الماني:Mit mir, von mir, bis mir,in mir…..

پښتو: له ما سره. له ما ځخه،تر ما پورې، په ما کښې، پر ما باندې،....

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو کښې سره، څخه، پورې، کښې پسې اړیکوییونه دي، چې زه یې یواځې اړیکویونه بولم، ځکه چې پښتو پرېپوزشن نه لري.

یادونه: من را( مرا؟). دلته ګورو، چې په من را کې دا ،،را،، پوستپوزېشن دی، چې په فارسي به دا ،،من را،، کوم اړیکټینګوونی وي، خو په الماني ښې داتیو اړیکټینګوونی دی او پښتو کښې هم ،، و ما ته،، هغه دویم ۲ اړیکټینګوونی دی.

یادونه: دا په پښتو کښې همداسې کارول کیږي او نه بل ډول.

## د پښتو استاد له یوه کاب څخه:

څه ورزیاتونه... ۳۴۶

دا لاندې، چې لیکلشوي، ناسم دي یا ښه یې ژبلاریز نه دي، چې زه به یې په پښتو ژبلار سم ولیکم.

دا د پورته لیکنې سره انډول دي.

،، وییناموڅري ( اداتي ضمیرونه):

لیکي:

،،چې له (اداتو) په بله وینا له سربلونو په تېره اوستربلونو منځته راځي او د اړونده اداتو له چار او دندې سره سم د نومځري ځای نیسي:،،

– د پورته خوندیوني سم- یا معیاري لیکل: چې له (اداتو) څخه یا پر بله وینا باندې: له سربلونو په تېره اوستربلونو څخه و منځ ته راځي او د اړونده اداتو له چار او دندې سره سم د نومځري ځای نیسي.

– داسې څه سوچ بوچ نه شته.

لولم: ،، ۱) پکې ( در ان-ها) : چې د (ورکې) همچاري په توګه دریم( یو ګړی یا ډېرګړی ښخینه یا نرینه) به ناوړېدونی ډول په تون پیر کې ښیی. لکه باغ وای د ګلونو(پکې) ناست وای زه او ته.

لیکي: (۱) پکې(دران-ها)

روښانونه: ۱ - که دا پورته یو د بل انډول وي، خو نا سمه ده ، ځکه چې په پښتو کښې ،،پکې،، څه نه شته، نو دا به ،، په یو څه یا یو چا کښې،، وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ – په فارسي کښې ،، در ان،، دوه وييونه دي، ،،در،، ، چې الماني يې in او پښتو پوهېدنه يې ،، کښې يا کې ،، ده او ،، ان ،، نومځاينيوی دی، چې الماني يېihm دی چې د er بنه بدلون يا ګردان ،، رېفلېکشن،، دی او په پښتو کښې ،، په هغه،، دی. پوهېږو، چې ،، په،، پوهېدنوړوکی مورفېم دی، چې د ،، هغه ،،، چې کړونی دی پوهېدنه و نه کړوني ته وړي.

(۲) پسې(بسوی او-ايشان) : پسې اړيکوی دی او په اړيکتيېنګووني کښې داسې دی:



له ما پسې.

او د فارسي اندول يې: د هغه پر لور باندې. ګوری ژبلاريز توپير، چې دا په پښتو کښې پر يوه اړيکتيېنګوونې باندې نه ليکلکيږي يا نه شی ليکلکېدی.

(۳) باندې( ورباندې). دا ،،باندې،، هم اړيوکويی دی، چې هغه اړيکتيېنګوونی يې داسې دی: پر هغه باندې يا ور باندې.

دا ور باندې اينکليتيکي يا مخ تکيه اړ نومځاينيوي دی.

(۴) پرې(بران-بارنها...) ، دا هم ،، ورباندې،،. پرې يو کليوالي ګړدود دی، خو هغه موخه ورڅخه پر يو څه باندې دی.

،،بر ان،، ،، بر،، مخځاينيوی يا مخ اړيکوی دی، چې پښتو اندول يې پسې اړيکوی باندې دی او ،،ان،، دريمګړی کس دی،چې پر پښتو باندې يې داسې ليکو: پر هغه باندې.

(۵) پې (به ان): د لته ،، پې،، کليوالي ګړدود دی، له فارسي څخه به يې داسې و پوهېږو يا داسې پوهېږو: ،،به،، مخاړيکويی دی او پښتو اندول يې پسځاينيوی ،،ته،، دی او د ،، ان،، لپاره به ،،و هغه،، وليکو، چې ،، و هغه ته،، شي. ،، و ،، پوهېدنوړونکی مورفېم دی، لکه دا نور پر، په، تر...

( ۶ ) ترې ( از ان، از انها...). د موږ ژبپوهان د ترې د ترنه ، چې سم اومعياريې ،،ور څخه يا له هغه څخه،، دی. ازان دوه وييونه دي، چې ،،از،، يو مخ اړيکويی او ،،ان،، دريم کس دی، نو د ازان پوهېدنه يې له دې څخه يا ور څخه ده. ترې يو کليوالي ويېنه ده او معياري ژبلاريزه نه ه.

(۷) ځنې. پر دې باندې څه نه ليکم، دلته دې همهغه څه چې ليکل شوي يا ور څخه يا ورځنې، چې د ويلو ځ نه لري او د ژبلار سره سو او کار نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۸) له (را – در- ور) پلوي نومځري. هغه څه چې دلته ليکلکيږي په سم او ناسم يې څه نه ليکم، خو ،، له،، پوهېدنوړونکی مورفېم دی، له نوم پسې يې اړيکوييونه څخه، سره، کره، پسې راځي او داسې به اړيکتينګووني له دې څخه جوړ وليکو: له هغه سره(څڅه، کره، پسې). دا تکيه اړ نومځای نيوي يې ورسره ليکلي، چې د ځانيز نومځاينيوو له ليکلو څخه



و ژغورل شي.

يادونه: پښتانه ژبپوهان، چې غواړي، خپلې خبرې يا ليکنې باوري کړي، نو بيا دا وروسته يا د مخه په فارسي ليکي او دا سم خکه نه راځي، چې فارسي او پښتو په يوه ژبدله کښې نه دي او ژبلار يې سره پوره توپير لري.

# د وييونو لېست

دلته يواځې هغه وييونه له تاسو سره ګډوم، چې د کتاب ( ليکلي) په دننه يا خونديونه کښې روښانه شوي دي، د دې به د ځنو يواځې هغه نوم راوړم او ځنې يې ښايي روښانه شوې هم وي يا له پوره پېژند سره راړل شوې وي:

کړنوی (فعل Verb ،بوختوالي وی ( لاتينverbum temporale، مهالوی يا وخت اړوند وی)

مرستندوي کړنويونه Hilfsverben

ناتوانه کړنويونه:

توانمند يا غښتلي کړنويونه :

نالاريز ( نا منظم يا بې قاعدې يا بېلاريز) کړنويونه

۱ – کړ که کړنه يا بوختتياوييونه يا وختييونه(بوختوالی)؟

نوم Name

نومونه

Nomen / Substantive

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومونه، شینومونه یا نومویونه..

یو ګڼ، ډېرګڼ: ناسم یې یوګړی، ډېرګړی. لرګی(یوګڼ)، لرګي(ډېرګڼ)

. ۳۴۹ د وییونو لېست... .

نومځاینیوي Pronomen ( یاهم: لپاره ویونه):

ځانیز نومځاینیوي:لکه، ما، تا....

د نومځاینیوو ډولونه:

د الماني لاندې پرونومونه یا نومځاینیوي په انډول پښتو څېرو:

ځانیز (شخصي) نومځاینیوي Personalpronomen

خاوندوالي - یا څښتنوالي نومځاینیوي Possessivpronomen

راګرځېدونې نومځاینیوي Reflexivpronomen

لکه: زه ځان مینځم.

نسبتي - پښتو انډول یې و ... ته نومځای نیوي Relativpronomen

له نسبتي نومځاینیوو ( هغه، دا، کوم،...) سره موږ نسبتي غونډالې په ګوته کوو.

پوښتنوییزیز- یا پوښتنیز نومځاینیوي Interrogativpronomen

پام را – یا ور ګرځوني نومځاینیوي Demonstrativpronomen

ناټاکلي نومځاینیوي Indefinit Pronomen

خوي ویي ( یوګڼ) (ډېر ګڼ یې: - وییونهAdjektivیا ورزیات شوی)

ستاینوم یې ناسم دی، دا په پښتو کښې نه شته. له دې سره د یو چا یا یو شي د هغه د خوی ستاینه یا غندنه کیږي.

،، تر تولو ډېر،،: څه نه شته، دا ،،په ټوله کښې،، دی.

د خویوییونو ډولونه

-- د ادجکتیو یا خویویونو کارونه:

موټر ګړندی ځغلي. ( یېډل (د شته والي) په څېر پوره کونه، کېدل، پاتېدل(prädikativ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

.....



ګړندی موټر. ( نوم /شینوم ته ورزیاتېدل(attributiv).

ګړندی ګټي. ( د خپلواک نوم / شینوم په څېر(substantiviert)
د خویوییونو جګېدنه

د ژبنیزوتوکو پېژند:

وېی:

غونډاله یا غونډله :

پارتیکل Partikelوړې ژبنی ټوټې

د نه بڼه بدلېدونکو یا اوښتونو، په بېلابېلو وییډولونو پورې راتړلو شویو د نخښنو ژبنی یووالی دی.

نه ( پڅه ه ) NICHT(NOT) نهء

نه

نه ( د روښانه-ونې ) سره *Nein(no*

برخه – یا ونډه لرنه Partizipation: لکه: به

-- باران به وشي
دا پرېپوزېشنونه یا مخځاینیوي نه دی. مخځاینیوي پښتو نه لری.

۱ ۱.پېژندپیداکونه <u>Definitionsbefund</u>

د ښوونځي دودن Schulduden

ګرامردودن Duden-Grammatik

<u>Satz als Subjekt- und Prädikateinheit</u>

غونډاله د سبجکت- اوپرېدیکات په څېر( دا لړ د فکر ده؟؟؟)

....

(c) ketabton.com: The Digital Library

Satz als Rede- oder Textelement

غونډاله د خبرو- یا لیکنتوکي په څېر

Satz als kommunikative Einheit

غونډاله د خبرو اترو یووالي په څېر

دپېژند پیداکونه:

غونډاله ستر یووالی (واحد ناسم دئ)دئ،چې د سینتاکس له لارې جوړېدی شي،،

ناپوره غونډالې :

بېلابېل تیوپونه یا ډولونه سره توپیریږي:

غونډالماتېدنه یا – پرېکېدنه Anakoluth[on] (= Satzbruch : یوه پیچلې غونډاله دغونډاللړئ او غونډالزیاتونوسره سړی یو غونډالراګرځېدونکې هم بولي.

غونډالترنه

سیندېتیکي: ،،زه راغلم، ما وکتل او زه بریالی شوم،،.

پولیوسیندیتیکي: ،،زه راغلم او ما ولیدل او زه بریالی شوم،،.

اسیندېتیکي: ،،زه راغلم، ما ولیدل، زه بریالی شوم

پیداېښتي ژبه:

ټولیزپېژندیا غونډالجوړښت ښونهSyntax:

دغونډالو جوړښت

ګډوله غونډالې- پیلونه

ګڼیز Numerale دوه ( دوې) لارې، شیرم ټولګی، سلم ځوان یا سلمه برخه یا سلمه نمره یا نهه سلم ( له سلو څخه نهه) او ډېر ناسم یا بېلارې شوی یا بېلارې کړی شوی یې سلن ټولګی، کس...دی. سلن شمېرپوهنیز او ژبپوهنیزسم ناسم دی.

. د وییونو لېست... ۳۵۲ .

_ترنوییونه یا تړوني Konjunktion

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا اړیکوییونه نه دي.
سینتکتیکي(syntaktische په نخښو )

اړیکویونه Relatoren لکه: پرېپوزېشنونه، چې پښتو یې نه لري او پوستپوزېشنونه یا پسېټړلې.

بنسټغونډال – او څنګیزغونډالتړنه

فونېمEin Phonem : له altgriechisch φωνή *phōnḗ*, پښتو: غږیا ګړ

دیوه غږبلډولوالی Allophone

دېستینګېم Distingem :

ګرافېم Graphem:

. فونېم له ګرافېم څخه توپیریږي. ګرافېم د لیکلشوې ژبې خورا کوچنۍ پوهېدنتوپیرېدونکی یووالی دئ

فونېم Phonem

.فونېم د ویونکي – یا ګړ ژبې خورا کوچنۍ ماناتوپیرېدونکي یووالي دئ

فونېتیکPhonetik

)زړه یوناني,φωνητικόςphōnētikósپښتوپوهېدنه یي غږ- یاګړاړوند. ( ,

φωνή*phōnḗ*, پښتوپوهېدنه یې غږ یا ګړ
غږپوهنهDie Phonologie زوړیوناني وی دی,φωνή*phōnḗ*. پښتوغږ,‘
λόγος*lógos*,) فونولوژي یا غږپوهنه )

فونیتیک:

-ویېنډوله یا ویېنډولیز فونیتیک artikulatorische Phonetik,



,akustische Phonetik

غږیزفونیتیک د فونیتیک

physiological Phonetik,- فزیولوژیکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دندې - اړونده – یا دنده-یز- .funktionale Phonetik

phonemicفونېمیک.

مورفېم Morphem

مورفیمونه اوژبسیلبې

،،مورفیم،، له فرانسوي څخه راځي"morphème" ، یوناني "morphe" پښتو ،،
جوړښت، بڼه،،
مورفېم یا جوړښت: ویيونه له مورفېمونو څخه جوړ دي. لکه خاوند له دوه مورفېمونو څخه جوړ دی: خا/وند.

هغه نوموېونه چې له یوه مورفېم څخه جوړ وي، لکه: کټ.

مورفېمونه له څو ډلو جوړ دي: پوهېدنغزووني لکه سفېکسونه. دا د ویيونو پوهېدنه غزوي او پوهېدنوړوني لکه له، په ، پر، تر، ته دا د نوموییونه د مخه راځي او و هغو ته پوهېدنه وړي.

۱ - پوستپوزېشن یا پسېتړلی یا اړیکوییونه.

۲ – پرېپوزېشن: پېژند يې لکه پورته، خو موږ يې په پښتو کښې نه لرو. او

۳ – پوهېدنوړونکي مورفېمونه: لکه په اړیکټینګوونو کښې.

مورفېمونه تړلي او نه تړلي شته.

یا بیا دا لاندې:

هغه مورفېمونه، چې خپلواکه پوهېدنه نه لري او پوهېدنوړونکي وي، لکه: د، له، تر، په،



پر، و. ،،د،، د خاوندوالي اړیکټیګووني مورفېم دی او دا نور د د اتیو مورفمونه دي، چې هر یو يې و ځان ته خپل اړوند اړیکوییونه لري. په ترتیب: د چا لپاره، د چا مخامخ او له چا سره، -- څخه، -- کره، --پسې د ،،له،، لپاره او تریو څه یا چا پورې، په چا کښې، پر چا باندې یا پر چا پورې(-- ختې نښتې دي)، په چا کښې، و چا ته. بله هر ډول راوړنه يې ناسمه ده. د موږ ژبپوان او ټول ژبمینه-ول دلته ډېر ناسمونونه کوي.

نیونه، ښوونه، غوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندنیونه ( preconditio لنډ: نیونه ، فرضیه)

پریمیس Premise وړاندنییونه یا لنډ: نیونه

ایندکشن وړاندنیونه inductionprecondition*Induktionsvoraussetzung*

د ایندکشن ښوونه(theproveofinduction) Induktionsbeweis (د ځانګړو څخه په ټولیزو پایونه)

قضیه یا جمله :

ښوونه:

اکسیوماتیکي axiomatischenښوونه.

شتونښوونه:

غوښتنه (ثبوت)Behauptung

د غوښتنو ډولونه.

غوښتنې د خپلو منځپانګو له لارې په برخو وېشل کیږي ، د بېلګې په توګه:

-- په تجربو ودانه غوښتنه empirische ،

په رښتیا faktische( مثبت) ښوونه

روښانه – hermeneutische



سایکولوژیکي یا د دننه (ځان) کتنې غوښتنې innerpsychischeoder introspektive Behauptungen

(،، زه د غاښ درد لرم،،. ،، ګبینی خوږخوند لري،، ، ،، زه ګورم، چې ترمومتر ۱۰درجې څیلزیوس ښایي،،).

په امریه بڼه، غوښتنې، امر Imperativ

په کې رادننه کونه Implikation

۱- مرستندوی جمله Lemma ( د یوه غوره ښوونه کې مرستندوی جمله)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- د کره کونو یا ور څخه و لاس ته د راوړنو یوځایکول Korollar، چې دا له یوې جملې یا یوه پیژند بې له لویو بوختوالو څخه راکول کیږي. زیات وخت و پای لاس ته راړونی)

۳- n ( سم اندیزې ویناوې) Propositio .

۴ – جمله یا تیوریم Theorem ( پوهنیزه – او بنسټجمله یا سټجمله. Theoremتر اوسه پورې په زیاتو ژبو کې کارولکیږي.

درې Modiمودوله یا وینادولونه شته: ایندیکاتیو، اوایمپیراتیو

ایندیکاتیوIndikativنومینال وینابڼه ده: ته کونیونکتیو ځې، هغه ځي او داسې نور.

**پیژدنه**

د پوهنیز پیژندپوهنې کره کوولو پیژند **Indikativ**

پوهنیزې پیژندپوهنې erkentnisse یو ریښتینی پیژندلشوی ربنتیاوالی انځوروي.

ایمپیراتیو Imperativامربڼه: لاړ شی.

Konjunktivناسیده وینا:

ادورب یا رابندونه Adeverb او ډولونه یې ( گومان مې دی و دې ته موږ قید وایو):



دا وی ادورب په غوندالـه کې یو غونډالغړی دئ او یا یو اتریبوت(ور زیاتونه) لوکال ادورب ( ځای ادورب)

تمپورال ادورب ( د وخت ادورب) Temporaladverb (Adverb der Zeit)

کوزال ادورب ( د لامل ادورب) Kausaladverb (Adverb des Grundes)
مودال ادورب ( د رقم او ډول ادورب)
څه ډول؟ څنګه؟ Modaladverb (Adverb der Art und Weise)
په غونډالتړنو(Parataxe) کښې له دوه سرغونډالو سره.

یو له بل سره لړی کې(kopulativ):

څه پردیکول ( پردي)(disjunktiv):

څه بندول یا رابندول یا کمول :(restriktiv)

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاملول ( لامل راوړل) :(kausal)

وخت ورکول :(temporal)
څه نه کول (نه والی) (negierend)

: شرط ایښول: (konditional)
پر تله باندې کول (komparativ):

:(instrumental) لار ښول (الات ښول)
:(konzessiv) قانع کېدل (منل) یا قانع کول، ښه یې:ورباندې منل :
:(adversativ) څه مخامخ کول:

:proportional) نسبت څرګندونه ( متناسب) یا پرتله باندې کونه یا ورته:

:(modal) یو رقم او ډول څرګندونه یا ښونه
سرغونډالې یا بنسټغونډالې: Hauptsätze
Haupsatz als Aussagesatz:
سرغونډاله د ویناغونډالې په توګه
سر- یا بنسټغونډله د پوښتنغونډالې په توګه Hauptsatz als Fragesatz:
Hauptsatz als Aufforderungssatz:



بنسټغونډاله د امریه غونډالې په څېر

Infinitivsätze ایفینیتیو د کړنوي بنسټېنه یا بللبنه او و هغه ته خپله پوهېدنه ورکوي.

= spätlateinisch (modus) infinitivus نه نږدې ټاکونکی =

Infinitivsätze mit ”Modalverben”
اینفینیتیوغونډالې ،، موډال کړنویونه)

Infinitivsätze mit ”werden اینفیتیو غونډالې له ،، به،، سره

پارتیڅیپ غونډاله

Die Satzreihe غونډاللړی

Der zusammengesetzte Satz یوځایشوې غونډالې

یوه غونډاللړی(Parataxe ) – غونډالترنه هم بلل کیږي- له دوه یا ډېرو برابرارزښته
غونډالو څخه جوړیږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

غونډالزياتونه (Hypotaxe).

څنډ

ګيزغونډالي

شيغ

ونډالي( غړيغونډاله په کړوني حالت
کې)

ادوربال- يا خوی اړونده غونډالي:Adverbialsätze:

اتريبوت- ورزياتونه
اتريبوت خپلواک غونډلغړي نه دي.

اتريبوتغونډالي:Attributsätze:

تړنغونډالي: Konjunktioalsätze

Kausalsatz (Begründungssatz)
کوزالغونډالي (لاملغونډالي)



(شرطی غونډاله)Konditionalsatz
( شرطونه: څنګه والی (؟) (حالت)

(د رقم او ډول غونډاله، Modalsatz (Satz der Art und Weise)
Temporalsatz (Zeitsatz)
(وختغونډاله)

يونوم/شينوم له اتريبوت سره -

زدکونکي زده کوي.

څوک يا څه شی؟(نوميز)

څوک يا څه شی زدکوي؟ زدکونکی زده کوي.
Das Prädikat (Satzaussage)
پرېديکات ( غونډالوينا) ( څه کيږي)
postpositionales Attribut:
يادونه: د لته هم ماپه لومړي سر کې دا د پرېپوزيشن لپاره څېړل وو، خو پښتو پرېپوزېشن نه لري، نو د تېر غونډې به کله د پښتو يو او کله بل حالت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتريبوت: د نږدې ټاکنو لپاره د يوه شي ورزياوتونه

اړيکوييز اتريبوت:

اتريبوت کېدی شي له ډېرو وييونو او له نورو وييونو – د يوه اړيکوي سره پر تړنه باندې- جوړ وي.

بېلګه: زه شمېرونی(کمپيوتر) له اعلاناتو څخه اخلم.

Genitivattribut:
خاوندوالي اتريبوت:

شي يا نوم ته په خاوندوالي ورزياتونه

Partizipپارتيڅيپ:

.



Partizip als Attribut پارتيڅيپ د اتريبوت په توګه

اوس وخت: تلل
زه ځم، موږ ځو،ته ځې، تاسو ځی، هغه ځي

Präteritum oder Imperfekt = 1. Vergangenheit

لومړی تېر وخت:

Perfekt = 2. Vergangenheit ۲ تېر وخت
► Plusquamperfekt = 3. Vergangenheit ۳ تېر وخت
راتلونکی . ► Futur I = 1. Zukunft ۱
راتلونکی . ► Futur II = 2. Zukunft۲

تېر وخت او او ۳ . تېر وخت د مرستندوي کړنويونو ،، لرل،، يا ،، يل(ول)،، سره.

بېلګې: تلل: زه ځم،ته ځې، موږ ځو او.... زه لاړم....

خوړل: زه مڼه خورم ...

کړنغونډاله( کړنبڼه): ملالۍ(سبجکت( کړونې)) وهوګۍ( ابجکت(شی)) ته ډاډ ورکوي (پرېديکات(کړنه)).

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناکړنوی یا کېدنوییونه ( زورېدبنه): هوگۍ(سبجکت(کېدونی)) ډاډمنه کیږي ( د ملالۍ له خوا)

:اکتیوAktiv

:Passiv نه کړونی یا نه کېدونی:

پرېکړونی

سیده شی

مخامخ وی یې ناسیده شی.

ویی پو هېدنه یا لغاتپو هېدنه

.



پېژند/ وییپپوهېدنه( معنی):Wortbedeutung/Definition
ناسیده شی

Der Konjunktiv ترنویي
کونیونکتیو یا کنجنکشن

Der Konjunktiv I

کونیونکتیو ۱ ترنویی ۱

Konjunktiv II (Möglichkeitsform II)

کونیونکتیو ۲ ( شونتیابنه) ترنوییز ۲ :

Konjugation im Konjunktiv I

بدلون په ترنویونو کې 1

Perfekt د تېر وخت کړنبنه او هم پایشوی راتلونکی

Futur I راتلونکی ۱

Futur II راتلونکی ۲

Die direkte Rede سیده ویناوې(؟) یا – خبرې یا گړېدل(؟)

(c) ketabton.com: The Digital Library

Dir indirekten Rede ناسیده خبرې

Interrogativsätze انتروګاتیوغونډالې

انعطاف(اوړېدنه، لور اړوي)

transformiéren/خوزند

بڼه بدلول، اوړېدل، بلډول کول.

<u>غونډالغړي</u>

.

. ۳۶۱ د وییونو لېست... .

وختبنه:

مهالبنيAdpositionenاړیکویونه یا نسبتي ویونه د کسانو، شیانو یا پېښو په منځ کې اړیکې ټاکي. له دې امله اړیکویونه هم بللکیږي.دوی کړی شي کوزال **kausale** ( بنسټ – پرته ، بې، پر ځای)، لوکال **lokale** ( ځای بېلګه: ( کره، باندې )،

تمپوران **temporale** ( وخت-بېلګه: (له) یو څه څخه، شاوخوا، ترڅه پورې) یا مودال **modale** رقم اوډول – بېلګه: پسې پېښه، مننه ( نسبتونه یا اړیکې روښانه کوي.

کوزال) بې له ما څخه، پرته له ما څخه یا له ما څخه پرته، د ما پر ځای باندې)،

ځاییز: (پر یوه بجه باندې، د ۱۱ بجو په شاوخوا کې، پر ۱۱ بجو باندې)، وختیز ـ له ۱۱ بجو څخه

ګڼیز:

ګڼیز ګڼونوییونه دي او ګڼون یا تعداد، درجه یا د ټاکلو شیانوډېرۍ(سټ) دي. داسې په نامه توانګڼونه هم شته( یو، دوه) یا هم څوموالیز ( لومړی، دویم...سلم او نه سلن).
Interjektionenانترجکشنونه(ویین ویونه یا د وییونو ویونه)

ویي جوړونه او وییپوهېدنه

غونډالشننه:

**د ِغونډالغړو ټاکنه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

غونډلغړي څه شی دی؟

توګه ادورب( ویيېول) او ادوربال( غونډالغړي).

سپين: (سبجکت يا؟) نوم

سرته رسوي: پرېديکات(Prädikat غونډلوينا، چې يو شی يا څوک څه کوي او يا له هغه سره څه پېښيږي.

له ښوونځي څخه وروسته: تمپورال ادورب

چټک: مودال ادوربال Modaladverbial



خپل د کور کار: خاوندوالي حالت

چې دخپل ګران ځمري لپاره ډېر وخت ولري: Kausalobjekt

ګران : Attribut

کوم غونډالغړي شته دی ياشتون لري؟

نوم: ځوان بېديږي.

ځانيز نوم: سپين بېديږي.

نومځاينيوي: هغه بېده دی.

نوميز کونه: خرار زوروي.

Transitivität ( له لاتين *trānsitiō* ) ترانزيتيواو اينترانزيتيو

ترانزيتيويتي( له لاتين څخه: اخوا تلل يا پورېوتل، اوښتل)
د دې پښتو انډول: کړنوييونه دي، چې کړونی او ورباندې کړونی يا—کړنه لري.

کړنويوونه، چې کړونی د کړوني پرته پرېکړونی يا ور باندې کړنې هم لري، لکه خوړل: زه مڼه خورم يا زه هغه وهم.

intransitivدا هغه کړنوييونه يا کېدلوييونه دي، چې کړنه يا کېدنه يې کړنوييونه لري يا کېدلوييونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او که غواړی خوزند او ناخوزند. دا مې پخوانی اند وو، خو په دننه کښې دا دواړه خوزند دي، چې دا یو خوزند یې یواځې کړونی لرودی شی او دا بل یې پر کړوني باندې پرته پرېکړونی هم لري.

غورځول او غورځېدل.

**سیمانتیک**SEMANTIK

سیمانتیک په نوې مېډیا کې: غونډالجوړونه



حالتونه، ځنګه والی یا اړیکتینګووني case; Kasus

Suffix پسې تړلی، ښه یې یا دنده یې: پوهېدنغزوونی

په پښتو کښې پرېفېکس نه شته

بېلګې یې:

نومیز کوونکي پسېتړلي: خوښېدل، خوښي، زړور، زړورتیا، کوچنی، کوچنیتوب.

خوییز کېدونکی پسېتړلی: لکه سړیتوب، کوچنیوالی

نرښځینه ټاکونکی پسېتړلي: لکه سړیتوب،غمخور، غمخوره یا ښوونکی، ښوونکې.

پسېتړلي کړی شي له یوه توري هم جوړ وي لکه پورته په ښوونکي او ښوونکې کښې.

لویوالی، هوښیار تیا، کړونکی یا کړېدونکی.

کوچني کونه: مورکی ، خورکی ، کورګړی یا کورګوټی.

پسې ځاینیوي؟( نسبتیویونه یا) و( ته ویونه) یا

پسې ځاینیوي، اړیکویونه یا پوستپوزېشن

<u>حالت، ځنګه-والی یا اړیکتینګونکي څه شی دی؟</u>

یاونه: ورسیلیکنه مې په ۱۴۰-م مخ کښې په بل ډول ده، خو لسوتل دټولو ګټور دي.

لومړی:

کړونی اړیکنیوونکی یا خوزند -، ځنګه-والی یا حالت( لاتین یې Rektusرېکتوس):

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی ۱: د هغه کړنوي سره، چې يوازې کړونی لري. لکه زه کښېنم

لومړی ۲ : د هغه کړنوييونو سره، چې له کړوني څخه پرته پرې- يا وربانديې کړنه هم ولري. لکه زه تا وهم.

دويم:Obliqus



نه کړونی حالت يا اوبليکوس. دا اوس يې نه خوزنده:

دويم ۱ : پرېکړونی څنګه-والی دا مو په دې نوې ليکنه کښې خوزند اړيکتيينګوونی، چې کړنوی يې کړونی او پرېکړونی هم لري.دا مو لومړی ۲ : راوړی.

دويم ۱ : د خاوندوالي حالت ياړ اړيکتيينګووني:

دويم ۳ : دا د الماني و دا تيو حالت ته ورته دی او ما د پسېځاينيوو څنګه-والی يا اړيکتيينګوونی بللی، خو نوم ته يې پام بايد په ګډه وشي:

## دا لاندې په پښتو نومويونو کښې ځانګړي دي:

پروکليتيکي يا پسېتکيه اړ نومځاينيوي: مې، مو، دې، يې

اينکليتيکي – يا مختکيه اړ( و مخ ته تکيه اړ) نومځانيوي: را، در، ور

څنګه-والی يا حالت (case ( Kasus : ښه يې اړيکتيينګوونی.

لومړی پسې تکيه اړ نومځاينيوي. ۱ – کړونی: سپين مې ( مو، دې ، يې) وه واهه. سپين پرېکړونی او مې کړونی دی

لومړی۱۲ – د پرېکړوني حالت: سپين مې (مو، دې، يې) وهي.سپين کړونی، خو مې پرېکړونی دی.
۲ --- نه خوزنده اړيکتيينګوونی

لومړی ۲۲ – خاوندوالي حالت يا اړيکتيينګوونی

سپين مې ( مو، دې، يې) ورور دی.

په اوبليکوس حالت کې: سپين د ما ورور دی. او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پسېځاینیوو سره...

د مخه تکیه اړ نومځاینیوي: را، در، ور

....

. د وییونو لېست... ۳۶۵ .

دویم ۲ – حالت داسې لرو:

را(در، ور) څخه(سره، کره، پسې، کې، باندې، پورې، ته...)

څنګه-والي د پوښتنو په بنسټ

دا چې په لاندې موږ کړنې نه لرو، نو کړوني هم نه لرو. ګورو، چې چا، څوک، څه د کړونو لپاره راځي، نو باید دلته یو څه شوي وي او هغه د دې د مخه یا د دې مخ ته باید مورفېمونه وي، چې د دوي پوهېدنه بدله کړي او دا ،، چا، څه،، د مخه یو مورفېم ورزیات شي، چې نوې پوهېدنه وروړي او ،، له چا،، شي......

موږ دا ،، چا، څوک او څه،، پوښتنومځاینیوي بولو او دا د خوزند نومځاینیوي دی، شه یې خوزند کړننومځاینیو دی، چې کړوني او په همدې وخت کښې ورسر ه پرېکړوني هم دی. ته څوک وهی یا چا ته ووهلې.

د خاندوالي اړیکتینګوونی یا جینیتیو DerGenitiv

DerDativداتیو

داتیو د الماني ژبې دریم حالت دی یا په جمله کې دریم حالت په ګوته کوي. داتیو د ،،و چا ته حالت،، هم بلل کیږي. د مخه مو وویل، چې، چا،څه او څوک، خوزند کړن او پرېکړنوییونه دي، نو د نه کړونو لپاره یې باید ده کړونې او پرېکړونې دنده پدله شي او نه کړوني او پرېکړنو شي. او دا نده یې د د دې اړونده،، د، له، په، تر...،، مورفېمونو سره بدلیږي.

## **اکوزاتیو *Akkusativ* دا حالت په پښتو کښې نه شته.**

یادونه: د دې حالت اړونده حالت لیکنې په نورو حالتونو کښې برېښي.

د حالتونو یاړیکتینګوونو نوی څېړن-پوهه

د تکیه اړ نومځاینیوو په بنسټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ - پسي تکیه-اړ: مې، مو، دې، یې:



۲ ـ د مخه تکیه-اړ: را، در، ور :

پرتله کونه یا سم یې: پرتله باندې کونه، نسبت:

Adjektiv mit Postposition

خویوییونه د پسېځاینیوو سره:

Nomengefüge

و نظم ته راوړل یا سمول:

Das Postpositionalobjekt **اړیکویز شی**

**Bestimmungen** Adverbiale ادوربال ټاکنې( د قید(؟)- رابند-)

**اتریبوت د غوندالغړي برخې په څېر**

اتریبوت خپلواکه غوندالبرخه نه ده. هغه یوې غوندالغړي ته زیاتونه ده او ځانله ځای نه لري. اتریبوت کېدی شي په بېلابېلو بڼو رامنځ ته شي.

**Adjektiv-Attribut** خوییز اتریبوت

**Genitiv-Attribut** خاوندوالي اتریبوت:

موږ په پښتو کې مخځاینیوی نه لرو، نو دا لاندې غوندالې به د څه وي؟ فکر ورته وکړی.

<u>**Präpositionales Attribut** اړیکوییز اتریبوت:</u>

**Apposition**اپیوزېشن : یو ادپوزېشن و یوه نوم ته یوه ورزیاتونه.

Konjunktiv und indirekte Rede ترنوی او ناسیده خبرې (وینا؟)

Ablativusseparativus د بېلېدنې ابلاتیو:

Ablativuscomparationis د پرتله یاندې کونې ابلاتیو.

Ablativuslimitationis د کلیمې د رابندونې ابلاتیو رابېلېدنه د پوښتنې،په کومه اړیکه کې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ablativuslocativus ځایتاکنیز ابلاتیو و پوښتنې ته ،، و چېرته،،؟

Ablativus temporalis #

د مهالټاکنې ابلاتیو و پوښتنې ته ،، کله،،؟ ، د،، د کوم وخت په دننه کې،،؟

Ablativusmensurae

د ډېرئ - یا ست- یا څومره والي ورکړه، و پوښتنې ته ،، پر څو باندې،،؟

Ablativusqualitatis د څنګه والي یا خوي  ابلاتیو.

Indefinitpronomina ((ناټرلی نومځاینیوي)

Indefinitpronomen mit vorangestellten Wörtern

ناټرلي نومځاینیوي د مخ ته  ټرلو وییونو سره:
دا پورته ژبلاریز ناسم لیکل شوی دی. سم یې د لاندې دی.

ناټرلي نومځاینیوي و مخ ته له ټرلو وییونو سره

Vokativ (د غږ کولو حالت( بیا لنډ)

Reziproke مات

Interrogativsatz پوښتنغِونداله

پوښتنغونداله ( Interrogativsatz یا Erotema

.

.

.

.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ډاکتر ماخام مېرې شينواري ليکنې او ژباړې

د ډاکتر ماخان مېرې شينواري چاپ او ناچاپ ليکنې، چې هغه زياته برخه يې له ketabton.com څخه خورې شوې:

:(1988 Vienna (Austria

لومړی:

H.K. Kaiser , M. Shinwari : Aproximation compacttopologicalalgebra : contributions togeneral algebra 6 ; Page 117 – 122

:(1987 Vienna (Austria

دويم:Interpolationund Aproximation durch Polynime in UniversalenAlgebren . Diss . Uni. Wien

لاندې د شميرپوهنې نږدې شل کتابونه په المان کې د ،، افغانستان کلتوري ودې ټولنه،،له خوا چاپ شوي دي، چې زه تل د خوښنې پوروړی يم.
:(2000 Bonn (Germany

دريم: د شميرپوهنې ستر کتاب : د شميرپوهنې برسيره د انجنري، فزيک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زده کوونکو لپاره ( دا کتاب په ۹۰۰ مخونو کې چاپ او دا نوې ليکنه به يې څنو ځايونو غزېدلي او څنې ځايونه ترې لرې شوي دي)
:(2003 Bonn (Germany

څلورم: ځمککچپوهنه( هندسه) ، په سلو، زرو کې شميرنه، د ګټې – او کټې د کټې شميرنه ، د اختمالوالي شمېرنه کتاب د ښوونځي ټولې اړتياوې پوره کوي
:(2003 Bonn (Germany

پنځم: الجبرونه ( د الجبر بنستونه دي) ( ketabton:com ته پورته شوی)
:(2003 Bonn (Germany

شپږم: د شميرپوهنې انګرېزي – پښتو ډکشنري.( ketabton:com ته پورته شوی)
:(2003 Bonn (Germany

اووم: د شميرپوهنې الماني ـ پښتو ـ او پښتو الماني ډکشنري ( ketabton:com ته پورته شوی)

*Mathematicaldictionary German/ Pashto and Pashto/German*



:(2003 Bonn (Germany

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم: دفرنځیال برابرون ( دا کتاب په دې ځانګه کې یو پیل دی، ساده لیکل شوی) ( ketabton:com ته پورته شوی)

*Differentialequation Translation; An Introduction*
Bonn (Germany): 2003

نهم: د شمیر پوهنې فرمولونو ټولګه
*MathematicalFormulas*
:(2003 Bonn (Germany

لسم: شمیرپوهنه له عربي په پښتو

:(1997Bonn (Germany

یوولسم: د افغانستان په هکله سپیني خبرې: په المان کې

،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خو

یادونه: له ۲۰۰۰ کال دمخه ډاکتر ماخان شینواري د ،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خوا درې سیاسي مجلې هم را وستلې.

ژباړې او نورې لیکنې:

: *(Prof. Brinkmann. (From Brinkmann.du.de*

لاندې د برینکمن لیکنې چې له پرینکمن ن ج څخه ژباړل شوي دي.دا کتابونه د ښوونځي له پاره او همداسي د کانکور ازمویښې له پاره ګټور دي.

دولسم- شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره لومړی ټوک ( ketabton:comته پورته شوی)

دیارلسم – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دویم ټوک( ketabton:comته پورته شوی)

څوارلسم – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دریم ټوک( ketabton:comته پورته شوی)

پنځلسم- د احتمالوالي شمیرنه د ښوونځي لپاره( ketabton:comته پورته شوی)

شپاړسم – احصایه یا ستاتیستیک دښوونځي لپاره( ketabton:comته پورته شوی)

لاندې کتابونه د شتوتګارت د پوهنتون د استادانو د لکچرونو څخه چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپاره شوي را ژباړل شوي.

اولسم – انالیزی ۱( ketabton:comته پورته شوی)

اتلسم – انالیزی ۲( ketabton:comته پورته شوی)



نولسم – کرښیز الجبر ( ketabton:comته پورته شوی)

شلم- د شمیرپوهنې بنسټونه ( ketabton:comته پورته شوی)

یوېشتم- د فرمولونو ټولګه( ketabton:comته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ویشتم – فنکشنل انالیز( ketabton:comته پورته شوی)

درویشتم – وکتور شمیرنه ( ketabton:comته پورته شوی)

نورې ژباړې

څلرویشتم – له grundstudium.info/linearealgebra/www.څخه:کرښیز الجبر ( ketabton:comته پورته شوی)

پنځویشتم – Georg Gutenbrunnerګنونپوهنه یا د اعدادو تیوري( ketabton:comته پورته شوی)

زما لیکنې

:(Bonn (Germany

شپږویشتم- د شمیرپوهنې ستر کتاب دویم چاپ لومړۍبرخه: د پوره تغیراتو سره.

اوه ویشتم- د شمیرپوهنې ستر کتاب دویمه برخه ( ketabton:comته پورته شوی)

اته ویشتم- ځمکګچپوهنه ( هندسه) دویم چاپ د پوره تغیراتو سره ( ketabton:comته پورته شوی)

نهه ویشتم – الجبر بنسټونه دویم چاپ له تغیراتو سره ( ketabton:comته پورته شوی)

دېرشم- ډېرۍ پوهنه یا سټ تیوري ( ketabton:comته پورته شوی)

یودېرشم – د شمیرپوهنې سم اند ( منطق ریاضي) ( ketabton:comته پورته شوی)

دوه دېرشم- د یو څو شمیرپوهانو ژوندلیک( ketabton:comته پورته شوی)

دریدېرشم – د شمیر پوهنې ګډې وډې لیکنې

څلوردېرشم- داهم ژباړه ده، خو لیکونکی یې متآسفانه راڅخه نابلد شوی: د مشتق او انتیګرال شمیرنو ته تمرینونه او اوبیونې یا حلونه یې( ketabton:comته پورته شوی)

پنځه دېرشم – د شمیرپوهنې انګریزې پښتو او عربي + درې ډکشنري

شپږدېرشم – د شمیرپوهنې پښتو انګرېزي ډکشنري( ketabton:comته پورته شوی)

اوه دېرشم – د شمیرپوهنې پښتو ډکشنري د شمیرپوهنیزو وییونو په پښتو روښانه ونه( ketabton:comته پورته شوی)



اته دېرشم- د زړه له کومې( دا هغه لیکنې دي، چې ځنې یې په نړیول جالونو کې خپرې شوي دي.)

نهه دېرشم – د افغانستان په هکله سپینې خبرې، چې وبه غزیږي.

څلوېښتم– د شتوتګارت پوهنتون لکچرنوټونو څخه ، چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپریږي: د ګروپونو تیوري( ketabton:comته پورته شوی)

- د ښوونځي لپاره فزیک د برینکمن لیکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پنځم ټولګي څخه تر اووم ټولګي پورې ژباړل شوی ( دا چې زما دویم مسلک فزیک دی، دا لیکنې ژباړم. دا هم د دې لیکوال یوه ډېره ښه لیکنه ده، چې -د شمیرپوهنې په څیر- دلته هم زیات تمرینونه د حل یا اوبیونې سره په کې راغلي او ماته زیات ګټور برېښي) او دالاندې د برینکن څخه راژباړلي

یوځلوېشتم - فزیک لومړۍبرخه ( ketabton:comته پورته شوی)

دوه ځلوېښتم – فزیک دویمه برخه. برېښنا پوهنه. همدا کتاب. ( ketabton:comته پورته شوی)

درېځلوېښتم – د پوهنې وزارت له خوا چاپ د ښوونځي شمیرپوهنې کتابونو ته کتنه. دې کتاب کې د دښوونځي کتابونو د هر کتاب یوې برخې ناسمونونو ته ګوته نیول شوې او ناسمونونه بیا سم شوي دي.(کتابتون.کوم ته پورته شوی)

څلورځلوېښتم – د فزیک کوچنۍ ویونو دکشنري(کتابتونږ.کوم ته پورته شوی)

پنځه څلوېښتم – پرېپوزېشن یا اړیکویونه.( ketabton.com ته پورته شوی)

شپږځلوېښتم = ژبسمون( پښتو کې ناسم راننوتي ویونه، چې سم شوي دي) ( ketabton.com ته پورته شوی)

اوه ځلوېښتم – پښتو ژبلار یا ګرامر ۲۰۲۰ همدا کتاب ( ketabton.com ته پورته شوی)

اته څلوېشتم – ژبسمون ( که غواړۍ دویم غزېدلي لیکنه) : له پخوانۍ لیکنې څخه نوی شوی او پوره غزېدلی ۲۰۲۰.( ketabton.com ته پورته شوی)

تازه لیکلي خو تراوسه کتابتون ته نه دې پورته شوي او دا د ځانله لیکنو په توګه له درې کاله را په دیخوا د تاند او په دا ورسته کې د دعوت او همداسې د نورو د ج څخه خوریږي او خواره شوي دي. په دې کتاب کې د پښتو ناسم ننوتي ویونه څېړل شوي ناسمونونو ته ګوته نیول شوي او په دلایلو روښانه .شوي، چې ژبمینوالو لهپارهیي لوسته او ګوتنیونه اړیینه ده.

نهه ځلوېښتم – داسې څه له فلسفې ۲۰۲۰( ketabton.com ته پورته شوی)



پنځوسم – ژبې مري او نورې لیکنې ۲۰۲۰ ( کتابتون ته پورته شوی)

یوپنځوسم- پښتو ژبلار د ښوونځي لپاره.

دوه پنځوسم- هر څه د ژبې په چوپړ کې.

درېپنځوسم- هر څه د ژبې په چوپړ کې. و کتابتون ته پورته شوې

څلورپنځوسم- د نړۍ هوښیارتیاوې.

پنځه پنځوسم – د جبران خلیل غوره خبرې .

شپږپنځوسم- ټولیز سم اند .

اوه پنسوسم: غوره ویناوې. دویمه برخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته پنځوسم: د حالتونو ځېرنپای

نهه پنځوسم: حالتونه. د حالتونو غزولې او د ښوونځي لپاره چمتو شوې برخه.

شپېتم: ژبپوهنه یا ژبلار: همدا کتاب. دا د ما د پخوانیو لیکنو ځخه راټول او یو څه ورزیاتونې د سمونونو سره.

یوشپېتم: ژبپوهنه یا ژبلار. غزېدلې دویم ځل. همدا کتاب.

دوه-شپېتم: پښتو یوه اېرګاتیو ژبه ده: په پښتو کښې د لومړي ځل لپاره، بنسټیز.

دریشپېتم: ژبپوهنه دریم ځل.

یادونه: د درې کتابونو خورې ورې لیکنې لرم، خو داسې لېږ ناتوانه غوندې یم. که سړه سینه مې ورته ولرودی شوه او دا مې د کتابتون لخوا تاسو سره ګډ کړی شوی، نو ورته خوښ به شم.

څلورشپېتم: پښتو پوهنیز-ژبلاریزه معیاري

.

.

.

.

.

.

.

.



# د ډاکتر ماخان میرې شینواري ژوند ته یوه لنډه کتنه

نوم: ماخان ( په لومړي ځل یې نوم ،،میری،، وو. د رحمابابا لیسه کې د نوملیکلو وروسته پر ماخان باندې بدل شو).

د کورنۍ نوم : شینواری

د پلار نوم: ارواښاد نورالرحمان

د مور نوم: ارواښاده پستو بي بي
د نیکه نوم: ارواښاد حسن خان

د نیا نوم: ارواښاده صبره بي بي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دزیږېدو کال: ډاکتر ماخان شینواری د ۱۹۴۶ ز ک د سپتمبر په ۱۵ نېټه زیږېدلی دی ( دا خو هغه رسمي ز ک دی. سمه نیټه یې ۱۳۲۲ او ۱۳۲۰ ش ه کلونو منځ کې باید وي، خو تره مې وایي ۱۳۲۰ ه ک دی)

د زیږېدو ځای: ننګرهار د شینوارو د هسکې مېنې ولسوالي په مورګې کلي کې زیږېدلی.

د مورګۍ غارخلي کلي کي د لمنځتون استادانو څخه له قرانکریم تر پنجکتاب، خلاصه، مونیه، ګلستان پورې، چې دا مو بیا په ښوونځې کی هم لوستل، لوستلي، خو بې له دې چې پوره پرې پوه شي.

کلیوالي ښونځي: له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۴ پورې د هسکې مېنې مورګۍ لومړني ښونځي، چې دی یې هم د لومړنیو زدکوونکو له ډلې څخه وو.

د رحمان بابا لېسه : له لومړي او بیا له دریم تر ۱۲ ټولګي پورې له ۱۹۵۴ تر۱۹۶۵ پورې.

دی د رحمان بابا لیسه کې له دریم تر ۱۲ ټولګي پورې د خپل ټولګي اولنمره پاتې شوی.

۱۹۶۶ ز ک د کابل پوهنتون دطب پوهنځي په همدې کال کې

۱۹۶۶ ز ک د سپتمبر میاشت د ښوونځي بورسیی له لارې اتریش ویانا ته تګ.

۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ کال پورې ویانا اړوند مودلینګ کې د الماني یا ښه یې اتریشي ژبې او د دیارلسم ټولګي لوست.

اکتوبر ۱۹۶۷ د وینا پوهنتون کې نوملیکنه، چې د پوره زیاتو ستونځو سره په ۱۹۸۹ ز ک کال کې د ډاکترۍ په اخستلو بریالی شو( دا نو پوره ستونځې دي).

له۱۹۸۷ ز ک تر ۱۹۸۸ ز ک د فبروري تر پای د باندنیو چارو وزارت کې مامور.

.



د ۱۹۸۸ دمارچ لومړۍ نېټې څخه تر ۱۹۹۲ جون پورې په بون جرمني کې د افغانستان جمهوریت سفارت کې د سفیر دندې د شارژد افیر( سفیر نه وو) د نوم لاندې.

له هغې وروسته په جرمني کې سیاسي پناه.

د ۲۰۰۴ ز ک جون څخه د ۲۰۰۵ ز ک جنوري پورې د کابل علومو اکادمي د پیداښتې پوهنو په څانګه کې دنده.

له ۲۰۰۸ ز ک د مارچ څخه د ۲۰۰۹ زک دسمبر پورې د ریاضي څانګه کې د پوهنې وزارت درسي نصاب کې دنده.

ماخان شینواري بې کاره نه دی او لږ تر لږه له ۹۷۱۹ څخه همدا د کتابونو لیکلو او د ژباړې دنده په غاړه اخستې، چې خپل فکر تر شونې پولې پورې تازه وساتي.

ماخان میړي په ۱۹۷۲ کې له لرې د میرمن ښاپیرۍ سره واده شوی، چې د واده خبر ورته اتریش ویانا ته ورغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده د میرمن ښاپیری سره په ۱۹۶۳ ز ک کې کوزده کړې وه.

دوي ته لوي ځښتن په اتریش ویانا کې د مای په شلم ۱۹۷۹ ز ک دوه بچیان وبخښل، چې ځانګه او اباسین نومیږي. ځانګه په المان کې د پوهنتون علمي همکاره وه او د حقوقو ډاکتره ده او اباسین ملي اقتصاد او ټولنیزه سایکولوژي لوستلې.

ډاکتر ماخان میرڼي شینواري ته د پوهنیزو هلو ځلو له امله ستاینلیکونه:

۱ – د افغانستان کلتوري ودې ټولنه. جرمني

۲ – د افغانستان کلتوري ټولنه کولن میشنیش. جرمني

۳- -- مننلیک: CERTIFICATE OF APPRECIATION

افغانیک: افغانیک Afghanic e.V.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**